قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان من البیان لسحرا

# خطبات عارفی

من افادات
شیخ القرآن والحدیث شہید مظلوم حضرت مولانا
## سلطان غنی عارف طاہری شہیدؒ

ترتیب وتخریج
**محمد طاہر توحید یار**
(ابن شیخ عارف طاہری (شہید))

۲

WhatsApp Group
مکتبہ
اشاعت التوحید والسنہ
زیر انتظام
ابو معاذ خٹک
ابو حسان عابد

## المکتبۃ الطاھریۃ
کھرنی برمول مردان 0345-9367242

جماعت اشاعت التوحید والسنہ کے علماء کی
تصانیف کو سکین کر کے PDF فارمیٹ میں
علماء، طلباء اور عوام کو پیش کرنا ہمارا مشن اور
محنت ہے لہٰذا کتاب کا مطالعہ کرتے وقت ہمیں
دعاؤں میں یاد رکھیں شکریہ

منتظم اعلیٰ: ابومعاذ خٹک

معاونین:
مولانا عبدالکریم
مولانا اکرام گل
مفتی ابوعتبان فداء الرحمان عابد

رابطہ نمبر: 03149958550

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم (ان من البيان لسحرا)

# خطبات عارفی

## ٦

من افادات

شیخ القرآن والحدیث شهید مظلوم حضرت مولانا

**سلطان غني عارف طاهري (شهيد)**

ترتیب و تخریج:

**محمد طاهر توحيديار**

ابن شیخ عارف طاهري (شهيد)


الناشر

المكتبة الطاهرية

كهوئي برمول مردان

0345-9367242

ټول حقوق محفوظ دي


د کتاب نوم: **خطبات عارفي**

از افادات: شيخ القرآن والحديث شهيد مظلوم حضرت مولانا

سلطان غني عارف طاهري (شهيد)

ترتيب و تخريج: **محمد طاهر توحيديار**

ابن شيخ عارف طاهري (شهيد)

الناشر: **المكتبة الطاهرية**

كبوني برموړ مردان

0345-9367242

مطبعه :

091-2580182
0300-5991873
0315-5091873

# فهرست

موضوع . اشاعت تاريخ........................................۱۵
ترجمه........................................................................۱۵
تمهيد........................................................................۱۶
انبياءعليهم السلام او د هغوئي د دنيا سره تعلق........................۱۷
د ملك جماعتونه او د هغوئي كارونه.........................................۱۹
د دنيا د كتهلو د پاره مختلف اسباب........................................۱۹
جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د الله فرمان......................۲۰
د انبياءعليهم السلام كار تكليفونو برداشت كول وو.......................۲۱
د جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم نبوت تر قيامته پورې پاتي د....۲۲
صحابه رضي الله عنهم او تكليف برداشت كول...............................۲۲
دين اسلام مونږ ته په تكليفونه رارسيدلي.....................................۲۴
د هندوستان علماء او تكاليف برداشت كول.................................۲۵
د شاه صيب رحمه الله خاندان او د دين خدمت كول........................۲۶
د دارالعلوم ديوبند كردار.......................................................۲۷
د درباري موليانو كردار.........................................................۲۸
حضرت مولاناحسين علي رحمه الله او د ديوبند منشور........................۲۹
جماعت اشاعة التوحيد والسنة او د ديوبند منشور...........................۳۰
دحضرت مولاناحسين علي رحمه الله د شاگردانو منشور......................۳۰
د مولنا غلام رسول رحمه الله واقعه...........................................۳۱
د جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم دين قران وو.......................۳۲

چه حسيني مشرب والا نه وي نو په قران نه پوهيږي ............ ۳۳
د نوجوانان توحيد والسنه مقبوليت ............ ۳٤
د ځوانانو کردار ............ ۳٤
د اشاعت التوحيد والسنه اتحاد او اتفاق ............ ۳۷
د اشاعت التوحيد والسنه مشن کي بدلون نشته ............ ۳۸
د انسانيت چينه محمد رسول الله صلي الله عليه وسلم دي ............ ٤۰
د محمد صلي الله عليه وسلم سره تعلق د نجات ذريعه ده ............ ٤۱
د اشاعت التوحيد والسنه مشن او دعوت ............ ٤٤
د مخلوق اقسام ............ ٤٥
د حضرت سعد رضي الله عنه د مور واقعه ............ ٤٥
په مخلوق کي بهترين مخلوق انبياء عليهم السلام دي ............ ٤۸
بنده توب ښه صفت دي ............ ٥۰
د ملکرو عزت کول ............ ٥۱
د ايتونو تشريح ............ ٥۲
خلافت اعلي نظام دي ............ ٥۲
د روح اغستلو دوه طريقي دي ............ ٥٤
مرگ به په هر چا رازي ............ ٥٥
توحيد عملي او توحيد قولي ............ ٥٦
د اسعد بن ضرارة رضي الله عنه واقعه ............ ٥۸
دعا ............ ٥۹
موضوع : تقليد شرعي حيثيت ............ ٦۱

تمهيد ........................................ ٦٢
تقليد شخصي ........................................ ٦٢
د براء بن عازب رضي الله عنه روايت ........................................ ٦٣
د حضرت أنس رضي الله عنه روايت ........................................ ٦٥
د نجات لاري ........................................ ٦٦
غير مقلدين او د تقليد رد ........................................ ٦٧
د يوسف عليه السلام په جيل کې بيان کول ........................................ ٦٨
عدم القراءة خلف الإمام ........................................ ٧٢
واقعه ........................................ ٧٧
غير مقلدينو سره علم نشته ........................................ ٨٠
د رياض واقعه ........................................ ٨٠
د غير مقلدينو ريوټ او د پوليسو د شيخ القران محمد طاهر باره کې تپوسونه کول. ٨١
غيرمقلدين د کوم وخت پيداوار دي ........................................ ٨٣
غيرمقلدين په حديثو نه پوهيکي ........................................ ٨٤
غيرمقلدين , بريليان او د انګريز سرکار سره وفاداري ........................................ ٨٥
تقليد د کوم وقت نه شروع شويدی ........................................ ٨٧
د صحابو رضي الله عنهم هم تقليد شوي ........................................ ٩٠
د شيخ عبدالله بن باز رحمه الله په مجلس کې د يو سائل سوال او د هغه جواب...... ٩٣
د تقليد معني ........................................ ٩٤
د شيخ القران پنج پير رحمه الله حج له تګ ........................................ ٩٥
د مولوي حبيب الله واقعه ........................................ ٩٨

شیخ القران پنج پیر رحمه الله او د غیر مقلد پوهه کول........ ۹۹
د صحابو رضي الله عنهم د نبي صلى الله عليه وسلم نه تپوسونه کو.... ۱۰۰
مقلد چا ته وائي ؟........................................ ۱۰۱
خلاف او اختلاف کي فرق........................................ ۱۰۲
د اختلاف بانیان څوك دي؟........................................ ۱۰٤
مطلق تقلید کول فرض دي........................................ ۱۰٦
دعا.. ........................................ ۱۰٦
تمهید ........................................ ۱۰۹
د انبیاء علیهم السلام د واقعاتو ذکر کولو مقصد. ........................................ ۱۰۹
د نبي صلى الله عليه وسلم د وحي حیثیت........................................ ۱۱۰
په غار حراء کي په نبي صلى الله عليه وسلم ابتدائي وحي........ ۱۱۱
د شیث علیه السلام او د هغه د زامنو واقعه........................................ ۱۱۳
د نوح علیه السلام او د هغه د قوم مکالمه........................................ ۱۱۵
د حضرت علي رضي الله عنه وصیت........................................ ۱۱۸
عبادت څه ته وائي ؟........................................ ۱۱۹
د الله رحمت وسیع دي........................................ ۱۲۰
د خلقو استغفار هم استغفار ته محتاج دي........................................ ۱۲۳
د بني اسرائیلو د قاتل واقعه........................................ ۱۲٤
د مسلمان قتل عظیم جرم دي........................................ ۱۲٦
د باران د نه کیدو سبب........................................ ۱۲۷
استغفار وئیل د اولاد کیدو سبب دي........................................ ۱۲۸

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما قول ............... ۱۳۰
د الله رب العزت صفت بل له ورکول سبب د عذاب دي ............... ۱۳۱
د حجر اسود مقام ............... ۱۳۳
د الله د عذاب نه ويره ښکار ده ............... ۱۳٤
د ټولو نه لوئي ګناه شرک دي ............... ۱۳٤
د ايتونو ترجمه ............... ۱۳۷
موضوع : په دين باندي اجرت اغستل ............... ۱۳۹
تمهيد ............... ۱۳۹
هر يو پيغمبر بې تنخواه دين بيان کړي ............... ۱٤۰
د انبياء عليهم السلام خپل قومونو ته تقرير کول ............... ۱٤۰
نبي صلى الله عليه وسلم تنخواه نه ده غوختي ............... ۱٤٥
دجناب محمد عربي صلى الله عليه وسلم صحابو رضي الله عنهم ته حکمونه...... ۱٤٦
د امام ابو حنيفه رحمه الله د قضاء نه انکار ............... ۱٤۷
علم د دنيا د حصول ذريعه جوړول ناروا دي ............... ۱٤۷
مجدد الف ثاني رحمه الله وينا ............... ۱٤۸
عالم له الله پاک رزق د قران د وجې ورکوي ............... ۱٤۹
د زيد الخيل رضي الله عنه واقعه ............... ۱٥۰
د سفيان رحمه الله علماء ته وينا ............... ۱٥۲
د کلي احوال او د مرو پسي ختمونه ............... ۱٥۳
د علامه شامي رحمه الله اقوال ............... ۱٥٤
حنفي مذهب او اجرت علي الطاعات ............... ۱٥٦

د عبدالله بن مبارک رحمه الله خپل شاګرد ابن علیه رحمه الله ته خط .......... ۱۵۷
د سهل بن عبدالله تستري رحمه الله او د هارون الرشید بادشاه واقع. ۱۵۸
د امام مالک رحمه الله واقعه.................................. ۱۶۱
دعا.................................. ۱۶۳
موضوع: مالك صرف یو الله دي.................................. ۱۶۵
تمهید.................................. ۱۶۶
دنیا اول ټوله په توحید اباده وه.................................. ۱۶۶
د انسانیت اختلاف اول په توحید کي وو.................................. ۱۶۷
د حضرت نوح علیه السلام خپل قوم ته دعوت.................................. ۱۶۸
د انبیاء علیهم السلام د دعوت نکتي.................................. ۱۶۹
توحید څه ته وائي ؟.................................. ۱۷۱
د شیخ الاسلام ابن قیم رحمه الله وینا.................................. ۱۷۱
سلفیان اصل کي (فلسیان) دي او د قلب قانون.................................. ۱۷۲
د شیخ الاسلام ابن تیمیة رحمه الله خط.................................. ۱۷٤
فقر څه ته وائي؟.................................. ۱۷٦
د بني اسرائیلو د زاهد واقعه.................................. ۱۷٦
غیر مقلدین او د تقلید تردید.................................. ۱۸۰
د انسان د کامیابی اسباب.................................. ۲۸۲
د غیر مقلدینو نه یو څو سوالات.................................. ۱۸۳
الله رب العزت په ذات او په صفاتو کي یو دي.................................. ۱۸۷
د بدعتیانو (حیاتیانو) نه تپوس.................................. ۱۸۹

د علامه ابن قيم رحمه الله وينا ........................ ۱۹۱
غوره والى په كثرت د رواياتو نه دي ........................ ۱۹۲
مدح الامام أبو حنيفة نعمان بن ثابت رحمه الله تعالى ........................ ۱۹۳
د ايتونو ترجمه ........................ ۲۰۱
موضوع : علامات قيامت ........................ ۲۰۳
قيامت به خامخواه راځي ........................ ۲۰۳
د قيامت علامات او د حذيفة بن اليمان رضي الله عنه اول روايت ........................ ۲۰۵
د دجال حقيقت ........................ ۲۰۷
د حذيفة بن اليمان رضي الله عنه دوئم روايت ........................ ۲۰۹
د حذيفة بن اليمان رضي الله عنه درئم روايت ........................ ۲۱۰
كرز بن علقمه الخزاعي رضى الله عنه روايت ........................ ۲۱۰
د حضرت ابو موسى الاشعري رضى الله عنه روايت ........................ ۲۱۱
سحر به سړى مؤمن وى او ماخام به كافر وي ........................ ۲۱۳
د حضرت حذيفه بن اليمان رضي الله عنه څلورم روايت ........................ ۲۱۵
د حضرت حذيفه بن اليمان رضي الله عنه پنځم روايت ........................ ۲۱۶
فتني به نه ختميږي سيوا كيږي به ........................ ۲۱۷
د ابو قلابه رحمة الله عليه وينا ........................ ۲۱۸
د حضرت موسى عليه السلام ارزو ........................ ۲۱۹
فتنو كي به رور د رور نه او خوئ د پلار نه جدا شي ........................ ۲۲۰
د اسامة بن زيد رضي الله عنه روايت ........................ ۲۲۱
د وحي آشكال (عالم امثال) ........................ ۲۲۲

د حضرت حذیفه بن الیمان رضي الله عنه شپږم روایت ........................ ۲۲٤
د حضرت علی رضي الله عنه وینا................................................ ۲۲۵
د حضرت حذیفه بن الیمان رضي الله عنه اووم روایت........................ ۲۲۵
د حضرت حذیفه بن الیمان رضي الله عنه اتم روایت ........................ ۲۲۸
موضوع :علماء او مدرسې.................................................. ۲۳۱
تمهید.................................................................... ۲۳۲
په سورة زخرف کې د روحانیت او د مادیت تقابل ........................ ۲۳۲
په مدینه کې د اسلام اوله مدرسه او د هغې شاګردان ........................ ۲۳٤
په مدینه کې د اسلام دوئمه مدرسه او د هغې شاګردان........................ ۲۳٦
بغداد کې د علم مراکز او د دین بیان ........................ ....... ۲۳۸
د امام بخاري رحمه الله امتحان.............................................. ۲۳۸
هندوستان کې د علم مراکز ................................................ ۲۳۹
د کلي واقعه............................................................. ۲٤۰
د انګریز کوشش او د خلقو بدنامول ........................................ ۲٤۱
د دارالعلوم دیوبند پس منظر................................................ ۲٤۱
په ملک پاکستان کې د دین مراکز او د حضرت مولانا حسین علي رحمه الله محنت ....... ۲٤۲
د ایاتونه تفسیر او تشریح.................................................. ۲٤۳
د مدرسې ضروریات........................................................ ۲٤٤
دنیا د الله ده او الله ته پاتې ده .............................................. ۲٤۵
د بیت الله تعمیر او د ابراهیم علیه السلام دعاګانې ........................ ۲٤۷
د معلم ذمداریٔ............................................................ ۲٤۹

د مصعب بن عمیر رضی الله عنه د مدرسي کردار ............................ ۲۵۱
دعا .................................................................... ۲۵٤
موضوع : د علماؤ ذمداری .................................................. ۲۵۵
تمهید .................................................................. ۲۵۵
د شعائر الله تعظیم ....................................................... ۲۵٦
د نبي صلی الله علیه وسلم مکي والو ته دعوت ورکول ............................ ۲۵۸
د مکي د خلقو په نبي صلی الله علیه وسلم باندي مختلف الزامات لګول ............ ۲۵۹
د مکي د خلقو د قران نه انکار کول ............................................ ۲٦۲
قران کریم الله رب العزت د ټولي دنیا د پاره رالیګلي دي ........................ ۲٦٤
نبي صلی الله علیه وسلم معلم وو ............................................. ۲٦۵
د قران تربیت ........................................................... ۲٦٦
قران د انقلاب کتاب دي .................................................. ۲٦۷
په صحابو رضي الله عنهم کي انقلاب قران راوستي وو ............................ ۲۷۰
مونږ د قران نه لري شوي یو ................................................ ۲۷۲
د عالمانو او عابدانو ذمواري ................................................ ۲۷۲
په کهوټي برمول د الله احسان ............................................... ۲۷۵
عزت په قران کي دي ...................................................... ۲۷٦
د عالمګیر بادشاه واقعه .................................................... ۲۷۸
دعا .................................................................... ۲۷۹
موضوع :اختلاف امت ...................................................... ۲۸۰
تمهید .................................................................. ۲۸۰

د اصحاب کهفو کلکوالي او د هغوئي بيان ...... ۲۸۱
د صاحب ياسين کلکوالي او بيان ...... ۲۸۲
د دين په بيانولو کي عزت دي ...... ۲۸۵
د رجل مومن کلکوالي او بيان ...... ۲۸۶
د رجل مومن تقرير ...... ۲۸۷
د نوح عليه السلام د واقعه فوائد ...... ۲۸۹
د انبياء عليهم السلام د دنيا سره مينه نه وي ...... ۲۸۹
قران کريم کي د نوح عليه السلام واقعه ...... ۲۹۱
د ذلت سبب د قران نه انکار دي ...... ۲۹۲
د نوح عليه السلام خپل قوم ته بيان کول ...... ۲۹۵
قران د حاکميت کتاب دي ...... ۲۹۶
د خلقو د مړي سره قران خخول ...... ۲۹۸
د انبياء عليهم السلام د دعوت اقسام ...... ۲۹۸
انبياء عليهم السلام دنيا ته د الله کتاب بيان کړي دي ...... ۳۰۰
مختلف رسمونه او رواجونه ...... ۳۰۱
د بيان خاصل ...... ۳۰۲
دعا ...... ۳۰۳
موضوع: اسلام کي د مدرسي مقام ...... ۳۰٤
تمهيد ...... ۳۰۵
د اسلام او د قران په اشاعت کي د مدرسو کردار ...... ۳۰۵
د الله رب العزت د دين اول مرکز او د هغي ابادول ...... ۳۰٦

د مدرسي نصاب به څه وي ؟........................................ ۳۱۰
د باطن صفائي بغير د قران كريم نه ممكن نه ده.......................... ۳۱۲
په دار ارقم كي د نبي صلی الله عليه وسلم مدرسه....................... ۳۱۳
مدرسي د انسانيت كارخاني دي........................................ ۳۱٤
د عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه وينا .................................. ۳۱۵
د مسلمان انتخاب د دنيا د خير د پاره شويدی............................. ۳۱٦
د دنيا قوتونه او د هغوئي كار............................................ ۳۱۸
انسانيت ساز او انسانيت سوز په منځ كي فرق ............................ ۳۱۹
د كمال انساني راز.................................................... ۳۲۰
د مدرسو بركات........................................................ ۳۲۱
خپل عمل د لاري مل دي.............................................. ۳۲۲
اختتامي دعا........................................................... ۳۲٤
موضوع ۰ ، اختلاف امت اسباب....................................... ۳۲۵
تمهيد.................................................................. ۳۲٦
د آدم عليه السلام ذمه داري ............................................ ۳۲۷
د نوح عليه السلام پوري خلق ټول په لو دين وو.......................... ۳۲۸
انبياءعليهم السلام د اختلاف ختمولو كوشش كړيدي...................... ۳۳۰
اختلاف چا جوړ كړي وو ؟............................................. ۳۳۲
د انبياء عليهم السلام د زندگی مقصد څه وو؟ ............................ ۳۳۵
د حضرت ضمام بن ثعلبه رضي الله عنه واقعه ............................. ۳۳٦
د انسان د ژوند مقصد او د نوح عليه السلام واقعه ........................ ۳۳۷
دله بازي په اسلام كي نشته............................................. ۳٤۰

سورة هود کي د نوح علیه السلام واقعه ........................ ٣٤١

د نوح علیه السلام د تبلیغ انداز ........................ ٣٤٣

د شرك ابتداء ........................ ٣٤٦

د انسـن د ژوند فائده د انسان د پاره ده ........................ ٣٤٧



# موضوع : د اشاعت تاریخ

نحمده ونستعينه ونستغفره ونؤمن به ونتوكل عليه ونعوذ بالله من شرور انفسنا ومن سيئات اعمالنا من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل له فلا هادي له واشهد ان لا اله الا الله وحده لا شريک له واشهد ان سيدنا ومولنا محمد عبده ورسوله صلى الله عليه وعلى اله واصحابه الذين هم خلاصة العرب العرباء وخير الخلائق بعد الانبياء

أما بعد

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِن كُنتُمْ فِي شَكٍّ مِّن دِينِي فَلَا أَعْبُدُ الَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ وَلَكِنْ أَعْبُدُ اللَّهَ الَّذِي يَتَوَفَّاكُمْ وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ۞ وَأَنْ أَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ۞ وَلَا تَدْعُ مِن دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ فَإِن فَعَلْتَ فَإِنَّكَ إِذًا مِّنَ الظَّالِمِينَ ۞ وَإِن يَمْسَسْكَ اللَّهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهُ إِلَّا هُوَ وَإِن يُرِدْكَ بِخَيْرٍ فَلَا رَادَّ لِفَضْلِهِ يُصِيبُ بِهِ مَن يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَهُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ : (۱)

## ترجمه

اووایه اي خلقوکچري ئي تاسویه شک کي خما د طریقې نه اوخما د عقیدي نه نو زه دهغه کسانو بندګي نه کوم بغیر د الله نه دکومو کسانو چه تاسو

---

۱- سورة یونس - ۱۰٤ - ۱۰۵ - ۱۰٦- ۱۰۷

کوئ لیکن زه به د هغه الله عبادت کومه چه هغه به تاسو وجني اوماته حکم شوي دي چه زه به د مؤمنینو نه یمه.

اوماته حکم شوي دي چي خپل ځان ددین تابع کړه او په توحید باندي کلک شه او هچرې هچرې د مشرکانو ملګري کیږه مه.

او ماته حکم شوي دي چه د الله نه بغیر هغه صفاتو والا خلق چه تا له نفع نشي درکولي نقصان نشي درکولي هغوئي ته به اواز نه کوي او که اواز دې اوکړو نو یقینا ته به د ظالمانو او د مشرکانو نه ئې.

ځکه که الله تاته معمولي تکلیف در اورسوي نو د هغې لرې کونکي بغیر دالله نه بل څوک نشته او که الله تا له خیر درکړي نو د هغه دخیر او د هغه فضل منع کونکي څوک نشته او الله رب العزت چاله چه خوښه شي خیر ورکوي او الله بخونکي دي او مهربان دي.

## تمهید

عزتمندو : پدې ملک کې ګڼ جماعتونه دي او دهر یوجماعت څه منشور وي او د هغوئي څه لائحه عمل وي او هغه څه په خاصو خاصو وقتونو کې دنیا ته پیش کوي اوکله د هغوئي هغه لائحه عمل کوم چه خودلي وي هغه د هاتي غاښونه وي د خوراک جدا وي او د خودلو جدا وي او بعض خلق خپل یو منشور ښائي خو چه څنګه وائي نو په هغې باندي هغوئي عمل کوي په بلو الفاظو به زه دا اووایمه چه بعضو خلکو په ملک کې شور او شر جوړ کړي وي خو د دې شور او شر نه صرف خپله دفاع او انتفاع وي اوبعض تنظیمونه دي چه هغوئي په ملک کې کوم جماعت چه هغه څه وائي اوڅه ښائي یا هغه جماعتونه چه هغوئي خپلې هلې ځلې تیروي او

د بل جولۍ ته خير غورځوي يا هغه جماعت چه د هغوئي د شور اود شر او د هغوئي د منډو او ترړو او د حركاتو فائد د عامو خلقو په جولو کې غورځيكي دا د دنيا بهترين جماعت دي د دې جماعت بانيان هغه انبياء عليهم السلام وو.

## انبياءعليهم السلام او د هغوئي د دنيا سره تعلق

د حضرت نوح عليه السلام نه واخله د نبي صلى الله عليه وسلم پورې چه څومره انبياءعليهم السلام تير شوي دي نو د هغوئي ددنيا سره تعلق ډيركم وو هغوئي دنيا نه ده جمع كړې هغوئي د دنيا د پاره څه كارونه نه دې كړي بلكې د دنيا سره د هغوئي ترون چه په كوم تار تړلي شوي وو هغه ډير كمزوري تارو او د هغې دليل دا دي چه زه مړشمه اوته مړ شي نو ځما مال او ستا مال ځما او ستا رشته دارانو ته پاتي كيږي.

انبياء عليهم السلام چه كله مړه شي نو دهغوئي مال څوک په ميراث کې نه اوړي ځكه دهغوئي د مال رشته ډيركمزوري وه په يوحديث کې راځي.

عن عائشة ان أزواج النبي صلى الله عليه و سلم حين توفى رسول الله صلى الله عليه وسلم أردن أن يرسلن عثمان إلى أبي بكر يسألنه ميراثهن من رسول الله صلى الله عليه و سلم فقالت لهن عائشة أو ليس قد قال رسول الله صلى الله عليه و سلم لا نورث ما تركناه فهو صدقة

تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده صحيح على شرط مسلم : ([1])

---

[1]- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ٦ صفحه ٢٦٢ حديث السيدة عائشة رضي الله عنها

عن جابر عن عائشة رضي الله عنها قالت حين توفي رسول الله صلى الله عليه وسلم أراد نساؤه أن يبعثن عثمان بن عفان إلى أبي بكر يسألنه ميراثهن من رسول الله صلى الله عليه وسلم فقلت لهن أليس قد قال رسول الله صلى الله عليه وسلم نحن معاشر الأنبياء لا نورث ما تركناه فهو صدقة: (۱)

نبي صلی الله علیه وسلم فرمائي مونږ د انبیاءعلیهم السلام جماعت د ادم علیه السلام نه واخله تر محمد رسول الله صلي الله علیه وسلم پورې ځمونږ نه څوک میراث نشي وړي مونږ چه کوم شي پریدو نو هغه صدقه دي میراث نه دي.

پدې حدیث کې نبي صلی الله علیه وسلم د خپل ځان او د هغه چه کوم رونړه وو انبیاء او مرسلین د هغوئي او د دنیا د تعلق ذکرکوي په ډیر یو عجیبه انداز باندي او هغه انداز دا دي چه د عاموخلقو د دنیا سره ډیر ټینګ تعلق دي او هغه تعلق ئې داسي دي چه کله دي مړ شي نو د ده مال د ده ښځې ته د ده بچو ته د ده رونړو ته او د ده رشته درانو ته اولا پاتي کیږي په خلاف د انبیاء علیهم السلام هغوئي چه مړه شو نو دهغوئي مال هغوئي ته نه وو پاتي شوي د انبیاءعلیهم السلام دجماعت د دنیاسره ډیر کم تعلق وو او کوم چه دنیا پرست خلق دي نو د هغوئي او د دنیا یوه ډیر مضبوطه رشته ده.

---

۱- مسند الربیع بن حبیب : جلد ۱ صفحه ۲٦۱

## د ملك جماعتونه او د هغوئي كارونه

نن هم پدې ملک کې جماعتونه دي څوک د انبياء عليهم السلام کار کوي او بنائي هم چه مونږ د انبياء عليهم السلام کارکوو بعض خلق دي چه هغوئي د دنيا کارکوي او دنيا پرست دي او د دنيا سره ئې قوي قوي رشتي دي د هغوئي خوراک څخاک د دنيادارو خلقو دي د هغوئي جامه او پوشاك د دنيا پرستوخلقو وي د هغوئي رفتاراو گفتارد دنيا دارو خلقو دي او په يو وقت کې هغه دين د دنيا د گټلو دپاره وسيله او ذريعه جوړوي.

## د دنيا د گټلو د پاره مختلف اسباب

شيخ القرآن د پنج پير الله دي پرې رحمتونه اوکړي هغه به وې چه بعض خلق دنيا اوگټي خو ددنيا د گټلو د پاره د دنيا اسباب استعمال کړي اوبعض خلق دهغوئي غرض دنيا گټل وي چونکه د دنيا په نوم دنيا نشي گټلي نو هغې له رنگ د دين ورکړي هغه به وې چه د دوي داسې مثال دي لکه په چت کې څه پيسې خوړندې دي يا ډوډۍ خوړنده ده نو يو سړې راشي او قرانونه د يو بل دپاسه کيدي او دغه روټي راواخلي قران ئې ذريعه کړه او دې پرې د پاسه اودريدو او روټۍ ئې راوغسته او بل يوسړې راشي او دې ډولکې د يو بل د پاسه کيدي او دې دا روټي راواخلي ډوډي خو دواړو رواغسته خو يو ورله ذريعه قران جوړه کړه او بل ورله ډولکي دنيا پرست خلق هميشه قران کتاب د دنيا د پاره ذريعه جوړوي او کله چه هغوئي خپل مقصد ته ورسيږي نو بڅپله سابقه خبري چه کومې هغوئي کړي وي نو په هغې باندې اوبه واړه وي اوهغه ختمې کړي خو يوجماعت د

انبياء عليهم السلام چه هغه د حضرت نوح عليه السلام نه شروع دي تر د محمدرسول الله صلى الله عليه وسلم پورې او د هغې نه روسته ترننه پورې دهغه جماعت څه غږې په دنيا کې شته د هغوئې کار او د هغوئې عمل څه دي؟ د هغوئې کار او د هغوئې عمل دا دي چه د هغوئې دمخلوق او د الله په منځ کې يو تعلق پيدا کول مقصد دي او بيا دمخلوق او د مخلوق په منځ کې يو تعلق پيداکول مقصد دي او د دې دواړو تعلقاتو خير د هغوئې په جولۍ کې کم غورځيگې او د خلقو په جولۍ کې ډير غورځيگې.

## جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د الله فرمان

حضرت نوح عليه السلام ۹۵۰ کال تبليغ اوکړو وهل ئې اوخوړه او فتوې پرې اولګيدې چا ورته ګمراه اووې او چا په ګټو اوويشتو چا پرې تهمتونه اولګول خوهغه چه کوم عمل کوو نو د هغې خير او فائده نن مونږ او تاسو خورو او بيا جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم ته الله وائي.

إِنَّا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ كَمَا أَوْحَيْنَا إِلَىٰ نُوحٍ وَالنَّبِيِّينَ مِن بَعْدِهِ وَأَوْحَيْنَا إِلَىٰ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطِ وَعِيسَىٰ وَأَيُّوبَ وَيُونُسَ وَهَارُونَ وَسُلَيْمَانَ وَآتَيْنَا دَاوُودَ زَبُورًا : (۱)

څما پيغمبره ما تاته چه کومه لارخودلې ده هغه لارمې خودلې کومه لاره چه ما نوح عليه السلام ته خودلې وه او د هغه نه روسته نورو انبياء عليهم السلام ته مې خودلې وه.

---

۱- سورة نساء - ۱۶۳

## د انبياءعليهم السلام كار تكليفونو برداشت كول وو

د حضرت نوح عليه السلام او دهغه پس چه څومره انبياءعليهم السلام راغلي وو د هغوئي كارتكليفونو زغمل او په بل باندي راحت راوستل وو او بيا يو پېره نبي صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل.

عن أبي عبيدة بن حذيفة عن عمته فاطمة انها قالت : أتينا رسول الله صلى الله عليه و سلم نعوده في نساء فإذا سقاء معلق نحوه يقطر ماؤه عليه من شدة ما يجد من حر الحمى قلنا يا رسول الله لو دعوت الله فشفاك فقال رسول الله صلى الله عليه و سلم ان من أشد الناس بلاء الأنبياء ثم الذين يلونهم ثم الذين يلونهم ثم الذين يلونهم

تعليق شعيب الأرنؤوط : حديث صحيح لغيره وهذا إسناده حسن : (١)

په مخلوق كې د ټولو نه زياتې ابتلاءګاني په انبياء عليهم السلام باندي راغلي دي او بيا چه څوک د هغوئي په نقش قدم روان وو او په هغوئي باندي تكليفونه راغلي وو او خير ټول عمر د خلقو په جولوكي غورځيدلي دي او نبي صلى الله عليه وسلم فرمائي.

عن مصعب بن سعد عن أبيه قال قلت : يا رسول الله أي الناس أشد بلاء قال الأنبياء ثم الصالحون ثم الامثل فالأمثل من الناس يبتلى الرجل على حسب دينه فإن كان في دينه صلابة زيد في بلائه وان كان في دينة رقة خفف عنه وما يزال البلاء بالعبد حتى يمشي على ظهر الأرض ليس عليه خطيئة

تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده حسن : (١)

---

١- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ٦ صفحه ٣٦٩ حديث فاطمة أخت حذيفة رضي الله عنها

سړي چه څومره په دین کې کلک وي دومره په هغه ابتلا سخته راځي.

## د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم نبوت تر قیامته پورې پاتي دي

د انبیاء علیهم السلام راتګ چه کله ختم شو نبوت خو تر قیامته پورې جاري دي خو انبیاء علیهم السلام ختم شوي دي نبوت د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم تر قیامته پورې پاتې دي د نبي صلی الله علیه وسلم نه مخکې انبیاء علیهم السلام به راتلل نبي صلی الله علیه وسلم الله د انبیاء علیهم السلام خاتم کړو د هغه نه پس انبیاء ختم شو خو نبوت د نبي صلی الله علیه وسلم پاتې دي.

## صحابه رضي الله عنهم او تکلیف برداشت کول

نبي صلی الله علیه وسلم یا د هغه نه مخکې انبیاء علیهم السلام چه کوم دعوت ورکړي وو چه د هغي مظهر ټولې تکلیفونه تیره ول او د بل په جولئ کې خیر غورځول وو نو دا قسم خلق اول هغه خلق وو چا چه د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم نه په خپلو سترګو باندي څه اعمال او کردار لیدلي وو او ټولو غوګونو باندي د نبي صلی الله علیه وسلم نه څه اقوال اوریدلي وو د وحي نزول هغوئي مشاهده کړي وو هغه خلقو هم د تکلیف او د مشقتونو ژوند تیرکړي وو او د خلقو په جولئ کې ئې خیر غورځولي وو د نمونې په طور یو واقعه به زه تاسو ته پیش کړم.

[1]- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ۱ صفحه ۱۷۲ مسند سعد ابن ابي وقاص رضي الله عنه

عن إسماعيل قال سمعت قيس بن أبي حازم قال قال سعد رضي الله عنه لقد رأيتني مع رسول الله صلى الله عليه و سلم سابع سبعة وما لنا طعام الا ورق الحبلة حتى ان أحدنا ليضع كما تضع الشاة ما يخالطه شيء ثم أصبحت بنو أسد يعزروني على الإسلام لقد خسرت إذا وضل سعي

تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده صحيح على شرط الشيخين : ([1])

سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه يو مشهور صحابي دي قريشي دي او ډير لوئي مجاهد اومستجاب الدعوات دي يو ځل ئې اوْفرمائيل ماځان ليدلي وو چه زه په اوو(٧) مسلمانانو کې اووم نمبر مسلمان اوومه ځما نه علاوه نور شپږ مسلمانان وو او مونږه به چه به کله لوئي بولو ته کيناستو نو ځمونږ لوئي بول به داسې وو لکه د بيزو او د اوښانو پچې ځکه د دين په منلو باندې د دنيا هغه ټول تکليفونه په مونږ باندي راغلي وو نو ددې وجې نه د ډوډۍ درک ځمونږ نه لګيدو. لکه يو حديث کې رازي.

عن محمد بن سيرين قال كنا عند أبي هريرة وعليه ثوبان ممشقان من كتان فتمخط في أحدهما ثم قال بخ بخ يتمخط أبو هريرة في الكتان لقد رأيتني وإني لآخر فيما بين منبر رسول الله صلى الله عليه و سلم وحجرة عائشة من الجوع مغشيا علي فيجيء الجائي فيضع رجله على عنقي يرى أن بي الجنون وما بي جنون وما هو إلا الجوع

قال أبو عيسى هذا حديث حسن صحيح غريب من هذا الوجه

قال الشيخ الألباني : صحيح : ([2])

---

[1]- مسند امام احمد بن حنبل :جلد ١ صفحه ١٧٤ مسند سعد ابن ابي وقاص رضي الله

[2]- سنن الترمذي :جلد ٤ صفحه ٥٨٣ما جاء في معيشة أصحاب النبي صلى الله عليه وسلم

حضرت ابو هريرة رضي الله عنه د اسلام د عروج په وقت راغلي وو د خيبر دجنګ نه لګ مخکې مسلمان شوي وو هغه وائي زه به کله نه کله په صف کې اوغورځيدمه نوخلقو به ځما خپې مکلې اوخلقوبه وې چه پده باندې پيريان دي او هغه قسم کوي چه دا حالت به نه وو ځما مګر د لوږې د وجې نه به وو.

## دين اسلام مونږ ته په تکليفونه رارسيدلي

نن که پدې څلور قونجه دنيا کې که د الله د توحيد او د الله د قران اواز کيږي نو دا د هغه خلقو د سعي اوتکليفونو ثمره ده بيا داسې راتلو نود تابعين دورراغي په تابعينو کې لوئي لوئي تابعين سعيدبن جبير عروة رحمهم الله داسې لوئي لوئي خلق هغوئي چه کوم تکليفونه اومصيبتونه تيرکړي وو خو هغه دين ئي مونږته راورسولو لوګي تندي ئي تيرې کړي وې مصيبتونه ئي تير کړي وو بيا داسې راځه په هر زمانه کې الله رب العزت څه لګ غوندې کسان پيدا کړي وو او د هغوئي کار دا وو چه د دين تهذيب صفائي ئي کوله او د دې خبرې پيشنګوئي نبي صلى الله عليه وسلم پخپل ژوند کې کړې وه او فرمائيلي وو.

عن أبي هريرة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال يحمل هذا العلم من كل خلف عدوله ينفون عنه تحريف الغالين وانتحال المبطلين وتأويل الجاهلين: (۱)

۱- مسند الشاميين :جلد ۱ صفحه ۳٤٤

د الله رب العزت څه خاص بندیان دي کله چه يو قوم څه نوي دين جوړ کړي نو هغه خاص کسان راپاسي او غالیانو خلقو چه په دين کې د خلقو کوم شکونه پيدا کړيدي هغه شکونه هغوئي ختموي او باطل پرستو خلقو چه بې ديني ته دين وئيلي دي نو هغوئي دا ښائي چه دا دين نه دي دا بې ديني ده او ناپوهه خلقوچه د خپلې ناپوهتيا په وجه په دين کې د دين چه کوم تعبير او تفسير کړيدي هغوئي هغه خلقوته دا ښائي چه دا تفسير او تاويل صحيح نه دي.

## د هندوستان علماء او تکاليف برداشت کول

دا داستان ډير اوګد دي زه ئي رالنډومه هندوستان ټول د هندوانوملک وو په يو زمانه کې د مسلمانانو دې وطن ته مخه شوه مختلف خاندانونه راغله او پدې هندوستان باندي ئي حملې اوکړي د غزني نه محمود غزنوي راغلې وو اولس(۱۷)حملې خو هغه په هندوستان باندي کړي وي ايبک خاندان او التمش خاندان او مغل خاندان ټول راغلي وو او اګرچه رنګ د هغوئي د بادشاهئ وو خو پدې ملک کې هغوئي د دين کارونه اوکړه د مغلو د حکومت زوال چه کله اوشو نو هندوستان کې يوپاک خاندان وو اوهغه خاندان د شاه عبدالرحيم خاندان وو او دا هغه سړي وو چه د ده په مشرئ کې فتاوي عالمګيري د هغه د صدارت او د هغه د اشراف لاندې عالمګير بادشاه راجمع کړي وه اوبيا د هغه ځوئي امام ولي الله دهلوي کچرې زه قسم اوکړم چه هندوستان د هغه پشان عالم نه دي ليدلي نو قران په لاس او ممبر د پاسه زه به حانث نه يم.

شاولي الله رحمه الله هغوئ تکلیفونه مصیبتونه تیرکړه خوالله رب العزت هغه له یو مقام ورکړو او کله کله شاه صیب د خپل هغه مقام تذکیره پخپله ژبه کې کوي او فرمائي.

لما تمت لي دورة الحكمة ألبسني الله تعالى خلعة المجددية فعلمت علم الجمع بين المختلفات وعلمت أن الرأي في الشريعة تحريف وفي القضاء مكرمة وأشار إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم إشارة روحانية أن مراد الحق فيك أن يجمع شملا من شمل الأمة المرحومة بك انتهى

کله چه ځما د امتحان ورځې ختمې شوې نوالله رب العزت ماته د مجددیت جامه واغستلوله او یقیني شاه صیب رحمه الله بعض داسې کتابونه لیکلي دي چه په اوائلو کې د هغه پشان کتاب چا نه دي لیکلي په هغې کې یو د هغه حجة الله البالغة د د حجة الله البالغة مثال د صحابو د دور نه واخله تردي خوا څوک نشي پیش کولې چه داسې کتاب لیکلي شویدي.

## د شاه صیب رحمه الله خاندان او د دین خدمت کول

د شاه صیب رحمه الله خاندان هغه په یو څوکسان باندي مشتمل وو.

(۱) شاه عبدالعزیز رحمه الله (۲) شاه عبدالغني رحمه الله (۳) شاه عبد القادر رحمه الله

دې دریوکسانو په هندوستان کې ئي یو حرکت جوړکړو او هغه حرکت په دوه درې ځائیونو کې څرګند شو په مدارسو کې د علماء په شکل کې په جماعتونو کې د عبادت ګزارو په شکل کې او د جهاد په میدان کې د مجاهدین په شکل کې څرګند شو.

د دنيادې انقلاباتو سره پدغه جماعت باندي هم انقلابات راتلل انګريز پدې وطن باندي راغئ او قبضه ئې اوکړه او د صحيح حديث د مقتضي مطابق الله رب العزت د هندوستان په يو وړوکې غوندي قصبه کې او په يو وړوکي غوندي جماعت کې يو مرکز قائم کړو او د هغه مرکز اولنی استاذ د هغه نوم محمود وو او د اول شاګرد نوم ئې هم محمود وو نو هغه شاګرد چه کله فارغ شو نو دنيا هغه د شيخ الهند په نوم باندي اوپيژندو.

## د دارالعلوم ديوبند کردار

مسجدې چته کې د جماعت د ديوال خوا ته چه کوم انار ولاړ وو او د هغې لاندې چه کوم مدرسه شروع شوې وه د هغې مدرسې يو عالمګير شهرت حاصل کړو او په هغه زمانه کې داخلي اوبيروني چه کوم طاغوتي طاقتونه وو د هغې خلاف دارالعلوم ديوبند ملا اوتړله بيروني طاغوتي طاقت هغه د انګريز لعين وو دې باره کې چه علماء ديوبند کوم کارکړيدي هغه چه تاريخ راولي نو د تاريخ په پاڼړو کې به تاته بل شئ نه ميلاوېږي بغير د دې نه چه علماء ديوبند د الله رب العزت سره وفاداري کړيدي او هغوئي د محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم سره وفاداري کړيده اوهغوئي دين اسلام سره وفاداري کړيده دا چه کله د تاريخ پاڼړي راواخلي دا خبره به تاته معلومه شي بل طرف ته هغه خلق چه هغوئي نوم د اسلام اغستلو خو پسي پرده د اسلام د دشمنانو ملګري وو هغه به هم ته.اووئني يوطرف ته به تاته د تاريخ په پاڼړو کې دا په نظر راځي چه شيخ الهند په مالټا کې د خپلو ملګروسره قيد دي او مولنارحمت الله کيرانوي دانګريزانو نه ځان ددې ته کوي چه ځما تحريک د خپولاندې نه شي او مولاناحسين احمد

مدني متې رانغاړې او لوړ غور څوي او چا ترينه تپوس اوكړو حضرت دا څه كوې؟ نو هغه ورته وي دا د دې د پاره كومه تاكہ انگریز کو یہ گمان نہ اۓ کہ حسین احمد بوڑھے ہو گئے.

## د درباري موليانو كردار

بل طرف ته هغه درباري موليان كتاب ليكي اعلام الاعلام بان هندوستان دار الاسلام او هغوئ دا ښائي چه د انګريز په زمانه كې مونږ ته امن حاصل دې اګر چه څومره د پاسه انګريز حاكم دې خو دا د اسلام وطن دې پدې كې جهاد نشته احمد رضا خان بريلوي او د هغه ذريت دا كار اوكړو.

بل طرف ته نذيرحسين دهلوي اونواب صديق حسن خان راپاسيدل او د اقتصاد په نوم باندې ئې كتاب اوليكو او دائې دنيا ته اوخودله چه انګريزان ښه خلق دې او د هغوئ خلاف جهاد نشته بلكه دا له څه كوې انګريزان بې حياخلق وو نواب صيب پخپله اود نواب صيب څوئ نور الحسن هغوئ فتوې وركړې چه عام سړې د پاره يولس دولس ښځې جائز دې او داخلق چه وائې چه دا د نبي صلی الله علیه وسلم خصوصيت وو د دې څه دليل نشته اوس هم نواب صيب د څوي كتاب عرف الجادي په هغې كې دا مسئله هم ليكلې او نواب چه د شوكاني د رسالې كومه شرحه ليكلې د په هغې كې د نواب صيب قول اوس هم شته په ملك كې چه د انګريز خلاف كوم تحريكونه وو به هغوئ باندې د كفر فتوې اوشوې د انګريز سركار د هغوئ صفتونه اوشو يو د ديوبند دارالعلوم وو چه د هغې نه هميشه انګريز د سرګرمو خلاف علماء وتل او دا دنيا ئې په مخه اغستي وه او د

هغوئ اواز دا وو چه په دنيا کې انقلابات راځي خو دا انقلابات د الله رب العزت يو واعظ دي دنيا ته دا ښائي چه ټوله دنيا اوده نه ده.

انقلابات جہاں واعظ رب ہے سن لو
ہر تغیر سے صداء آت ہے فافہم فافہم

## حضرت مولاناحسين علي رحمه الله او د ديوبند منشور

د ديوبند نه چه کومه صداءاوچته شوي وه دا د هندوستان په اطرافو کې خوره شوه او هر چا د خپل مناسب برخه د هغې نه واغسته د ضلع ميانوالي په شکانه خمکه کې يو وړوکې غوندي کلي وو وان بچرا د ديوبند يو جهلک د حضرت گنگوهي رحمه الله په واسطه هلته رسيدلي وو او د هغه ځائي يو عالم وو حضرت مولاناحسين علي رحمه الله چه د هغه عام شاګردان هغه په حضرت صاحب باندي پيژني حضرت صاحب رحمه الله په وان بچرا کې پخپل پتي کې يوه درسګاه جوړه کړه او د اقبال د شعر ترجمه چا کړيده.

کومه خبره چه د زړه اوزي اثر لري
د الوتو طاقت بې ځانګو بې وزر لري

د هغه ملنګ او د هغه مستغي سړي چه هغه پخپلو طالبانو باندي وظيفه نه وه خوړلې د چا د کور ډوډۍ ئې پرې نه وه خوړولې يو خل ورته ځوئي وي بابا ته زميندارې اوکړي او دا طالبان چه دي ځمونږ هغه ټولې روټي دوي خلاصي کړې نو هغه ورته وې بچيه الله پاک مونږ ته د دې طالبانو د وجې نه روټۍ راکوي.

## جماعت اشاعة التوحيد والسنة او د ديوبند منشور

حضرت حضرت مولاناحسين علي رحمه الله ټخپله روتي باندي او د خپل پتي په امدن باندي د يو ښوکسانو تربيت اوکړه او نن د هغه کسانو د سعي او جدوجهد نتيجه ده چه يو منظم جماعت دي پدې دنيا کې او د هغې جماعت نوم دي جماعت اشاعة التوحيد والسنة او اشاعة التوحيد والسنة دا ما تاسو ته يولنډ غونډي تاريخ بيان کړوچه د دې جماعت د دې نه مخکې د دې پردې نه اخوا کوم کوم محرکات وو چه دا جماعت نن پدې دنيا کې پدې شکل سره موجود دي.

## دحضرت مولاناحسين علي رحمه الله د شاګردانو منشور

د پاکستان تاريخ پدې باندي شاهد دي چه د حضرت صيب شاګردانو چري دنيا ته ميلان نه دي کړي او د هغه محدود شاګردان وو.

(۱) شيخ القران مولاناغلام الله خان رحمه الله (۲) فخر المحدثين قاضي شمس الدين رحمه الله (۳) خطيب اسلام مرشد العلماء سيد عنايت الله شاه رحمه الله (٤) مفسرقران مولنا محمد امير رحمه الله (٥) مجاهد اعظم مولنا عبدالرؤف بوچال کلان(٦)شيخ العرب والعجم مجاهد ملت شيخ التفسير والقران مولنا محمد طاهر رحمه الله

دا يوښو کسان وو دوي په دي ملک کې يوانقلاب راوستو او هغه انقلاب ئي داسې راوستو چه د هغوئي سره يوه تاپه وه او هغه تاپه چه ئي خلقو ته اونيوله نو په هغې سره کره او کوته معلوم کړه او د دغه خلقو په لاس کې دري ښيزونه وو.

اول نمبر د دوي په لاس کې د الله کتاب وو او حضرت صيب رحمه الله خپل ټول عمر پدې کتاب تير کړي وو.

## د مولنا غلام رسول رحمه الله واقعه

په اني کې مشهور درس دحضرت مولنا غلام رسول رحمه الله وو چه څمونږ مشايخ بشمول شيخ القران ټول د هغه اني بابا په درس کې پاتې شوي وو. مولنا غلام رسول خپل قصه پخپله کوي چه زه کله د حضرت صيب درس له لاړمه نو ماته چا وي چه هغه په کاړي کې ناست دي زه ورسره په کاړي کې کيناستمه اوما ورسره خپل تعارف اوکړو هغه خو معلوم سړي وو نوحضرت صيب ماته وي چه قران اووايه نو ماورته وي حضرت صيب زه خو جلالين بيضاوي خلقو ته وايمه نو حضرت صيب ماته وي ته واوره کنه نو هغه وائي چه په هغه لګه غوندي سفرکې چه مونږ روان وو نوحضرت صيب ماته قران شروع کړو نو ماته پته اولګيده چه زه په هيڅ نه پوهيږمه دحضرت صيب ټوله زندګي قران وو او دا دانبياء عليهم السلام شان هم داسې وو لکه حديث کې رازي.

عن سعد بن هشام بن عامر قال أتيت عائشة فقلت يا أم المؤمنين أخبريني بخلق رسول الله صلى الله عليه وسلم قالت كان خلقه القران أما تقرأ القران قول الله عز و جل وإنك لعلى خلق عظيم قلت فإني أريد أن أتبتل قالت لا تفعل أما تقرأ لقد كان لكم في رسول الله أسوة حسنة فقد تزوج رسول الله صلى الله عليه وسلم وقد ولد له

تعليق شعيب الأرنؤوط : حديث صحيح: [۱]
د ام المؤمنين عائشي رضي الله عنها نه چا تپوس اوکړو بخلق رسول الله صلى الله عليه وسلم تاسو موليان ئي يو شان معني کوئ او زه ئي بل شان معني کومه موليان وائي چه د نبي صلى الله عليه وسلم د اخلاقو باره کې تپوس ترينه اوشو زه وايمه نه نه خُلق دين ته وائي إن هذا إلا خلق الأولين د ام المؤمنين نه چا تپوس اوکړو چه د نبي صلى الله عليه وسلم دين څه وو؟ نو هغې ورته اوفرمائيل د نبي صلى الله عليه وسلم دين قران وواخلاق نه يواځې بلکه خُلق دين ته وائي قران کې راځي إن هذا إلا خلق الأولين خلقو وي دا د پخوانو خلقو دين دي.

## د جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم دين قران وو

د جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم دين قران وو اوکړوم کسان چه د جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم صحيح متبعين وو او د هغې سرفرست اصحاب د نبي صلى الله عليه وسلم دي بيا تابعين او بيا تبع تابعين او د هغوئي نه روسته نورکسان او د هغوئي ژوند هغه هم قران وو بعض علماء وائي دوه قرانونه وه.
يو هغه قران وو چه په هغې باندي تلفظ کيدو
دريم د هغه قران يوه عملي نمونه وه نو تلفظ چه پرې کيدو نو هغه خو دا قران وو او عملي نمونه د قران هغه جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم

---

۱- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ٦ صفحه ۹۱ حديث السيدة عائشة رضي الله عنها

وو کان خلقه القران حضرت صيب داسې يو سړي وو او د هغه شاګردان هغوئي ټول عمر قران اوحديث وو.

## چه حسيني مشرب والا نه وي نو په قران نه پوهيږي

په مردان کې څمونږ يوه اجتماع وه په هغې کې ما يو سرسري بيان کړي وو بعض خلق څمونږ د د دې تنظيم مخالف شوي ووخو د هغوئي د خلاف وجه دا قران وو د قران په وجه د حضرت صيب شاګردان پدې ملک کې نوم کړي وو او حاسدان خلق پرې سوزيدل ځکه دا نوم ئې اغستلي نه شو ځکه چه حسيني مشرب والا سړي نه وي نو هغه په قران نه پوهيږي نو هغوئي زه نور ئې مسئلې راپورته کړي د دې د پاره چه دا خلق چه د بنه والې طرف ته روان دي چه د دوې په منځ کې څه بندونه او مصيبتونه راچوو ښوا به خلقو يو شعر وي.

مدعي لاکه برا چاہے تو کيا ہوتا ہے

وہي ہوتا ہے جو منظور خدا ہوتا ہے

هغه قران په خلقو کې ځائي اوکړو او د کراچي د اوبو نه واخله تر د ګلګت اوچترال د اوبو پورې يو منظم جماعت دي او دهغې اشاعت التوحيد والسنة نوم دي.

## د نوجوانان توحید والسنه مقبولیت

یوه زمانه وه پدې ملک کې اشاعة التوحید والسنة کارکولو والا لګ کسان وو خو د هغه لګو کسانو هغه حرکت او د هغوئي هغه مینه او محبت او د هغوئي هغه په خپل منځ کې مهرباني او د یو بل په درد باندې دردمند کیدل دا صفتونه د الله رب العزت خوښ شوي وو الله رب العزت د هغوئي د پاره ځوانان پیدا کړه او هغه ځوانانو ځان د پاره یو نظم د نوجوانان توحید والسنت په نوم باندې جوړ کړو او د هغه خپل مشرانو په څنګ باندې اودریدل او قاعده دا ده چه د بوډاګانو خبره کلکه وي خو سعي اوکوشش د نوجوانان فائد مند وي او هغه نوجوانانو اول د طالبانو په نوم باندې او بیا د نوجوانانو په نوم باندې یو پوره ضبط اونظم جوړ شو او هغوئي هغې خپل نظم دې حدته اورسول چه نن په سنده , پنجاب , بلوجستان او سرحد کې د توحیدجلسې دي او پر چارونه دي اودغه هلکان ئې کوي او د همیشه د پاره الله رب العزت چه کار اغستې دي نو مشرانو صرف لا ر خودلې ده او د هغې لا ري د پاره تلونکي ځوانانو پیدا کړې دي.

## د ځوانانو کردار

اصحاب کهف هم ځوانان وو؟ إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ آمَنُوا بِرَبِّهِمْ وَزِدْنَاهُمْ هُدًى د ځوانانو یوجماعت وو بخپله رب ئې باور کړې وو نو الله وائي هغوئي له ما توفیق زیات ورکړو.

حضرت موسي عليه السلام چه کله راغي نو د هغه تابعدارا چه کوم وو نو قرن د هغوئي باره کي وائي.

فَمَا آمَنَ لِمُوسَىٰ إِلَّا ذُرِّيَّةٌ مِّن قَوْمِهِ عَلَىٰ خَوْفٍ مِّن فِرْعَوْنَ وَمَلَئِهِمْ أَن يَفْتِنَهُمْ وَإِنَّ فِرْعَوْنَ لَعَالٍ فِي الْأَرْضِ وَإِنَّهُ لَمِنَ الْمُسْرِفِينَ: (۱)

د موسي عليه السلام دين چه محکي خورکړي وو نو هغه هم ځوانان خور کړي وو د ځوان سړي همت کلک وي ځوان که يو هم وي خو چه ځوان وي اورجليت پکي وي نو دهغه هره خبره کي الله رب العزت مضبوطوالي او استعداد راولي د نموني په طور موسي عليه السلام کي چه کله خلقو اثار د نجابت وليدل او د هغه دلاسه قبطي مړشوهغه د خدائي او د بني اسرائيلو دشمن چه کله هغه مړکړو او بيا هغه قسم هم کړي وو چه ځما دې په خدائي قسم وي چه ما د مظلوم امداد کړيدي او د ظالم مي ندي کړي او زه به هرګز هرکز د مجرمانو امداد نه کوم دغسي د مظلوم امداد به کومه خو چه کله خلقو د هغه خلاف کوو نو يو سړي په منډه منډه راغي او هغه موسي عليه السلام ته وي تحريک درله خلق ختموي لړي کيږه الله رب العزت چي د هغه سړي نوم اخلي او وائي.

وَجَاءَ رَجُلٌ مِّنْ أَقْصَى الْمَدِينَةِ يَسْعَىٰ قَالَ يَا مُوسَىٰ إِنَّ الْمَلَأَ يَأْتَمِرُونَ بِكَ لِيَقْتُلُوكَ فَاخْرُجْ إِنِّي لَكَ مِنَ النَّاصِحِينَ: (۱)

---

۱- سورة يونس - ۸۳

وائي رجل راغي تفسير ابن کثیر چه د سورة قصص په تفسیر کې اوګوري
نو هغه وائي.
قال تعالى وَجَاءَ رَجُلٌ وصفه بالرّجُولية لأنه خالف الطريق. فسلك طريقًا أقرب من طريق الذين بُعثوا وراءه فسبق إلى موسى
یعني الله رب العزت چه د دې سړي صفت چه اوکړو نو په رجلیت باندي ئي اوکړو ځکه د یوه لنډه لار اختیار کړه او د یو حق پرست امداد ئي اوکړو فرعون خپله اسمبلي راجمع کړیده او د چیرمین په حیثیت سره ناست دې د اوخپله فیصله اوروي چه یره دا موسي علیه السلام وژل غواړي اوهر یو سړي خپل رائي پیش کوي نو پدې خلقو کې یو ځوان وو الله رب العزت چه د هغه نوم اخلي نو الله رب العزت فرمائي.
وَقَالَ رَجُلٌ مُؤْمِنٌ مِنْ آلِ فِرْعَوْنَ يَكْتُمُ إِيمَانَهُ أَتَقْتُلُونَ رَجُلًا أَنْ يَقُولَ رَبِّيَ اللَّهُ وَقَدْ جَاءَكُمْ بِالْبَيِّنَاتِ مِنْ رَبِّكُمْ وَإِنْ يَكُ كَاذِبًا فَعَلَيْهِ كَذِبُهُ وَإِنْ يَكُ صَادِقًا يُصِبْكُمْ بَعْضُ الَّذِي يَعِدُكُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ كَذَّابٌ: (۲)
ایمان پکې کلک وو او رجلیت پکې کامل وو نو هغه راپاسیدو او د فرعون د خاندان سړي وو او فرعون او د هغه پارلمنټ ته وې چه أَتَقْتُلُونَ

[1]- سورة قصص – ۲۰
[2]- سورة مومن – ۲۸

رَجُلًا أَنْ يَقُولَ رَبِّيَ اللَّهُ رجل وو او نر وو او د ذ. سري م. ته ني کوله نو قران هغه ته رجل وائي او هغه موسي عليه السلام ته رجل وائي.

## د اشاعت التوحيد والسنه اتحاد او اتفاق.

اشاعت التوحيد والسنه د دنيا يو عجيبه تنظيم دي يوه زمانه وه څما نرئ نرئ توره ګيره وه پدې ملک کې يو درې جماعتونه وو چه ځان به ئي دين ته منسوب کوو.

اول ته به ئي جمعيت علماءاسلام وي دوئم ته به ئي جمعيت علماء پاکستان وي او دريم ته به ئي جماعت اسلامي وي.

جمعيت علماء اسلام څما د يادو خبره د په دوو ډلو کې تقسيم شو يو ته ئي مرکزي جمعيت وي او بل ته به ئي مطلق جمعيت وي د مطلق جمعيت معني دا چه د مرکزي نوم ورسره نه وو ليکدلي د مرکزي جمعيت يو څو مشران وو.

(۱) مفتي اعظم پاکستان مولنا محمد شفيع رحمه الله (۲) مولنا احسان الحق تهانوي رحمه الله وو.

دا کسان چه کله هغوئي لاړه نو هغه بغير د قيد د مرکزي لفظ نه چه کوم جماعت وو هغه پاتې شو او بيا په دې کې ډيرې ډلې شوې.

پيپل پارټي وه يوه حقيقي وه او بله مجازي وه يو د مرتضي وه او بله د بي نظيرې وه او بله د نصرت بهټو په سوات کې د افضل خان يوه پارټي وه يعني

هر يوه پارټي په شلو شلو پارټو کې تقسيم شوي دي خو دا يو جماعت دي چه د الله رب العزت پرې لوئي عنايت دي چه د پنجاب او د سرحد دوه جماعتونه يو شو ما تاسو ته د پاکستان په تاريخ اوګد نظر نه غورځومه خو په لنډو لنډو درته وايم چه هر يوه پارټي دوه ځله درې ځله لنګه شوي ده او بچي ئي راوړي دي او يو طرف ته او بل طرف ته شوي دي صرف يو اشاعت دي چه دوه يو ځائي شوي دي الحمد الله علي ذالک او دا د دې جماعت د حقانيت دليل دي.

## د اشاعت التوحيد والسنه مشن کي بدلون نشته

زه هلک اوومه او ما او ځما مشرانو او ځما ملګرو يوه خبره شروع کړې ده الله ګواه دي تر اوسه پورې هغه خبره ده چرته بله شوي نه ده.

په اوله روځ مونږ دا وئيلي وو چه الله رب العزت پخپل ذات او صفاتو کې يو دي نه د هغه د ذات په شان څوک شته لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ او نه د هغه د صفاتو په شان څوک شته ځمونږ دا اواز وو چه محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم کامل دين راوړي وو او کامل دين ئي بيان کړي وو او هغه پدې دين کې يوه مسئله هم نه وه پټه کړې او هغه مکمل دين نن هم دين دي او پرون هم دين وو کوم چه نن دين نه وي نو هغه پرون هم دين نه وو.

دا اواز نن څما د تنظيم د نوجوانانو اواز دي او دغسې يو طرف ته زه سپين ګيري او بل سپين ګيري دا اواز کوي نو بل طرف ته څمونږ د تنظيم يو ماشوم هم اواز کوي الحمدلله مونږ داخپل تنظم او د دې خپل تنظيم منشور دا مونږ د دنيا د پاره ذريعه نه ده جوړه کړې او نورو خلقو د دنيا د پاره ذريعې جوړې کړيدي څمونږ د اشاعت د ملکرو سوچ دا دي چه اسلام چه د خلقو زړونو ته کوزيږي نو په هغه طريقه به کوزيږي پ کومه طريقه چې نبي صلى الله عليه وسلم بيان کړي وو.

د مکې په زندګۍ کې ورته آفر او پيش کشې شوي وه کچيرې ته غواړې چه مونږ د مکې خلق تالره مال راجمع کړو چه راجمع کړو درله کچيرې يوه جينۍ دې خوښه وي نو په عربوکې ښائسته جنۍ خوښوه نوستا مخې به ته ولاړه وي او که حکومت دې پکار وي نو د نن نه ته څمونږه بادشاه ئې هغه يو شي هم نه دي قبول کړي او درې واړو له ئې لتې ورکړئ وه او نبي صلى الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل.

إِنَّمَا أَعِظُكُم بِوَاحِدَةٍ څما خو يوه خبره ده او هغه دا چه أن تقولوا لا إله إلا الله تاسو دا اووائې چه د الله نه غير بل اله مددګار بل مشکل کشا نشته دغه يوه خبره وه.

څمونږشيخ رحمه الله د هغه په قبر باندې دې الله کروړهارحمتونه اوکړي هغه به وئيل ماته داسې ياد شي ګويا که زه ئې اوس هم په خپلو غوږونو باندې اورمه نو هغه به وي.

نه مدرس نه مهتمم نه خطیبم نه امام

مرا چه کار که اظهار حق بیان نه کنم .

نه مهتممي نه ممبرئ غوارمه نه خطیب یم نه امام یم او نن صبا خو خلق حق د دې اشیاء د پاره پټوي یعنې مهتممئ او دې ممبرئ او د امامتئ او خطابت د پاره مهتممي څه ته وائي د دنیا دوبرق او منافق ته.

دلته به لاره ساتي د تبلیغیانو سره او هلته به لاره ساتي د جماعت اسلامي والو سره د پاره د پیسو چه پیسې به ماله راکړي او هلته به لاره ساتي د جمعیت والو سره او دلته به د اشاعت والو سره چه دوي مې هم مخالف نه شي. او ممبر څه ته وائي یعنې د ټول کلي ښځې ته هر چا سره به ئي ښه تعلق وي او دحق پرستو خلقو مخې ته خو یوعمل وي چه هغه خلقو ته پیش کوي.

## د انسانیت چینه محمد رسول الله صلي الله علیه وسلم دي

د اشاعت والتوحید والسنت سوچ دا دي چه انسان په انسانیت باندي اوچتیږي او د انسانیت په ضد باندي لاندې کیږي اود ا‌نسانیت مرکز او سنټراو د انسانیت چینه هغه جناب محمد رسول الله صلي الله علیه وسلم دي د دنیا یومشهور محدث سفیان بن عیینه اصل کې سفیان دوه دي. (۱) سفیان ابن عیینه (۲) بل سفیان ثوري خلق د دې سفیان ثوري د پاره یو عجیبه نکته ذکر کوي حالانکي دا خبره مونږ چرته په کتابونو کې نه ده لیدلې خلق وائي د سفیان ثوري په باره کې چه دي یو ځل جماعت ته

دننه کيدونو گسه خپه ئي مخکې کړه نو اوازو ته راغي چه يا ثور خو دا خبره بالکل غلطه د او کپ شپ دي اصل کې ثور بن معز د هغه خاندان وو سفيان کچري هغه ته ئي يا ثور وئيلي وي نو بيا به هغه خپل ځانته ثور وي او ثوري خو نسبت دي ثوري معني ثور قبيلې ته منسوب دي او بل دي سفيان بن عيينه نو د د قول دي چه هرشي د پاره يومرکز وي او د انسانيت مرکزهغه جناب محمد رسول الله صلي الله عليه وسلم دي هر هغه خُلق اوهره عقيدي او هر عمل دا چه ترڅو تا د محمد رسول الله صلي الله عليه وسلم په عمل باندي نه وي پيش کړي او په هغې باندي تللئ نه وي نو داعمل بياعمل نه دي عمل به هله عمل کيږي چه هغه د محمد رسول الله صلي الله عليه وسلم په رنک کې رنګ وي.

د هندوستان مجدد يعني شاه ولي الله ليکلئ د هغه خپله يوه فلسفه ده او د هغه په فلسفه کې يوعالم دي ما او تا ورته عالم برزخ وايو او هغه ورته حضيرة القدس وائي هغه وائي چه په حضيرة القدس کې دهريوې نوع د پاره يو کلي وي او د دې نوع د افرادو چه د کلي سره څومره تعلق وو نو دومره به هغه نوع صفات په ده کي ډير راځي.

## د محمد صلي الله عليه وسلم سره تعلق د نجات ذريعه ده

د نوع انساني کلي هغه محمد رسول الله صلي الله عليه وسلم دي د چا چه ورسره کلئ تعلق نشته نو قران کريم د هغه په باره کې فرمائي.

وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرًا مِنَ الْجِنِّ وَالإِنْسِ لَهُمْ قُلُوبٌ لَايَفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لَايُبْصِرُونَ بِهَا وَلَهُمْ آذَانٌ لَا يَسْمَعُونَ بِهَا أُولَئِكَ كَالأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ أُولَئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ: (١)

ما د جهنم د پاره ډېر انسانان او پېريان پيدا کړي دي هغه خلق دي چه فهم ئې شته خو قران ته پرې سوچ نه کوي غوږونه ئې شته خو هغوئې پرې قران نه اوري سترګې ئې شته خو قران ته پرې ګورې نو انسانيت خو پکې نشته دا څناور دي بلکې د څناورو نه هم بدتر دي او د چا چه د محمدرسول الله صلي الله عليه وسلم سره تعلق وونو الله رب العزت فرمائي. إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُولَئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ: (٢)

دغه کسان د چا چه د محمد رسول الله صلي الله عليه وسلم سره تعلق دين ناسته ئې د هغه ولاړه ئې د هغه غم خادي ئې د هغه او عبادت د ئې هغه په طريقه او اخلاق ئې د هغه په طريقه او مشن ئې د هغه نو الله فرمائي دا د الله په مخلوق کې د ټولو نه بهترين خلق دي او کوم کسان چې نبي صلي الله عليه وسلم مقابلې ته ولاړ وي او د هغه دين ورته بد ښکاري نو الله فرمائي.

---

١- سورة اعراف - ١٧٩

٢- سورة بينه - ٧

أُولَئِكَ هُمْ شَرُّ الْبَرِيَّةِ د بَرِيَّةِ معني لغت والا کوي البرية هي خلق الله برء په معني دخلق باندي او په خلق الله کې سپي او خنزيران هم دي نو الله فرمائي أُولَئِكَ هُمْ شَرُّ الْبَرِيَّةِ چې د محمد رسول الله صلي الله عليه وسلم سره تعلق نه ساتي نو هغوئي د سپي او د خنزير نه لاندې دي انسانيت خو پکې نشته.

مجدد رحمه الله يعني شيخ احمد سرهندي هغه پخپل مکتوبات کې پدې سنت باندي مستقل بابونه او مستقل مکتوبات دي په يو مکتوب کې هغه يو شعر ليکلي دي ډير عجيبه دي څما ډير خوښ دي هغه وائي:

محمد عربي کا سرائي هر دوسر است

کسې که خاک درشت نيست خاک برسر او

محمد عربي صلي الله عليه وسلم چه هغه د دنيا د پاره او هم د اخرت د پاره د هغه طريقه هغه د نجات ده که په دنياکي کاميابي غواړې نو د محمد رسول الله صلي الله عليه وسلم په طريقه کې ده اوکه د اخرت کاميابي غواړي نو هغه هم د محمد رسول الله صلي الله عليه وسلم په طريقه کې ده او څوک چه د هغه د در خاورې نه شو او د هغه د در نه عقيده وانغسته او د هغه د درنه ئې اخلاق وانغسته او د هغه د درنه ئې معاشره وانغسته نو د هغه په سر دې خاورې پريوزي ترڅو چه يو سړي د محمد رسول الله صلي الله عليه وسلم عملي غلام نه وي نو د خدائي بنده ترڅو چه يو سړي د محمد

عربي صلي الله عليه وسلم عملي غلام نه وي نو د خدائي بنده نه شي کيدي.

محمد کی غلامي ہے سند آزاد ھونے کی

خدا کے دامن توحید میں اباد ھونے کی

## د اشاعت التوحيد والسنه مشن او دعوت

څمونږ د جماعت دعوت او مشن دوه اهمې نکتې دي.

اول نکته څمونږ د دعوت دا ده چه د خپل خالق سره تعلق پيدا کړي څنګه چه د هغه سره د تعلق حق دي او دا نکته د هر يو نبي وه.

وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَ بَنِي إِسْرَائِيلَ لَا تَعْبُدُونَ إِلَّا اللَّهَ: (١)

الله د بني اسرائيلو نه لوظ اغستي وو او هغوئي ئې پدې باندي مامور کړي وو چه تاسو به موحدين ئي او د الله رب العزت نه علاوه به د بل چا عبادت نه کوئ. وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا: (٢)

د اک يو الله بندګي او عبادت به کوئ څوک به د الله سره حصدار او شريک نه جوړوئ. وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا: (٣)

ستا رب فيصله کړي چه بغير د هغه نه بل چا عبادت به نه کوئ.

---

[١]- سورة بقره - ٨٣

[٢]- سورة نساء - ٣٦

[٣]- سورة الاسراء - ٢٣

دویمه نکته د دعوت دا ده چه د مخلوق په مابين کې تعلقات درست وي او داسې تعلق دې وي چه مخلوق د مخلوق سره وي هسې نه چه داسې تعلق اوشي لکه د مخلوق چې دخالق سره وي داقسم تعلق به نه ساتي.

## د مخلوق اقسام

مخلوق ټول درې قسمه دي.

اول قسم ستا نه اوچت دویم قسم ستا مساوي او دریم قسم ستا نه لاندې.

نمبر ایک چه کوم دي چه ستا نه ډیر اوچت وي نو احسان به ورسره کوي خو خدائي به ورته نه وائي.

وَإِنْ جَاهَدَاكَ عَلَى أَنْ تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا: (۱)

## د حضرت سعد رضي الله عنه د مور واقعه

حضرت سعد رضي الله عنه واقعه ده.

عن داود بن أبي هند عن أبي عثمان النهدي أن سعد بن مالك قال أنزلت في هذه الآية وإن جاهداك على أن تشرك بي ما ليس لك به علم فلا تطعهما الآية وقال كنت رجلا برا بأمي فلما أسلمت قالت يا سعد ما هذا الذي أراك قد أحدثت؟ لتدعن دينك هذا أو لا آكل ولا أشرب حتى أموت فتعير بي فيقال يا

۱- سورة لقمان – ۱۵

قاتل أمه فقلت: لا تفعلي يا أمه فإني لا أدع ديني هذا الشيء فمكثت يوما وليلة لم تأكل فأصبحت قد جهدت فمكثت يوما آخر وليلة أخرى لا تأكل فأصبحت قد اشتد جهدها فلما رأيت ذلك قلت يا أمه تعلمين والله لو كانت لك مائة نفس فخرجت نفسا نفسا ما تركت ديني هذا الشيء فإن شئت فكلي وإن شئت لا تأكلي فأكلت: (١)

عن سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه أنه قال نزلت يعني الآية المذكورة في خاصة كنت رجلا بارا بأمي فلما أسلمت قالت يا سعد ما هذا الذي أحدثت لتدعن دين ك هذا أو لا آكل ولا أشرب ولا يعلني سقف حتى أموت فتعير في فيقال يا قاتل أمه فقلت لا تفعلي يا أماه فإني لا أترك ديني هذا فمكثت يوما وليلة لا تأكل فلما أصبحت جهدت ومكثت يوما آخر وليلة كذلك فلما رأيت ذلك منها قلت تعلمين والله يا أماه لو كانت لك مائة نفس فخرجت نفسا نفسا ما تركت ديني هذا فكلي إن شئت أو لا تأكلي فلما رأت ذلك أكلت فنزلت هذه الآية والتي في لقمان والأحقاف وأمره أن يرضيها وي حسن إليها ولا يطيعها في الشرك قلت إسم أم سعد المذكورة حمنة بفتح الحاء المهملة وسكون الميم بعدها نون بنت سفيان بن أمية وهي ابنة عم أبي سفيان بن حرب بن أمية ولم يعلم إسلامها واقتضت الآية الكريمة الوصية بالوالدين والأمر بطاعتهما

ولو كانا كافرين إلا إذا أمرا بالشرك فتجب معصيتهما في ذلك قوله حسناً نصب بنزع الخافض أي بحسن وقرىء إحساناً على تقدير ر أن تحسن إحساناً وحسناً أعم في البر: (١)

كله چه سعد رضي الله عنه ايمان قبول كړو نو مور ئې بک هړتال کړې وویک هړتال دخیر سره څمونږ دا لوئي لوئي علماء چه کوم دي دا د جمعیت علماء یا د جماعت اسلامي والاعلماء دوي ته بک هړتال دین ښکاري محیط برهاني په ۸جلد کې لیکلي دي چه کوم سړي بک هړتال اوکړواو دي مړ شو نو دي جهنمي دي ځکه چه دي قاتل دخپل نفس دي .

د سعد رضي الله عنه مور هم بک هړتال اوکړو هغه خلقو ته مقام هم په دي میلاو شوي وو چه مور ئې دوه ورځې روټې اونه خوړه او مور ورته وي چه ستاسو پیغمبر خو تاسو ته وائي چه د مور او پلار اطاعت به کوئ اوس به څما اطاعت کوي او دا دین به پریګده کني زه روټۍ نه خورم چه دوه ورځې ئې روټې اوونه خوړه نو په دریمه ورځ سعد رضي الله د مور خوا ته راغي اوکیناستو او ورته وي اې څماخوږې مورې څما دې په خدائي قسم ئې دا اوس خوبه تاکې یو ساه دي او که سل ساهونه دریکې وي او یو یو ساه درنه اوځي او زه درته ګورمه نو زه به بیا هم خپل دین پریګدم نه اوس خوښه دې خپله ده که خورې نو اوخوره او که نه خورې

---

١- عمدة القاري شرح صحيح البخاري : جلد ٣٢ صفحه ١٣٧باب البر والصلة
تفسير ابن كثير: جلد ٦ صفحه ٣٣٧ تفسير سورة لقمان

نو مه خوره زه خپل دين نه پريکدم نو خپل دين به د مثر د پاره نه پريکدې الله وائي کچرې مور او پلار دې کافران وي نو وَإِنْ جَاهَدَاكَ عَلَى أَنْ تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا: (١) دا رنګه د الله صفت په الله لره ورکړې او د مخلوق صفت به مخلوق له ورکوې.

## په مخلوق کې بهترين مخلوق انبياء عليهم السلام دي

په مخلوقات کې بهترين مخلوق هغه انبياء عليهم السلام دي دانبياء عليهم السلام سره مينه هغه دا ده چه د هغوئي سنت او د هغوئي طريقه دا د خپل ځان نه او د رشتدارانو نه او د ټولو خلقو نه ښه اوګنړې نبي لکه حديث کې رازي.

عن أنس قال قال رسول الله صلى الله عليه و سلم لا يؤمن أحدكم حتى أكون أحب إليه من ماله وأهله والناس أجمعين قال الشيخ الألباني: صحيح: (٢) صلي الله عليه وسلم فرمائي قسم مې دې وي يوسړې تر هغې پورې مسلمان نشي کيدې چه ده ته څه د خپل ځان نه او د مال نه او د مور او پلار نه د ټولې دنيا نه ورته ګران نه يم نو حضرت عمر رضي الله عنه اوفرمائيل يا رسول الله د هر چانه راته ګران ئې خو ځان خو ځان دي کنه نو نبي صلي

---

١- سورة لقمان - ١٥

٢- سنن النسائي: جلد ٨ صفحه ١١٥ علامة الإيمان

الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل عمره د داسې سړي ایمان نه کامل کیږي تر څو چه نبي تاته دځپل ځان هم ګران نه وي او قران هم وائي.

لَا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ أُولَئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ الْإِيمَانَ وَأَيَّدَهُمْ بِرُوحٍ مِنْهُ وَيُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ أُولَئِكَ حِزْبُ اللَّهِ أَلَا إِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمُ الْمُفْلِحُونَ: (۱)

چه داسې نارینه به پیدا نه کړې چه د هغوئي په خدائي اوپه قیامت ایمان هم وي او د الله د دشمن او د پیغمبر د دشمن سره ئې مینه هم وي دا دواړه په یو زړه کې نشي جمع کیدي اګرکه پلار ئې ولې نه وي اګر که تبر ئې ولې نه وي اګرکه رور ئې ولې نه وي دغه کسان چه د هغوئي په زړه کي خالص د الله مینه وې نو ایمان د دغه خلقو به زړونو کې دي.

څمونږ د اصالة تنظیم او د طبعا تنظیم چه دواړه یو دي یعني د اشاعت او د نوجوانانو څمونږ پدې ملک کې دغه دوه خبریدي چه د الله سره خپل تعلقات درست کړي دالله صفت مخلوق له مه ورکوئ او انسانیت بغیر ددې نه نه کامل کیږي چه الله تا د الله په حیث نه وي پیژندلي.

امنت بالله کما هو باسمائه وصفاته.

۱- سورة مجادله – ۲۲

الله په داسې پېژني لکه څنګه چه دې د الله اسماء دهغه اسماء دي د هغه پشان دچا اسماء نشته د الله صفات د هغه صفات دي د هغه پشان د چا صفات نشته علم د الله دي مولیانو ته هم خلق علماء وائي خو څومره څه علم دي.

## بنده توب ښه صفت دي

زه دي خپلو ملګرو ته وایم چه د الله بندیګانو دا القاب ملقاب مه وائي خدائي شته چه هس ترېته نه جوړېږي الله رب العزت چه محمد رسول الله صلي الله علیه وسلم دعوت له پاسوي نو څه ورته وائي چه سید الرسل حالانکې دي سید الرسل اؤ دي خاتم النبیین او دي د قران کریم لوئي مفسر او د دنیا د ټولو نه لوئي عالم دي که علامه ورته وائي نو دا لفظ هم کم دي د علم د دلالت د پاره چه علم خلقو ته ښائي د هغې د پاره يو لوئي لفظ هغه هم په نبي صلي الله علیه وسلم باندې کم دي خو الله چه کله د انبیاء علیهم السلام د دعوت مقام پیش کوي نو الله رب العزت وائي. وَأَنَّهُ لَمَّا قَامَ عَبْدُ اللَّهِ يَدْعُوهُ كَادُوا يَكُونُونَ عَلَيْهِ لِبَدًا : ([1])

نه ښکې شیخ القران شته نه ښکې شیخ العجم والعرب شته د خدائي بنده توب خدائي شته چه دا ډیر لوئي صفت دي الله دي مونږ په صحیح معنو کې بندیګان کړي او زه به درته دا ووایم چه یوه زمانه وه شیخ

[1]- سورة جن - ۱۹

القران د پنجپیر رحمه ته به ملګرو مولانا صیب وي هغه مولوي صیب چه به په کومه زمانه کې وئیلي کیده یره قسم مي دي وي چه هغه د میني نوم وو او نن چه څوک شیخ القران صیب وائي نو په هغه مولوي صیب وئیلو کې چه کومه مینه وه هغه پدي کې نشته مینه پکار ده د دې ا لقابو وئیلو نه خدائي شته که څه جوړیګي خدائي ګواه دي چه مونږ پدې خوشحالیږو چه څمونږ ملګري ښه وي اوخاصکر د نوجوانانو تنظیم چه ښه علماء پکې دي خدائي ګواه دي چه زه ئې قدر کومه.

## د ملګرو عزت کول

څمونږ په پشاور کې یو څو ملګري دي چه کله هغوئي په هفته کې یو ټیلیفون اونه کړي څما ورسره هسې څه تعلق نشته او نه مي تري څه فائد شته خو هغوئي ښه مولیان دي او حق پرست دي او د غیر مقلدینو د مودودیانو شیعه ګانو او د باطلو پرستو بدعتیانو خلاف کوي خدائي شته چه په هفته کې یو ځل ټلیفون اونه کړي نو زه ورته خامخواه ټلیفون کومه چه اواز ئې واورمه.

## د ایتونو تشریح

کوم ایتونه چه ما لوستلي نو په هغې کې الله وا ئي.

قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنْ كُنْتُمْ فِي شَكٍّ مِنْ دِينِي فَلَا أَعْبُدُ الَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ وَلَكِنْ أَعْبُدُ اللَّهَ الَّذِي يَتَوَفَّاكُمْ وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ

پیغمبره دي خلقو ته اووایه چه يَا أَيُّهَا النَّاسُ اې خلقو او پیریان پکې تبعا مراد دي.

## خلافت اعلى نظام دي

الله رب العزت چه ادم علیه السلام پیداکړو نوخلیفه ئي پیدا کړو او د خلیفه معني نائب نه ده د خلیفه معني د الله احکاموجاري کونکي خلافت د انسان کامل په نصیب کې وي نو د خلافت نه لاندې چه کوم خلق وي نو هغوئي د خلافت تابع وي کنه ؟نو پیریان د انسانانوتابع دي.

انسان له الله خلافت ورکړیدي اوهغه ئي د خپلو احکامو جاري کوونکي کړځولي دي اودا هغه وحي وه چه ملائکو وئیلي ووچه.إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً هغوئي چه دخلیفه لفظ ته اوکتل نو خلیفه هغه چا ته وائي چه د ظالم نه بدله اخلي نو هغوئي پوهه شول چه ظلم به کیږي خلیفه هغه چاته وائي چه د قاتل نه قصاص اخلي نو هغوئي پوهه شول چه قتل به کیږي اوخلیفه هغه چا ته وائي چه زنا کار له حد ورکوي نو هغوئي اووئیل چه زنا به کیږي نو دي ته خلیفه وئیلي کیږي.

ځمونږحکومت خو څه حکومت نه دي دا خو کمزوري حکومت دي که
د دوي نه تپوس اوکړئ نو دوي وائي چه ځمونږ په لاس کې اختیار نشته
او حالانکې حکومت د مولیانو دي او چه لاړ شي نو وائي پدې کلي کې
فلاني وزیر صیب دا نالي جوړه کړي ده د الله ساد ګانو نالي خو پیپل والا
هم بخولي او نیشنل والو به هم بخولي او د نالو صفائي خو چوړيان هم کوي
نو ستاسو او د هغوئي فرق څه شو؟

الله رب العزت انسان خلیفه پیدا کړي اود خلیفه څه معني دالله،حکمونه
جاري کونکي نو د خلافت چې څومره لوئي او واړه صفتونه دي هغه ئې
په انسان کې پیدا کړيدي.

نبوت د خلاف یو اعلي صفت دي نو هغه ئې په بندیانو کې راوستي دي او
پیریان ئې ورله تابع کړيدي په پیریانو کې نبي نشته اوخطاب، چه کوي نو
بندیانو ته کوي او پیریان د هغوئي تابع دي او انسانیت لکه څنګه چه ما
تاسو ته مخکې عرض اوکړو چه دکلي سره ئې تعلق نه وي یعنې دکریډ سره
چه کوم تار تړ نه وي نو په هغه کې بجلي نه وي تر څو چه ستا دمحمد عربي
صلي الله علیه وسلم سره تعلق نه وي د ایمان خو نشته نشته خو انسانیت
هم نشته.

قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنْ كُنْتُمْ فِي شَكٍّ مِنْ دِينِي فَلَا أَعْبُدُ الَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ وَلَكِنْ أَعْبُدُ اللَّهَ الَّذِي يَتَوَفَّاكُمْ وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ: (١)

اې خلقو كچېرې ستاسوشک وي چه ځما قانون څه دي؟ نو ځما د قانون اولنۍ دفع د الله تابعداري ده تاسو چه د چا بندګي کوئ زه د هغوئ بندګي نه کومه زه د يو الله بندګي کومه د بل چا بندګي نه کومه او زه د هغه الله بندګي کومه هغه چه تاسو به وجنې نو چه په چا باندې مرګ نه راځي نو بيا دا دليل صحيح کيږي د هغوئ د پاره او چه په بنديانو کې داسې يو صنف هم وي چه په هغوئ باندې مرګ نه راځي نو د دې مطلب دا دې چه خدائي او هغه يو دي.

## د روح اغيستلو دوه طريقې دي

الله رب العزت په قران عظيم الشان کې فرمائي چه ځماسره د روح اغستلو دوه طريقې دي.

يو اخلم نو راېربيدم ئې يو ساعت مې ترلې وي او بل واخلم نو زان سره ئې اوساتم.

اللَّهُ يَتَوَفَّى الْأَنْفُسَ حِينَ مَوْتِهَا وَالَّتِي لَمْ تَمُتْ فِي مَنَامِهَا فَيُمْسِكُ الَّتِي قَضَى عَلَيْهَا الْمَوْتَ وَيُرْسِلُ الْأُخْرَى إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى: (٢)

---

١- سورة يونس - ١٠٤

٢- سورة زمر - ٤٢

د الله سره د روح اغستلو دوه طريقې دي.يو د مرګ د پاره اخلي بل د خوب د پاره اخلي نو د چا چه د مرګ فيصله اوکړي نو هغه د ځان سره وساتي. او د چا د مرګ فيصله چه ئې نه وي کړي هغه واپس راوليکي.

## مرګ به په هر چا رازي

وَلَكِنْ أَعْبُدُ اللَّهَ الَّذِي يَتَوَفَّاكُمْ زه د هغه الله عبادت کومه کوم الله چه تاسو به وجني او ماته حکم شوي دي چه په دي به زما ايمان وي چه الله به ما وجني. لکه حديث کي هم رازي.

عن بن أبي مليكة قالت عائشة مرض رسول الله صلى الله عليه و سلم فوضعت يدي على صدره فقلت اذهب البأس رب الناس أنت الطبيب وأنت الشافي وكان رسول الله صلى الله عليه و سلم يقول الحقني بالرفيق الأعلى وألحقني بالرفيق الأعلى

تعليق شعيب الأرنؤوط :إسناده صحيح على شرط البخاري: (١)

جناب رسول الله صلي الله عليه وسلم چه کله وفات کيدو نو داوبو په لوښي کي به ئې لاس ښکته کولو اويه مخ مبارک به ئې راخکلو او فرمائيل به ئې الحقني بالرفيق الأعلى

وَأَنْ أَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِينَ

---

١- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ٦ صفحه ٩١ حديث السيدة عائشة رضي الله عنها

او ماته حکم شوي دي د دې چه زه به د دين د قانون ځان تابع کومه قانون به د زان نه تابع کومه دا نه چه چرته د شريعت طريقه وي هغه به مولا د زان تابع کوي نه بلکې مولا به ځان د شريعت تابع کوي شريعت متبوع دي تابع نه دي غم به دې د نبي صلي الله عليه وسلم مطابق وي او خادي به دې د هغه د خادي.مطابق وي دازه کليات پيش کوم او الحمدلله ځمونږ دواړه تنظيمونه ښه فعال دي او ځمونږه خبره يوه ده که ځمونږ ملکروکې څوک په کراچۍ کې به اردو کې خبره کوي او که په چين کې په چيني ژبه کې خبره کوي اوکه په ګجروکي په ګجرئ کي خبره کوي خدائي شته ځمونږ د ټولو يوه خبر ده او ځمونږه دين او دعوت.يو دي.

الله ماته حکم کړيدي چه هچرې هچرې به د مشرک ملکري نه کيږي

وَلَا تَدْعُ مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَنْفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ فَإِنْ فَعَلْتَ فَإِنَّكَ إِذًا مِنَ الظَّالِمِينَ

او د الله رب العزت نه علاوه هغه صفاتو والا خلق چه تاله نفع او نقصان نشي درکولي هغوئي ته به اواز نه کوي که اودې کړه نو مشرک به شي بل چا ته به چغه نه وهي او چغه به څکه نه وهي که الله رب العزت درته معسولي تکليف درکړي نو د هغې لرې کونکي هم الله دي.

## توحيد عملي او توحيد قولي

نبي صلي الله عليه وسلم مونږ او تاسو ته وائي چه عملي توحيد اوکړئ او عملي توحيد مونځ دي نو د هغي نه پس قولي توحيد داسې وائي.

عن محمد بن كعب القرظي قال قال معاوية على المنبر اللهم لا مانع لما أعطيت ولا معطي لما منعت ولا ينفع ذا الجد منك الجد من يرد الله به خيرا يفقهه في الدين سمعت هؤلاء الكلمات من رسول الله صلى الله عليه و سلم على هذا المنبر

تعليق شعيب الأرنؤوط حديث صحيح وهذا إسناده حسن من أجل أسامة بن زيد وهو الليثي فقد روى له الشيخان متابعة وهو حسن الحديث وقد توبع وبقية رجاله ثقات رجال الشيخين: (١)

الله ته څما خدائ ئې او ته چه څه ورکوئ نو هيڅوک ئې منع کولي نه شي او چه ته ئې منع کړې څوک ئې ورکولي نه شي. ولا ينفع ذا الجد منك الجد علماء ئې دوه معني کوي.

کچري د چانيکه ډير لوئي سړي وي نو دلوئي نيکه نوسي ته د هغه نيکه هيڅ فائد نشي رسولي او دويمه معني دا د چه مالدار ته د هغه مالداري هيڅ قسمه فائد نشي ورکولي. الله هم فرمائي.

مَا يَفْتَحِ اللَّهُ لِلنَّاسِ مِنْ رَحْمَةٍ فَلَا مُمْسِكَ لَهَا وَمَا يُمْسِكْ فَلَا مُرْسِلَ لَهُ مِنْ بَعْدِهِ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ: (٢)

---

١- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ٤ صفحه ٩٢ حديث معاوية رضي الله تعالى عنه

٢- سورة فاطر - ٢

الله وائي كه زه رحمت بند كړمه نو څوک ئي نه شي راپرانستي او چه زه ئي كولاو كړمه نوڅوک ئي نشي بندولي او كه الله تا سره خيګړه كول غواړي نو هيڅوک ستا نه د الله خير نشي لرې كولي دا خو د الله خوښه د چه چا له خير وركوي د نبي صلي الله عليه وسلم په لاس كې خير او شر نشته.

## د اسعد بن ضرارة رضي الله عنه واقعه

اسعد بن ضرارة رضي الله عنه واقعه ده؟

عن محمد بن عبد الرحمن بن أسعد بن زرارة قال سمعت يحيى وما أدركت رجلا منا به شبيها يحدث الناس أن أسعد بن زرارة وهو جد محمد أخذه وجع في حلقه يقال له الذبحة فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم لأبلغن أو لأبلين في أبي أمامة عذرا فكواه بيده فمات. فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم بئس الميت لليهود يقولون أفلا دفع عن صاحبه وما أملك له ولا لنفسي من الله شيئا: (١)

يو مشهور عقبي صحابي دي د بدر د جنګ نه مخكې وفات شوي دي په مدينه كې يو قسم مرض وو ذبحة به ئي ورته وي پدې مرئ كې به څه چل اوشو او هغه سړي به ئي مړ كړو نو د هغې علاج د خلقو سره نور نه وو صرف داغ به ئي پرې لګوو بعض خلق به پكې بچ شول نو پدې صحابي باندې چه كله دا بيماري راغله نو نبي صلي الله عليه وسلم پخپل

(١)- المعجم الكبير للطبراني: جلد ١٦ صفحه ١٥٤ من اسمه يحيى

لاس مبارک باندي په هغه باندي داغ ولګولو او هغه مړ شو نو نبي صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل د ده دا مړي د يهودو د پاره ډير بدشګون مړي دي دوي به وائي چه دا څنګه پيغمبر دي چه خپل ملګري ئي بچ نه کړو او نبي صلي الله عليه وسلم وائي چه د بل د پاره به زه څه اختيار اولرمه د خپل ځان د پاره اخيتار نه لرمه.

فَإِنْ فَعَلْتَ فَإِنَّكَ إِذًا مِنَ الظَّالِمِينَ که تا دا کار اوکړو نو يقينا ته به د ظالمانو نه شي.

وَإِنْ يَمْسَسْكَ اللَّهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهُ إِلَّا هُوَ وَإِنْ يُرِدْكَ بِخَيْرٍ فَلَا رَادَّ لِفَضْلِهِ يُصِيبُ بِهِ مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَهُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ

او که الله معمولي تکليف در اورسوي نو ټول کائنات ئي ستا نه نشي لري کولي او که الله فائد در رسول اوغواړي نو څوک ئي ستا نه اغستي نه شي دا د الله خوښه ده چا له خير ورکوي او چا له شر ورکوي . او الله بخونکي او رحم والا دي.

## دعا

الله دي ځمونږ دا تنظيم دغسي قائم او دائم او کامران لري او الله دي ځمونږ دا د نوجوانانو تنظيم الله رب العزت دي نور هم کامياب کړي او د دوي چه کوم مشران دي د دوي محنت کي دي الله اخلاص پيدا کړي او د دوي هر يو عمل دي الله د خپلي رضا کړي الله دي دوي د ريا او د

خودنې نه اوساتي او الله رب العزت دي څمونږ د ټولو په عملونو کې اخلاص پيدا کړي.

او الله رب العزت دي څمونږ د لاسونو نه د اشاعت التوحيد والسنت دا رسۍ نه خلاصوي او الله دي څمونږ ژوند د دې جماعت سره کړي او الله دې څمونږ مرګ هم پدې جماعت کې کړي الله دې کړي چه څمونږ ژوند او مرګ په اشاعت التوحيد والسنت باندي راشي .

واخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمين

# موضوع : د تقليد شرعي حيثيت

الحمد لله الذي ارسل رسوله بالهدي ودين الحق ليظهره علي الدين كله وكفي بالله شهيدا

واشهد ان لا اله الا الله وحده لا شريک له اقرارا به وتوحيدا

واشهد ان سيدنا ومولانا محمدا عبده ورسوله صلي الله تعالي عليه وعلي اله واصحابه وازواجه وسلم تسليما مزيدا.

أما بعد

فَأَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ * صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ : (١)

و قال الله تبارک وتعالی فی مقام آخر من کتابه الکريم.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَا أَنْزَلَ اللهُ قَالُوا بَلْ نَتَّبِعُ مَا أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ شَيْئًا وَلَا يَهْتَدُونَ : (٢)

---

[1] - سورة فاتحه ٧ - ٨

[2] - سورة بقره ١٧٠

## تمهيد

څما عزتمندو مسلمانانو رونړو :ستاسو په مخکې ما يو دوه آياتونه اولوستل اول څه حصه د سورة فاتحې او دويم د سورة بقرې يو ايت مې اولوستلو د فاتحې کوم ايت چه مالوستلي دی په هغې کې الله رب العزت مونږ ته حکم کوي چه سوال کوئ نو داسې ئې اوکړئ.

شاه عبدالقادر رحمة الله عليه ليکلي دي. يه سورت الله نے بندوں کی زبان سے بیان فرمائی کہ یوں کہا کریں دا سورت الله پاک دبنديانو په ژبه باندې اووی چه داسې وائي په هغې کې مونږ ته الله وائي چه سوال کوئ نو داسې اوکړئ اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ چه الله مونږ ته نيغه لاره اوخائي خو نيغه لاره د چا ؟ الله رب العزت پدې باندې پوهه وو چه نيغه لار په قران او په حديث کې ده خو د دې باوجود الله رب العزت دا اونه وی چه اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ صراط القران والحديث چه الله مونږ ته نيغه لار اوخائي او د قران او حديث لار راته اوخائي.

## تقليد شخصي

الله رب العزت مونږته د دعا طريقه خودله نو داسې ئې اوخودله چه اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ *صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ الله مونږ ته د هغه خلقولاره اوخائي چه تا په هغوئې باندې انعام کړيدي نو خبرې دوه شوی يونفس هدايت او دا نفس هدايت دا د الله مطلوب دی چه تاسو به غواړئ او هدايت په صراط مستقيم نويه دي

باندې به تاسو ثابت قدم اوسيږي خو دا هدايت او دا استقامت چه تاسو حاصلوئ نو هر سړي په قران او په حديث باندې نه پوهيږي نو د هغې د پاره الله رب العزت يوعام عنوان مقررکړوچه اَلَّذِينَ اَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ الله د هغه خلقو لاره راته اوخائي چه تا پرې انعام کړيدي نو هدايت حاصلول ضروري دی او هدايت به د چانه حاصلوي ؟ د هغې د پاره الله رب العزت توسع اوکړه يو تن ني اونه خودل خو الله اوفرمائيل اَلَّذِينَ اَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ هغه کسان چه تا پرې انعام کړيدي نو د قران د دې ايات نه دا خبره په وضاحت سره ثابته شوه چه بغير د اشخاصو نه اوبغير د اشخاصو د تقليد نه سړی دين نشي موندلی.

## د براء بن عازب رضي الله عنه روايت

د براء بن عازب رضي الله عنه روايت دي مشکوة ذکر کړي دي.

وعن البراء بن عازب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال يأتيه ملكان فيجلسانه فيقولان له من ربك ؟ فيقول ربي الله فيقولان له ما دينك ؟ فيقول ديني الإسلام فيقولان ما هذا الرجل الذي بعث فيكم ؟ فيقول هو رسول الله صلى الله عليه وسلم فيقولان له وما يدريك ؟ فيقول قرأت كتاب الله فآمنت به وصدقت فذلك قوله يثبت الله الذين آمنوا بالقول الثابت الآية قال فينادي منادمن السماء أن صدق عبدي فأفرشوه من الجنة وألبسوه من الجنة وافتحوا له بابا إلى الجنة فيفتح قال فيأتيه من روحه وطيبها ويفسح له فيها مد بصره وأما الكافر فذكر موته قال ويعاد روحه في جسده ويأتيه ملكان فيجلسانه فيقولان من ربك ؟ فيقول هاه هاه لا أدري فيقولان له :ما دينك ؟

فيقول هاه هاه لا أدري فيقولان ما هذا الرجل الذي بعث فيكم ؟فيقول هاه هاه لا أدري فينادي مناد من السماء أن كذب فأفرشوه من النار وألبسوه من النار وافتحوا له بابا إلى النار قال فيأتيه من حرها وسمومها قال ويضيق عليه قبره حتى تختلف فيه أضلاعه ثم يقيض له أعمى أصم معه مرزبة من حديد لوضرب بها جبل لصار ترابا فيضربه بها ضربة يسمعها ما بين المشرق والمغرب إلا الثقلين فيصير ترابا ثم يعاد فيه الروح رواه أحمد وأبوداود.: (١)

چه كله يو سړى په قبر كې كيخودلى شي نو هغه له ملائك راځي هغوئ چه راشي نو هغوئ د دې سړي نه يو څو تپوسونه كوي.

اول تپوس ترې كوي من ربك؟نوچه هغه مسلمان وي نوهغه وائي زما رب الله دي.

دويم تپوس ترينه كوي مادينك؟نو چه مسلمان وي نوهغه ورته وائي زما دين اسلام دي .

دريم تپوس ترينه كوي ما هذا الرجل الذي بعث فيكم ؟ كوم سړى چه په تاسو كې راليګلى شوي وو د هغه باره كې دى څه خيال دى؟ نو چه هغه مسلمان وي نو د هغه دوه جوابونه وي اول جواب دا چه هو رسول الله صلى الله عليه وسلم.

او دوئم جواب د ابوهريره رضي الله عنه روايت كى رازي.

---

١- مشكواة المصابيح : جلد ١ صفحه ٤٥٤ باب الإيمان بالقدر

عن أبي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا قبر الميت أتاه ملكان أسودان أزرقان يقال لأحدهما المنكر وللآخر النكير فيقولان ما كنت تقول في هذا الرجل؟ فيقول هو عبد الله ورسوله أشهد أن لا إله إلا الله وأن محمداً عبده ورسوله: (١)

چه دغه سړی دا هم ووائي أشهد أن لا إله إلا الله وأن محمداً عبده ورسوله خو کوم سړی چه مسلمان نه وي اود هغه نه دغه تپوسونه اوشي چه من ربك؟ نو هغه حيران او پريشان شي او وائي هاه هاه لا أدري ماته پته نشته او چه دويم تپوس ترينه اوکړي ما دينك؟ نو هغه وائي چه هاه هاه لا أدري ما ته پته نشته.

او چه دريم تپوس ترينه اوشي ما هذا الرجل الذي بعث فيكم؟ کوم سړی چه په تاسوکې راليکلی شوي د هغه باره کې څه وائي؟ نو هغه بيا وائي چه هاه هاه لا أدري ما ته پته نشته.

## د حضرت أنس رضي الله عنه روايت

دا رنګه په بل حديث کې راځي.

وعن أنس قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم إن العبد إذا وضع في قبره، وتولى عنه أصحابه إنه ليسمع قرع نعالهم أتاه ملكان فيقعدانه فيقولان ما كنت تقول في هذا الرجل؟ لمحمد فأما المؤمن فيقول أشهد أنه عبد الله ورسوله فيقال له انظر إلى مقعدك من النار قد أبدلك الله به مقعداً

---

١- مشكواة المصابيح: جلد ١ صفحه ٤٢ باب الإيمان بالقدر

من الجنة فيراهما جميعاً وأما المنافق والكافر فيقال له ما كنت تقول في هذا الرجل؟ فيقول لا أدري كنت أقول ما يقول الناس فيقال له لا دريت ولا تليت ويضرب بمطارق من حديد ضربة فيصيح صيحة يسمعها من يليه غير الثقلين متفق عليه. ولفظه للبخاري. :(١)

چه د هغه ملائکو سره یوګرز وي او په هغه ګرز باندې هغه سړی اووهي اوورته وائي نه ته په خپله پوهیدې او نه دې د چا تقلید کوو.

## د نجات لاري

د نجات د پاره دوه لارې دی.

اوله لاره بخپله د پوهیدو ده او بله لار د تقلید ده.

چه کله په ژوند کې وي نوالله رب العزت درته حکم کوي چه ته کله د الله نه هدایت غواړې نو اوغواړه خوهدایت به ګورې د کسانو نه مومې د اشخاصو نه به ئې مومې.

کله چه د دوی مناظره وی نو دوی وائي مونږ ته دا اوښایئ چه د امام ابو حنیفه رحمه الله تقلیدکول واجب دی اوکه واجب نه دی دا د الله سادګان پدې نه پوهیږي چه یو نفس تقلید دی اونفس هدایت دی اوبل د یو خاص سړي تقلید دی د یوخاص سړي په طریقه باندي تلل هدایت دی نو نفس تقلید واجب دی او پدې بل کې ته مختارئې چه دچا ئې کوې لکه څنګه چه نفس هدایت غوختل اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ اوپه صراط مستقیم باندې استقامت غوختل فرض دي خو صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ په دي الذين کې

---

١- مشکواة المصابیح : جلد ١ صفحه ٥٢٧ باب الإیمان بالقدر

ئ عموم کړيدي دانه چه يو سړی د مشرق اوسيدونکی وی او د مغرب د خلقو نه به هغه هدايت اخلی يا د مغرب اوسيدونکې دی د مشرق د خلقو نه .. هدايت اخلی بلکې هغه چه هدايت اخلې نو د خپلې علاقې د خلقو نه به اخلي.

دويم چه کله ته مړشې نو دمرک نه پس ستانه چه تپوس کيږي او ته الله دې نه کې په جواب کې ناکامه شي اوملائکه تاته وائي چه لا دريت ولا تليت نه ته پوهيدې او نه په چا پسې تلې او دا د گمراهی لوئې علامه ده.

## غير مقلدين او د تقليد رد

بل ايت چه کوم مالوستلی دی نو زمونږ دا عام مهربانان د تقليد د رد د پاره دا ايت په دليل کې پيش کوی عوامو ته الله فرمائي.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَا أَنْزَلَ اللَّهُ قَالُوا بَلْ نَتَّبِعُ مَا أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ شَيْئًا وَلَا يَهْتَدُونَ: (۱)

کله چه دی کافرانو ته اووئيلی شی روان شئ په هغه کتاب پسې چه الله راليږلي دی قَالُوا بَلْ نو دوی وائي بَلْ (علماء ناسبت دی بل ده اضراب د پاره دی) معنی ئې د نه نوچه يو سړی د خدائی کتاب ته نه اووائي نوهغه مسلمان دی اوکه کافر؟هغه خو کافر دی نَتَّبِعُ مَا أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ مونږه په هغه ضريقه باندې روانيږو په کومو طريقو چه مونږ خپل پلار او نيکه موندلی دی نو دا پلار نيکه د قران په مقابله کې پيش کول دي.

---

۱- سورة بقره ۱۷۰

یو پلار نیکه د قران په مقابله کې پیش کول دی او بل پلار نیکه د قران په تائیدکې پیش کول دی د تائید د پاره الله رب العزت تاته حکم کړیدي چه څې نو په هغه خلقو پسې به ځې که هغه ستا پلاروو اوکه نیکه ووا که هسې ستا په دین کې مشروو خوچه هدایت والاسړي ووا ﴿اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ * صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ﴾ اوچه کوم کسانو د قران مقابله کوله نو د قرانکریم مقابله کونکو پسې به نه ځې ګنې کافرکیږي پدې ځائي کې د تقلید خبره نه ده او پدې ایاتونو کې الله د تقلید رد نه کوي د پلار او د مور او د نیکه د اتباع د دعوی رد نه کوي بلکې هغه اتباع د پلار او د نیکه چه هغه د قران په مقابله کې ده اوهغه کفر دی نو د هغې رد کوي.

## د یوسف علیه السلام په جیل کي بیان کول

سیدنا یوسف علیه السلام په جیل کې دي او کسان ورله راځي او ورته وائي چه ته یو نیک سړی ئي او مونږ خوب لیدلی دی مونږ ته د هغه خوب تعبیر اوباسه هغه ورته وائي چه هغه خوب راته اووائي کله چه هغوئ هغه خپل خوب اووی یوسف علیه السلام هغوئ ته د هغوی د هغه خوب تعبیر اوباسي خو دا هغه ته یوه موقع میلاو شویده او دتعبیر په سورې کې هغه د الله دین ته هم رابلي کله چه یوسف علیه السلام جیل ته لاړو نو الله فرمائي.

وَدَخَلَ مَعَهُ السِّجْنَ فَتَيَانِ قَالَ أَحَدُهُمَا إِنِّي أَرَانِي أَعْصِرُ خَمْرًا وَقَالَ الْآخَرُ إِنِّي أَرَانِي أَحْمِلُ فَوْقَ رَأْسِي خُبْزًا تَأْكُلُ الطَّيْرُ مِنْهُ نَبِّئْنَا بِتَأْوِيلِهِ إِنَّا نَرَاكَ مِنَ الْمُحْسِنِينَ: ([1])

نو د هغه په ملکرتيا کې دو ځوانان جيل ته لاړه نو هغه يو تن ټکي اووى زه ځان په خوب کې وينمه رَأَيِ يَرَى دوه مصدرې لري ١- رُويت ٢- رُويا او د مصدر په اعتبار سره د دې معنى بدليږي لکه څنګه چه وَجَدَ يَجِدُ وِجدَان اووجود وِجدٌ وُجدٌ څلور پنځه مصدرې لري او د هر يو معنى په اعتبار د مصدر سره بدليږي لکه قران کريم کې الله رب العزت فرمائي.

فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ: ([2])

ساده غوندې موليان ئې معنى کوي فَمَنْ لَمْ يَجِدْ چاچه اونه موند‌ه حالانکې دا دوِجدَان نه نه دى فَمَنْ لَمْ يَجِدْ معني چاچه طاقت نه کيدو نو دوه مياشتې روژې نيول دى.

دارنګه وَعَدَ يَعِدُ دا يو فعل دي د دې کله مصدر وَعْدٌ راځي او کله وَعِيْدٌ راځي نو چه‌عَدٌ نه واخلې نو د دي جدا معنى ده او چه د وَعِيْدٌ نه ئې واخلې نو د دې جدا معنى ده.

پدې کې به ته د اهل لغتو تقليدکوې هسې نه چه پديکې هم ته اجتهاد شروع کړې لغت والا به ګورې چه د دې فعل د پاره څو مصدرې راغلى دى او دا معنى د دې فعل ولې بدليږي او رابدليږي نو رُويت او رُويا دا دواړه د

---

[1]- سورة يوسف - ٣٦

[2]- سورة نساء - ٩٢

اری رَأَيٰ يَرَى مصدرې دي خو د رؤيت معنی ده په سترګو باندې ليدل لکه رايت زيدا زيد مې په سترګو وليدلو او رُويا په خوب کې ليدلو ته وائي.

قَالَ أَحَدُهُمَا إِنِّي أَرَانِي أَعْصِرُ خَمْرًا او اووی يو د هغوئ نه زه ځان په خوب کې وينمه چه شراب نچوړومه .او هغه دويم وائي زه ځان په خوب کې وينمه چه د سر د پاسه مې روټۍ پرتې دي اومارغان د هغې نه خوراک کوي نَبِّئْنَا بِتَأْوِيلِهِ تاويل معنی مقصد يعني مونږ د دې په مقصد باندې پوهه کړه او مونږ په تا باندې يقين کوو دا رؤيت قلبي دي د مونږ په تا باندې يقين کوو نيکانو نه نو هغه ورته وائي.

قَالَ لَا يَأْتِيكُمَا طَعَامٌ تُرْزَقَانِهِ إِلَّا نَبَّأْتُكُمَا بِتَأْوِيلِهِ قَبْلَ أَنْ يَأْتِيَكُمَا ذَٰلِكُمَا مِمَّا عَلَّمَنِي رَبِّي إِنِّي تَرَكْتُ مِلَّةَ قَوْمٍ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَهُمْ بِالْآخِرَةِ هُمْ كَافِرُونَ : (١)

تاسو ته چه کومه روټۍ درکولی کیږي هغه به لا نه وي راغلي د هغې د راتلو نه مخکې به ستاسو د دې خوب تعبير او مقصد عاقبت دا به څه تاسو ته وښايم دا تاسو ته وايم ملګرو دا هغه علم دی چه زما رب ماله راکړيدي.

اوس ئې ورته خبره شروع کړه إِنِّي تَرَكْتُ مِلَّةَ قَوْمٍ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ ما د هغه خلقو دين پريخودی دي د کومو خلقو چه په الله باندې ايمان نشته او هغوئي د اخرت نه منکر دي.

چه کوم خلق ده الله نه مخالف وي نو د هغوئ نه ئې براءت اوکړو ورپسې وائي.

---

١- سورة يوسف - ٣٧

وَاتَّبَعْتُ مِلَّةَ آبَائِي إِبْرَاهِيمَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ مَا كَانَ لَنَا أَنْ نُشْرِكَ بِاللَّهِ مِنْ شَيْءٍ ذَٰلِكَ مِنْ فَضْلِ اللَّهِ عَلَيْنَا وَعَلَى النَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ: (۱)

او زه روان شومه د پلار نيکه د دين پسې کچرې دغه د جيل ملګرې د اوسنی زماني غيرمقلدين وی نو ورته به وی چه کافر شوی پلار نيکه دي پيش کړه خو هغوئ پوهه خلق وو هغوئ ته دا پته وه چه خبرې دوه يو طرف ته هغه خلق چه د الله اود الله د پيغمبر خلاف کوي د هغوئ نه خو د براءت اوکړو او بل طرف ته چه دي وائي وَاتَّبَعْتُ مِلَّةَ آبَائِي زه د پلارنيکه د دين پسي روان ئمه اوبيا د پلار نيکه تعين هم کوي چه زما پلار اونيکه څه داسي عام خلق نه ووإِبْرَاهِيمَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ زما پلارنيکه ابراهيم دی او اسحاق دی او يعقوب دی دهغوئ په طريقه پسي زه روان يمه او بيا د پلار نيکه دين هم ښائي چه د هغوئ دين د قران او د حديث خلاف نه دي.

مَا كَانَ لَنَا أَنْ نُشْرِكَ بِاللَّهِ مِنْ شَيْءٍ څمونږه دا کار نه دی چه مونږه د الله رب العزت سره هيڅوک حصه دارکړو دازمونږ د پلار نيکه دين دی نو کله چه يو سړي د پلارنيکه دين واضحه پيش کړي او بيا هغه اووائي چه زه د پلار نيکه په طريقې پيسې روان يمه او څوک چه د الله د کتاب او د پيغمبرانو د راوړې شوی طريقې خلاف دی د هغوئ نه زما براءت دی او دا قسم تقليد کول عين ايمان دي او د دې الله رب العزت مونږ ته حکم کړيدي چه دا قسم تقليد به کوئ.

---

۱- سورة يوسف - ۳۸

# عدم القراءة خلف الإمام

دوی لګیا دی وائي چه په امام پسې فاتحه اونه وائي مونږ ئي نه کیږي نو مونږ وايو چه مونږ هم درسره دا منو خو پدې وئیلو کې به لږ غوندې تعمیم اوکړو چه حقیقتً وئیل وی او که حکماً وئیل وی نو څوک چه په امام پسې ولاړ وي نو زمونږ نبي صلی الله علیه وسلم وئیلي دي.

عن جابر قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من كان له إمام فإن قراءة الإمام له قراءة: ([1])

څوک چه په امام پسې ولاړ وي نو که دي فاتحه نه لولي نو دی حکما په حکم د لوستونکی کې دی دا خلق دوی همیشه داسې کارونه کوي چه کله د مقلدینو (مقلدین خو مونږ ټول یو دوي هم دي او مونږ هم یو) خو فرق دا دی چه مونږ خانته مقلدین وايو او دوی نه وائي حالانکې دوی هم مقلدین دي.

(۱) عن عطاء بن يسار أنه أخبره أنه سأل زيد بن ثابت عن القراءة مع الإمام؟ فقال لا قراءة مع الإمام في شيء وزعم أنه قرأ على رسول الله صلى الله عليه وسلم والنجم إذا هوى فلم يسجد: ([2])

(۲) عن أبي هريرة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم انصرف من صلاة جهر فيها بالقراءة فقال هل قرأ معي أحد منكم آنفا؟ فقال رجل نعم يا رسول الله قال إني أقول مالي أنازع القرآن؟ قال فانتهى الناس عن القراءة مع رسول الله

---

[1] - سنن ابن ماجة محقق (۳۳۱۲)کتاب اقامة الصلاة

[2] - الصحيح المسلم تحقيق عبدالباقي (۱۱ ۰٦۰٤)باب سجود التلاوة

صلى الله عليه وسلم فيما جهر فيه رسول الله صلى الله عليه وسلم من الصلوات بالقراءة حين سمعوا ذلك من رسول الله صلى الله عليه وسلم قال وفي الباب عن ابن مسعود و عمران بن حصين و جابر بن عبدالله قال أبو عيسى هذا حديث حسن: (١)

(٣) وقول أبي هريرة صلى النبي صلى الله عليه وسلم بأصحابه صلاة نظن أنها الصبح يعني الفجر فقال هل قرأ منكم من أحد؟ قال رجل أنا قال إني أقول مالي أنازع القرآن قال فسكتوا بعد فيما قرأ فيه الإمام رواه الإمام أحمد وأبو داود والترمذي والنسائي وابن ماجه وغيرهم وهو حديث صحيح

واستدلوا بقوله صلى الله عليه وسلم من كان له إمام فقراءة الإمام له قراءة رواه الإمام أحمد وابن ماجه.

وبقوله صلى الله عليه وسلم إنما جُعِل الإمام إنما الإمام ليؤتم به فلا تختلفوا عليه فإذا كبر فكبروا وإذا ركع فاركعوا وإذا قال سمع الله لمن حمده فقولوا اللهم ربنا لك الحمد وإذا سجد فاسجدوا متفق عليه.

وفي رواية لمسلم من حديث أبي موسى رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم وإذا قرأ فأنصتوا: (٢)

(٤) عن أبي نعيم وهب بن كيسان أنه سمع جابر بن عبدالله يقول من صلى ركعة لم يقرأ فيها بأم القرآن فلم يصل إلا أن يكون وراء الإمام

قال أبو عيسى هذا حديث حسن صحيح. قال الشيخ الألباني صحيح موقوف: (٣)

---

[1]- سنن الترمذي (١١٨/٢) باب ماجاء في ترك القراءة خلف الإمام إذا جهر الإمام بالقراءة

[2]- شرح عمدة الاحكام (٣١٤/١١)

[3]- سنن الترمذي تحقيق شاكر و الباني (١١٤/٢)

(٥) عن جابر قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من كان له إمام فإن قراءة الإمام له قراءة: (١)

(٦) عن أبي الزبير عن جابر قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من صلى خلف إمام فإن قراءة الإمام له قراءة لم يرفع هذا الحديث أحد ممن رواه عن بن علية إلا سهل بن العباس ورواه غيره موقوفا: (٢)

(٧) عن نافع عن ابن عمر قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من كان له إمام فقراءة الإمام له قراءة: (٣)

(٨) عن جابر بن عبدالله قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من كان له إمام فقراءته له قراءة: (٤)

(٩) عن أبي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم إنما جعل الإمام ليؤتم به فلا تختلفوا عليه فإذا كبر فكبروا وإذا قرأ فأنصتوا وإذا قال غير المغضوب عليهم ولا الضالين فقولوا آمين وإذا ركع فاركعوا وإذا قال سمع الله لمن حمده فقول اللهم ربنا لك الحمد وإذا صلى جالسا فصلوا جلوسا: (٥)

---

١- سنن ابن ماجة محقق (٣٣١٢) كتاب اقامة الصلاة

٢- معجم الأوسط للطبراني (٤٣١٨)

٣- تاريخ بغداد (٣٣٧/١١)

٤- تاريخ بغداد (٣٤٠/١١٠)

٥- تاريخ بغداد (٣٢٠/٥)

(١٠) عن أبي هريرة قال رسول الله صلى الله عليه وسلم صلاة جهر فيها بالقراءة فلما انصرف قال هل قرأ أحد منكم خلفي قال رجال نعم فقال إني أقول مالي أنازع القرآن: (١)

(١١) عن نافع عن بن عمر قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من كان له إمام فقراءة الإمام له قراءة: (٢)

(١٢) عن على قال قال رجل للنبى صلى الله عليه وسلم أقرأ خلف الإمام أو أنصت قال بل أنصت فإنه يكفيك: (٣)

(١٣) عن المختار بن عبدالله بن أبي ليلى قال قال علي رضي الله عنه: من قرأ خلف الإمام فليس على الفطرة: (٤)

(١٤) عن أنس أن رسول الله صلى الله عليه وسلم صلى بأصحابه فلما قضى صلاته أقبل عليهم بوجهه فقال أتقرءون فى صلاتكم والإمام يقرأ فسكتوا قالها ثلاثا فقال قائل أو قائلون إنا لنفعل قال فلا تفعلوا وليقرأ أحدكم بفاتحة الكتاب فى نفسه لفظ حديث الفارسى: (٥)

---

١- تاريخ بغداد (٨٥/٧)

٢- تاريخ بغداد (٣٣٧/١)

٣- سنن دارقطني( ٣٨٢/٣) باب ذكر قوله صلى الله عليه وسلم من كان له إمام فقراءة الإمام له قراءة واختلاف الروايات

٤- معاني الآثار للطحاوي (٢١٩/١) باب القراءة خلف الإمام

٥- سنن دار قطني (١٣\٤٢٨)باب ما يقال عند رفع الرأس من الركوع اتحاف المهرة (٧٥/٢)

(١٥) عن عبيدالله بن مقسم أنه سأل عبدالله بن عمر وزيد بن ثابت وجابر بن عبدالله فقالوا: لا تقرءوا خلف الإمام في شيء من الصلوات: ([1])

(١٦) عن ابن أبي ليلى أخبرني رجل أنه سمع أباه يحدث عن علي قال يكفيك قراءة الإمام: ([2])

(١٧) عن عمران بن حصين قال كان النبي صلى الله عليه وسلم يصلي بالناس ورجل يقرأ خلفه فلما فرغ قال من ذا الذي يخالجني سورتي ثم نهاهم عن القراءة خلف الإمام: ([3])

(١٨) عن كثير بن مرة الحضرمي قال سمعت أبا الدرداء يقول سألت رسول الله صلى الله عليه وسلم أفي كل صلاة قراءة قال نعم فقال رجل من الأنصار وجبت هذه فالتفت إلي أبو الدرداء وكنت أقرب القوم منه فقال يا بن أخي ما أرى الإمام إذا أم القوم الا قد كفاهم: تعليق شعيب الأرنؤوط إسناده صحيح: ([4])

(١٩) عن عبدالله بن مسعود أنه قال أنصت للقراءة في الصلاة كما قال الله عز وجل وإذا قرئ القرآن فاستمعوا له وأنصتوا لعلكم ترحمون وسوف يكفيك ذلك الإمام: ([5])

(٢٠) حدثنا علي أخبرنا شعبة عن انس ابن سيرين قال سألت ابن حضرت عمر رضي الله عنه القراءة خلف الإمام فقال تكفيك قراءة الإمام: ([1])

---

[1]- شرح معاني الاثار (٢١٩/١) باب القراءة خلف الإمام

[2]- سنن دارقطني (٣٩٥\٣)

[3]- سنن دارقطني (١١٣\٢) معاني الاثار للطحاوي (٢٠٧/١)

[4]- مسند احمد بن حنبل (٤٤٨/٦) ( بقية حديث أبي الدرداء رضي الله عنه)

[5]- المعجم لابن المقري (٢٠٩\١١)

(٢١) عن عطاء أنه سأل زيد بن ثابت عن القراءة مع الإمام قال لا قراءة مع الإمام في شيء وزعم أنه قرأ على رسول الله صلى الله عليه وسلم ! والنجم إذا هوى افلم يسجد: ([2])

(٢٢) ولهذا روي في الحديث مثل الذي يتكلم والإمام يخطب كمثل الحمار يحمل أسفارا فهكذا إذا كان يقرأ والإمام يقرأ عليه: ([3])

## واقعه

ما په رياض کې درس کولو نو په هغه درس کې ما خپلو ملګرو ته وې چه زه دليل پيش کوم نو زه دا چرته هم نه وايم چه پيغمبر صلی الله عليه وسلم دا وئيلي دی او امام ابوحنيفه رحمه الله داوئيلي دي دا خو کفر دي چه زه د پيغمبر په مقابله کې امام صيب رحمه الله پيش کومه خو زه وايم چه زمونږ امام ابوحنيفه رحمه الله پدې حديث باندې استدلال کړيدي او دوی وائي چه امام بخاري پدې خبره باندې استدلال کړيدي نو ما هغه ملګرو ته وی کچرې دا تقليد شرک وی نو د يو سړې تقليد دا کم شرک دی او د ګنړو کسانو تقليد کول لوئې شرک دی دوی د امام بخاري رحمه الله تقليد کوي د مسلم رحمه الله تقليد کوي د ترمذی رحمه الله. مقلدين دی د ابو داود رحمه الله مقلدين دی د ابن ماجه رحمه الله مقلدين

---

[1]- الجعديات (٣٣٧/١)

[2]- مسندابي عوانه (٤٤١٤)ترك السجود في النجم :اتحاف المهرة (٢٠٨/١١)

[3]- مجموع الفتاوى لابن تيمية (٢٧٩\٢٣) الفتاوى الكبرى لابن تيمية (٢٩٤\٢) مسألة: في القراءة خلف الإمام؟ اقامة الدليل على ابطال التحليل.(٤٤٧\٢).

دی د نسايي رحمه الله د موطا رحمه الله د مصنف بن ابي شيبه رحمه الله مقلدين دی د مصنف ده عبدالرزاق رحمه الله نه استدلالات کوي ده هغه مقلدين دی نو کچرې دوی ما ته د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په تقليدکولو باندې مشرک وائي نو دا خلق بيا دمشرکانو مشرکان دی ځکه د دوی استدلال ټول عمر پدغه اشخاصو باندې دي که دوی جرح او تعديل کوي نو دا تپوس ترينه اوکړه چه ته په جرح اوپه تعديل کې زمونږ معروف او مشهورکتابونه يا تهذيب التهذيب دی اوګله چه مونږ جرح کوو ټول طرفين دواړه مقلدين غير مقلدين دواړه پدې باندې متفق يوچه کله ابن حجر اووی چه دا سړی غلط دي نومونږ وايو دا غلط دي نو ته خو د مقلد مقلد ئې ځکه حافظ ابن حجر فرض کړه تا ته دا وئيلي دی چه دا سړي غلط دي نو تا خو د هغه نور طبقات نه دي کتلي اونه دڅې د هغه زمانه موندلې ده او نه دې د هغه حال پخپلو سترګو باندې ليدلی دي خو چه ابن حجر څه وئيلي دی نو په هغي باندې ستاايمان اويقين دي يا ذهبي چه څه ليکلي دی نو په هغي باندې ستا ايمان اويقين دي نود حديث دنقد په باره کچرې مونږ نقد کوو نو مونږه هم مقلدين يو او دوي که نقد کوي نو دوي هم مقلدين دي.

يو حنبلی عالم دی هغه پخپل کتاب کې ليکلي دی.

وشرط المجتهد وهوالفقيه العلم بأصول الفقه وما يستمد منه والأدلة السمعية مفصلةواختلاف مراتبها فمن الكتاب والسنة ما يتعلق بالأحكام بحيث يمكنه استحضاره للاحتجاج به لا حفظه وأوجب في الواضح معرفة

جميع أصول الفقه وأدلة الأحكام وأوجب جمع ونقل عن الشافعي حفظ جميع القرآن ومال إليه الشيخ ومعرفة صحة الحديث وضعفه ولو تقليدا يو عالم چه هغه مجتهد وی نو د هغه د پاره ضروري ده چه د قران علم به ورته وی او د سنت علم به ورته هم وي او په سنت کې په صحيح ضعيف معلوم وي اګر چه د تقليد په حيثيت سره وي نو دا تقليد حجت دي.

مونږ د دوی نه تپوس کوو چه يو خو فاتحه وئيل دی او بل فاتحه منل دی په وئيلوکې خو مونږ تاسوسره متفق يو خو فرق صرف دومره دی چه تاسو صرف د وئيلو قائل يُ او مونږ وايو چه نه پيغمبر چه څه ته وينا وائي هغه وينا ده نو اوس مونږ دا تپوس کول غواړو چه فاتحه نه وئيل لوئيه ګناه ده او که فاتحه نه منل لوئي ګناه ده او د نه منلو حکم يُ څه دي؟ کفر دي؟ د فاتحه نه منل کفر دي.

نو قران مونږ ته ته حکم کوي وائي چه دا وائي اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ الله مونږته نيغه لاره اوښائي او نيغه لاره د چا اوښائي؟صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ نو ته خو دا نه منې نو ته د خپل ځان د حکم باره کې تپوس اوکړه چه ته څه شوې؟ مونږ فتوی نه کوو خو هسې ته خپل حال معلوم کړه نو ما هغه ملګرو ته وی کچرې زه د د امام ابوحنيفه رحمه الله په تقليد کولو سره مشرک کيږمه نو دوی خو بيا د مشرکانو مشرکان دی او که دګنړو خلقو د تقليدکولو سره دوې موحد وی نو بيا زه ده موحدينو امام يمه دوې په ما باندې ريوټ اوکړو دوی سره علمی خبره هيڅ نشته علاوه ده ريوټ کولو نه اوعلمي خبره به دوی څنګه اوکړي.

## غير مقلدينو سره علم نشته

د غير مقلدينو مشر نيکه نواب صديق حسن خان يو کتاب دی الحطة په هغې کې ئې ليکلي دي.
چه زمونږ پدې زمانه کې څه کسان پيدا شويدی چه ميزان الصرف او صرف مير ئې نه دی وئيلي او د اجتهاد دعوی ئې کړيده او هغوئ دا هم وائي چه مونږ په حديث باندې استدلال کوو او د هغوئ او د حديثو ډيره لرې فاصله ده هغوئ غريبانان په حديثو باندې نه پوهيږې دا خلق د ميزان الصرف او د نحومير نه نه دې خبر او هغه نور علوم خو لاڅه کوې خو دغه اجتهاد دعوی ئې کړيده.

## د رياض واقعه

په رياض کې زما نه يو مولاووتپوس اوکړو ما ته ئې وې يا شيخ لماتصلي هذه الصلواة بهذه الطريقة؟ ماته ئې وی دا ته چه کوم مونځ د احنافو په طريقه باندې کوې دا ولې داسې کوې؟او بيا ئې وی چه ته چه دا مونځ کوې نو دا ترجيحا کوی اوکه تقليدا ئې کوې نو ماورته وخندل او ورته مې وی مولاصيب کوم اشياء چه منصوصې دی په هغې کې مونږه تقليد نه کوو په هغې کې مونږ د ترجيح قائل يو دا مونږ چه کوم مونځ کوو نو دا د تقليد پطور نه کوو دا مونږ ته ترجيح ښکارې رواېتونه مونږ راجمع کړيدې او مونږ ته پته ده چه دې باره کې دا روايت دې دې باره کې دا روايت ذی او مونږ ته دا خپل رواېتونه قوې ښکارې بيامې هغه ته وی تاته پته شته چه زه خو ډير لوئي مجتهد يمه او په فلانئ فلانئ مسئله کې

دا دا اجتهاد کړيدي چه کله مې داجتهاد دعوی اوکړه نو ماته ئې وی
تهيک ده دغه مونځ ته کوه دوی خامخواه يو سړی ديته مضطرکوی چه د
اجتهاد دعوي به ګوي نوکه داجتهاد دعوی دې اوکړه اګرچه ته په څه نه
پوهيږې اوکنه خو چه کله ما ورته اووی چه زه دا مونځ ترجيحا کومه زه
مجتهد يمه نو ما ته ئې وی زه تهيک ده پدغه طريقه مونځ کول صحيح دي.

## د غير مقلدينو رپوټ او د پوليسو د شيخ القران محمد طاهر باره کې تپوسونه کول

دوی په ما باندې رپوټ اوکړو چه کله زه پوليس واله اوغوختلمه نو هغه
صاحب زما نه تپوس اوکړوچه شيخ محمد طاهر پيجني نو ما ورته وی تش
پيژنمه ئې نه بلکې زما استاذ دی او ما ترينه دين زده کړيدي او قران او
حديث مې ترينه وئيلي دی نو ماته ئې وی چه مونږ اوريدلي دی چه ته د
هغه کيستې تقسيموي نو ما ورته وی چه کله به زما دومره وس اوشي چه
زه دهغه کيستې واخلمه او پدې خلقو کې ئې تقسيم کړمه دا خو يو لوئې
سعادت دی خو زما سره پيسې ميسې نشته دا کار نه کومه نو ماته ئې چه د
هغه کتابونه دې کتلي دی نو وما ورته وی صيبه چه استاذ مې دی نو د
هغه کتابونه ما تش کتلي نه دي بلکې د هغه کتابونه ما د هغه نه سبقا
وئيلي دی اويقينا زمونږ په زمانه کې الله دی زمونږ په شيخ رحمتونه اوکړي
دا ټول کتابونه ضياء النور البصائر تر د حقيقيت مودودي پورې دا مونږ
سبقا د هغه نه وئيلي دی نو هغه وی چه ستاسو شيخ خو سلفيانو ته کنځل
کوي نو ما ورته وې کلا وحاشا سلفيانو ته هغه چرته کنځل نه دي کړي نو

ضياء النور ئې راواغستو او کتو ئې ما ته پته وه چه دي پکښي کوم ځائي

ګورې نو ما ورته وې دا کتاب ماله راکړه نوچه کتاب مې ترینه راواغستو

نو يوځاې مې ورته راواړو نو حضرت شيخ رحمة الله عليه ليکلي دی چه.

ولعمري إفساد هؤلاء الملاحدة وإفساد إخوانهم الأصاغر المشهورين بغير المقلدين الذين سموا أنفسهم بأهل الحديث وشتان ما بينهم وبين أهل الحديث قد شاع في جميع بلاد الهند وبعض بلاد غير الهند فخربت به البلاد ووقع النزاع والعناد فإلى الله المشتكى وإليه المتضرع والملتجأ بدأ الدين غريبا وسيعود غريبا فطوبى للغرباء

ولقد كان حدوث مثل هؤلاء المفسدين والملحدين في الأزمنة السابقة في أزمنة السلطنة الإسلامية غير مرة فقابلتهم أساطين الملة وسلاطين الأمة بالصوار المنكية وأجروا عليهم الجوازم المفنية فاندفعت فتنتهم بهلاكهم ولما لم تبق في بلاد الهند في أعصارنا سلطنة إسلامية ذات شوكة وقوة عمت الفتن وأوقعت عباد الله في المحن فإنا لله وإنا إليه راجعون : (١)

زما دې په خدائی قسم وی خو دا د ځانه نقل کوی چه دا نيچران دا بې دينه خلق سر سيد احمد خان ډله او دا ځانته چه اهل القران وائي دا او د دوی کشران رونړه چه په غيرمقلدين باندې مشهوردی او هغه کسان چه هغوئ خپل ځانله نوم اهل الحديث ايخودي دي اود هغوئ او ده اهلحديثو په منځ کې ډير بعد بعيد دي.

دا يو عبارت وو ما ته ئې وی چه دا ستا شيخ ليکلي دي ما ورته وی او تهيک ده دا زما شيخ ليکلي دی خو دا چه هغه د کوم کتاب نه نقل کړيدي

١- الاثار المرفوعة فی الاخبار الموضوعة : صفحه ١٤

هغه کتاب پدې بازار کې خرخيږي ما ته ئې وی چه دا ئې د کوم کتاب نه نقل کړيدي ماورته وی چه دا دهندوستان يو مشهورعالم مولنا عبدالحي و او د هغه د کتاب نوم دی الآثار المرفوعة فی الاخبار الموضوعة او هغه د دې نه زياتې خبرې ليکلي دی ماوی هغه وائي چه کله اسلامي حکومتونه وو نو په هغې کې د غير مقلد سلفي د دې نوم نه وو.

## غيرمقلدين د کوم وخت پيداوار دي

زه په دعوې سره وايم چه د بنو عباس د زمانې يعنې د کله نه چه تقليد شروع شويدی په هندوستان کې د مغلو د اخرني بادشاه بهادرشاه ظفر پورې په دنيا کې تاسو چرته دا خودلی شئ چه د غيرمقلدين يا د سلفيانو چرته يو مدرسه شته ؟ د انګريز د حکومت نه بعد خودلی شئ خو مخکې ئې تاريخ نشي خودلي .

دا علماء ناست دی دوی کتلی دی چه طبقات الحنفية . طبقات الحنابله , طبقات مالکيه د هغوئ کتابونه شته نوچه کله په دنيا کې مالکيان شته حنفيان شته شافعيان شته حنابله شته او طبقات ئې موجود دی خو دا راته اوښائي چه طبقات السلفية په دې نوم باندې چرته کتاب شته طبقات غير المقلدين پدې نوم باندې چرته طبقات شته د دې معنی دا ده چه د دوی دا دين دا يو مستحدث دين دی نوی جوړ شويدی د دې په خير القرون کې او د خير القرون نه پس د دې څه وجود نه وو نو مولنا عبدالحی صيب وائي چه دکلې نه پدې اسلامي ملکونو کې دا زنديقيت شروع شويدی نو د ملت اسلامي حاکمانو او علماء د دوی مقابله په تبرو تورو باندې کړيده او دا خلق ئې ختم کړيدي نو ماورته وی چه دا د مولناعبدالحی قول دی اومولنا

عبدالحی دا د هندوستان یو عالم وو او دا تاسو ته چه کوم دلته راځي دا سلفیان نه دی دا خو داسې چل شوی ووچه کله د انګریز حکومت راغې نومحمد حسین بهټالوي هغه یو کتاب د الاقتصاد په نوم باندې ولیکلو او په هغې کې هغه دا اولیکل چه د انګریز سرکار خلاف جنګ کول او هغې له د جهاد نوم ورکول دا لوئې بې دینې ده نو د انګریز سرکار په خلاف به مونږ جنګ نه کوو نو دوی د هغوئ په خدمت کې درخواست ولیکلوځکه د دوی اول نوم المؤمنین وو بیا د دې نه پس غیرمقلدین اوبیا دریم نوم د دوی اهل الحدیث ووخو دا اهل الحدیث نوم دویته څنګه میلاو شویدی نو بهټالوې چه کله الاقتصاد ولیکلو نو د هغې په عوض کې بیا دوی انګریز سرکار ته درخواست اولیکلو اوهغوئ د دوی اهل الحدیث نوم کیخودو د انګریز دحکومت نه مخکې په هندوستان په تاریخ کې د دوی نوم اهلحدیث نشته نو چرته چه کتابونو کې اهل الحدیث یا محدثین راغلی دی نو هغه اهل الحدیث معنی چه هغوئ په حدیثو باندې عالمان وو هغه نه چه د حدیثو نه بې خبره وې.

## غیرمقلدین په حدیثو نه پوهیګي

یځوا یوسړی وو چه استنجاء به ئې اوکړه نو په وترو باندې به اودریدلو نو جا ترینه تپوس اوکړو استاذ جي چه کله ته استنجاء اوکړې نو په وترو باندې ودریږې نو هغه ورته وی چه تاسو په حدیثو باندې څه پوهیږئ مونږ خو مجتهدین یو په حدیث کې راځي ومن استجمر فلیوتر خوک چه استنجاء اوکړې نو وتردې کوي نو رابه غی او په وترو باندې به اودریدو.

د دې خلقو خو دغه فهم دی چرته د اردو کتابونه ئې کتلې وي او کوري يو سړی وائي مونځ ئې کولو نو چه ځانله به ولاړ وو نو سمدم به ولاړ وو خو چه امامتې به ئې ورکوله نو رقيدو به نو چا ترينه تپوس اوکړو چه مولا صيب چه ته ځانله مونځ کوې نو سمدم ولاړ ئې او چه امامتې ورکو نو رقيږې نو هغه ورته وی دا ماپه يوحديث کې لوستلی دی چه من أم منکم الناس فليخفف لاندې ترينه ئې ترجمه ليکلې وه جو تم میں سے نماز پڑھے تو وہ ھلکے نماز پڑھائے چه په تاسو کې څوک امام شي نو هغه دې سپک مونځ کوي نو هغه د دې هلکې نه هلکې جوړ کړو.

## غيرمقلدين، بريليان او د انګريز سرکار سره وفاداري

د دوی مشر نواب صديق حسن خان د هغه کتاب ترجمان وهابية دی او په اردو کې دي او پدې کتاب کې يوڅو ځائي ددې خبرې اعتراف کړيدي چه مونږ له د انګريز سرکار قدر پکار دی ځکه چه د انګريز سرکار په دور کې څمونږه دين ډير زيات خور شو.

هغه زمانه کې د انګريز په وفادرای باندې بعض خلقو ډير لوئې لوئې مقامونه حاصل کړي وي په هغوئ کې يومحمد حسين بټهالوي وو چه هغه الاقتصاد اوليکو او بل نواب صديق حسن خان وو هغه په ترجمان وهابيه کې د دې ټولو اشياء ځپله باندې اقرار کړيدي او اوس دوی ګرځي د شيخ محمد بن عبدالوهاب نجدي رحمه الله پرچارکوي اوحالانکې د دوی نيکونه نواب صديق حسن خان محمد بن عبدالوهاب نجدی ډير په بدو الفاظو باندې يادوي هغه وائي چه دا بې دينه وو او دا تحريک د دين نه وو او هغه

د بې دینی تحریک وو او نن دوی د محمد بن عبدالوهاب نجدی رحمه الله هډوکي خوري او په هغې باندې دوی پیسې اخلی نو بو دی خلقو او دوئم احمد رضا خان بریلي هغه په هغه زمانه کې د هندوستان سرکار چه وو ده برطانیې سرکار د هغه په تائیدکې هغه یوکتاب لیکلی ووکله چه د ترکو سره جنګ وو او مسلمانانون کې دلته د جهاد جذبه پیدا کیده نو احمدرضا خان کتاب ولیکلو د هغه کتاب نوم اعلام الاعلام بان هندوستان دارالاسلام دي او هغه په هغې کې داخبره ثابته کړه چه هندوستان داراسلام دی اوانګریزان دا خمونږه محسنان دی د دوی خلاف جهاد نشته نو هغه ئي هم اوچت کړو او دریم یو سړی هغوئ پیدا کړو هغه ته ئي اووی چه ته کتاب مه لیکه نه به یو فتوی کوی خو د فتوی نه مخکې په یودعوی کوی نوهغه اول دعوی اوکړه چه زه مجدد یم او د مجدد نه څه زمانه پس بیا ئي دعوی اوکړه چه زه بروزي نبي یم یعنی د نبي سوری یمه او د هغې پورې به د چا عمل نه قبلیږي تر څو چه زما د نبوت اقرار نه وی کړي او بیا د دې نه څه موده پس د اصلی نبي کیدو دعوی ئي اوکړه او دا مرزا غلام احمد قادیاني وو او پیخه دا وه چه مرزا غلام احمد قادیاني او احمدرضا خان داوړه ده یوې رشتې خلق وو د مرزا غلام احمد مشر رورو وو مرزا غلام قادر او دا د احمد رضا خان استاذ وواو احمد رضاخان پخپل سوانح کې لیکلي چه هغه به ما باندې ډیره زیات عاشق دومره زیات چه څان به ئي راباندې قرباني کولو نو دا دواړه یو خاندان وو نو مرزا لعین ولګیدو اول ئي دعوی اوکړه چه زه نبي یمه او بیا ئي دعوی وکړه چه زه مسیح یمه عیسی علیه السلام مړ دي او وي زه راغلی یمه د دې د پاره چه عیسی علیه السلام راشي نوجهاد به

ختموي جهاد نشته او د هغه تحريک دومره مؤثر وو چه په هغه زمانه کې د هندوستان چه کومې مطبع وی نو په هغې باندې ئې هم اثر اوکړو نن صبا تاسو دبخارې نسخې کومې چه د هندوستان چهاپ دی وګورئ نو په هغې کې يضع الجزية چه عيسى عليه السلام راشی نو جزيه به ختموي يا به اسلام وی يا به مرګ وی نو هغوئ د جزيه کې د جيم نه ئې دا ټکی لرې کړيدي او د زی نه ئې هم لرې کړيدي او د ي نه ئې هم يو ټکی لرې کړې دی نو ويضع الحربة ئې پاتې کړيدي يعنې جنګ به ختموي نو دغه خلق د هغه زمانې نه پيدا شويدی.

## تقليد د کوم وقت نه شروع شويدی

پاتې شوه د تقليدمسئله نو ما تاسوته عرض اوکړو چه قران مونږ ته حکم کوي او دا داسې خبره ده اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ ° صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ پدېکې د تقليدی شخصی فرضيت دی اوچه کوم کسان پوهه دي نو هغوئ دی تقليد نه کوي خو زه به تاسوته وښايمه سيراعلام النبلاءدحافظ ذهبي کتاب دی او پديکې دی امام مالک رحمه الله په طبقه کې ليکلي چه دا تقليد د کوم وقت نه شروع شويدی نو دې وائي چه.

فالمقلدون صحابة رسول الله صلى الله عليه وسلم بشرط ثبوت الإسناده إليهم ثم أئمة التابعين كعلقمة ومسروق وعبيدة السلماني وسعيد بن المسيب وأبي الشعثاء وسعيد بن جبير وعبيد الله بن عبد الله وعروة

والقاسم والشعبي والحسن وابن سيرين وإبراهيم النخعي. ثم كالزهري وأبي الزناد وأيوب السختياني وربيعة وطبقتهم.

ثم كأبي حنيفة ومالك والأوزاعي وابن جريج ومعمر وابن أبي عروبة وسفيان الثوري والحمادين وشعبة والليث وابن الماجشون وابن أبي ذئب.

ثم كابن المبارك ومسلم الزنجي والقاضي أبي يوسف والهقل بن زياد ووكيع والوليد بن مسلم وطبقتهم. ثم كالشافعي وأبي عبيد وأحمد وإسحاق وأبي ثور والبويطي وأبي بكر بن أبي شيبة.

ثم كالمزني وأبي بكر الأثرم والبخاري وداود بن علي ومحمد بن نصر المروزي وإبراهيم الحربي وإسماعيل القاضي.

ثم كمحمد بن جرير الطبري وأبي بكر بن خزيمة وأبي عباس بن سريج وأبي بكر بن المنذر وأبي جعفر الطحاوي وأبي بكر الخلال.

ثم من بعد هذا النمط تناقص الاجتهاد ووضعت المختصرات وأخلد الفقهاء إلى التقليد من غير نظر في الأعلم بل بحسب الاتفاق والتشهي والتعظيم والعادة والبلد.

فلو أراد الطالب اليوم أن يتمذهب في المغرب لأبي حنيفة لعسر عليه كما لو أراد أن يتمذهب لابن حنبل ببخارى وسمرقند لصعب عليه فلا يجيء منه حنبلي ولا من المغربي حنفي ولا من الهندي مالكي.

وبكل حال: فإلى فقه مالك المنتهى فعامة آرائه مسددة ولو لم يكن له إلا حسم مادة الحيل ومراعاة المقاصد لكفاه ومذهبه قد ملأ المغرب والأندلس وكثيرا من بلاد مصر وبعض الشام واليمن والسودان وبالبصرة وبغداد والكوفة وبعض خراسان.

وكذلك اشتهر مذهب الأوزاعي مدة وتلاشى أصحابه وتفانوا وكذلك مذهب سفيان وغيره ممن سمينا ولم يبق اليوم إلا هذه المذاهب الأربعة وقل من ينهض بمعرفتها كما ينبغي فضلا عن أن يكون مجتهدا: (١)

مُقَلَّدِين يعني هغه كسان چه د هغوئ تقليد شويدي يو مُقَلَّد بفتح اللام بل مُقَلِّد بكسراللام دي.

مُقَلِّد چه يو سړی د خپل اعتماد هار د چا غاړې ته واچوې نو ديته مُقَلِّد وائي او د چا غاړې ته ئي چه واچوې نو هغه ته مُقَلَّد وائي.

دا د خدائی ساده ګان دری خو اول په تقليد باندې پوهيږې نه دوی وائي تقليد كندې اچولو ته وائي هغه چه خلق ئي غويانو ته اچوي نو دا داسې د خدائی ساده ګان چه دوی پدې نه پوهيږي چه تقليد باب تفعيل دی او باب تفعيل لازمي نه دی دا متعدی دی نو د تقليد معنی بل ته اميل اچول يعني مقلِد معنی بل ته اميل اچونكی نو دوی خامخا چه نه پوهيږي نو وائي چه : لافرق بين مقلد وبهيمة

بهيمې ته هم خلق اميل اچوی اومقلد هم ځانته اميل اچوي خودا د دوی هغه غلطي ده دوی د تَقَلُّد او د تقليد فرق نه دی کړي او دا فرق دوی ولې نه دی کړي ؟ ځکه دوی مقلدين نه دی کچرې په دوی کې تقليد وی نو دوی به دا خبرې نه کولې.

دا امام ذهبي رحمه الله دی او د اتمې صدی عالم دی او دا داسې سړی دی چه دا ياران پرې هم اعتماد كوی ددې كتاب اقوال دوی پيش كوی د د ده كتاب ميزان الاعتدال اقوال دجرح تعديل دپاره پيش كوی د دګنړ كتابونه

---

(١)- سير اعلام النبلاء: جلد ١٥ صفحه ٩٤ مالك الإمام مالك بن أنس بن مالك المدني

دي تذكيرة الحفاظ دي او الضعفاء دي او نور ګڼ كتابونه دى د د المعين دي او په اسماء الرجال كې د د ډير كتابونه دى او د ټولو نه دوى استدلال كوى نو مقصد دا شو چه دا د دوى په نزد باندې منلى شوى سړى دي.

## د صحابو رضي الله عنهم هم تقليد شوي

حافظ ذهبي وائي تقليد چه شويدى دا د نبي صلى الله عليه وسلم د صحابو شويدى خو پدې شرط سره چه هغوئ ته داسند ثابت دي او پدې باندې ګڼ روايات دى په مسند احمد وغيره كې چه صحابه رضي الله عنهم تلى دى اوكله چه ترينه چا تپوس كړيدي نو هغوئ ورته وائي چه زمونږ نه تپوس مه كوئ لكه حديث كې رازي.

عن هزيل بن شرحبيل قال سأل رجل أبا موسى الأشعري عن امرأة تركت ابنتها وابنة ابنها وأختها فقال النصف للابنة وللأخت النصف وقال ائت بن مسعود فإنه سيتابعني قال فأتوا بن مسعود فأخبروه بقول أبي موسى فقال لقد ضللت إذا وما أنا من المهتدين لأقضين فيها بقضاء رسول الله صلى الله عليه و سلم قال شعبة وجدت هذا الحرف مكتوبا لأقضين فيها بقضاء رسول الله صلى الله عليه و سلم للابنة النصف ولابنة الابن السدس تكملة الثلثين وما بقي فللاخت فأتوا أبا موسى فأخبروه بقول بن مسعود فقال أبو موسى لا تسألوني عن شيء ما دام هذا الحبر بين أظهركم

تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده صحيح على شرط البخاري : (۱)

---

۱- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ۱ صفحه ٤٦٣ مسند عبدالله بن مسعود

أبو موسى الأشعري فرمائي چه دا عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ترڅو پورې په تاسو کې موجود وی نو زمونږ نه تپوس مه کوئ د د نه تپوس کوئ او د هغه قول د هغوئ د پاره حجت وو.

د صحابو نه پس ګورئ څوک چه تقليد نه کوي نو د صحابو خلاف شو او کنه؟

حافظ ذهبي وائي چه تقليد کول دا د صحابو د دور نه شروع شويدی نو اوس که يو سړی د تقليد مخالف وی نو دی د صحابو دشمن دي او کنه ؟

بيا امام ذهبي رحمه الله وائي ثم أئمةالتابعين كعلقمة ومسروق وعبيدة السلماني اوبيامُقَلَّدِين ائمة التابعين دی د علقمه تقليد شويدی او د مسروق تقليد شويدی اود عبيدة السلماني تقليدشويدی دسعيد بن المسيب شويدی او د سعيدبن جبير شويدی او دعبيدالله بن عبدالله شويدی د عروه شويدی د قاسم شويدی د شعبي او د حسن او د ابن سيرين او د ابراهيم نخعي د دوی ټولو تقليدونه شويدي او بيا د ائموتابعين نه پس دهغوئ نورشاګردان ثم كالزهري وأبي الزنادوأيوب السختياني وربيعة وطبقتهم.

ثم كأبي حنيفة ومالك والأوزاعي وابن جريج ومعمر وابن أبي عروبة دا په خلورمه مرتبه کې بيا د امام ابوحنيفه او د امام مالک او د اوزاعي او د ابن جريج او د معمر او د ابن ابي عروبه د دې ټولو تقليد شويدي.

ثم كابن المبارك ومسلم الزنجي والقاضي أبي يوسف والهقل بن زياد ووكيع والوليد بن مسلم وطبقتهم د دې خلقو تقليد شويدي.

ثم كالشافعي وأبي عبيد وأحمد وإسحاق وأبي ثور والبويطي وأبي بكر بن أبي شيبة.

د هغې نه پس د شافعي رحمه الله د ابي عبيد د احمد د اسحاق د ابي ثور او د ابوبکر او دا ابن ابي شيبة د دې خلقو تقليد شويدي.
او بيا د امام طحاوي ماما امام مازني تقليد شويدى او د ابوبكر او د عطا هم شويدى او د بخاري او داود بن علي او د محمد بن نصر مروزي او د ابراهيم حربي او د اسماعيل القاضي د دې خلقو تقليد شويدي.
دا طبقې شمارئ په هر يوه طبقه کې تقليد شويدي.
بيا د دې خلقونه ورسته په اجتهاد کې کمې راغې نوچه کله کمې راغې نو مُقَلِّدِين رو روختم شو او مُقَلِّدِين د نور خلقو پاتې شو يعني مجتهدين ختم شو بيا داسې چل اوشو چه د بعض ائمو چه د هغوئ تقليد شوى وو مُقَلِّدِين وو د هغوئ هغه اتباع ختم شو. بيا امام ذهبي رحمه الله وائي.
وكذلك اشتهر مذهب الأوزاعي مدة وتلاشى أصحابه وتفانوا وكذلك مذهب سفيان وغيره ممن سمينا
اوزاعي د هغه مذهب په يو زمانه کې مشهور شو اوبيا څه زمانه پس د هغه دمذهب ملګرې ختم شواو فنا شو دارنګې مذهب د سفيان او ماچه د دې کومو نومونه واغسته دا ماچه کوم اوګد تقريراوکړو الله دې رحمتونه اوکړي په امام ذهبي باندې نو دى وائي.
ولم يبق اليوم إلا هذه المذاهب الأربعة وقل من ينهض بمعرفتها كما ينبغي فضلا عن أن يكون مجتهدا
دا د اتمې صدى خبره کوي د امام ذهبي د زمانې نو نن صرف دا څلور مذهب پاتې دى د دې مطلب دا نه دى چه نورخلق چه کوم وو نو هغوئ مجتهدين نه وو او هغه مُقَلِّدِين نه وو مُقَلِّدِين خوکنړ خلق ووخو د نورو

خلقو ملګري چا چه د هغوئ تقليد کوو هغه مُقَلِّدِين ختم شو او صرف داځلور مذهبه پاتې شو نو دا ځلورمذهب عقلا نه استقرا يعني خلقو نور موندل نه نو دغه څلور پاتې شو او ډيرلږخلق دی چه هغوئ پدې مذاهبو باندې پوهيږي او بيا فضل ددې نه چه يو سړی دی مجتهد شي دا د اتمې صدی خبره کوي او تاسواوليده چه د صحابو په زمانه کې د صحابو تقليد شويدی اوصحابو کړيدي او د تابعين په زمانه کې تقليد شويدی او د تبع تابعين په زمانه کې تقليد شويدی او د هغې نه روسته هغه د عبدالله بن مبارک او د هغه نه ورستو خلقو پورې تقليد شويدی بيا مُقَلَّدِين ختم شو او مُقَلِّدِين د دې ټولو مذهبونو پاتې شوبيا رو روکيده چه د بعض خلقو هغه مُقَلِّدِين هم ختم شو نو اوس صرف داځلور مذهبه پاتې شو شافعي مالکي حنفي او حنبلي زه وايم تاسو ئې اوګورئ او د عربو د علماء نه تپوس اوکړئ هغوئ چيرې دا نه وائي چه مونږ مذاهب نه منو هغوئ خو پخپله باندې دا دعوی کوی چه مونږ حنابله يو مونږ شافعيان يو مونږ مالکه يو يعني هغوئ دا چرته هم نه وائي چه تقليد کول شرک دي.

## د شيخ عبدالله بن باز رحمه الله په مجلس کې د يو سائل سوال او د هغه جواب

مونږه په طائف کې د شيخ عبدالله بن باز رحمه الله په مجلس کې ناست وو ډير لوئې مجلس وو او ډير لوئې لوئې علماءپکې ناست وو او دا کوم کسان چه ده تنزدق او ده زنديقت دعويداران دی او دا خلق چه کافران کوي او دکفر د ايتم بم اوبتې ئې جوړه کړيده اوکتابونه ئې ليکلي دی د پاسه برې

خطونه ويستلی دی وائي چه دا حنفية او شافية او مالکيه او حنبلية دا سبل متفرقة دی د دې خلقو مشران هم ناست وو نو د شيخ عبدالله بن باز رحمه الله نه چا تپوس اوکړو چه د ائمو تقليدکول څنګه دی نو هغه ورته وی کچرې په يو سړی کې د اجتهاد صلاحيت وی نو پدې څلور مذاهبوکې چه هر يو له ئې ترجيح ورکړه او شيخ الاسلام ابن تيمية رحمه الله ليکلی دی چه حق د دې څلورو مذاهبو نه بهرنه دی خامخواه به ته د چا تقليد کوی او خامخواه به د چاخبره مني دا دوی يو نوی شئ پدې وطن کې جوړکړيدي او ما تاسو ته دا عرض اوکړو چه د بهادر شاه ظفرنه مخکې دوی دی اوښائي چه په هندوستان کې جامعة سلفية په کوم ځلي کې وه جامع مسجد اهل الحديث په کوم ځلي کې وو دا ټول د انګريز پاللی شوی خلق دي او د ټول امت مخالف دي.

## د تقليد معني

ما تاسو ته دا عرض اوکړو چه د صحابو د زمانې نه راواخله تر د نن زمانې پورې او تر اخره پورې داسې خلق به وی چه هغوئ به د ائمو تقليدکوې ملګرو د تقليد معنی هچرې هم دا نه ده چه تسليم قول الغير بلا دليل دچا بې دليله خبره منل ديته تقليد نه وائي د چاخبره بې دليله منلو ته تقليد وائي اصل کې پدې دواړو کې فرق دی يو دی دچا بې دليله خبره منل يعني دليل ئې نه وی او ته ئې مني دا خو تقليد نه دی تقليد خو ديته وائي چه د چا خبره بې دليله اومني د هغه سړي سره دليل وی تسليم قول الغير بلا دليل دا به تسليم د پاره بلا دليل وی دا نه چه دا قول به بې دليله وي.

تر اوسه پورې داتول ائمه هغوئ راروان دی اوهغه کله کله داسې شویدي چه يو عالم دی حنفي او د دلائلو په اعتبار باندې هغه ته يو مسئله د بل مذهب حق معلومه شویده نو په هغې باندې عمل کوی مونږ دا نه وايو چه هغه ده حنفية نه اووتلو يا هغه تقليد نه منې.

## د شيخ القران پنج پير رحمه الله حج له تگ

زمونږ شيخ الله دې پرې رحمتونه وکړي هغه يوځل راغلی وو ۱۹۸۰ يا ۱۹۸۱ وو زما اول حج وو او د حضرت شيخ رحمه الله د زندگي اخري حج وو د هغې نه پس بيا حج له نه وو تلی په مکه مکرمه کې يو عالم وو شيخ زيد ئې نوم وو او د هغه يو شاگرد وو شيخ علي نوم ئي وو او په جده کې وو نو زه به د هغه علي سره ناست اوومه ځکه زه چه رمضان کې تلی اوومه اعتکاف مې په مدينه کې اوکړو او بيا لاړمه جدې ته په جده کې مې ملګري وو د هغوئ سره ناست اوومه کله به حرم ته لاړمه د هغه سره به ما دا علمي بحثونه کول نو د هغه هغه استاذ شيخ زيد يوځل راغی نو دته د د شاگرد اووی چه دا پاکستانې مولا دی ډير ښه پوهيږي خومصيبت دا دی چه حنفي دی اوشيخ زيد خپله شافعي وو نو شيخ زيد ماته وی چه شافعي کيږي ولې نه؟ نو ما ورته وی چه ما ډيرې پيسې لګولي دی چه زه شافعي شمه نوبيا مې حج نه کيږي هغه ماته وی ولې دحج نه کيږي؟نوما ورته وی ځکه مې حج نه کيږي چه شوافع وائي چه دښځې سره دې لاس اولګيدو نو اودس دې مات شو نو اوس په طواف کې خو به خامخوا ستا د ښځې سره به بدن لګی يا لاس به لګي او شوافع وائي چه دطواف د پاره اودس کول فرض دی او چه فرض نه وي نوحج نه کيږي نو هغه ما ته وائي

چه مونږ پدې مسئله کې د امام ابوحنیفه رحمه الله تابع یو نو ما ورته اوخندل او ورته مې اووی چه د شافعي په وجود کې امام ابوحنیفه ته محتاج کیږمه نو دا ابو حنیفه رحمه الله خه دي کنه.

زما او د هغه ډیر اوګد بحث اوشو هغه په اخر کې ما ته قهر شو او ما ته ئې اووی چه ته نه پوهیږي نو ما ورته وی صیبه زما د نه پوهې به ما ته دلیل ښائي چه زه ولې نه پوهیږمه او هغه شاګرد ئې ناست وو بالکل غګ ئې نه کولو بله روغ حضرت شیخ رحمه الله راغي چه کله راغی زمونږ یو ملګري دی پخواني ئې دلبر نوم وو اوس ئې عبدالرحمن نوم دی د الایي دی او هغه د شیخ په خادمانو کې وو دهغه پخائي کې ده حضرت شیخ تیکانه وه ماذیکر درس وو نو هغه علی ته ما وی چه راځه نن زما شیخ راغلی دی د هغه نه به تپوسونه اوکړي زمونږ د شیخ یوجلالي طبیعت وه کله کله به هغه یو خبره اوکړه او په لنډو الفاظو باندې به ئې خلاصه کړه بل خبره ورسره چا نه شوه کولی زه چه لاړمه نوماحضرت شیخ ته وی چه دا سړی ما راوستی دی او دی د یمن دی او پدغه جماعت کې امام دی او هغه روغ د د استاذ راغلی وو اوما د هغه سره ښه مدلل بحث کړي وو بیا ورسره دلیل نه وو نو زما سره ئې جنګ کړي وو نو ته به داسړې پوهه کړې داسې نه چه جنګ ورسره اوکړې داسې به ئې پوهه کړې لکه ته چه یو بدعتي پوهه کوی داسې پوهه به ورله نه ورکوي لکه څنګه چه خپل شاګرد له ورکوې مونږ به چه کله دویم تپوس اوکړو نو حضرت شیخ به مونږ ته قهر شو زمونږ د دوره حدیث کال وو الله دې قبر د نور نه ډک کړي نو بخارې چه مونږ وئیله نو داسې سرسري غوندې ترجمه ئې اوکړه نو ماخپل کتاب

بندکړو او ما ورته اووی صیبه مونږ اخونان نه یو مونږ ته که سم حدیث
وائي نو وایه او کنه نه وائي نو چه څو درنه هغه ته دا خبره کول ډیرګران
وو خو څمونږ ورسره ډیر نزدې تعلق وو وی بنا نو ما ورته وی هم
دغسي خبره ده نو په هغه روخ باندې شیخ بخاري راوغسته او بخاري ته
ئي کتل او د هغه روځې نه پس چه ئي احادیث شروع کړه یره جي داسې
احادیث به ئي وی چه خدائی شته چه سړی به حیران شو چه الله رب
العزت دے له څومره پوهه او مهارت ورکړیدي.
نو چه کله حضرت شیخ د دورې په کال باندې قران شروع کړو او چه کله
ئي فوز الکبیرختم شو نو ما ترینه یو ورځ تپوس اوکړو نو ما ته ډیرسخت
قهر شو ما ته ئي وی چه بخاري دې راباندې خرابه کړیده کړنج به نه کوي
زه به دغسې د دې ترجمه کومه او دابه اورې او بالکل به غګ او تپوس نه
کوي نو ما ورته وی بالکل صیبه زماخوخه ده نو
شیخ ته مې وی هسې نه چه د دې علي یمني سره دا چل اوکړي نو شیخ رحمه
الله ده هغه سړې سره خبرې شروع کړې او هغه ئي حنفي مذهب باندې
داسې مستقیم کړو هغه ما ته وی زما دې په خدائی قسم وی داسې عالم
خو ما چرته نه وو لیدلی.
زما عزتمندو د تقلید نه بغیر کارنه کیږي او علم داپه تقلید کې دی څوک
چه د خپل استاذ خبره نه مني نو علم په زده کړي؟
زمونږ شیخ رحمه الله به وی چه غیر مقلد بې مهاره اوښ ته وائي د هغه
هیڅ ځائي نه وی معلوم نو د استاذ خبره به مني.

## د مولوي حبيب الله واقعه

مولوي حبيب الله صيب راغلی وو ډير رياضي دان او پوهه عالم وو او دا هغه زمانه وه چه د افغانستان د جهاد تحريک لا شروع نه وو ابتدائي وخت وو دا ډيره پخوانی قصه ده نو هغه مولوي صيب راغلی وو لرې غونډې ناست وو او مقصد د راتلو ئې دا وو چه زه به پدې مولوي صيب باندې اعتراضونه کومه بخاري به موټنگ وئيلا نو په دويمه ورځ باندې رانزدې شو په دريمه ورځ باندې نبه رانزدې شو او په څلورمه ورځ راغي زما په خوا کې کيناستو او زه د بخاري قارې اوومه نو په پنځمه ورځ باندې ئې ما ته وی ملگريا ماله کتابونه راکه په هغه وخت کې د مدرسې باقاعده ناظم نه وو نوطالبانو له به کتابونه ما ورکول نو زه هم ناظم اوومه او هم طالب اوومه نو ما د حضرت شيخ نه تپوس اوکړو چه حضرت جی داسړی خوکتابونه غواړي څه اوکړمه نو حضرت شيخ ما ته اووی چه ورکړه ورله نو کتابونه مې ورله ورکړه نو بياحضرت شيخ ما ته وی چه ترينه تپوس اوکړه چه ته خو راغلی وې مناظرې له ته خو په دام کې اونختې دا ولې نوځه لاړمه ما ورته اووی چه ته خو راغلی وی چه زه به پده باندې اعتراضونه اوکړمه او ته په خپله په دام کې اونختی نو ما ته ئې اووی چه چپ شه روره زما دی په خدائی قسم وی چه داسې عالم ماچرته نه دی ليدلی داخبره پدې خوله کې داسې جوړه کړې او د سړې په زړه کې کيدی.

## شيخ القران پنج پير رحمه الله او د غير مقلد پوهه کول

د دې جانګيرې سره يو ځائي دی شيدو ورته وائي ده شيخ يو شاګرد وو هغه ځوئي غير مقلد شوی وو نو هغه راغې شيخ رحمه الله ته ئي وی چه جي پدې خپل ځوئي بې مې ډير موليان راوسته خو دی مقلد کيږې نه نو شيخ رحمه الله وی چه ما به لا چائي نه وی ځکلې چه دی به مې درله مقلد کړې وی نو چه کله هغه راغی نو ما ورته اووی چه چائي اوسکه نو هغه اووی چه چائي نه سکمه نو ما ورته اووی چه الله رب العزت په قران کې وائي اقيموا الصلاة چائي اوسکئ نو هغه اووی جي د دې اقيموا الصلاة معنی خو چائي سکل نه ده نو ما ورته وی چه دائي معنی ده نو هغه اووی چه معنی ئي ده چه مونځ اوکړئ نوما ورته اووی چه دا چاليکې دی نو ما ته وی دا خو جلالين وغيره تولو ليکې ده نو ما ورته اووی چه ته جلالين څه مقلد ئي خپله څه خبره اوکړه اجتهاد اوکړه پردی. خبرې به نه کوې ته خو بيا مقلد کيږې چه لږ ساعت تير شو نو بيا ئي وی د تقليد نه بغير کار نه کيږي.

مسئله دا ده چه اول خو مونږ د الله رب العزت د طرفنه پدې مامور يو چه ته به څه کوې؟ته به تقليد کوی اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ* فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ دا اګر چه نص دی پدې موضوع کې خو دا آيت مې ځکه اونه وی چه دوی وائي چه مونږه يو پوهيګو او دا د ناپوه خلقو د پاره دی اواهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ *صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ کې د علم او د بې علمه خبره نشته.

# د صحابو رضي الله عنهم د نبي صلى الله عليه وسلم نه تپوسونه كول

الله رب العزت وائي فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ كه نه پوهيږي نو دعالم نه به تپوس اوكړي صحابه راغلى دى او هغه د نبي صلى الله عليه وسلم د صحبت په وجه باندې د هغوئ نفوس داسې حدته رسيدلي وو چه هغوئ د تزكئي په اعلى مراتبوكې وو او هغوئ له الله رب العزت يو اجتهادي مقام وركړي وو.

علي رضى الله عنه يو ځل قاضي وليګلو نو هغه اووى چه زه په قضا باندې نه پوهيږم نو نبي صلى الله عليه وسلم ورته اووى زه ته پوهيږى نبي صلى الله عليه وسلم ته پته وه چه زما د مجلس كې د ناستې په وجه دوى به پوهه دى خو ځان ورته ناپوهه ښكاري خو چه كه دوى بهر لاړى شي نو دوى ډير پوهه ئي.

نو د نبي صلى الله عليه وسلم د صحبت په وجه باندې دصحابو ذهنونه صفا وو او هغوئ د اجتهاد قابل وو خو هغوئ ته ځان پوهه نه ښكاريدو هغوئ به هروقت د نبي صلى الله عليه وسلم نه تپوسونه كول لكه حديث كې رازي.

عن شريك بن عبد الله بن أبي نمر انه سمع أنس بن مالك يقول بينما نحن مع رسول الله صلى الله عليه و سلم جلوسا في المسجد دخل رجل على جمل فأناخه في المسجد فعقله ثم قال أيكم محمد رسول الله ورسول الله صلى الله عليه و سلم متكئ بين ظهرانيهم قال فقلنا هذا الرجل الأبيض المتكئ فقال الرجل يا بن عبد المطلب فقال له رسول الله صلى الله عليه و سلم قد أجبتك

فقال الرجل اني يا محمد سائلك فمشدد عليك في المسألة فلا تجد على في نفسك فقال سل ما بدا لك فقال الرجل نشدتك بربك ورب من كان قبلك آلله أرسلك إلى الناس كلهم فقال رسول الله صلى الله عليه و سلم اللهم نعم قال فأنشدك الله آلله أمرك أن نصلي الصلوات الخمس في اليوم والليلة قال اللهم نعم قال فأنشدك الله آلله أمرك أن نصوم هذا الشهر من السنة قال رسول الله صلى الله عليه و سلم اللهم نعم قال أنشدك الله آلله أمرك أن تأخذ هذه الصدقة من أغنيائنا فتقسمها على فقرائنا قال رسول الله صلى الله عليه و سلم اللهم نعم قال الرجل آمنت بما جئت به وأنا رسول من ورائي من قومي قال وأنا ضمام بن ثعلبة أخو بني سعد بن بكر

تعليق شعيب الأرنؤوط : حديث صحيح , وهذا إسناده قوي: (۱)

يو صحابي راغلی دی د نبيّ صلى الله عليه وسلم نه تپوسونه کوي نبي صلى الله عليه وسلم ته وائي يا رسول الله تپوسونه کومه او سختې به کومه خوما ته قهر نه شي اوتپوسونه ئې کړيدي او هغه ئې منلي دی او بيا تلی دی.

## مقلد چا ته وائي ؟

تفسير قرطبي ليکلی دي چه يو د مقلد ايمان دی بوه د غيرمقلد ايمان دی د مقلد ايمان د غيرمقلد د ايمان نه زيات مضبوط دی تاسو به وائي چه مونږه په کتابو کې ليدلي دی چه ايمان دمقلد ندې معتبر نه نه مقلد ديته وائي چه يو سړی د پيغمبر خبره بې دليله اومني حضرت ابوبکررضي الله عنه په تولوصحابو کې لوئي مقام والا وو ولې؟دا ځکه چه نبي صلى الله عليه وسلم

---

۱- مسند امام احمد بن حنبل جلد ۳ صفحه ۱٦۸ مسند أنس بن مالك رضي الله عنه

خبره کړېده نو هغه بې دليله منلې ده دليل ئې ترينه نه دی غوختلی او معجزه ئې نه ده طلب کړې او منلې ده نو د دې امت د ټولو نه اعلم او د ټولو نه افضل سړی څوک وو؟ ابوبکررضي الله عنه ووځکه ايمان ئې تقليدي وو او چاچه خبره منلې ده خو معجزه بې غوختلې ده نو دهغه ايمان د تقليد ايمان نه وو نو ايمان د مقلد د غير مقلد د ايمان نه غوره دی.

## خلاف او اختلاف کې فرق

قران کې چه الله رب العزت وائي.وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا په دې باندې دوی استدلال کوي

خو دا د خدائی ساده ګان په تفرق باندې نه پوهيږي تفرق ديته وائي چه سړې داختلاف څکار شي يو خلاف دې او بل اختلاف دې او دا به تاسو ته معلومه وی علماء ئې چه خلاف يو مستقل علم دی پدې باندې د سمرقندي يو کتاب دی او هغه ليکلې دی چه علم خلاف تعريف څه دی او موضوع ئې څه ده او دَ دې غرض څه دی او پدې باندې کتابونه کوم کوم ليکلې شويدی.

پدې باندې ده ابن جوزي مشهور حنفي عالم د هغه کتاب دی نو يو خلاف دی او بل اختلاف دی .

اختلاف ديته وائي چه دهغې سره ائتلاف يو ځائي کيدل ممکن نه وي د انبياء او د کافرو په منځ کې اختلاف وو ځکه قران کې الله رب العزت فرمائي لِيُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِي يَخْتَلِفُونَ فِيهِ او د صحابو بخپل منځ کې خلاف وو

خو دخلاف سره په هغوئ کې ائتلاف رو نو د تفرق معنی اختلاف مه کوئ چه ائتلاف ورسره ختم نه شي.

تفسير قرطبي پدې ځائې باندې ليکلي دي.

وليس فيه دليل على تحريم الاختلاف في الفروع فإن ذلك ليس اختلافا إذ الاختلاف ما يتعذر معه الائتلاف والجمع وأما حكم مسائل الاجتهاد فإن الاختلاف فيها بسبب استخراج الفرائض ودقائق معاني الشرع وما زالت الصحابة يختلفون في أحكام الحوادث وهم مع ذلك متآلفون وقال رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اختلاف أمتي رحمة وإنما منع الله اختلافا هو سبب الفساد روى الترمذي عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال تفرقت اليهود على إحدى وسبعين فرقة أو اثنتين وسبعين فرقة والنصارى مثل ذلك وتفترق أمتي على ثلاث وسبعين فرقة

چه د ائمو اتباع هغوئ د دی وَلَا تَفَرَّقُوا د حکم نه بهر دی ځکه چه په هغوئ کې اختلاف نشته او تاسو ته پته ده علماءئې په هدايه کې يا په شرح وقايه کې يا په نورو کتابونو کې چه د امام صاحب رحمه الله او د امام محمد د دوارو رای جدا جدا شي نو کتاب والاوائي خلافا لمحمد ياخلافا لابي حنيفة يا خلافا للشافعي اختلافا نه وائي.

د دې دليل چه د هغوئ په منځ کې خلاف وو او په خلاف سره ائتلاف ته نقصان نه رسي زه وايم چه د جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه ورځې نه کوم چه په بخاري کې روايت راځي چه د نن ورځې.ترسلوکالو پورې چه پدې مخ د ځمکه باندې څومره خلق اباد دي هغوئ به نه وی نو په سلو کالو کې چه صحابه بکې ژوندی وو ما ته دې څوک دا اوښائي چه

یو صحابي راپاسيدلی دی او د بل صحابي ته ئې وئيلي وی چه دا ګمراه دي ځکه دی په امام پسې فاتحه نه وائي نشي خودلئ يا يو صحابي راپاسيدلی دی او بل ته ئې دا وئيلي وی چه ته خو رفع اليدين نه کوي ستا مونځ نه کيږي بلکې هر يو صحابي د بل د پاره معذرت پيش کړيدي.

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه به تطبيق کولو د تطبيق دا معنی چه کله به رکوع له تلونه دا لاسونه به ئې ده دواړو ځنګونانو په منځ کې کيخوده يو صحابي دی نو د هغه ځوئي دا کار کوي نو هغه ورته وائي بچيا دا مه کوه د دې نه مونږ منع کړي شوی يو خو عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ته دا منع رسيدلی نه ده نو هغوئ هر يو د بل د پاره عذر پيش کړيدي د يوبل خلاف ئې نه دی کړي او فتوی په يو بل باندې نه ده لګولې او کنې څوک دې دا اوښائي چه د صحابو په منځ کې خلاف وويو صحابي دی هغه رفع اليدين کوي اوبل ئې نه کوي يوصحابي دی په امام پسې فاتحه وائي اوبل ئې نه وائي چرې هغه نه ويونکي دا نه دی وئيلي چه داسړی ګمراه دی هريو خپل هغه طريقه چه کومه يوه ورته د نبي صلی الله عليه وسلم نه په صحيح سند او طريقې سره رسيدلی وه په هغې باندې مستقيم وونو د وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا معنی داچه د الله دين په مظبوطئ سره اونيسئ او د خلاف نه اختلاف مه جوړوئ.

## د اختلاف بانيان څوک دي؟

اصل کې د خلاف نه اختلاف دغو خلقو جوړ کړيدي ترکومه پورې چه د دوی ځائي نه وو دا تاسو ته پته شته دوی په مونږ پورې ځان ترلی وو د

دوی یو مشرمولا وو مولوي ابراهیم غالبا چه اوس وفات شوی وي الله دی ورته معاف اوکړي زمونږ پرې څه تاوان نه کیږي نو هغه مولوي ابراهیم دارنګې دا نورکسان هم وو دوی به پنځ پیر ته راتلل نه به ئي رفع الیدین کول اونه به ئي دا نورې لانجي کولې خوچه کله دویته دا پته اولګیده چه زمونږ قوت برابر شو نو دچا نه چه ئي دین زده کړي وو نو اول ئي هغوئ په غشو باندې اوویشتل زمونږ شیخ رحمة الله علیه کله کله د تحسر او د افسوس په مقام کې به ئي دا وې .

وإخوان حسبتُهم دروعًا فكانوها ولكن للأعَادِي

زما څه رونړه وو او زما دا خیال وو چه دا زما زغري دی پس وی هغه زغري وې لیکن د دشمن زغري وی .

وخِلتُهُم سهامًا صائبات فكانوها ولكن في فؤادي

او زما دا خیال وو چه دا رسیدلی غشي دي نو هغه رسیدلی غشي وو لیکن زما سینې ته .

وقالوا قد صَفَتْ مِنَّا قلوبٌ لَقَدْ صدقُوا ولكن مِن ودادي

هغوئ ما ته وی چه څمونږه زړونه پاک دی یقینا هغوئ رشتیا وئیلي وو دهغوی زړونه زما د محبت نه پاک وو یعني زما مینه راسره نه وه او شیخ رحمه الله به وی چه .

أعلمه الرماية كل يوم فلما اشتد ساعده رماني

څه ورته دین ښایمه چه دین ئي زما نه زده کړو نو اول ئي پرې زه اوویشتمه دا کوم خلق دا نن چه کومې فتوی کوي او ګرځي او ټول مقلدین د صحابو د زمانې نه راواخله اوسه پورې دا ټول خلق ئي کافر کړه او لګه زمانه پس

تاسو به وګورئ دوی به د دې احاديثو نه هم انکار اوکړي او د دې يو دليل زه تاسو ته ښايمه په طائف کې يو عالم دی هغه يو کتاب ليکلی دی القرانيون نوم ئې دی په هغه کتاب کې هغه د منکرين حديث ټول اساطين راغستې دي وائي چه دا حنفيان وو بيا غير مقلدين شو چينجئ پرې ولګيدو نو منکرين حديث شي عبدالله چکړالوئي داسې وو پرويز دغسې وو دا ټول ئې دغسې خودلی دی.

## مطلق تقليد کول فرض دي

عزتمندو اصل شی چه په هغې باندې انسان د الله رب العزت دربار ته رسې او د مرګ نه پس به هم ستا نه تپوس کيږي چه د چا به دې منلی وو هغه ګورئ تقليد وو اومطلق تقليد کول فرض دی بيا پاتې شوه الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ پدې کې تعين کول ستا خوښه ده او ستا په ثواب ديد او استحباب باندې بناء دی خو د مطلق تقليد کولو نه بغير کار نه کيږي.
الله رب العزت دی زمونږ او ستاسو زندګي د قران او دحديث مطابق ته کړي او قرانکريم چه مونږ ته کومه طريقه د رڼاخودلی ده چه.
اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ * صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ * فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ الله دی مونږ په دغه لارو باندې روان کړي.

## دعا

الله رب العزت وی زمونږ او ستاسو نه هغه صحيح لاره نه خطا کوی او الله دې کوم رونړه چه زمونږ نه بيل شويدی او پدې ملک کې ئې دا

انتشار جوړ کړيدي الله دې د دوی هدايت نصيب کړي او که د الله په علم کې د دوی هدايت نه وی نو الله رب العزد دی دوی بيخ اوباسي.

واخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمين

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله الحمد لله الذي ارسل رسوله بالهدى و دين الحق ليظهره على الدين كله و لو كره المشركون

و الحمد لله الذي ارسل رسوله بالهدى و دين الحق ليظهره على الدين كله و كفى بالله شهيدًا

و اشهدُ ان لا اله الا الله وحده لا شريک له اقرارًا به و توحيدًا

و اشهدُ ان سيدنا وسندنا و مولانا محمدًا عبده و رسوله صلى الله تعالى عليه و على آله و اصحابه وسلم تسليمًا مزيدًا.

و بعد

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ نُوحٍ إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ يَا قَوْمِ إِنْ كَانَ كَبُرَ عَلَيْكُمْ مَقَامِي وَتَذْكِيرِي بِآيَاتِ اللّٰهِ فَعَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْتُ فَأَجْمِعُوا أَمْرَكُمْ وَشُرَكَاءَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُنْ أَمْرُكُمْ عَلَيْكُمْ غُمَّةً ثُمَّ اقْضُوا إِلَيَّ وَلَا تُنْظِرُونِ * فَإِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَمَا سَأَلْتُكُمْ مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى اللّٰهِ وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْمُسْلِمِينَ * فَكَذَّبُوهُ فَنَجَّيْنَاهُ وَمَنْ مَعَهُ فِي الْفُلْكِ وَجَعَلْنَاهُمْ خَلَائِفَ وَأَغْرَقْنَا الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنْذَرِينَ: (١)

---

سورة يونس - ٧١ - ٧٢ - ٧٣

## تمهيد

اول پيغمبرچه الله رب العزت دي دنيا ته د انقلابي په صورت کي رالېږلي وو د هغه واقعه الله رب العزت مختصر غوندي ذکرکوي او په دې واقعه کې د قرآن کريم حکمت دا دي اوخاصکر په دې سورة کې چه د انبياء عليهم السلام غيرت دنيا ته ښائي.

انبياء عليهم السلام دومره زيات غيرتي خلق وو چه حضرت نوح عليه السلام يو تن دي او ټول ملک د هغه مخالف دي په کورکې د هغه ښځه مخالفه د ځوئي ئي مخالف او رشته داران ئي مخالف کلې اولس علاقه دا ټول ئي مخالف وو اوهغه د دې ټولو مخالفينو په مخکې په يو انداز باندې خبره کوي او دا اندازه د اورېدلو دي او په دې باندې سوچ کول پکار دي.

حضرت نوح عليه السلام پخپل خطاب کې سليقه دخطاب څنګه اختيار کړېده نو دا به تاسو اوګورئ چه قرانکريم د هغه خطاب انداز څنګه پيش کړېده.

## د انبياء عليهم السلام د واقعاتو ذکر کولو مقصد

قرآن کريم کې الله رب العزت د انبياء عليهم السلام واقعات ذکر کوي خو د دې واقعاتو مقصد دا نه وي چه دا قصې دي بلکې د هر نبي واقعه دا ده پند و نصائح او د شجاعت د پاره يو دفتر وي او چه کله سړي هغې ته سوچ اوکړي نو ډېري ملغلرې دغه يوی يوی واقعه نه سړي راويستلي شي مولانا روم رحمه الله په مثنوي کې په يو ځائي کې فرمائيلي دي.

حاش لله این حکایت نیست این
نقل حال ما و تو از خوش بیبین

خبردار د انبیاء علیهم السلام واقعات ګورئ دا قصې نه دي دا الله رب العزت ځما او ستا حال ذکره کولو د پاره او د تنقیح د پاره ذکر کړیدي.

## د نبي صلی الله علیه وسلم د وحي حیثیت

حضرت نوح علیه السلام دا اول نبي دي چه دنیاته راغلي او دا اول راتلل په دې حیثیت باندې دي چه مخالفت شروع شویدي د د نه مخکې چه څومره انبیاء علیهم السلام راغلي دي د چا مخالفت نه دي شوي او هم دغه وجه د چه قران کریم کې الله رب العزت چه کله خپل نبي صلی الله علیه وسلم ته دخپلې وحي حیثیت ښائي نو الله رب العزت ورته فرمائي.
إِنَّا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ كَمَا أَوْحَيْنَا إِلَىٰ نُوحٍ وَالنَّبِيِّينَ مِن بَعْدِهِ وَأَوْحَيْنَا إِلَىٰ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطِ وَعِيسَىٰ وَأَيُّوبَ وَيُونُسَ وَهَارُونَ وَسُلَيْمَانَ وَآتَيْنَا دَاوُودَ زَبُورًا: (١)

مونږ تا ته داسې وحي کړیده کومه وحي چه ما نوح علیه السلام ته کړې وه د نوح علیه السلام نه مخکې انبیاء علیهم السلام ته هم وحي شوي وه خو هغه وحي الله رب العزت نه یادوي ځکه په هغه وحي کې محنتونه او تکلیفونه او مشقتونه او مقابله نه وه د نوح علیه السلام وحي داسې وحي وه چه هغه د امتحاناتو او د مقابلو نه ډکه وه نو الله رب العزت چه

---

١- سورة نساء - ١٦٣

کله نبي صلی الله علیه وسلم ته د خپلې وحې حیثیت متعین کوې نو الله رب العزت فرمائي.

إِنَّا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ كَمَا أَوْحَيْنَا إِلَىٰ نُوحٍ ما تا ته داسې وحي کړېده لکه نوح علیه السلام او د هغه نه روسته چه کوم پیغمبران علیهم السلام راغلي دي د هغه مخکې وحې په شان نه د.

الله دې رحمتونه اوکړي په امام بخاري رحمه الله باندې هغه چه کله خپل صحیح البخاري شروع کوې نو هغه په اول کې هغه باب تړلي دي باب کیف کان بدء الوحي إلی رسول الله صلی الله علیه وسلم؟ باب دي په دې بیان کې چه د نبي صلی الله علیه وسلم د وحي کوم کیفیت وو او د کوم کیفیت وحي نبي صلی الله علیه وسلم ته راغلي وه آیا داسې وحي وه چه هغې کې څه انقلاب نه وو او په هغې کې څه محنت او تکلیف نه وو او که نه د محنت او د تکلیف وحي وه نو امام بخاري رحمه الله د خپل صحیح په اول کې د دې باب د تړلو نه روسته دغه ایت راوړي دي.

إِنَّا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ كَمَا أَوْحَيْنَا إِلَىٰ نُوحٍ وَالنَّبِيِّينَ مِن بَعْدِهِ الخ: (۱)

او دا ئي د دې د پاره راوړي دي چه امام بخاري رحمه الله دنیا ته ښائي چه د نبي صلی الله علیه وسلم وحي د شیخئ وحي نه وه بلکې د انقلاب وحي وه.

## په غار حراء کې په نبي صلی الله علیه وسلم ابتدائي وحي

بیا په دې باب کې اول د نیت حدیث راوړي إنما الأعمال بالنیات او د دې نه دوه حدیثه پس هغه اوکد حدیث ذکر کوي.

---

۱- سورة نساء - ۱۶۳

عن عائشة أم المؤمنين أنها قالت أول ما بدیء به رسول الله صلی الله علیه و سلم من الوحي الرؤیا الصالحة في النوم فکان لا یری رؤیا إلا جاءت مثل فلق الصبح ثم حبب إلیه الخلاء وکان یخلو بغار حراء فیتحنث فیه وهو التعبد اللیالي ذوات العدد قبل أن ینزع إلی أهله ویتزود لذلك ثم یرجع إلی خدیجة فیتزود لمثلها حتی جاءه الحق وهو في غار حراء فجاءه الملك فقال اقرأ قال ما أنا بقاریء قال فأخذني فغطني حتی بلغ مني الجهد ثم أرسلني فقال اقرأ قلت ما أنا بقاریء فأخذني فغطني الثانیة حتی بلغ مني الجهد ثم أرسلني فقال اقرأ فقلت ما أنا بقاریء فأخذني فغطني الثالثة ثم أرسلني فقال اقرأ باسم ربك الذي خلق خلق الإنسان من علق اقرأ وربك الأکرم فرجع بها رسول الله صلی الله علیه و سلم یرجف فؤاده فدخل علی خدیجة بنت خویلد رضي الله عنها فقال زملوني زملوني فزملوه حتی ذهب عنه الروع فقال لخدیجة وأخبرها الخبر لقد خشیت علی نفسي فقالت خدیجة کلا والله ما یخزیك الله أبدا إنك لتصل الرحم وتحمل الکل وتکسب المعدوم وتقري الضیف وتعین علی نوائب الحق فانطلقت به خدیجة حتی أتت به ورقة بن نوفل بن أسد بن عبد العزی ابن عم خدیجة وکان امرءا تنصر في الجاهلیة وکان یکتب الکتاب العبراني فیکتب من الإنجیل بالعبرانیة ما شاء الله أن یکتب وکان شیخا کبیرا قد عمي فقالت له خدیجة یا بن عم اسمع من ابن أخیك فقال له ورقة یا ابن أخي ماذا تری؟ فأخبره رسول الله صلی الله علیه و سلم خبر ما رأی فقاله له ورقة هذا الناموس الذي نزله الله به علی موسی یا لیتني فیها جذع لیتني أکون حیا إذ یخرجك قومك فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم أو مخرجي هم قال نعم لم یأت رجل قط بمثل ما جئت به إلا

عودي وإن يدركني يومك أنصرك نصرا مؤزرا ثم لم ينشب ورقة أن توفي وفتر الوحي: (١)

كوم کې چه په غارحراء کې په نبي صلى الله عليه وسلم ابتدائي وحي اوشوه او بياخمونږ مور ام المؤمنين خديجة الكبري رضي الله عنهاخوا له راغي اوبيا هغې د خپل تره ځوئي ورقة بن نوفل له بوتلو او هغه ورته اووې چه دا هغه فرشته دکومه چه د موسي عليه السلام خوا له راتله او بيا ورته وې ياليتني فيها جذع ليتني أكون حيا إذ يخرجك قومك كاش چه زه په هغه وقت کې ځوان وې كوم وقت کې چه ستا قوم تا لره ستا د کلي نه شړي او ماستا امداد کړي وې نو نبي صلى الله عليه وسلم ترنيه تپوس كوي ايا دا خلق به ما د دې کلي نه هم اوباسي نو هغه ورته وې چه دا ته چه كومه وحي دنيا ته پيش كوي نو دا چه چا راوړې د نو په هغه باندې تكليف راغلې دې اوالزامات پرې لګيدلي دي او د خپلو كلو نه شړلي شويدي.

نو ږومبئ وحي د دغه قبيلې هغه حضرت نوح عليه السلام ته راغلي وه.

## د شيث عليه السلام او د هغه د زامنو واقعه

د نوح عليه السلام د پيدائش نه مخکې د هغه په قوم کې پنځه كسان وو.
وقال عروة بن الزبير وغيره: اشتكى آدم عليه السلام وعند بنوه: ود وسواع ويغوث ويعوق ونسر وكان ود أكبرهم وأبرهم به

---

١- صحيح البخاري علي تحقيق البغاء : جلد ١ صفحه ٤ ١باب كيف كان بدء الوحي إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم

قال محمد بن كعب: كان لآدم عليه السلام خمس بنين ود وسواع ويغوث ويعوق ونسر وكانوا عبادا فمات واحد منهم فحزنوا عليه فقال الشيطان أنا أصور لكم مثله إذا نظرتم إليه ذكرتموه قالوا أفعل فصوره في المسجد من صفر ورصاص ثم مات آخر فصوره حتى ماتوا كلهم فصورهم وتنقصت الأشياء كما تتنقص اليوم إلى أن تركوا عبادة الله تعالى بعد حين فقال لهم الشيطان مالكم لا تعبدون شيئا؟ قالوا وما نعبد؟ قال: آلهتكم وآلهة آبائكم ألا ترون في مصلاكم فعبدوها من دون الله حتى بعث الله نوحا فقالوا لا تَذَرُنَّ آلِهَتَكُمْ وَلا تَذَرُنَّ وَدًّا وَلا سُواعاً الآية وقال محمد بن كعب أيضا ومحمد بن قيس بل كانوا قوما صالحين بين آدم ونوح وكان لهم تبع يقتدون بهم فلما ماتوا زين لهم إبليس أن يصوروا صورهم ليتذكروا بها اجتهادهم وليتسلوا بالنظر إليها فصورهم. فلما ماتوا هم وجاء آخرون قالوا ليت شعرنا هذه الصور ما كان آباؤنا يصنعون بها؟ فجاءهم الشيطان فقال كان آباؤكم يعبدونها فترحمهم وتسقيهم المطر فعبدوها فابتدئ عبادة الأوثان من ذلك الوقت: (١)

د يو نوم شيث وو او څلور د هغه ځامن وو سواع ، يغوث ، يعوق او نسر نو کله چه داپنځه کسان مړه شونو هغه قوم په هغوئي پسې ډير غمجن وو او دا قاعد د چه په ټولې علاقه کې يو داسې عالم وي چه هغه خلقو ته دين بيانوي او دخلقو د خير خيګړې کارونه کوي نو خلقوچه د هغه په ژوند کې عزت او احترام او خيال ئي نه وي ساتلي نو د مرګ نه پس به خامخواه هغه پسې خفه وي نو چه کله هغوئي مړه شو نو خلق په هغوئي پسې ډير خفه وو نو شيطان سپينې جامې اوسپينه ګيره او قبه ئي اغستې وه او راغي او اودريدو

١- تفسير قرطبي : جلد ١٨ صفحه ٣٠٧

او خلقو ته ئې وې ځما دا خيال دي چه تاسو په دوي پسې ډير زيات خفه ئې نو هغوئي وې او نو هغه ورته وې چه زه به تاسو له د هغوئي شکلونه جوړ کړم او بیرته به ئې درته کیدمه چه کله څۍ راځئ نوچه هغه ته ګورئ نو ستاسو به تسلي کيږي نو دي خلقو د هغه سره اتحاد اوکړو نو دې شيطان ورله په هغه شکلونو باندې مجسمې جوړې کړې او بيرته ئې ورته اودرول نو چه کله هغه پيړي ختمه شوه نو دويمې پيړۍ والو ته شيطان وسوسه واچوله چه ستا سو مشرانو چه به باران وغيره غوښتلو نو هغوئي به د دوي الله ته وسيله جوړول او پيش کول نو هغوئي وسيله کول شروع کړه او په دريمه پيړۍ کې ئې ورته شيطان اووې چه ستاسو نيکونو کمئ کړي وو دا مخکې ايخودل پکار وو نو هغوئي هغه پخپلو جماعتونوکي مخکې کيخودل او په دغه وقت کې الله رب العزت نوح عليه السلام راوليګلو.

## د نوح عليه السلام او د هغه د قوم مکالمه

حضرت نوح عليه السلام چه کله مسئله شروع کړه نو ټول قوم راجمع شو اوټول قوم په يو آوازباندې حضرت نوح عليه السلام ته يوه خبره اوکړه قرآن کريم دغه د نوح عليه السلام او دقوم دا مکالمه په يو مستقل سورة کې ذکر کوي او د هغه سورة نوم الله سورة نوح ايخودلي دي پدغه سورة نوح کې الله رب العزت دحضرت نوح عليه السلام د دعوت کيفيت ذکر کوي چه هغه په څه اندازه باندې قوم ته دعوت ورکړي وو او دا هم ذکر کوي چه د هغه قوم د هغه په څه انداز باندې مقابله کړې وه.

إِنَّا أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِ أَنْ أَنذِرْ قَوْمَكَ مِن قَبْلِ أَن يَأْتِيَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ * قَالَ يَا قَوْمِ إِنِّي لَكُمْ نَذِيرٌ مُّبِينٌ: (۱)

يقينا مونږه ليږلي وو نوح عليه السلام خپل قوم ته او هغه ته ما وحي کړي وه چه خپل قوم اويروه ځوا ددې نه چه په هغوئس باندې خطرناک عذاب راشي حضرت نوح عليه السلام راغي او وي اې ځما قومه زه ستاسو د پاره يره ونکي ښکاره يمه.أَنِ اعبدوا اللَّهَ وَاتَّقُوهُ وَأَطِيعُونِ: (۲) د اک يو الله عبادت کوئ د بل چا مه کوي او د اک يو الله نه يره کوي او ځما تابعداري کوئ اوزه چه تاسو ته د الله نه د يرئ کومې طريقې ښايمه نو هغه نويه هغه طريقه باندې دالله نه اويريګئ او دتقوي چه کوم طريقې ښايمه نو په هغه طريقه باندې د الله نه تقوي کوي د الله عبادت چه کومې طريقې ښايمه نو په هغه طريقې باندې د الله عبادت اوکړئ.

يَغْفِرْ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ وَيُؤَخِّرْكُمْ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى إِنَّ أَجَلَ اللَّهِ إِذَا جَاءَ لَا يُؤَخَّرُ لَوْ كُنتُمْ تَعْلَمُونَ: (۳)

الله به تاسوته ستاسو ګناهونه معاف کړي او الله به تاسو هغه روستي مقررئ نيتې ته به روستوکړي اوهلته به بيا تاسو ته د هغې ښه بدله درکړي که تاسو پوهيرئ د الله هغه مقررنيته چه کله راشي نو په هغې کې ګورئ تا خير نشته نو د هغه نيتې د راتلو نه مخکې مخکې ده هغې د پاره تياري اوکړئ.

۱- سورة نوح - ۱ - ۲

۲- سورة نوح - ۳

۳- سورة نوح - ۳

حصرت نوح علیه السلام خپل قوم ته وائي چه د الله عبادت اوکړي او کوم وقت چه راراون دي د هغې د پاره تیارئ اوکړي دلته قرآن کریم صرف نقشه پیش کوي تفصیل نه کوي الله فرمائي چه نوح علیه السلام ۹۵۰ سال چه تبلیغ اوکړو نو د هغې نه پس نوح علیه السلام الله ته خپل اعتذار پیش کوي. قَالَ رَبِّ إِنِّي دَعَوْتُ قَوْمِي لَيْلًا وَنَهَارًا: (۱)

اې څما ربه ما دي خپل قوم ته ستا د دین او د توحید دعوت ورکړو اوستا د عبادت او د تقوي دعوت مې ورکړو د شپې او د ورځې مې ورته ورکړو یا الله پکار خو دا وه چه هغې دعوت په دوي کې هدایت زیات کړي وي. فَلَمْ يَزِدْهُمْ دُعَائِي إِلَّا فِرَارًا: (۲)

الله څما هغې دعوت که په دوي کې څه زیاتي راوستي دي نو هغه ئې دا راوستي چه هغوئي ستا د دین نه نور هم تختي.

وَإِنِّي كُلَّمَا دَعَوْتُهُمْ لِتَغْفِرَ لَهُمْ جَعَلُوا أَصَابِعَهُمْ فِي آذَانِهِمْ وَاسْتَغْشَوْا ثِيَابَهُمْ وَأَصَرُّوا وَاسْتَكْبَرُوا اسْتِكْبَارًا: (۳)

الله کله چه ما دویته دعوت ورکړیدي چه دوي ستا دین واوري او ستا عبادت اوکړي عاقبت ئې داشي چه ته دویته بخنه اوکړي یا الله ما چه دویته کوم دعوت ورکو نو د دوي خیر پکې وو او څما خبر پکې وو اوستاحکم منل دوي د پاره د دنیا او د اخرت کامیابي وه الله دوي څه اوکړه؟ دوي دا اوکړه الله چه دوي خپلې ګوتې په غوګونوکې کیخودي او

[1]- سورة نوح - ٥

[2]- سورة نوح - ٦

[3]- سورة نوح - ٧

په ځان باندې ئي جامې راخورئ کړي اوانکار ئي اوکړو او همیشه دوي دا کار کولو او دوي ځانته لوئي وي.

ثُمَّ إِنِّي دَعَوْتُهُمْ جِهَارًا * ثُمَّ إِنِّي أَعْلَنْتُ لَهُمْ وَأَسْرَرْتُ لَهُمْ إِسْرَارًا * فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا: (١)

د الله رب العزت په مخکې حضرت نوح علیه السلام خپله کارروائي اوروي بیا الله ما دویته په ډاګه دعوت ورکړو او الله پټ پټ مې ورته دعوت ورکړو او دوي سره ما جرګې اوکړي او ما ورته وې چه د خپل رب نه بخنه اوغواړي یقینا هغه ډیر بخونکي دي.

## د حضرت علي رضي الله عنه وصیت

روایت کې رازي.

وقال بشر بن الحارث رأيت عليا في المنام فقلت يا أمير المؤمنين قل لي شيئا ينفعني الله به قال ما أحسن عطف الأنبياء على الفقراء رغبة في ثواب الله تعالى وأحسن منه تيه الفقراء على الأغنياء ثقة بموعود الله فقلت: يا أمير المؤمنين زدني. فولى وهو يقول:

بشر بن الحارث حضرت علي رضي الله عنه په خوب کې اولیدو.نو اوئ پیژندلونو هغه ته ئي وي امیر المؤمنین ماته څه وصیت اوکړه نوهغه سړي وائي علي صیب ما ته په خوب کې یو شعر اووي

قد كنت ميتا فصرت حيا

وعن قليل تصير ميتا

١- سورة نوح – ٨– ٩ – ١٠

ته نش وي الله ژوندي کړي او ډير زر د چه بيا به مړ شي.

فأخرب بدار الفناء بيتاً

وابن بدار البقاء بيتاً

نو په دنيا کې خپل کورروان کړه او ځانله د قيامت کورجوړ کړه او وائي.
حضرت نوح عليه السلام خپل قوم ته وائي چه قيامت راروان دي قبر راروان دي د هغې د پاره تيارئ اوکړئ او د هغه تياري اول سبب صرف د يو الله عبادت کول دي.

## عبادت څه ته وائي ؟

أن العبادة عبارة عن الاعتقاد والشعور بأن للمعبود سلطة غيبية في العلم والتصرف فوق الأسباب يقدر بها على النفع والضر فكل دعا وثناء وتعظيم ينشأ من هذا الاعتقاد فهو عبادة

عبادت ديته وائي چه دسړي په زړه کې داعقيد راشي چه ځما يو رب دي د هغه په ما باندې يوه غيبي پنجه پرته د او د هغه غيبي تسلط د وحي نه هغه ځما په نفع باندې قادر دي او هغه ځما په نقصان باندې قادردي ما له خير راکولي شي او ما له شرراکولي شي د دې عقيدي نه چه هرنداء هرثناء پورته کيږي نو هغې ته عبادت وئيلي کيږي اوکړوم سړي چه د الله نه علاوه د بل چاعبادت اوکړي نو هغه کافر دي اود د هيڅ عمل الله ته نه دي منظور بلکې الله رب العزت دا ټول کائنات چه پيدا کړيدي د دې سر او راز هغه صرف او صرف د الله عبادت دي الله رب العزت فرمائي.

وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ

ما دا پیریان او دا انسانان چه پیدا کړیدي دا ما د د ې د پاره نه دي پیدا کړي چه هغوئي دي خوراکونه اوکړي ما د دې د پاره پیدا کړیدي چه څما بندهګي او عبادت اوکړي.

## د الله رحمت وسیع دي

نبي صلی الله علیه وسلم فرمائي بنده چه څومره دالله رب العزت نافرماني اوکړي خو چه یو ځل دي کلمه اووائي او د الله رب العزت قانون اومني نو الله رب العزت وائي ما بخلې.

او حدیث کي هم رازي.

حدثنا أنس بن مالك قال سمعت رسول الله صلى الله عليه و سلم يقول قال الله يا ابن آدم إنك ما دعوتني ورجوتني غفرت لك على ما كان فيك ولا أبالي يا ابن آدم لو بلغت ذنوبك عنان السماء ثم استغفرتني غفرت لك ولا أبالي يا ابن آدم إنك لو أتيتني بقراب الأرض خطايا ثم لقيتني لا تشرك بي شيئا لأتيك بقرابها مغفرة

قال أبو عيسى هذا حديث غريب لا نعرفه إلا من هذا الوجه : قال الشيخ الألباني : صحيح : ([1])

نبي صلی الله علیه وسلم وائي الله رب العزت فرمائي اې انسانه که د ځمکي د ځرمن د ګناهونو نه ډکه کړي خو شرط دا دي چه شرک دي نه وي کړي نو زه به تاا وبخمه پروا مې نشته او که شرک دي کړي وو او د ځمکه دا ځرمن تا د نیکو ډکه کړه نوبیا دې هم نه بخمه الله فرمائي که

[1]- سنن الترمذي : جلد ٥ صفحه ٥٤٨ باب في فضل التوبة والاستغفار

شرک دي نه وو کړي او د څمکي دا څرمنه دي د ګناهونو نه ډکه کړي وه زه به ئي درله د نيکو ډکه کړمه.

نبي صلى الله عليه وسلم يو نقشه پيش کوي.

عن صفوان بن محرز قال كنت آخذا بيد بن عمر إذ عرض له رجل فقال كيف سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول في النجوى يوم القيامة فقال سمعت رسول الله صلى الله عليه و سلم يقول ان الله عز و جل يدني المؤمن فيضع عليه كنفه ويستره من الناس ويقرره بذنوبه ويقول له أتعرف ذنب كذا أتعرف ذنب كذا أتعرف ذنب كذا حتى إذا قرره بذنوبه ورأى في نفسه انه قد هلك قال فإني قد سترتها عليك في الدنيا وإني أغفرها لك اليوم ثم يعطى كتاب حسناته وأما الكفار والمنافقون فيقول الأشهاد هؤلاء الذين كذبوا على ربهم ألا لعنة الله على الظالمين

تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده صحيح على شرط الشيخين: ([1])

نبي صلى الله عليه وسلم فرمائي چه د قيامت په روځ يو سړي به راشي د هغه نه په هر قسمه ګناه شوي وي علاوه د شرک نه الله رب العزت به هغه پخپل ترخ کې اونيسي څنګه چه د هغه د شان سره ښائي نو الله رب العزت به ورته دا واړه واړه ګناهونه شماري ورته به وائي چه اي څما بنده تا دا فلاني ګناه کړي وو نو دي به ورته وائي چه يا الله کړي مي وو بيا به ورته هغه بل ګناه ياد کړي نو دي به وائي يا الله کړي مي وو نو دي به په زړه کې يريکي داسي نه چه الله څما هغه غټ غټ ګناهونه راياد نه کړي نو چه کله الله رب العزت هغه ته دا واړه ګناهونه ټول ياد کړي نو

[1] - مسند امام احمد بن حنبل :جلد ۲صفحه ۷۴مسند عبد الله بن عمررضي الله عنهما

الله به ورته وائي چه زه دا ټول مې درله په نيکو بدل کړه نو داسې په چغې کړې یا الله ماخو غلا کړې وه یا الله ماخو زناکړې وه اې الله ما غيبت کړې وو يعني دالوئي لوئي ګناهونه به دي شروع کړې نبي صلی الله عليه وسلم چه الله د پورې اوخاندي څنګه چه د هغه د شان سره ښائي او مناسب دي نو الله به ورته وائي زه هغه مې هم درله په نيکو بدل کړه خو شرط دا دې چه شرک دې نه وې کړې اوکه شرک پکې وې نوجماعتونه جوړه وه بلکې دبيت الله تعمير کوه څه فائده هم نه کوي الله فرمائي.

أَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَاجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَجَاهَدَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا يَسْتَوُونَ عِنْدَ اللَّهِ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ: (۱)

اې خلقو که تاسو حاجيانو له اوبه ورکولې او د مسجده حرم تعمير کوئ دا تاسو د مؤمن د ايمان پشان ګنړې دا هيڅ فائده نه درکوي که ته بيت الله جوړکړې خوچې عقيد دې د شرک وه نو دا تا له هيڅ فائده نه درکوي او بيا الله فرمائي.

مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِينَ أَنْ يَعْمُرُوا مَسَاجِدَ اللَّهِ شَاهِدِينَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ بِالْكُفْرِ أُولَئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ وَفِي النَّارِ هُمْ خَالِدُونَ: (۲)

مشرک چه د هغه عمل د هغه د کفر دليل دې د له دا نه دې مناسب چه دې جماعت جوړکړې د له دا فائده نه ورکوي نونوح عليه السلام

---

۱- سورة توبه – ۱۹

۲- سورة توبه – ۱۷

الله ته وائي چه اې الله ما د دعوت يو جهت هم نه دي پرېښودلي په هر جهت باندې ما دوبته دعوت ورکړيدي او ما ورته ترغيب هم ورکړيدي.

فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا : (۱)

ما ورته وي چه د الله نه بخنه اوغواړئ ځکه چه الله بخونکي دې خلق وائي چه استغفار ووايه استغفار څه ته وائي استغفار ديته وائي چه سړي کومه ګناه کړې وي په هغه باندې پښيمانه شي او ائنده د پاره دا عزم وکړي چه داسې کار به بيا نه کومه.

## د خلقو استغفار هم استغفار ته محتاج دي

يو عالم وائي.

قال علماؤنا الاستغفار المطلوب هو الذي يحل عقد الإصرار ويثبت معناه في الجنان لا التلفظ باللسان فأما من قال بلسانه استغفر الله وقلبه مصر على معصيته فاستغفاره ذلك يحتاج إلى استغفار وصغيرته لاحقة بالكبائر وروي عن الحسن البصري أنه قال استغفارنا يحتاج إلى استغفار : (۲)

ځمونږه د خلقو استغفارهم استغفارته محتاج ځکه ځمونږاستغفار خو څه استغفار نه وي يو سړي به وي چه تسبيح به اړوي اود هغه دا تسبيح اړول استغفار ته محتاج دي نو استغفار ديته وائي چه يوسړي توبه اوباسي او د توبې معني دا ده چه کوم تيرګناه مې کړيدي نويه هغه باندې پښيمانه يمه

---

۱- سورة نوح- ۱۰

۲- تفسير قرطبي : جلد ٤ صفحه ۲۱۰

او ائنده د پاره مې دا کلکه اراده د چه بیا به دا گناه نه کومه او په دې دوارو خبرو باندې د الله په محکې کې اقرار اوکې دیته استغفار وائي.

## د بني اسرائیلو د قاتل واقعه

په حدیث کې راځي.

عن أبي سعيد الخدري قال لا أحدثكم الا ما سمعت من رسول الله صلى الله عليه و سلم سمعته أذناي ووعاه قلبي: ان عبدا قتل تسعة وتسعين نفسا ثم عرضت له التوبة فسأل عن أعلم أهل الأرض فدل على رجل فأتاه فقال اني قتلت تسعة وتسعين نفسا فهل لي من توبة قال بعد قتل تسعة وتسعين نفسا قال فانتضى سيفه فقتله به فأكمل به مائة ثم عرضت له التوبة فسأل عن أعلم أهل الأرض فدل على رجل فأتاه فقال اني قتلت مائة نفس فهل لي من توبة فقال ومن يحول بينك وبين التوبة أخرج من القرية الخبيثة التي أنت فيها إلى القرية الصالحة قرية كذا وكذا فاعبد ربك فيها قال فخرج إلى القرية الصالحة فعرض له أجله في الطريق قال فاختصمت فيه ملائكة الرحمة وملائكة العذاب قال فقال إبليس أنا أولى به انه لم يعصني ساعة قط قال فقالت ملائكة الرحمة انه خرج تائبا قال همام فحدثني حميد الطويل عن بكر بن عبد الله المزني عن أبي رافع قال فبعث الله عز و جل له ملكا فاختصموا إليه ثم رجع إلى حديث قتادة قال فقال انظروا أي القريتين كان أقرب إليه فألحقوه بأهلها قال قتادة فحدثنا الحسن قال لما عرف الموت احتفز بنفسه فقرب الله عز و جل منه القرية الصالحة وباعد منه القرية الخبيثة فألحقوه

بأهل القرية الصالحة : تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده صحيح على شرط الشيخين: (۱)

نبي صلي الله عليه وسلم فرمائي چه په بني اسرائيلوکې يو سړي وو يو کم سل مړي کړي وو نو پير صيب له لاړو ورته ئې وي چه آيا توبه به مې قبليږي اوکنه ؟ نو هغه ورته وي چه ستا توبه به څنګه قبوله شي چه تا ۹۹ مړي کړيدي نو هغه توره راوويسته او هغه ئې هم مړ کړو نو ۱۰۰ ئې مړي پوره کړه نو يو عالم له لاړو ورته ئي وي چه سل مړي مې کړيدي توبه مې قبليږي نو هغه ورته وي او قبليږي خو په شرط ددې چه په کوم کلي کي دي مړي کړيدي نوهغه کلې نه به اوځې نو پيخه دا وه چه کله هغه دغه کلي نه وتو نو چه يو لس قدمه اووتلو نو هغه مړ شو نو د جهنم فرشتي هم راغلي او د جنت فرشتي هم راغلي دجهنم فرشتو وي چه دي مونږه جهنم ته بيا يوځکه د ۱۰۰ مړي کړيدي نود جنت فرشتي اووي نه نه دي د توبې په نيت راون شويدي دي به مونږ جنت ته بيايو نو د دواړو مباحثه شروع وه نو الله رب العزت د انسان په شکل کې يوه فرشته راوليګله اوهغې د دې دواړو فيصله اوکړه چه د دي دواړوکلوتر منځ دا رقبه ناپ کړي کوم کلي ته چه تلوکه هغه کمه وه نو جنت ئي بوزي اوکه دکوم کلي نه وتلي وو او هغه ته نزدي وو نوجهنم ته ئي بوزئ نو الله رب العزت هغه يو طرف ځمکه ته وي چه راغونډه شه اوُدي بلې ته ئي وي چه خوره شه نو چه کله ئي ناپ کړو نو کوم ځمکي ته چه تلو نو هغه ځمکه لنډه وختله او هغه بله ځمکه اوګد اوخته نو جنت ته ئي بوتلو.

---

۱- مسند امام احمد بن حنبل :جلد ۳ صفحه ۲۰ مسند أبي سعيد الخدري رضي الله عنه

## د مسلمان قتل عظیم جرم دي

لیکن یو خبره یاد ساتئ دا حکم د بني اسرائیلو د پاره وو څمونږ په دې امت کې د قرآن کریم دا فیصله ده.

وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا: (۱)

چا چه یومسلمان قصدا مړکړو نو د هغه بدله جهنم دي او دي به همیشه په جهنم کې وي اود ابن عباس رضي الله عنه قول دي د نبي صلی الله علیه وسلم د تره څوي او د دي امت د تولو نه لوئي عالم د هغه نه چا تپوس اوکړه.

وذهب جماعة من العلماء منهم عبد الله بن عمر وهو أيضاً مروي عن زيد وابن عباس إلى أن له توبة

که چیرې دي توبه اوباسي نو ابن عباس رضي الله عنه اوفرمائیل چه د کافر توبه کله قبلیږي بهرحال کوم حدیث چه مونږ بیان کړو دا ده تیرو امتونو خبره وه څکه په هغوئي باندې سختئ هم ډیري وي چه کله به یو ځائي پلیت شو نو هغه به ئې قینچي کولو نو دا ده هغوئي د پاره حکم وو څمونږ حکم دا دي چه چا یومسلم قصدا مړکړو نو دي ابدي جهنمي دي او د د توبه الله نه قبلوي اوکه الله رب العزت ابوجهل جنت نه بیائي نو څوک د الله نه تپوس نشي کولي خو داخبرې د دې نه دي چه سړي دي جرې شي البته په تیرو امتونو کې دا سې نمونې تیرې شویدي نو دا ده تیرو امتونو خبره وه نو الله رب العزت هغه معاف کړو.

---

۱- سورة نساء - ۹۳

# د باران د نه کیدو سبب

نوح علیه خپل قوم ته وائي.

فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا * يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُم مِّدْرَارًا

دخپل رب نه بخنه اوغواړي هغه بخونکي دي نوچه کله تاسو بخنه غواړي نو دا اوبه وروي په تاسو باندې باران په شيبو شيبو.

عزتمندو باران چه کله نه کيږي نو ددې صرف يوسبب دي او هغه سبب دمسلمانانو گناه دمسلمانانو چه کله گناه اوکړي نو د هغوئي د گناه سزا الله رب العزت عام مخلوق ته ورکوي ځکه چه دا عام مخلوق د دي انسان د پاره پيدا دي او د انسان دا گناه دا يو داسي مضر شئ دي د دي يو داسي مضر اثرات دي په يو حديث کې راځي نبي صلى الله عليه وسلم فرمائي.

عن أبي هريرة أنه سمع رجلا يقول إن الظالم لا يضر إلا نفسه فقال أبو هريرة بلى واللهحتى الحبارى لتموت في وكرها هزالا لظلم الظالم : (۱)

يقينا ځناوري د انسان د گناه د وجي نه پخپله جاله کې مري يعني د انسان گناه کولو د ايتم بم نه زيات نقصان دي بهرحال د انسان د گناهونو د وجې نه الله رب العزت بارانونه بنده وي.

د حضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کې يو ځل قحط راغلي وو حضرت عباس رضي الله عنه ته ئې وي چه دعا اوکړه چه الله باران اوکړي نو کله چه هغه دعا کول نو هغه پخپله دعا کې وي.

۱- شعب الايمان للبهقي : جلد ۹ صفحه ٥٤٤

أن عمر بن الخطاب كان إذا قحطوا بضم القاف وكسر المهملة أي أصابهم القحط وقد بين الزبير بن بكار في الأنساب صفة ما دعا به العباس في هذه الواقعة والوقت الذي وقع فيه ذلك فأخرج بإسناده له أن العباس لما استسقى به عمر قال اللهم إنه لم ينزل بلاء إلا بذنب ولم يكشف إلا بتوبة وقد توجه القوم بي إليك لمكاني من نبيك وهذه أيدينا إليك بالذنوب ونواصينا إليك بالتوبة فاسقنا الغيث فأرخت السماء مثل الجبال حتى أخصبت الأرض وعاش الناس: (١)

اي الله هريو مصيبت چه راځي نو د هغې وجه ګمونږ ګناه وي د صحابو دور دي او په هغه وقت كې هغه وائي چه د باران نه راتلو سبب ګمونږ ګناهونه دي او چه لرې كيږي نو په توبې سره لرې كيږي .

## استغفار وئيل د اولاد كيدو سبب دي

حضرت نوح عليه السلام خپل قوم ته وائي چه د كفرنه توبه ګار شئ الله بخونكي دي بخنه ترينه اوغواړي نوالله رب العزت به په تاسو باندې بارانونه اوروه وي او تاسو له به مال دركړي او تاسو له به اولاد دركړي لكه حديث كې رازي.

عن جابر بن عبد الله قال جاء رجل من الأنصار إلى النبي صلى الله عليه وسلم فقال يا رسول الله ما رزقت ولدا قط ولا ولد لي قال فأين أنت عن كثرة

---

١- فتح الباري شرح صحيح البخاري : جلد ٢ صفحه ٤٩٧ باب سؤال الناس الإمام الاستسقاء إذا قحطوا

الاستغفار والصدقة يرزق الله بها الولد قال فكان الرجل يكثر الصدقة ويكثر الاستغفار فولد له تسعة من الذكور

يو سړي راغي نبي صلى الله عليه وسلم ته وائي يا رسول الله نبي صلى الله عليه وسلم څوئي مې نه کيږي ټولې مې لونړه دي نبي صلى الله عليه وسلم هغه ته دوه خبري اوښودلې.

هرکله چه ستا نارينه بچي نشته نو ډيري صدقې ولې نه کوي اوډير استغفار ولي د الله نه نه غواړي نو ډير خيرات کول او ډير استغفار کولو سره الله رب العزت پخپل مخلوق باندې رحم کوي.

وَيَجْعَلْ لَكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَلْ لَكُمْ أَنْهَارًا * وَقَدْ خَلَقَكُمْ أَطْوَارًا :(۱) باغونه به درله شنه کړي او ولې به درله رواني کړي او ميوي به درله زياتي کړي.

مَا لَكُمْ لَا تَرْجُونَ لِلَّهِ وَقَارًا دا څه چل شوي دي چه تاسو د الله د درب نه د هغه د دبدبې نه يريکي او حال دا ده چه هغه تاسو مختلف حالتونو کې پيدا کړي يئ دلائل ئې ورته پيش کړه نو په آخر کې د هغه قوم څه وائي:

وَقَالُوا لَا تَذَرُنَّ آلِهَتَكُمْ وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَلَا سُوَاعًا وَلَا يَغُوثَ وَيَعُوقَ وَنَسْرًا: (۲)

هغه خلقو اووئيل خپل اله مه پريکدئ ود دا ده شيث عليه السلام نه پس دي وي شيث بابا مه پريکدئ سواع بابا مه پريکدئ يعوق يغوث نسر به نه پريکدي وائي.

---

۱- سورة نوح- ۱۳ - ۱٤

۲- سورة نوح- ۲۳

## د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما قول

حضرت ابن عباس رضي الله عنهما په صحيح بخاري شريف کې د دې آيت د لاندې په کتاب التفسير کي روايت ذکر کړي.

ابن عباس رضي الله عنهما صارت الأوثان التي كانت في قوم نوح في العرب بعد أما ود كانت لكلب بدومة الجندل وأما سواع كانت لهذيل وأما يغوث فكانت لمراد ثم لبني غطيف بالجوف عند سبأ وأما يعوق فكانت لهمدان وأما نسر فكانت لحمير لآل ذي الكلاع أسماء رجال صالحين من قوم نوح فلما هلكوا أوحى الشيطان إلى قومهم أن انصبوا إلى مجالسهم التي كانوا يجلسون أنصابا وسموها بأسمائهم ففعلوا فلم تعبد حتى إذا هلك أولئك وتنسخ العلم عبدت: (۱)

دا پنځه د نوح عليه السلام د قوم د مشرانو او د نيکانو نومونه دي او په دې ټولو کې ود مشر وو او دا ده ټولو نه زيات نيک وو په يو روايت کې د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه نقل دي په ود د ته به خلقو شيث عليه السلام وي او دا نور د هغه ځامن وو.

د شرک بنياد د قبرپرستي نه جوړ شوي چه په کوم قوم کې چه قبر پرستي شروع شويد د قبرونو نه غوختل شروع شوي دي د قبرونو نه طوافونه شروع شوي دي د قبرونو واله په باره کې دا عقيد پيدا شويد چه د دې اوري او هم ويني.

---

۱- صحيح البخاري علي تحقيق البغاء : جلد ٤ صفحه ۱۸۷۳ تفسير سورة نوح

## د الله رب العزت صفت بل له ورکول سبب د عذاب دي

د الله رب العزت صفت کوم چه د الله رب العزت پوري خاص دي هغه ئي د الله نه علاوه نورو خلقو له ورکړي دي نو هغه خلقو باندې الله څه کړي دي تاسو ته پته شته په سورة النحل کې الله رب العزت د يو محترم او مکرم کلي واقعه ذکر کوي الله رب العزت د هغې کلي يو مثال پيش کوي.

وَضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا قَرْيَةً كَانَتْ آمِنَةً مُطْمَئِنَّةً يَأْتِيهَا رِزْقُهَا رَغَدًا مِنْ كُلِّ مَكَانٍ فَكَفَرَتْ بِأَنْعُمِ اللَّهِ فَأَذَاقَهَا اللَّهُ لِبَاسَ الْجُوعِ وَالْخَوْفِ بِمَا كَانُوا يَصْنَعُونَ: (۱)

الله ديو کلي مثال بيانوي چه هغه کلي د امن کلي وو د اطمينان کلي وو اوس هم د امن او د اطمينان کلي دي او په هغې کي يو کور دي چه الله رب العزت د هغه باره کي فرمائي:

فِيهِ آيَاتٌ بَيِّنَاتٌ مَقَامُ إِبْرَاهِيمَ وَمَنْ دَخَلَهُ كَانَ آمِنًا: (۲)

چه هغي کورته چه څوک لاړ نو هغه کور د آمن ځائي دي د هغې کور سره به څوک تعارض نه کوي کافران هغوئي به د هرکلي سړي تختولي لیکن د هغې کلي سړي به نه تختولو دا کلي اوس هم شته او د هغې کلي نوم مکه مکرمه دي.

سورة القصص کي الله رب العزت فرمائي.

أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا آمِنًا وَيُتَخَطَّفُ النَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ أَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُونَ وَبِنِعْمَةِ اللَّهِ يَكْفُرُونَ: (۳)

---

[۱]- سورة نحل - ۱۱۲

[۲]- سورة ال عمران - ۹۷

[۳]- سورة عنکبوت -۶۷

چه ایا ما حرم دا ده امن ځائي نه وو ګرځولي د هغې نه به ګیر چاپیره به خلق تختولي کیدلو لیکن هغه کلي به په امن سره وو دا هغه امن والا کلي الله رب العزت حالات بیانوي . وَضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا قَرْيَةً كَانَتْ آمِنَةً مُطْمَئِنَّةً يَأْتِيهَا رِزْقُهَا رَغَدًا

الله مثال بیانوي د هغه کلي هغه د امن کلي وو او د اطمینان کلي وو هغې ته به رزق د هغې به د هر وطن نه به راتللوو اوس هم هلته هرڅه شته دلته انکورنشته هتله چه کوم قسم انکور غواړي ناته به میلاویکي د مکې د وجې نه الله رب العزت په ټول سعودي باندې احسان کړي دي.

هغوئي د الله نعمت نه انکار اوکړو نعمت د الله څه وو؟مال نعمت نه دي عزت نعمت نه دي بلکه دین نعمت دي محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم راغي هغې قوم دغه نه انکار اوکړو نو الله په هغې خلقو یره اورلکه راوسته محدثین رحمهم الله لیکي څنګه لوګه پرې الله راوسته؟

ألبسها وأذاقها الجوع بعد أن كان يُجبى إليهم ثمرات كل شيء ويأتيها رزقها رغدًا من كل مكان وذلك لما استعصوا على رسول الله صلى الله عليه وسلم وأبوا إلا خلافه فدعا عليهم بسبع كسبع يوسف فأصابتهم سنة أذهبت كل شيء لهم فأكلوا العِلْهِز وهو وبر البعير يجعل بدمه إذا نحروه

چه یوسړي به قضاء حاجت ته ناست وو نولس کسان به هغې ته ولاړوو چه هغه به دحاجت نه پاسیدو نو په هغې به د لسو کسانو جهګړه وه یو به ویل زه به ئې خورمه بل به ویل زه به ئې خورمه داسې عذاب پرې الله راوستو دا ولې؟ ځکه هغوئي د الله د نعمتونو نه انکار کړي وو چا کړي وو؟ دمکې خلقوکړي وو.

# د حجر اسود مقام

هغه ځاى چه په هغې کې د الله رب العزت د عظمت نخې دي او هغه ځاى چه په هغې کې د الله رب العزت اول کورجوړ شوي دي هغه ځاى چه دنيا د پيدا کيدو نه مخکې هغه زمکه پيدا کړې شوي دي هغه ځاى چه ټوله دنيا د هغې نه خوره شوي د مکې ته ام القرى ځکه وائي چه ټول ځمکه د هغې نه خوره شوي د هغه ځاى چه په هغې کې اوس هم يو کاڼړې پروت دي او دغه کاڼړې په باره کې سرداردوجهان محمد الرسول صلى الله عليه وسلم فرمائي.

عن إبراهيم بن يزيد أنه سمع محمد بن عباد يحدث أنه سمع بن عباس يقول الركن يعني الحجر يمين الله في الأرض يصافح بها خلقه مصافحة الرجل أخاه يشهد لمن استلمه بالبر والوفاء والذي نفس بن عباس بيده ما حاذى به عبد مسلم يسأل الله تعالى خيرا إلا أعطاه إياه: (۱)

دا په دنيا کې د الله رب العزت خې لاس دي او د قيامت په ورځ به الله رب العزت خلقو سره په دې لاس باندې لاس ميلاوهې ميثاق او وعدې به کوي.

نبي صلى الله عليه وسلم فرمائي چه دي قيامت په روځ باندې د دغي ګټي به سترګي وي او د هغي به خوله وي او د هغې به بهيدونکي ژبه وي او چه چا دغه ګټه په حق باندې خکول کړي وي نو د هغه د پاره شفاعت کوي او هغه ځاى چه په هغې کې د جنت نخې پرتې دي رکن يماني يعني حجر اسود دا ده جنت نخه ده دارنګه مقام ابراهيم دجنت نخه ده ليکن هغه

۱- مصنف لعبد الرزاق: جلد ٥ صفحه ۳۹ باب الركن من الجنة

خلقوچه کله د الله رب العزت خلاف اوکړو یعني شرک ئي اوکړو په شرک کې مبتلاشو نو الله رب العزت په هغوئ باندې عذاب راوستوځرنګي عذاب ئي پري راوستو یوکس به بهر ته ناست وو نولس کسان به هغې ته ولاړ وو اود هغې په بهر به ئي جهګړه وه یو به وئیل زه به ئي خورمه بل به وئیل زه به ئي خورمه.

## د الله د عذاب نه ویره پکار ده

عزتمندو د الله د عذاب نه اویرګئ الله رب العزت فرمائي.أَفَأَمِنُوا مَكْرَ اللَّهِ فَلَا يَأْمَنُ مَكْرَ اللَّهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْخَاسِرُونَ : (۱)

آیا دا خلق د الله د عذاب نه بې یرې شوي دي د الله د عذاب نه هغه سړي بې یرې کیږي چه هغه تاواني وي وي چه په مکې والو باندې الله رب العزت داسې عذاب راولي نو په کوهي والو ئي هم راوستي شي چه په مکه باندې الله عذاب راولي نو په نورو ئي هم راوستي شي ځکه هغوئي خو د مکې غوندې محترم نه دي.

نن صبا هم قسمه قسم عذابونه دي په مختلف شکلونو کې د دې تول سبب ځونږ او ستاسو ګناهونه دي.

## د تولو نه لوئي ګناه شرک دي

د تولو نه عظیم ګناه شرک دي او هرکور کې شرک کیږي خومره سخت تاکید چه د شرک د رد باره کې کړیدي یارسول الله صلی الله علیه وسلم

---

۱- سورة اعراف - ۹۹

داسې تاکيدات بل څه باره کې نه دي کړي لکه جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي.

عن معاذ بن جبل ان النبي صلى الله عليه و سلم قال له : يا معاذ ان يهدي الله على يديك رجلا من أهل الشرك خير لك من ان يكون لك حمر النعم : (١)

حضرت معاذ رضي الله عنه وائي ماته نبي صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل اي معاذه چه ستاپه لاس باندې الله يو سړي ته هدايت اوکړي چه هغه مشرک وي نو داستا د پاره د دنيا او د ما فيها نه غوره د

نبي صلى الله عليه وسلم فرمائي.

عن معاذ قال قال رسول الله صلى الله عليه و سلم : من مات لا يشرك بالله شيئا دخل الجنة وقد قال حماد إن رسول الله صلى الله عليه و سلم قال لمعاذ تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده صحيح على شرط مسلم رجاله ثقات رجال الشيخين غير حماد بن سلمة فمن رجال مسلم: (٢)

چه په يو سړي باندې مرګ په داسې حال کې راغي چه د شرک نه وي کړي نو دي جنتي دي.

دارنګه نبي صلى الله عليه وسلم فرمائي.

عن شداد بن أوس انه بكى فقيل له ما يبكيك قال شيئا سمعته من رسول الله صلى الله عليه و سلم يقوله فذكرته فأبكاني سمعت رسول الله صلى الله عليه و سلم يقول : أتخوف على أمتي الشرك والشهوة الخفية قال قلت يا رسول الله أتشرك أمتك من بعدك قال نعم أما انهم لا يعبدون شمسا ولا

---

١- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ٥ صفحه ٢٣٨ حديث معاذ بن جبل رضي الله تعالى عنه

٢- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ٥ صفحه ٢٤١ حديث معاذ بن جبل رضي الله تعالى عنه

قمرا ولا حجرا ولا وثنا ولكن يراءون بأعمالهم والشهوة الخفية ان يصبح أحدهم صائما فتعرض له شهوة من شهواته فيترك صومه : تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده ضعيف جدا : ([1])

څما په خپل امت دوه يري دي يو به پکې شرك شروع شي يو به پکې زنا شروع شي.

نبي صلی الله علیه وسلم په باره کې یو صحابي فرمائي.

عن أبيه عن ربيعة بن عباد الديلي وكان جاهليا أسلم فقال : رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم بصر عيني بسوق ذي المجاز يقول يا أيها الناس قولوا لا إله إلا الله تفلحوا ويدخل في فجاجها والناس متقصفون عليه فما رأيت أحدا يقول شيئا وهو لا يسكت يقول أيها الناس قولوا لا إله إلا الله تفلحوا إلا أن وراءه رجلا أحول وضيء الوجه ذا غديرتين يقول أنه صابئ كاذب فقلت من هذا قالوا محمد بن عبد الله وهو يذكر النبوة قلت من هذا الذي يكذبه قالوا عمه أبو لهب قلت إنك كنت يومئذ صغيرا قال لا والله إني يومئذ لأعقل تعليق شعيب الأرنؤوط : صحيح لغيره وهذا إسناده حسن عبد الرحمن بن أبي الزناد ينزل عن رتبة الصحيح وباقي رجاله ثقات رجال الصحيح : ([2])

ما د ذا الحجاز په میله کې نبي صلی الله علیه وسلم لیدلی او چه یو سور څادي ئي په سر وو او خلقو ته ئي چغې وهلې اې خلقو د الله د یوالي اواز اوکې چه کامیاب شئ.

---

[1]- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ٤ صفحه ١٢٣ حديث شداد بن أوس رضي الله عنه

[2]- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ٣ صفحه ٤٩٢ حديث ربيعة بن عباد الديلي

حضرت نوح علیه السلام د دې قافلې اولني سپه سالار وو نو د هغه واقعه دلته ذکر کوي.

د صحیح قول مطابق د حضرت نوح صرف شپږ ملګري وو درې د هغه ځامن او درې د هغه ځامنو ښځې یو ځوئې چه هغې نوم عام خلق کنعان یادوي او د تحقیق مطابق د هغه نوم یام دې هغه د پلار خلاف وو.

## د ایتونو ترجمه

رلوله په دوې باندې واقعه د حضرت نوح علیه السلام کله چه ئې اووې خپل قوم ته اې ځما قومه که په تاسو باندې ځما دا ودریدل او زما تاسو ته د الله د ایاتونو پند ورکول که دا په تاسو باندې ګران لګې نو ځما په الله توکل دې نو خپلې مشورې راټسې اوکړئ ټول اتفاق راټسې اوکړئ او خپل معبودین راوبلئ او بیا خپل راې خپل مشوره پټه مه ساتئ بیا ئې ما ته واوره وې او ما ته مهلت مه راکوې کچیرې تاسو واوړیدې نو ما تاسو نه څه غوختلې نه دې او نه د بدله ځما مګر په الله باندې او ما ته حکم دې چه زه به اول د دې مسئلې منونکې یمه بیا الله وائې چه کوم کسانو چه د هغه ملګرتیا کړې وه نو هغوئې له مې نجات ورکړو او کومو چه انکار کړې وو نو هغوئې مې تباه او برباد کړه بیا فرمائې چه اوګوره چه څوک چه یرولې شوې وو د هغوئې انجام څنګه وو.

عزتمندو- دا یره ستاسو غوږونو ته بار بار درسیدلې د او انجام د دې د مخ اړولو ډیر خطرناک دې.

الله رب العز دې ځمونږ په زړونو کې تقوې پیدا کړې او الله دې ځمونږ زړونه د ایمان په رڼړاه باندې منور کړې.

واخر دعوانا ان الحمد للہ رب العالمین



# موضوع : په دين باندي اجرت اغستل

الحمد لله الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على سيد الاولين و
الاخرين وخاتم النبين وقائد الغر المحجلين سيدنا محمد المبعوث الى
الخلق اجمعين وعلى آله الطيبين و اصحابه الطاهرين
وعلى اله و ازواجه الطاهرات امهات المؤمنين وعلى علماء امته المتقين
المقتفين اثاره الي يوم الدين.

امابعد

فَأَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

يَا قَوْمِ لَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى الَّذِي فَطَرَنِي أَفَلَا تَعْقِلُونَ ۝ وَيَا قَوْمِ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا وَيَزِدْكُمْ قُوَّةً إِلَى قُوَّتِكُمْ وَلَا تَتَوَلَّوْا مُجْرِمِينَ : (۱)

## تمهيد

په دي آيت کې حضرت هود عليه السلام خپل قوم ته وائي.

اې زما قومه زه ستاسو نه پدې دين باندې پدې تبليغ باندې پيسې نه غواړم زما اجر په هغه الله باندې دې چه زه ئې پيداکړي يم تاسو دومره سوچ نه کوئ چه زما پدې کې څه مالي فائده نشته.

---

۱- سورة هود - ۵۱ - ۵۲.

## هر يو پيغمبر بې تنخواه دين بيان کړي

هر يو پيغمبر چه دنيا ته راغلی دي نو د الله او د الله د مخلوق تعلق ئې د يو بل سره جوړ کړي دي دغه رنګې دمخلوق پخپل منځ کې تعلقات ئې پيدا کړي دي نو هر يو پيغمبر د هغه يو آواز وو هغه دا وو چه ګورئ زه دين بيانوم.

خو د دين په بيانولو باندې زه تنخوا نه اخلم او بيا جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم ته خو الله فرمائي.دې خلقو ته قُلْ مَا سَأَلْتُكُمْ مِنْ أَجْرٍ فَهُوَ لَكُمْ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى اللَّهِ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ: (۱)

که ما تاسو نه څه تنخوا غوختلې دې څه بدله مې درنه غوختلی وي نو هغه بدله هغه ستاسو شوه.

مونږه په خپله پښتو کې معنی کوو هلکه که څه راکوې نو کور ئې کيګده.

نبي صلى الله عليه وسلم د مکې خلقو ته يو عام اعلان کړي وو او الله ورته وئيلي دا اعلان اوکه.

اووايه که چيرې ما تاسو نه څه پيسې غوختلی وې څه بدله مې درنه غوختلې وې نو هغه بدله ستاسو شوه زما نده پکار.

## د انبياء عليهم السلام خپل قومونو ته تقرير کول

(۱) د حضرت نوح عليه السلام خپل قوم ته تقرير.

اول رسول چه دی دنيا ته راغې يو دی اول نبي اول نبې ادم عليه السلام دي د رسول د نبي نه زمه دارې لږې غوندې سيوا وې نبي هغه صرف د الله جلاله د طرف نه څه احکام بيانې خو هغه احکام چه په هغې باندې

---

۱- سورة سبا - ٤٧

سرې الله ته نږدې کيږي او نورڅه انقلاب پکې نه وي لکه د ادم عليه السلام نه تر ده شيث عليه السلام پورې خلق ټول مسلمانان وو او د انقلاب ضروت نه وو.

هر نبي چه به راتلو نو د الله د طرف نه به ئې څه احکام خلقو ته خودل ذکر او اذکار چه الله ته به سړې څنګه نږدې کيږي اول رسول چه دې دنيا ته راغلی دی هغه نوح عليه السلام دی.

نوح عليه السلام چه کله خپل قوم ته د الله توحيد شروع کو بيان ئې شروع کو نو اول آواز کوي.

إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ نُوحٌ أَلَا تَتَّقُونَ ۞ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ۞ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ: (١)

اې خلقو ستاسو د الله نه نه يريږئ ؟ زه ستاسو د پاره د الله د طرف نه رسول يم او امانتدار يم کومه خبره چه الله کړې بغير دکمې زياتې نه ئې تاسوته در رسوم .د الله نه اويريږئ او زما خبره اومنئ او بيا ورته وائي:

وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ الْعَالَمِينَ۞ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ: (٢)

نه غواړم زه ستاسو نه پدې دين باندې حه تنخواه نده بدله زما مګر په رب العالمين باندې ده نو د الله او نبي او په ما بيسې روان شئ.

(٢) د حضرت هود عليه السلام خپل قوم ته تقرير

دويم پيغمبر الله ذکر کوي .

---

١- سورة شعراء – ١٠٦تا ١٠٨

٢- سورة شعراء – ١٠٩

كَذَّبَتْ عَادٌ الْمُرْسَلِينَ ۞ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ هُودٌ أَلَا تَتَّقُونَ ۞ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ۞ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ۞ وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ الْعَالَمِينَ : (١)

عادیانو پیغمبرانو ته دروغژن اووی کله چه د هغوئ یو تن هود علیه السلام دوی ته اووی ستاسو ولې نه یریږئ د الله نه زه ستاسو د پاره د الله دطرف نه رسول یم او امانتداریم کومه خبره چه الله کړې بغیر دکمې زیاتې نه ئې تاسو ته در رسوم .بول یوه خبره کوي .

نه غواړم زه ستاسو نه پدې دین باندې څه تنخواه څه بیسې نه غواړم ندې اجر زما مگر په رب د مخلوقات .

(٣) د حضرت صالح علیه السلام خپل قوم ته تقریر

په سورة شعراء کې الله رب العزت دحضرت صالح علیه السلام خبره ذکر کوي .

كَذَّبَتْ ثَمُودُ الْمُرْسَلِينَ ۞ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ صَالِحٌ أَلَا تَتَّقُونَ ۞ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ۞ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ۞ وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ الْعَالَمِينَ : (٢)

صالح علیه السلام هم خپل قوم ته وائي نه غواړم زه ستاسو نه پدې دین باندې تنخواه نده بدله زما مگر په رب العالمین ده.

(٤) د حضرت لوط علیه السلام خپل قوم ته تقریر

آیت نبمر ١٦٤ کې د حضرت لوط علیه السلام واقعه ذکر کوي .

---

[١]- سورة شعراء -١٢٣ تا ١٢٧

[٢]- سورة شعراء - ١٤١ تا ١٤٥

كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوطٍ الْمُرْسَلِينَ ۞ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ لُوطٌ أَلَا تَتَّقُونَ ۞ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ۞ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ۞ وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ الْعَالَمِينَ: (۱)

لوط عليه السلام هم قوم ته وی نه غواړم زه ستاسو نه پدې دين باندې څه تنخواه نده بدله زما مګر په رب العالمين ده .

(۵) د حضرت شعيب عليه السلام خپل قوم ته تقرير

آيت نمبر ۱۸۰ کې د حضرت شعيب عليه السلام حال ذکر کوي .

كَذَّبَ أَصْحَابُ الْأَيْكَةِ الْمُرْسَلِينَ ۞ إِذْ قَالَ لَهُمْ شُعَيْبٌ أَلَا تَتَّقُونَ ۞ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ۞ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ۞ وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ الْعَالَمِينَ: (۲)

نه غواړم زه ستاسو نه پدې دين باندې څه تنخواه نده بله زما مګر په رب العالمين ده .

او دارنګې د هر پيغمبر حال چه الله رب العزت ذکرکوي نو هغه ته وائي چه خپل قوم ته اووايه چه زه ستاسو نه پيسې نه غواړم.

د دې نه مخکې په سورة انعام کې الله رب العزت ده انبياء واقعات ذکر کوي. اتلس (۱۸) انبياء ئې ذکر کړي دي.

وَوَهَبْنَا لَهُ إِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ كُلًّا هَدَيْنَا وَنُوحًا هَدَيْنَا مِنْ قَبْلُ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِ دَاوُودَ وَسُلَيْمَانَ وَأَيُّوبَ وَيُوسُفَ وَمُوسَىٰ وَهَارُونَ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ۞ وَزَكَرِيَّا

---

۱- سورة شعراء - ۱۶۰ تا ۱۶۴

۲- سورة شعراء -۱۷۶ تا ۱۸۰

وَيَحْيَىٰ وَعِيسَىٰ وَإِلْيَاسَ كُلٌّ مِّنَ الصَّالِحِينَ ۞ وَإِسْمَاعِيلَ وَالْيَسَعَ وَيُونُسَ وَلُوطًا وَكُلًّا فَضَّلْنَا عَلَى الْعَالَمِينَ : (۱)

ابراهيم عليه السلام , اسحاق عليه السلام , يعقوب عليه السلام ,نوح عليه السلام , داودعليه السلام , سليمان عليه السلام ,ايوب عليه السلام , يوسف عليه السلام , موسي عليه السلام , هارون عليه السلام , زكريا عليه السلام , يحي عليه السلام ,عيسي عليه السلام , الياس عليه السلام , اسمعيل عليه السلام , يسع عليه السلام , يونس عليه السلام , لوط عليه السلام دا اتلس انبياء چه ذكر كړل بياالله واي .

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ هَدَى اللَّهُ فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ قُل لَّا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرَىٰ لِلْعَالَمِينَ : (۲)

دا اتلس انبياء عليهم السلام هغه كسان وو چه الله په دين باندې كلك كړي وو نو د دوي په لار باندې ته روان شه ورته اووايه چه زه ستاسو نه پدې دين باندې څه تنخواه نه غواړم .

تفسير مدارک د دې آيت لاندې ليكلي دي.

على الوحي أو على تبليغ الرسالة والدعا إلى التوحيد أجرا جعلا وفيه دليل على أن أخذ الأجر على تعليم القران ورواية الحديث لا يجوز

چه قران او په حديث باندې تنخواه اغستل دا آيت د دې رد كوي.

حضرت هود عليه السلام هم د نورو انبياء عليهم السلام پشان خپل قوم ته واي.

---

۱- سورة انعام - ۸٤ - تا ۸٦

۲- سورة انعام - ۹۰

يَا قَوْمِ لَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى الَّذِي فَطَرَنِي أَفَلَا تَعْقِلُونَ ۝ وَيَا قَوْمِ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا وَيَزِدْكُمْ قُوَّةً إِلَى قُوَّتِكُمْ وَلَا تَتَوَلَّوْا مُجْرِمِينَ : [1]

اې زما قومه ستاسو نه پيسې نه غواړم تنخواه نه غواړم روپۍ نه غواړم دوډۍ نه غواړم زما بدله به هغه ځوک راکئ چه زه ئې پيدا کړې يم . خو البته ده الله دين دی او دا دين ستاسو ته بيانوم دا او منئ.

## نبي صلى الله عليه وسلم تنخواه نه ده غوختې

نبي صلى الله عليه وسلم هم وائي.

قُلْ لَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبَى : [2]

زه ستاسو نه تنخواګانې نه غواړم إِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبَى.مفسرين د دې آيت ګنړې منې کوي يوه معنی پکې دا ده:

الا ان توادوني في التقرب الى الله عزوجل زه هيس نه غواړم صرف دا غواړم چه رازئ چه مينه محبت اوکړو د يو بل سره او الله ته ېرې ځان نږدې کو.

هر نبي هغه په دين باندې پيسې ندې غوختې نبي صلى الله عليه وسلم چه کله قريشو او نه منو نو په يو ميله کې ولاړ وو اواز ئې کوو.

---

[1]- سورة هود - ٥١ -٥٢

[2]- سورة شوري - ٢٣

عن جابر بن عبد الله قال كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يعرض نفسه على الناس في الموقف فقال ألا رجل يحملني إلى قومه فإن قريشا قد منعوني أن أبلغ كلام ربي: (۱)

اې خلقو ځوک نشته چه ماځپل قوم ته بوزي چه زه ورته دين بيان کړم ځکه قريشو د الله کتاب بند کړي دی.خو دا ئي ندې وئيلي چه اې خلقو ځوک نشته چه ماله تنخوا راکې او ما بوزي چه زه په دين باندې پيسې اخلم او هغوئ ته تبليغ اوکم دا خبره نده .

ځوک شته چه ما ځپل قوم ته بوزي او زه ورته د الله دين بيان کړم او کتاب بيان کړم ځکه قريشو زما د خدائی کتاب منع کړيدي .

## دجناب محمد عربي صلى الله عليه وسلم صحابو رضي الله عنهم ته حکمونه

جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم صحابو ته څه بعضي حکمونه کړي وو لکه يو صحابي ته ئي وصيت کوو.

عن عثمان بن أبي العاص قال إن من آخر ما عهد إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم أن اتخذ مؤذنا لا يأخذ على أذانه أجرا قال أبو عيسى حديث عثمان حديث حسن صحيح: والعمل على هذا عند أهل العلم كرهوا أن يأخذ المؤذن على الأذان أجرا واستحبوا للمؤذن أن يحتسب في أذانه: (۲)

---

۱- سنن أبي داود : جلد ٤ صفحه ۲۳٤ باب في القرآن

۲- سنن الترمذي : جلد ۱ صفحه ٤۰۹ ما جاء في كراهية أن يأخذ المؤذن على الأذان أجرا

کله چه نه مؤذن شوی نو آذان پدې کې د الله د دین اواز دی پدې باندې اجرت نه اخلي او دین به د دنیا ذریعه نه گرځئ.

## د امام ابو حنیفه رحمه الله د قضاء نه انکار

د د نیا لوئي امام ابوحنیفه نعمان بن ثابت رحمه الله ابن حبیره په دې باندې اماده کوو چه زما نه تنخواه اخله او ته د مملکت قاضي شه امام صیب رحمة الله علیه ورته وی زه په قضا نه پوهیګم.

ابن حبیره ورته وی ته دروغ وائي هغه ورته وی دروغجن سړی څه له قاضي کې زه دروغ وام نو دروغجن د قضاد پاره اهل ندی اوکه رشیتا وام نو زه د قضا د پاره اهل نه یم امام صیب رحمة الله علیه ئي اووهو سزاګاني ئي ورکړې تردې پورې چه د امام صیب رحمة الله علیه جنازه دجیل نه اووته خود بادشاه قضاوت ئي قبول نه کړو او دا د دې وجې نه چه د بادشاه قاضي شوی وو او د بادشاه تنخوا ئي خوړلی نو هغه بادشاه ته ئي بیا حقه خبره نه شوه کولی.

## علم د دنیا د حصول ذریعه جوړول ناروا دي

علم د دنیا د حصول ذریعه جوړول ناروا دی یو داسې دی چه یوسړی په یو ملک کې اوسي په یو کلي کې امامتي کوی او خلق هغه کفاف ورکوي کفاف مطلب دا دی چه دومره څه شی ورله ورکوي چه د هغه د زندګي کافي کیږي خو دا کفاف ورکول دي الله د دین نه نه منع کوي نو پدې کې څه باک نشته.

التبه داسې امامت چه يو سړی تاله داني درکوي او دلته د مانځه وخت وی او هغه اودس کوي او ته د هغه انتظار کی بغير د هغه نه اودريګې.
يا ته په مانځه باندې ولاړ وی او ناساپه هغه توخې اوکړو او ستا په زړه کې راغلل چه دا خو پلانی ملک دی او ماله غنم راکئ او ستا هغه ته مونځ اوګد کونو دا اجرت او عمل دوانړه حرام دي.
واقعه : خمونږ دطالبي زمانه وه په سوات کې بعض علاقو کې په جماعتونو کې به وو امام صيب به ترهغې پورې په مانځه نه اودريدو وی به ئي خان ندی راغلی دهر جماعت جدا خان وو که خان به شل منته د پاسه په يوه راغی او که په دوه بجی به راغی اوکه پاؤکم په دوه بجې به راغی ده خان راتلل دا د امام ده اودريدو وخت وو.
داسې عمل ده دنيا ده محبت ده وجې نه کيږي او دا قسم اجرت په دين باندې اغستل ناروا دی.

## مجدد الف ثاني رحمه الله وينا

د هندوستان مشهور امام مجدد الف ثاني رحمه الله شيخ احمد سرهندي د هغه کتاب دي مکتوبات په هغې کې هغه په يو ځائې کې ليکلي.
علمائي که بمحبت اين دنيه گرفتار اند وعلم را وسيله ئي حصول دنيا ساخت اند ايشانن شرار مزدم ولصوص دين وعلماء سوء.
هغه علماء چه هغه د دې دنيا په محبت باندې گرفتار شوی دی اوعلم ئي د دنيا د حصول ذريعه گرځولی ده دا هغه ناکاره مولیان دی او دا په بنديانو کې د ټولو نه شرير او ناکاره خلق دی او د دين هغه غله دی چه علم ئي د نيا د حصول ذريعه گرځولی ده.

# عالم له الله پاک رزق د قران د وجې ورکوي

که عالم له الله پاک دوډۍ ورکړئ نو په قران اوحديث ئي ورکوي که دعالم څوک قدر کوي نو د قران او حديث د وجې نه ئي کوي که يو عالم يو مجلس ته ورشي خلق ورته پاسيکي دادځه دوجې نه د دې وجود ده وجې نه ؟ چرې هم نه په وجود کې د د نه خائسته خلق شته خو دا احترام چه د دکيږي او د له چه په مجلس کې هغه اوچت ځائي ورکولی کيږي ددې ټولو سبب قران دی.

د نبي صلی الله عليه وسلم د بعثت په وخت کې د مکې خلق او درانګي د مکې نه بهرخلق دا يو قسم مشرکين وو خو د مکې خلق قدر مند وو او د بهر د خلقو هغه قدر نه وو کوم چه د مکي د خلقو وو د مکي حلقو ته امن وو او د بهر حلقو ته هغه امن نه وو بهرخلق هغوئ چه به قافلی رواني وي نو لوټ کيدی به او د مکي سړی چه به يوازې روان وو نو غلو به ورته تعارض نه کوو وی به ئي دا د حرم اوسيدونکي دی د دی وجه څه وه ؟دا نه چه د مکې د خلقو لاسونه څلور وو سترګي ئي څلور وې خلق يو وو خو د مکې خلق هغوئ د حرم منجوران وو دبيت الله شريف د شعائر الله د وجې نه د بيت الله د وجې نه خلقو د مکي د حلقو قدر کوو او الله رب العزت هم فرمائي . لِإِيلَافِ قُرَيْشٍ ۞ إِيلَافِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَاءِ وَالصَّيْفِ

قريش ما عاديان کړي عادت مي ورله ورکړې دی او د هغوئ عادت څه دی ؟ په اوړې باندې شام ته او په ژمې باندې يمن ته دتجارت د پاره سفرکوي خو د قريشو قافله به په امن باندې تله راتله نو الله جلاله وائي چه تا دوې له امن ورکړي دی نورخلق اوګي وي او د مکي خلق ماړه وو بخبله خوماړه

ماړه وو خو نورو خلقو له به ئې روټي ورکوله او د نورو خلقو ده ولوګې دا حال وو.

## د زيد الخيل رضي الله عنه واقعه

يو مشهور صحابي دى او د هغه ډيره يه خوګه قيصه ده.

عن عبد الله قال كنا عند رسول الله صلى الله عليه وسلم إذ أقبل راكب فقال له رسول الله صلى الله عليه وسلم ما اسمك؟ قال زيد الخيل قال بل أنت زيد الخير: (۱)

هغه صحابي نوم دى زيد الخير پخواني نوم ئې د زيد الخيل خيل اسونو ته وائي او دا يو خاندان وو هلته اوګله چه هغه اسلام قبول كو نبي صلى الله عليه وسلم ترې تپوس اوکړو وي ستا څه نوم دى؟ هغه ورته وى زما نوم دى زيد الخيل نو نبي صلى الله عليه وسلم ورته وى ته زيد ئې خو خير والا زيد ئې.

د دې زيد الخير د پلار نوم مهلهل وو نو يو سړي دي او. د هغه بچي اوګى دى پلار او مور ئې اوګې دى هغه روان شوي دي وائي څمه چيرته غلا وكمه چه خپل بچي ماړه كړم داكې كومه چه خپل بچي او مور پلار ماړه كم.

چه روان شو ى دى تلى دى ده دغه زيد الخير كلي ته توره تياره وه او د زيد الخير پلار مهلهل چه وو هغه بوډا سړى وو او زيد الخير ددغه علاقي لوئي نواب وو ماښام د هغه اوښان راغلل چارچاپيره كيناستل د هغه زبردست

۱- معجم الصحابه: جلد ۱ صفحه ۲۲۷

اوښان وو زيد الخير خپل پلار له پئ راوړل روتي راوړه تياره وه رنړانشته دا سړی چه د ډاکې په نيت تلی دی دا ورغې ده مهلهل سره کنياستواوروتي ئې اوخوړه دده دا خيال ری چه زه چا نه يم ليدلی توره تياره ده او عرب ډير هوښيار خلق وواوس هم عرب ډير هوښياردی نهايت هوښيار وو هغه ليدلی وو چه زما د پلار سره ئې روتي اوخوړه نور کله چه به هغه غوښه راوړه هغه بوډا سړي وو يو څو بوټي به ئې ترې اوخوړل او په دغه ورځ باندې غوښه خلاصه شوی وه.

چه کله خلق اوده شو نو دا سړی پاسيدو او هغه اوښان ئې ټول روان کړل چربانگ زيد الخير ته پته ولګيده چه زما اوښان غل تختولی دي په اس باندی سور شو په يو فرلانگ کې ئې سړي رالاندي کو آواز ئې ورته اوکړو. هلکه بيګاه دې زما د پلار سره روټي خوړلې ده څه درته وام نه خو دا اوښان مې راپريکده.هغه غشي او لندی ته لاس کو دی ورته وائې غشی او لندی ته مه لاس کوه خو دازما اوښان ندې پدې کې د يواوښ په جرس باندې لاس کيده او ما ته وايه چه دا وله صرف گوته پرې کيکده هغه په يو خائې گوته کيخوده ده چه غشی راخکو نو د هغه د هغه گوتې هغه ځائې اووېشتو او ورته ئې وې بچ کيدی رانه نشي زه سخت ويشتونکی يم او بيا پسې ورغې سره ده اوښانو ئې رواوستو ورته ئې وې څه درته وام نه اوڅه درته څکه نه وام چه زما د پلار سره دې روتي خوړلی ده او زما د پلارسره چه څوک کيناستل نو زه هغه ته غړ نه کوم خو راوستی مې د دې د پاره چه يو دوه ورځې تيرې که او زما د ټبر خلق جنگ له تلی دي اوچه څه غنيمت راوړي ستا له ئې درکوم څان له ئې اووسه لکه داسې لوګه وه په

عربو کې دا د اسلام نه مخکې قصه ده ده زيد الخير او د هغه د پلار مهلهل
يعني خلق داسې اوکړي وو خو د مکې خلق هغه دومره ماړه وو چه حاجيانو
له به ئې خپله روټي ورکوله او دا اوليٰ؟ دا د بيت الله د وجې نه.
الله رب العزت ورته څکه وائي.

فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَٰذَا الْبَيْتِ ۝ الَّذِي أَطْعَمَهُمْ مِنْ جُوعٍ وَآمَنَهُمْ مِنْ خَوْفٍ

د دې کور د خدائې عبات اوکړې کوم خدائې؟ هغه الله چه خلق اوګي وو او
تاسو ئې ماړه کړي وي هغه الله چه خلق په يره وو خلقو ته امن نه وو او
تاسو ته امن وو دا ده څه ده وجې نه وو؟ دا د بيت الله ده وجې نه وو مولا
صاحب له که الله رزق ورکوي نو دا د قران د احترام ده وجې نه ئې ورکوي
خو چه قران ئې معکوس کو او دا ئې ده اجرت ذريعه اوګرځوله نو الله ئې
پريدي هغه ذليله ئې بيا ټول عمر بيا په ذلت کې تيروي او د هغه سترګې
اوچتې نه ئې.

علماء چه کله په قران باندې عاملين ئې او قران نه ئې ښکار ذريعه نه وي
جوړه کړي الله ئې ورله ورکوي او چه قران ده ښکار ذريعه کې نو الله ئې
ورله بيا نه ورکوي.

## د سفيان رحمه الله علماء ته وينا

سفيان رحمه الله مشهور تابعي او عالم تير شوی دی. هغه علماؤ ته وائي.

حدثنا محمد بن حسان السمتي قال شهدت الفضيل بن عياض وجلس إليه
سفيان بن عيينة فتكلم الفضيل فقال كنتم معشر العلماء سرج البلاد
يستضاء بكم فصرتم ظلمة وكنتم نجوما يهتدى بكم فصرتم حيرة

اي دعلماء جماعته تاسو خو د ملک ډيوی وئ تاسو نه به خلقو رنړا اغسته
تاسو توري شوی رنړا در پکې ختمه شوه .او تاسو ده هدايت ستوري وئ
تاسو نه به خلقو لار اغسته خو تاسو پخپله حيران شوی.
غرض مې دا ووچه څنګه د مکي خلقو له الله امن ورکړي وو ډوډۍ ئې
ورکړې وه خو په څه ئې ورکړې ؟ده د بيت الله په عزت باندې نو چه مولا د
قران و او سنت عزت کو الله له ورله زرق ورکوي.
جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي.
قُلْ لَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبَىٰ : (۱)
زه ستاسو نه تنخواه نه غواړم صرف دا غواړم چه راځئ چه ټول يو ځائې
شو او د الله د پاره مينه اوکړو او د الله ته پرې اورسو.
بيا قران د دې د پاره لوستل چه زه به په قران باندې پيسې ګټم نو دا
نهايت ناروا کار دی.

## د کلي احوال او د مړو پسې ختمونه

مونږ چه کله کله وړومبی وړومبی راغلو په دې کلي کې يو زمانې پورې
چه مړی به اوشو نو دی مشرانو ته به ياد وی څکه چه کشرانو هغه دور
نه دی ليدلی چه مړی به اوشو نو ده مړی په دريمه ورځ باندې به يو ختم
وو او دا ختم ضروري وو او په هر جماعت کې به وو په هغه ختم کې به
څه وو؟ په هغه ختم کې به د ټول کلي مولیان راغونډ شوی وو او هغه
کسان به هم ورسره وو چه څوک به په قران کې مړنی وو او ختم به ئې په

---
۱- سورة شوري – ۲۳

مړی پسې اوکړو او ختم به ئې کوټو کوو په خولې به ئې نه کوو يو بل سره به ئې خبرې کولې او هن هن به ئې کول او په قران باندې به ئې کوټې راخکلې او چه کله به ئې ختم خلاص کو نو ما غوندی مولاچه به وو نو هغه له به ئې اتانې ورکړې او چه لوئې مولا به وو نو هغه له به ئې پنځې روپۍ ورکړه او چه ډېر لوئې مولابه وو نو هغه له به ئې پنځۀ ٥روپۍ ورکړې او دا نورخلق به ئې په څلور څلور انې باندې راضي کو او دا قران هغوئ ده دنيا ذريعه گرځولې وه.

## د علامه شامي رحمه الله اقوال

هغه عزت چه هغه نن علماء ته الله ورکړې دی هغه ئې هغوئ ته نه وو ورکړې او د دې په باره کې څمونړه علماء لکه شامي صاحب ليکلي دي.

فالحاصل أن ما شاع في زماننا من قراءة الأجزاء بالأجرة لا يجوز لأن فيه الأمر بالقراءة وإعطاء الثواب للآمر والقراءة لأجل المال فإذا لم يكن للقاریء ثواب لعدم النية الصحيحة فأين يصل الثواب إلى المستأجر ولولا الأجرة ما قرأ أحد لأحد في هذا الزمان بل جعلوا القرآن العظيم مكسبا ووسيلة إلى جمع الدنيا إنا لله وإنا إليه راجعون: (١)

چه زمونږ په زمانه کې چه دا قران په اجرت باندې لوستلې کيږي او دا د دې دپاره لوستلې کيږي چه زه قران لولم علماء ئې راجمع کړې دي قاريان ئې راجمع کړي دي چه زما مړی ته ثواب اورسي. شامي وائي.

---

١- حاشية رد المختار على الدر المختار شرح تنوير الأبصار: جلد ٦ صفحه ٥٦

څونړیه زمانه کې چه کومه خبره شائع ده چه خلق سپاره په پیسو باندې وائي دا جائز نده ځکه پدې کې قارې ته د مړي وارث وائي ماله قران اولوله اوهغه ورله پیسې ورکي نو اجرت چه دې ېرې واغستو نو نیم اجرتا په جیب کې واغستو اوچه ډوډۍ دې ېرې اوخوړه نونیم اجردی خیټې ته اورغورځو نو کله چه د قارې ثواب نه کیږي نو چه چا رواستی دی او پیسې ورله ورکوي نو هغه ته به څه ثواب اورسي.

دې خلقو قران کریم دا دکسب یوه ذریعه ګرځولې ده د دنیا ده جمعي د پاره یوه وسیله جوړه کړې ده. إنا لله وإنا إليه راجعون.

وقد رده الشيخ خير الدين الرملي في حاشية البحر في كتاب الوقف حيث قال أقول المفتى به جواز الأخذ استحسانا على تعليم القرآن لا على القراءة المجردة كما صرح به في التاتر خانية حيث قال لا معنى لهذه الوصية ولصلة القارىء بقراءته لأن هذا بمنزلة اورة والإجارة في ذلك باطلة وهي بدعة ولم يفعلها أحد من الخلفاء وقد ذكرنا مسألة تعليم القرآن على استحسان اه يعني للضرورة ولا ضرورة في الاستئجار على القراءة على القبر: ([1])

چا ورته وی چا شامي استاذ دا خبره دې صحیح نده دا خو مونکه د خدائی د پاره قران وایو او هغوئ د خدائی د پاره پیسې راکوي نو علامه شامي ېرې تک کوي ورته وائي.

چه څوک وائي دا د قارې سره دالله د پاره امدادکوي نو دا بالکل بې فائدې خبره ده که چیرې دا پیسې پکې نه وی نو چا د چاد پاره تکی هم نه لوستو اوس چه پیسې نشته نو څوک دی اولولی کنه زه.

[1]- حاشية رد المختار على الدر المختار شرح تنوير الأبصار :جلد ٦ صفحه ٥٦

# حنفي مذهب او اجرت علي الطاعات

زمونږ حنفي مذهب په دې مسئله کې نهايت کلک دی امام صاحب رحمة الله عليه وائي که ده بادشاه د طرف نه تنخواه ميلاويکې نو خيردی خو بو سړی به د چاسره ټهيکه نه کوي چه تا له به مونځ کومه دومره پيسې به راکوي دادامام صيب خپل قول دی اګرچه دامام صاحب دمذهب متاخرين خلق هغوئ د دې نه راګرځيدلی صرف د دې د پاره که چيرې دا خبره داسې شي نوبيا به څوک چا له مونځ نه کوي خو صرف د جواز قول ئې کړي چه په دې باندې اجرت اغستل جائز دی خو غوره بيا هم ندی.

د انبياء حالت ما تاسو ته پيش کو هر نبي چه دنيا ته راغلی دی هغه چه کله د الله دين بياني نو اول خبره داکوي زه ګوري ستاسو نه تنخواه نه غواړم زما اجر په هغه الله دی چا چه پيدا کړي يم دوډۍ به راله راکوي اجر دا زما په الله دی او چه چا پيدا کړي يم نو هغه به راله دوډۍ راکوئ او خاص کر بيا ما تاسوته عرض اوکړو چه نبي صلی الله عليه وسلم فرمائي: الله ورته وائي چه زماپيغمبره دی خلقو ته اووايه ما له څه راکوئ نو کور ئې کيدی پداسې سختو الفاظو باندې نبي صلی الله عليه وسلم بيان کوي د دې وجه څه ده؟ وجه ئې دا ده چه کله علماء هغه دين ده د نيا ذريعه جوړه کې دين دا باز کې او دينا ئې ښکار کې نو د دې خلقو عزت او قدر نه پاتې کيږي.

## د عبدالله بن مبارک رحمه الله خپل شاګرد ابن علیه رحمه الله ته خط

عبدالله بن مبارک مشهور تابعي دی د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د شاګرد دی د عبدالله بن مبارک یو شاګرد وو د هغه نوم دی اسمعیل بن علیة دغه اسماعیل بن علیة د بادشاه قاضي شو استاذ ئي ترې خبرشو چه زماشاګرد د خیره سره قاضي شوی دی خو مبارکي ئي ورته نده کړي چه قاضي صاحب مبارک شه چې ته ده بادشاه قاضی شوی او تاته د بادشاه قرب حاصل شو او تا ته دومره ښه نوکري میلاو شو دا ئي ورته ندې وئیلي هغه ورته یو خط اولیکو په هغه خط کې ورته څه وائي ؟ هغه خط مشهور خط دی هغه کي ورته لیکي.

| | |
|---|---|
| یا جاعل العلم له بازیاً | یصطاد بها أموال المساکین |

اې هغه سړیه چه علم دې باز کړي دی او ده مسکینانو مالونه پرې ښکار کې

| | |
|---|---|
| احتلت للدنیا ولذاتها | بحیلة تذهب بالدین |

ستا ده دنیا او ده دنیا ده خواهشاتو د پاره یو حیله اختیار کړه او داسې حیله چه ستا دین به ختم کي .

| | |
|---|---|
| أین روایاتك فیما مضی | عن ابن عون وابن سیرین |

ستا چه به د دې نه مخکې ده ابن عون او ده ابن سیرین د دې محدثینو هغو واقعات به تا ذکر کول هغه څه شول هغه روایات څه شو .

| | |
|---|---|
| أین روایاتك في سردها | لترك أبواب السلاطین |

او تا چه په هغه روایتونه جمع کول چه د بادشاه کور له به نه ځي سړی ذلیله کیږي. هغه څه شو په اخر کې ورته وائي

إن قلت أكرهت فذا باطل زلّ حمار العلم في الطين

که ته وائي چه بادشاه په ما باندې زور اوکړو او د بادشاه د مخ نه خلاص شوم نو دا خبره دی غلطه ده اخرې نتیجه ورته خائي وائي د علم خر وی په خټه کې انختی ئي.

اسمعیل بن علیة چه د خپل استاذ خط اولوستو نو علماءوائي ابن جوزي صفة الصفوة کې لیکلي دي کله چه هغه هغه خط اولوستلونو اوجړل ئي په ډرک ډرک ئي اوجړل و استعفي ئي ورکړه بادشاه ته ئي وي چه زه قاضي توب نه کوم او خلقو ته ئي وی زما دي په خدائی قسم وی زما رور ماته ډیرخه نصیحت کړي دی.

## د سهل بن عبدالله تستري رحمه الله او د هارون الرشید بادشاه واقعه

هارون الرشید بادشاه د عباسي خلافت امیر المؤمنین وو کله کله د سړی زړه هسې پریشانه شي دهغه دازړه پریشانه شوی وی په هیس شي باندې نه کیږي وزیر ئي د شپې راپاسو هغه ته وائي رازه پدې علماؤ مې اوګرځوه چه ده زړه تسلي مې اوشي هغه بادشاهان خه خلق ووچه تکلیف به ورته راغی نو عالم له به تلل.

بادشاه روان دی ځکې دی او وزیر وریسې دی د یو عالم کور ته ورغی هغه ئي راپاسوچه امیر المؤمنین راغلي دي هغه لاس په نامه باندې انخودې

دي چه امیر المؤمنین قربان دې شمه هارون یولس اته منته د هغه عالم سره ناست دی بیا وزیر ته وائي ده له څه پیسې ورکه اوپاسه چه څو زړه مې چوي په ټول بغداد کې اوګرځیدو او هرعالم له لاړو وی زړه مې چوی ده بغداد نه بهر اووتو نیمه شپه ده یو جونګړه ده په هغې کې ډیوه بلیګي او یو مولا صاحب ناست دی کتاب ګوري.

بادشاه وزیر دوانړه روان دی وزیر وائي یا امیر المؤمنین ستا نه قربان شمه دا اواز چه د هغه مولا په غوګو شو نو ډیوې له ئي پوک ورکو او ډیوه ئي مړه کړه او غلي کیناستو دا وزیر ورته وائي ظالمه امیر المؤمنین غوندی هستي ستا جونګړي ته راغلیه او ستا ډیوه مړه کړه دا سړی غګ نه کوي بادشاه ورته وائي زما تسلي به پدې ځائي کې کیږي دې جونګړی دی دروازه کې ښې وازې او لاسونه واز کړه چه دا سړی بهر اونه اوزي.

بادشاه وردننه شو بادشاه چې یو ځائي کشاری کوی نو دا مولا په بل ګوټ کې ناست وی او چه هلته پسې اورسي نو هغه ځائي ته لاړ شي چه هغه ځائي ته بادشاه اورسي نو دا سړی دی بل ځائي ته لاړشي چه دی ځائي له راشي نو هغه هغې ګوټ ته لاړشي.

پدی چل کې د بادشاه لاس پدې سړي اولګیدل هغه چغي کړي وي چه او ظالمه دا څومره پاسته لاس دي دي ده خلقو مالونه دی خوړلي ده مسلمانانو مال دې ټول هضم کړي خوړلی دی اولاس دې پرې ځان له پاسته کړي دي الله له به څه جواب ورکې هارون ورته وائي نوري خبرې راته اوکړه هغه ورته وائي دخپل رعایت سره هغه سلوک اوکړه چه صباستامالک تاسره هغه سلوک کوي چه ته پرې خوشحاله ئي وی نور راته څه اووایه هغه ورته وی

مرګ خان ته مخې ته که د مرګ تیارې اوکه ډیرې خبرې ئې اوکړې بادشاه وزیر ته وائې زړه مې پاک شو دې سړی له پیسې ورکه هغه ورته وائې ده څه پیسې ؟د بیت المال پیسې دې راغستی دی ده مسلمانانو وینې زوې دی راوړې دې ماله ئې راکې بادشاه ورته وائې زما نه ئې واخله چا له ئې خیرات که چاله ئې هسې ورکه هغه ورته وائې چه فقیرانو در ته خیراتیان نه ځې بخپل ځائې کې ئې ورکه ایمان دی پکې ایمان.

بادشاه ورته وائې څه خو رانه وغواړه چه درکم دا سړې ورته وائې ډیر تنګ مار ئې که څه مې درنه اوغوختل نو رابه ئې نه کړې بادشاه ورته قسم اوکړو چه درکوم ئې درله نو هغه ورته وائې بس یو سوال درنه کوم چه زما دې خیمې ته دوباره رانه شې.

بادشاه چه ده خیمې نه بهر اوتو ده خیمې ده بل طرف نه ده بوډا ښځه راغله بوډا ته وائې چه زمونږنن څلورمه ورځ ده ډوډی.درک نشته ښکار الله کورته راوستې وو او تا واپس کړو دا بوډا دې ښځې ته وائې تاسو خو ما نه ده ګانړی.غوئې جوړکړې دې ټول عمر مې په ګانړې کرځوی.اوبیا مې په قصاب خرڅوې چه ټوټې ټوټې مې کړې دا خو قصاب وو هارون الرشید بیا راغې ورته وائې کوره دا پیسې.واخله هغه ته وائې. ما تاته نه وو وئیلي چه زما خیمې ته به دوباره نه رازې.

ده دې سړې نوم وو سهل بن عبدالله التستري او دا هغه سړی وو چه امام شافعي به ورته وی ما ته دعا اوکه خو دبادشاه پیسو ته ئې لاس نه وو نیولی.

# د امام مالک رحمه الله واقعه

ځواني علماء هغوئ چه الله ورله دا دومره اوچت نومونه ورکړي دي دا ئي د غيرت د وجي نه ورکړي وو.

امام مالک رحمه الله ټوله دنيا ئي پيجني.

امام مالک رحمه الله يوه مسئله ده بادشاه به خلقوله په زورطلاق ورکول او ښځي به ئي ترې اغستې امام مالک رحمه الله اعلان اوکړوچه طلاق المکره ليس بشئ ځوک چه په چاپه زور باندې طلاق اوغورځوي نو دا نه واقع کيږي.

بادشاه اونيو بربنډ ئي کو په اوښه باندې ئي سور کو مخ ئي ورله تور کو. او په مدينه کې ئي گرځو چه کله د مديني بازارته راغى نو په اوښه باندې اودريد د خلقو ته ئي اووى.

سمعت أبا داود يقول حكى لي بعض أصحاب ابن وهب عنه أن مالكا لما ضرب حلق وحمل على بعير فقيل له ناد على نفسك فقال ألا من عرفني فقد عرفني ومن لم يعرفني فأنا مالك بن أنس أقول طلاق المكره ليس بشيء فبلغ ذلك جعفر بن سليمان الأمير فقال أدركوه أنزلوه: (١)

اې خلقو ځوک چه مې پيژني نو پيژني مې او چه ځوک مې نه پيژني نو زه مالک بن انس يم او اوس هم وايمه چه په زور باندې طلاق نه واقع کيږي بادشاه ورله سزا ورکوله څه ئي وئيل ؟وى په زورطلاق نه واقع کيږي داسې خلق وو هغوئ له الله نوم ورکړې دى نوم.

---

١- سير اعلام النبلاء : جلد ١٥ صفحه ٩٧ مالك الإمام مالك بن أنس بن مالك المدني

امام بخاري رحمه الله چه نن په دنيا يادیگي ولی؟هغوئ چه د باشاهانو د پيسو د دې ځيزونو پروا نده ساتلي اوبيا قران ده ښکار ذريعه جوړول؟ زموئږ مولیان صاحبان کوی جمهوريت او تور کتاب ئي نيولی وی وائي دي له به ووټ ورکوي وائي دا د خدائی کتاب دی استغفر الله معاذ الله.

جمهوريت يو کافرانه نظام دي راشيئ ده حضرت هود عليه السلام نه څه زده کړئ حضرت هود عليه السلام خلقو ته د الله دين بيانی ورته وائي؟ دخدائ عبادت کوئ خلق ورته وائي دروغ وائي هغه ورته وائي تاسو په خدائ باندې دروغ وائي اوبياالله پاک وائي چه هودعليه السلام خپل قوم ته وی چه اې قومه دا دين درته بيانوم څه درنه غوارم نه گورئ او د الله پاک طريقه هم دا ده چه کله هغه د دين د پاره څوک پيدا کوي نوهغه يو الله ته محتاج وی بل چانه ئي لاس نه دې خواره کړي هغه علاقه چه کله داسې يو سړی پيدا کړي چه هغه خلق دين ته رابلل نو چېرې چا ته لاس ندی خواره کړي چه ماله څه راکه چېرې په دين باندې تنخواه دچا نه نده اغستې او د الله دين ئي صاف صاف بيان کړي او دا د الله طريقه ده نبي صلی الله عليه وسلم فرمائي.

قال صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يحمل هذا العلم من كل خلف عدوله ينفون عنه تحريف الغالين وانتحال المبطلين وتأويل الجاهلين: (۱)

د الله پاک څه خاص بنديان وی کله چه بدعات شروع شی الله هم خاص بنديان پيداکوي غالی خلقوچه په دين کې کوم تحريفونه کړي هغه ختموي

۱- تفسير قرطبي : جلد ۱ صفحه ۳٦

او باطل پرستوخلقو چه بې دينې ته دين وئيلي هغه ختموي ناپوهه خلقو لره
چه د دين کوم غلط تعبيرکړي هغه ختموي.

## دعا

الله دې کې چه مونګه هم په هغه خلقو کې شو خو د الله په هر زمانه
کې داسې خلق پيدا کوي.
الله دې زمونږ دا ملک په قران او سنت باندې روښانه کې دا علماء د
الله دې د دې زړونو صفائي اوکې او بادشاهي دې الله دوې له ورکې خو
چه د قران او سنت موافق وي.
د امريکې نظام دې الله ختم کې او الله دې په امريکه او د هغې په
حوارينو باندې لعنت راوليکې.
الله دې امريکه او د هغې حوارين تباه کې کوم خلق چه د امريکې
نظام راولي اويا ئې راوستل غواړي نو الله دې ورته اول هدايت اوکې څکه
زمونږ رونړه دې او که د الله په علم کې د هغوئ هدايت نه وي نو الله
دې تباه و برباد کې الله دې کورونه وران کې.
چه يو سړې په مونګ باندې د اسلام په ځائې جمهوريت د امريکې نظام
او د هغې ايين په مونګ باندې راولي.
کوم کسان چه دهوکه شوې دې او فراډ ورسره شوې دې د علماء سره او
داسې پراډ چه په اوچه ډاګه باندې اسمبلئ ته ئې بوزي او قسم پرې اوکې
وائې چه زه به د پاکستان د قانون وفادار يم د پاکستان قانون څه دې ؟ د
پاکستان قانون دا دې چه عدالت کې به فيصلې د امريکې او برطانيه د
هغه په رڼړا کې به کيږي . دا کفر ندې ؟

نظام دا دی چه د پاکستان صدر او بادشاه به ده ٥ کالو د پاره ئي او دا د اسلام خلاف ځیزونه دی دا خلق دهوکه شوی دی او هغوئ لګ دهوکه شوی او تاسو ئي ډیره دهوکه، کړي ئي الله دی زمونږ زړونه پاک کي او الله دی مونږ د دې دهوکي نه بچ کې .

واخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین

# موضوع : مالك صرف يو الله دي

الحمد لله الحمد لله نحمد ونستعينه ونستغفره ونستهدی ونؤمن به ونتوكل عليه

ونعوذ باالله من شرور انفسنا ومن سيآت اعمالنا من يهد الله فلا مضلله ومن يضلل فلا هادي له

واشهد ان لا اله الا الله وحد لا شريك له واشهد ان سيدنا وسندنا ومولانا محمدا عبد ورسوله

صلى الله تعالي عليه وعلي اله واصحابه الذين هم خلاصة العرب العرباء وخير الخلائق بعد الانبياء

أما بعد

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

يَا أَيُّهَا النَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٌ فَاسْتَمِعُوا لَهُ إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ لَنْ يَخْلُقُوا ذُبَابًا وَلَوِ اجْتَمَعُوا لَهُ وَإِنْ يَسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ شَيْئًا لَا يَسْتَنْقِذُوهُ مِنْهُ ضَعُفَ الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوبُ * مَا قَدَرُوا اللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ * اللَّهُ يَصْطَفِي مِنَ الْمَلَائِكَةِ رُسُلًا وَمِنَ النَّاسِ إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ * يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ : [1]

---

[1] - سورة حج - ٧٣ - ٧٤ - ٧٥ - ٧٦

## تمهيد

عزتمندو د جماعت اشاعت التوحيد والسنة علماء كرامو اوطلباءعظامو او نوروعامو مسلمانانو رونړو زمانه مخکې زما دوو رونړو بيان اوکړو حضرت مولنا عبدالشکورصاحب او حضرت مولناعبدالجبارصاحب او زه په ډير يقين سره دا وايم چه زمونږ دجماعت دا بهترين علماء دي او د هغوئ بيان جامع بيان وو زمونږ او زمونږد نوروملګرو تقريرونوکې صرف تاسوته سرې نوې ښکاري نومضامين او مسائل به ټول يو وي.

## دنيا اول ټوله په توحيد اباده وه

پدې دنياکې يوه زمانه داسې وه چه ټوله دنيا په توحيدباندې اباده وه او خلق چه به پيداکيدل نوچارچاپيره معاشره ه د توحيديانو وه نو خلق توحيد طرف ته زيات مائل وو خو شيطان هم خپل کارکوو او د شيطان د وسوسې د وجې نه هغه د عقيدې اجتماعيت د تفرق ښکار شو.

قران عظيم الشان کې په سورة يونس کې الله رب العزت فرمائي.

وَمَا كَانَ النَّاسُ إِلَّا أُمَّةً وَاحِدَةً فَاخْتَلَفُوا : (۱)

دا ټول خلق په يو دين باندې وو نو اختلاف شروع شو.

او په سورة بقره کې الله فرمائي

كَانَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً فَبَعَثَ اللَّهُ النَّبِيِّينَ مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ وَأَنْزَلَ مَعَهُمُ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ فِيمَا اخْتَلَفُوا فِيهِ وَمَا اخْتَلَفَ فِيهِ إِلَّا الَّذِينَ

---

۱- سورة يونس - ۱۹

أُوتُوهُ مِن بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَاتُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ فَهَدَى اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا لِمَا اخْتَلَفُوا فِيهِ مِنَ الْحَقِّ بِإِذْنِهِ وَاللَّهُ يَهْدِي مَن يَشَاءُ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ : (۱)

چه کله اختلاف شروع شو نو الله رب العزت د اختلاف د ختمولو د پاره انبياءعليهم السلام راوليږل او د انبياءعليهم السلام د دعوت دوه طريقې وې يو به ئې په تبشير په خوشحالۍ ورکولو سره به ئې خلق دين ته راړول او بل به ئې انذار باندې چه خلق به ئې يرول.

انبياء عليهم السلام الله راليږلي وو

لِيُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِي يَخْتَلِفُونَ فِيهِ وَلِيَعْلَمَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّهُمْ كَانُوا كَاذِبِينَ : (۲)

چه په دين کې کوم اختلافات شروع شوی ووچه د هغې اختلافو واضح بيان اوشي د دې د پاره الله رب العزت انبياءعليهم السلام راليږلي وو.

## د انسانيت اختلاف اول په توحيد کې وو

اوله مسئله چه په هغې کې د انسانيت اختلاف شروع شوی وو هغه د الله رب العزت د توحيد مسئله وه خلق په يو دين باندې وو او کله چه د هغوی بزرگان شيس عليه السلام او دهغه ځامن وفات شو نو شيطان د يو ښکلي سړي په جامه کې راغي او خلقو ته ئې اووی چه ماته پته ده چه ددې مشرانو په فراق باندې ډير غمجن ئې زه تاسو له د هغوئ شکلونه جوړومه نو په اول قرن کې شکلونه جوړ شو او دويم قرن کې دهغه شکلونو په تعظيم کې ډير افراط نه وو شوی او په دريم قرن کې دهغوئي

۱- سورة بقره - ۲۱۳

۲- سورة نحل - ۳۹

عبادت شروع او چه کله ئي عبادت شروع شو نو الله رب العزت حضرت نوح علیه السلام راولیږو او نوح علیه السلام او د هغه نه وروسته چه څومره انبیاء علیهم السلام راغلي دی نو د هغوئ د دعوت غټه نکته د الله او د الله د مخلوق تعلقات برابرول وو.

## د حضرت نوح علیه السلام خپل قوم ته دعوت

نوح علیه السلام ۹۵۰ کاله د الله رب العزت د عبادت دعوت خلقو ته ورکړو او د دعوت پیرایه هغه د اخوت پیرایه وه د دې وجه نه الله رب العزت چه کله د نوح علیه السلام یا د نورو انبیاءعلیهم السلام ذکر کوي نو الله فرمائي چه ما د هغوئ رور راولیږو.

د نوح علیه السلام اول دعوت وو.

لَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِ فَقَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ

اې زما قومه الله رب العزت په عبادت کې یکتا اوګڼرئ یو د الله رب العزت عبادت کول دی او یو الله رب العزت په عبادت کې یکتا ګڼړل دي نو انبیاءعلیهم السلام د دې د پاره نه وو راغلي چه د الله عبادت اوکړې بلکه د دې د پاره راغلي ووچه الله رب العزت په عبادت کې یو اوګنړي.

عبادت کې دری غټ غټ څیرونه وو یره وه طمع وه مینه وه چه دا درې واړه الله له اوکړئ او د دې دریو واړو اثبات الله له ذیته عبادت وائي او کله چه پدې دریو واړو صفتونو کې د یو صفت اثبات چا له اوشي نو هغې ته الوهیت وائي نو قربان شمه د انبیاء علیهم السلام نه هغوئ چه راغلي

نو هغوئ اثبات د عبادت کولو بلکه اخلاص د عبادت ئي الله لره کوو او نفی د یو یو صفت ئي د الوهیت کول.

## د انبياء عليهم السلام د دعوت نکتي

د نوح علیه السلام نه پس نور انبیاء علیهم السلام راغلل اوخلقوته ئي د الله د دین دعوت ورکړو خلق ئي د الله عبادت ته راوبلل او اخلاص د عبادت ته ئي راوبلل او د دې اصل سبب دا وو چه الله د بندیانو تخلیق د کوم سراو راز د پاره کړي وو هغه دا وو چه د بندیانو د الله سره تعلق برابر شي الله رب العزت فرمائي.

وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ * مَا أُرِيدُ مِنْهُم مِّن رِّزْقٍ وَمَا أُرِيدُ أَن يُطْعِمُونِ: (١)

ما پیریان او بندیان د هیځ د پاره نه دې پیدا کړې مګر لِيَعْبُدُونِ معنی لیوحدون فی العبادة چه ما په عبادت کې یکتا اوګنړې زه د هغوئ نه دا نه غواړم چه تاسو ځانله رزق اوګټې رزق او د دې اسباب دا زما په لاس کې دی او دا ورته هم نه وایم چه ماله ډوډۍ راکړئ ډوډوۍ خو به زه درکومه او رزق به زه درکومه خو ستا کار به د الله رب العزت عبادت کول وي اود دې عبادت د پاره الله رب العزت ټول مخلوق پیدا کړی وو دا یو عظیم مقصد وو چه الله رب العزت انبیاء علیهم السلام د دې د پاره پیدا کړي وو او رالیږلی ئي وو او د دې نه روستو نور مقاصد هم وو او د هغه ټولو مقاصدو مجموعه دا وه چه دمخلوق پخپل منځ کې هم تعلقات برابر

---

١- سورة ذاريات - ٥٦ - ٥٧

شي او دا دوه يعني يوه ډيره اهمه او دويم ورپسې اهمه دا دوه د انبياء عليهم السلام د دعوت نکتې وي.

۱- اخلاص د عبادت الله لره. ۲- مخلوق سره ښه سلوک کول.

د جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم د احاديثو په ذخيره کې موږ ته يو دوه قسم کتابونه ميلاويږي يو ته اذکار وائي لکه

(۱) عمل اليوم والليلة أبو عبد الرحمن أحمد بن شعيب بن علي الخراساني النسائي (المتوفى : ۳۰۳هـ).

(۲) عمل اليوم والليلة أحمد بن محمد بن إسحاق بن إبراهيم بن أسباط بن عبد الله بن إبراهيم بن بُدَيْح الدِّيْنَوَرِيُّ المعروف بـ " ابن السُّنِّيِّ

(۳) الأذکار النووية يحي بن شرف النووي

(٤) الکلم الطيب شيخ الاسلام ابن تيمية رحمه الله

دارنګه پدې نهج باندې ګڼ کتابونه ليکلي دي د دې اذکارو اصل مقصد هغه د بنديانو د الله سره خالص تعلق جوړول دي.

دويم مقصد چه موږ ته په اداب باندې کتابونه ميلاويږي لکه امام بخاري رحمه الله الادب المفرد ليکلي دى.

امام نووي رحمه الله پدې نهج باندې رياض الصالحين ليکلي دى اګرچه هغه په ادب کې خاص نه دى نورهم دغسې محدثينو په ادابو باندې کتابونه ليکلي دى او دا د انبياءعليهم السلام د دعوت دويم جز دى چه ستا به د خپلو سره څه تعلق وي او د پردو سره به دې څه تعلق وى په کورکې به دې څه تعلق وي اوستا معاشره به په څه باندې صحيح کيږي دا يو دوه ضروري خبرې دى خو پدې ټولو کې اول د الله رب العزت توحيد دي.

## توحيد څه ته وائي ؟

خلق د توحيد معنی کوي توحيدوئيلي کيږي افراد الخالق ذاتاوصفتا ښېل خالق د ذات او د صفت په اعتبارسره يکتا ګڼړل ديته توحيد وائي د الله رب العزت د ذات پشان دچا ذات نشته الله رب العزت فرمائي لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٌ د الله د ذات پشان د چا ذات نشته دارنګه د الله د صفاتو پشان د چاصفات نشته د الله ذات هغه غني بذاته دی غني د مخلوق نه بې پرواهي او د ما سوي الله نه بې پرواهي دا د الله رب العزت د ذات تقاضا ده او د دې برخلاف د بنديانو صفت فقر لذاته دي يعني فقر دا د بنديانو ذاتي صفت دي.

## د شيخ الاسلام ابن قيم رحمه الله وينا

شيخ الاسلام ابن قيم رحمه الله په علم تصوف کې يو کتاب دی زمونږ دا ياران نور تصوف نه مني ځو د شيخ الاسلام ابن تيمية رحمه الله او دابن قيم رحمه الله تصوف مني د هغه د کتاب نوم دی طريق الهجرتين وباب السعادتين او د هجرتين نه مراد الهجرة الی الله والرسول او دغه د تصوف موضوع ده اوسعادتين دوه دي يوسعادت دنيوي دی او بل سعادت اخروي دی او دا دواړه د الله رب العزت سره په تعلق باندې راځي نوشيخ الاسلام ليکلي دی چه فقر د انسان ذاتي صفت دی لکه څنګه چه غِنَی د الله ذاتي صفت دی او تاسو ټول علماء طالبان يئ کوم شئ چه ما بالذات وی نو ه هغې د پاره علت ته ضروت نه وي لکه انسان ناطق دی نو د دې د پاره علت ته ضرورت نشته ځکه دا د هغه د ذات تقاضا ده.

دارنګي د الله رب العزت نه د ذات نه علاوه انبياء عليهم السلام دې او که فرښتې دي اوکه غير دي دا ټول محتاج دی د دوی محتاج والی دليل ته حاجت نشته ځکه دا د دوی د ذات تقاضا ده او الله رب العزت غني دی او هغه هيچا ته محتاج نه دی د دې دليل ته ضرورت نشته دا د الله رب العزت د ذات تقاضا ده.

بعض خلق وائي انسان حادث دی او ممکن دی دا ئي د فقر علل دي خو دا اصل کې علل نه دي دا دلائل دي په دليل او په علت کې فرق دی کوم شی چه د چا ذاتي صفت وی نو د هغې د پاره عللو ته ضرورت نه وي.

د حافظ ابن قيم په علم تصوف کې يو بل کتاب دي او دا تصوف نوم ځکه اخلمه چه زمونږ دا ياران د تصوف نه ډير متنفره دي او حالانکې چه کله دې تصوف له د زهد نوم کيدي نو بيا دوی قائل دی تصوف څه خانله شي نه دی خو تعبيرونه دی .

عباراتنا شتى وحسنك واحد وكل إلى ذاك الجمال يشير

صرف عبارات مختلف دی کني دغه زهد د چا په باره کې چه امام احمد بن حنبل رحمه الله کتاب الزهد ليکلی دی او ابن ابو داود کتاب الزهد ليکلی دی دارنګه وهب ابن منبه د زهدکتاب ليکلی دی نو دغه زهد او تصوف دواړه يو شی دی خو دوی د فلوسو(پيسو) دګټلو دپاره چونکې د هغه وطن خلق هغوئ د تصوف د نوم مخالف دي.

## سلفيان اصل کې (فلسيان) دي او د قلب قانون

سعودي کې زمونږ سره څه فلسيان(سلفيان)ملګرې وو نو يوه ورځ بحث منځ کې لګيا وو وي که طريق الهجرتين او مدارج السالکين د ابن قيم

کتابونه نه وی نو دا د سیزلو لائق وو لکه که بل څوك دا خبري اوکي نو هغه د سیزلو لائق دي او که شیخ الاسلام ابن قیم رحمه الله یا شیخ ابن تیمیة رحمه الله ئي اوکړي یا عبدالله بن باز رحمه الله ئي اوکړي نو خیر دی او هغه خلق چه دلته راغلي دی نو ځانله ئي ایف ایمونه اغستي دي او بیانونه کوي خو دا تپوس ترینه اوکړه ته چه دڅا مدحه وائي هغوئ ته په څه راشړلي ئي ستا د راشړلو وجه څه وه؟ ستا د شړلو وجه دا وه فلسیت وه سلفیت چه اړولي کي نو فلسیت ورته وائي او دا زمونږ په عربي کي یوه مستقل قاعده ده هغي ته قلب وائي.

لکه إِنَّكَ مَنْ تُدْخِلِ النَّارَ فَقَدْ أَخْزَيْتَهُ علماء وائي چه تدخل دا مقلوب د تخلد دی څکه چه په نفس دخول سره سړی شرمیږي نه کله کله خو په نفسي دخول سره سړی پاکیږي لکه یوسړی ګنهکار دی جهنم ته لاړشي او هلته پاك شي او بیا جنت ته راشي نو نفس دخول داسبب د ذلت نه دی اوالله وائي إِنَّكَ مَنْ تُدْخِلِ النَّارَ فَقَدْ أَخْزَيْتَهُ نو تفسیر قرطبي او اکثر صراف وائي.

والمراد من قوله مَنْ تُدْخِلِ النَّارَ من تخلد في النار قاله أنس بن مالك وقال قتادة تدخل مقلوب تخلد ولا نقول كما قال أهل حروراء وقال سعيد بن المسيب الآية خاصة في قوم لا يخرجون من النار ولهذا قال وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنْصَارٍ أي الكفار وقال أهل المعاني الخزي يحتمل أن يكون بمعنى الحياء يقال خزي يخزى خزاية إذا استحيا

چه دا په اصل کې دي مَنْ تُدْخِلِ النَّارَ من تخلد في النار څوک چه دی اور ته همیشه اولیږلو نو هغه دی ذلیله کړو نو سلف او فلس هم دغسې شی دی .

نو د دي فلسی نه تپوس اوکړه چه د حج او د عمرې په پیسو باندي چه تاسو پټي کړي وي هغه ستاسو د راویستلو سبب نه دي.

د حج او د عمرو د پیسو په غلا باندې راوتئ ئي زه هم راویستلی شوی یم خو الحمدلله خما مقابلین تول مني چه په سعودي عربستان کې هر چا چه کار کړیدي نو دا نوی نوم نوم ئي استعمال کړیدي سیوا د عارف نه چه دلته هم حنفي وو او هلته هم حنفي وو ما هلته یو شعر جوړ کړي وو ما به خلقو ته وی :

انا حنفي ما حييت وان امت فوصيتي للناس ان يتحنفوا

زه حنفي یم ترڅو چه ژوندې یم نو حنفي به یمه او کچرته مړ شومه نو زما خلقو ته دا وصیت دی چه خلق دی حنفیان شي د دې خلقو نه تپوس اوکړه چه تاسو د توحید کوم خدمت کړیدي.

## د شیخ الاسلام ابن تیمیة رحمه الله خط

شیخ الاسلام په مدارج السالکین کې لیکي چه زماشیخ شیخ الاسلام ابن تیمیة رحمه الله چه کله د قلعه په جیل کې بند وو نو هغه د جیل نه ما ته ئي یو خط لیکلي وو او په هغه خط باندي ئي ما ته څه اشعار لیکلي نو په هغه اشعارو کې یو څو اشعار دا دي.

أنا الفقير إلى رب البريات أنا المسيكين في مجموع حالاتي

زه محتاج یم د مخلوقاتو رب ته او زه په ټولو حالاتوکې مسکین کوونکی ئمه.

أنا الظلوم لنفسي وهي ظالمتي والخير إن يأتنا من عنده يأتي

زه خو د خپل نفس مظلوم یم دا نفس په ما باندي ظلم کوي ما لره چې خیر رازي نو د کوم ځائي نه رازي؟ د خیر د خزانو نه رازي.

والفقر لي وصف ذات لازم أبدا كما الغنى أبدا وصف له ذاتي

فقر دا زما ذاتي وصف دي مناطقه وائي.ما بالذات لايعلل. کوم شئ چه بالذات وي نو هغې علت ته حاجت نه وي دلائل پرې وي حدوث او امکان دا ئي دلائل وي.

خو دا فقر ده انسان ذاتي صفت وي انسان حیوان ناطق دي دا خو دلیل ته محتاج نه دي دا علت نه دې محتاج ما بالذات لایعلل کوم شئ چې د انسان ذاتي صفت وي هغې کې علت ته ضرورت نه وي.هغې دلیل ته ضروت نه وي.

والفقر لي وصف ذات لازم أبدا كما الغنى أبدا وصف له ذاتي

فقر زماذاتي وصف دي چې پیدا کیدم نو فقیر اووم دنیا کې مې ژوند تیروو نو فقیر اوومه چې مړ شوم نو فقیرئمه لکه څنګه چې استغني ده الله ذاتي وصف دي الله لره غني چا ورکړې نه ده دا د الله ذاتي وصف دي دلیل ته نه دي محتاج علت ته نه دي محتاج.

# فقر څه ته وائي؟

الله رب العزت فرمائي.

يَا أَيُّهَا النَّاسُ أَنتُمُ الْفُقَرَاءُ إِلَى اللَّهِ وَاللَّهُ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ: (۱)

اې خلقوتاسوټول الله ته محتاج يئ اوالله داسې ذات دې چه هيچاته محتاجه نه دې او که ته ئې صفت کوې او که نه کوې د هغه صفت کړې شويدي.

فقر څه ته وائي زاهدين وائي.

قال يحيى بن معاذ الفقر أن لا تستغني بشيء غير الله ورسمه عدم الأسباب كلها

فقر دېته وائي چه د الله رب العزت نه علاوه په بل چا باندې دې ځل نه راځي.

وَاللَّهُ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ او په دې کې مبتداءاوخبر دواړه معرفې دې اوأَنتُمُ الْفُقَرَاءُ کې هم دواړه معرفې دې نو الله وائي چه زه بالکل محض بې پرواه مستغي يمه او تاسو ټول محض محتاجه ئې په هرحال کې محتاج که ته د دين کارکوې نو هم محتاج که د دنيا کار کوې نو هم محتاج ئې.

## د بني اسرائيلو د زاهد واقعه

حاکم به مستدرک کې يو روايت ذکر کوي.

عن جابر بن عبد الله رضي الله عنهما قال خرج علينا النبي صلى الله عليه وسلم فقال خرج من عندي خليلي جبريل آنفا فقال يا محمد والذي بعثك بالحق إن لله عبدا من عبيده عبد الله تعالى خمس مائة سنة على رأس جبل في

---

۱- سورة فاطر - ۱۵

البحر عرضه وطوله ثلاثون ذراعاً في ثلاثين ذراعا والبحر محيط به أربعة آلاف فرسخ من كل ناحية وأخرج الله تعالى له عيناً عذبة بعرض الأصبع تبض بماء عذب فتستنقع في أسفل الجبل وشجرة رمان تخرج له كل ليلة رمانة فتغذيه يومه فإذا أمسى نزل فأصاب من الوضوء وأخذ تلك الرمانة فأكلها ثم قام لصلاته فسأل ربه عز وجل عند وقت الأجل أن يقبضه ساجدا وأن لا يجعل للأرض ولا لشيء يفسده عليه سبيلا حتى بعثه وهو ساجد قال ففعل فنحن نمر عليه إذا هبطنا وإذا عرجنا فنجد له في العلم أنه يبعث يوم القيامة فيوقف بين يدي الله عز وجل فيقول له الرب أدخلوا عبدي الجنة برحمتي فيقول رب بل بعملي فيقول الرب أدخلوا عبدي الجنة برحمتي فيقول يا رب بل بعملي فيقول الرب أدخلوا عبدي الجنة برحمتي فيقول رب بل بعملي فيقول الله عز وجل للملائكة قايسوا عبدي بنعمتي عليه وبعمله فتوجد نعمة البصر قد أحاطت بعبادة خمس مائة سنة وبقيت نعمة الجسد فضلا عليه فيقول أدخلوا عبدي النار قال فيجر إلى النار فينادي رب برحمتك أدخلني الجنة فيقول ردوه فيوقف بين يديه فيقول يا عبدي من خلقك ولم تك شيئاً ؟فيقول أنت يا رب فيقول كان ذلك من قبلك أو برحمتي ؟ فيقول بل برحمتك فيقول من قواك لعبادة خمس مائة عام ؟فيقول أنت يارب فيقول من أنزلك في جبل وسط اللجة وأخرج لك الماء العذب من الماء المالح وأخرج لك كل ليلة رمانة وإنما تخرج مرة في السنة وسألتني أن أقبضك ساجدا ففعلت ذلك بك ؟ فيقول أنت يا رب فقال الله عز وجل فذلك برحمتي وبرحمتي أدخلك الجنة أدخلوا عبدي الجنة فنعم العبد كنت يا عبدي فيدخله الله الجنة قال جبريل عليه السلام إنما الأشياء برحمة الله تعالى يا محمد : هذا حديث

صحيح الإسناده فإن سليمان بن هرم العابد من زهاد أهل الشام والليث بن سعد لا يروي عن المجهولين: (۱)

په تیر شوی امتونو کې يو سړی وو اوهغه په يو غارکې ناست ووا و عبادت ئې کولو اوهغه غار په يو غر کې وو اوهغه غر په يو درياب کې وو او د هغه غار مخې ته يو انار وو هغې به روزانه يوغټ انارکولو اوڅخيدو به دا سړې به مازيگر کې بهر ته اووتلو د خوړو اوبو يوه چينه وه په هغې کې به ئې اوبه اوڅکلې او اودس به ئې اوکړو او هغه انار به ئې وخوړو او د الله عبادت به ئې کولو

نو ناجوړه شو او چه کله ئې يقين راغئ چه زه مرم نو چه کله مړکيدو نو دعا ئې اوکړه وې يا الله ما د سجدې په حالت کې مړ کړې نو د سجدې په حالت کې مړ شو.

چه کله دالله رب العزت مخې ته لاړو نو الله رب العزت ملائکو ته اووی ای زما ملائکو زما درحمت تقاضا دا ده چه دا سړی جنت ته بوځئ نو هغه سړي وائی فيقول رب بل بعملي نه نه يا الله رحمت ستا په خپل ځائي دی خوما ټول عمر عمل کړي دي ما زما په عمل جنت ته بوځی.

بل بعملي يعنی نه نه ما په خپل عمل باندې بوځي نو دَ بل معنی د نه نه او زمونږ علماء وائي چه دا بل دَ اضراب د پاره راځې معنی دا چه دا مخکې خبره درسته نه ده دا روستو خبره درسته ده.

---

۱- المستدرک للحاکم جلد ٤ صفحه ۲۵۰

الله رب العزت بیا وائی ای زما ملائکوزما درحمت تقاضا دا ده چه زما دابنده جنت ته بوځی هغه سړی وائی نه نه مازما په عمل باندی جنت ته بوزی۔

دریم ځل الله رب العزت وائی ای زما ملائکو زما ددی بنده عمل او زما رحمت وتلی۔ نو چه کله وتللی شو نو دهغه عمل دنیمی سترګی په مسافه هم نه وو۔

نو الله رب العزت اعلان اوکړو ای ملائکو دا سړی جهنم ته بوځی دا زما د انصاف تقاضا ده ملائک ولاړ وو روان ئی کړو نو دی سړی رامخ کړو او الله رب العزت ته ئی وي ای الله رب العزته په خپل رحمت می جنت ته بوځی نو الله رب العزت ملائکو ته اووی چه راولئ ئي چه راوستو ئي نو الله رب العزت تري نه تپوس کوی۔

ای بنده ته نش وی ما شته کړي؟نو هغه اووی ای الله تا زه شته کړی ثم بیا الله رب العزت ورته اوفرمائیل ستا د عمل په کي څه اثر وو؟ نو هغه ورته اووی چه نه بیا ورته الله رب العزت اوفرمائیل ته کمزوری نه وی تا سر نه شو اوچتولي خپي دی نه شوی خو زه ولي پیژندګلو دی نه شوه کولي تاله ما قوت نه وو درکړي؟ نو هغه وی ای الله ولي دی نه وو راکړی بیا ورته الله وائي ستا دعمل په کي څه اثر وو؟ نو هغه وی نه بیا ورته الله رب العزت اووی چه ټول خلق روان وو څوک په یوی ګمراهی پسی او څوک په بلي ګمراهی پسي اوته ما د ګمراهونه راواړه ولی او خپل عبادت ته مي کینولي ستا د عمل په دي کي څه اثروو؟ نو هغه وی نه نو الله رب العزت ورته وی عمل دی دی کوم ؟

یو عمل خو زمونږ هسي هم کمزوری دی خو الله رب العزت دی زمونږ سره په حساب نه شی.

## غیر مقلدین او د تقلید تردید

کوم خلق چه الله پاک د پوهې نه خالی کړیدي او ما تاسو ته عرض اوکړو چه اول دا تول دنیا یوه وه دا اختلاف روسته راغلی دی خو دا اختلاف چه چا راوستی دی نو هغوئ د تقلید د رد په په دلیل کې د قران یو آیت پیش کوی او وائي.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَا أَنزَلَ اللَّهُ قَالُوا بَلْ نَتَّبِعُ مَا أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ شَيْئًا وَلَا يَهْتَدُونَ: (۱)

د دې آیت معنی دا ده چه کله دی خلقوته اووئیلی شي چه الله رب العزت چه کوم کتاب اوکړوم دین رالیګلی دی په هغې پسې روان شئ نو دوی وائي نه نه دا طریقه غلطه ده مونږ د پلار نیکه په طریقه پسې ځو دا تول علماء طلباء او عوام ناست دي الله ګواه دی چه یو سړي ډوډی قدرې خوړی شي نو هغه پدې باندې پوهه دی چه داسې خبره څوک اوکړي نو هغه کافر دي.

که یو سړی پلار او نیکه پداسې طریقې سره پیش کړي چه دا ته چه کومه خبره کوې د دې خبرې خو ځما پلار او نیکه حفاظت کړیدي.

سیدنا یوسف علیه السلام په جیل کې دي او کسان ورله راځي او ورته وائي چه ته یونیک سړی ئي او مونږ خوب لیدلی دی مونږ ته د هغه خوب

---

۱- سورة بقره ۱۷۰

تعبير اوباسه هغه ورته وائي چه هغه خوب راته اووائي کله چه هغوئ هغه خپل خوب اووې يوسف عليه السلام هغوئ ته د هغوی دهغه خوب تعبير اوباسي خوداهغه ته يوه موقع ميلاو شويده اود تعبير په سورې کې هغه دالله دين ته هم رابلي کله چه يوسف عليه السلام جيل ته لاړو نو الله فرمائي.

قَالَ لَا يَأْتِيكُمَا طَعَامٌ تُرْزَقَانِهِ إِلَّا نَبَّأْتُكُمَا بِتَأْوِيلِهِ قَبْلَ أَنْ يَأْتِيَكُمَا ذَٰلِكُمَا مِمَّا عَلَّمَنِي رَبِّي إِنِّي تَرَكْتُ مِلَّةَ قَوْمٍ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَهُمْ بِالْآخِرَةِ هُمْ كَافِرُونَ : (۱)

تاسو ته چه کومه روټئ درکولی کيږي.هغه به لانه وي راغلي د هغې دراتلو نه مخکې به ستاسو د دې خوب تعبيراو مقصد عاقبت دا به څه تاسو ته وښايم دا تاسو ته وايم ملګرو دا هغه علم دی چه زمارب ماله راکړيدي.

اوس ئې ورته خبره شروع کړه إِنِّي تَرَكْتُ مِلَّةَ قَوْمٍ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ ما د هغه خلقو دين پرېخودی دي د کومو خلقو چه په الله باندې ايمان نشته او هغوئي داخرت نه منکر دي.چه کوم خلق ده الله نه مخالف وي نو د هغوئ نه ئې براءت اوکړو.خو مشران مې څوک دي ؟

وَاتَّبَعْتُ مِلَّةَ آبَائِي إِبْرَاهِيمَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ مَا كَانَ لَنَا أَنْ نُشْرِكَ بِاللَّهِ مِنْ شَيْءٍ ذَٰلِكَ مِنْ فَضْلِ اللَّهِ عَلَيْنَا وَعَلَى النَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ : (۲)

او زه روان شومه د پلارنيکه د دين پسې څما مشران ابراهيم اواسماعيل او اسحاق عليهم السلام دی او بيا ورته دا خائي چه څما مشران دا هغه بل واله

---

۱- سورة يوسف - ۳۷

۲- سورة يوسف - ۳۸

مشرانو نه دی بلکې هغوئ ځما د مشرانو او د نیکونو او زما دا طریقه نه ده، چه الله له شریکان جوړ کړو.

دا قسم تقلیدکول دا عین دین دي او الله رب العزت مونږ ته د دې سبق راکوي.

## د انسان د کامیابۍ اسباب

سورة فاتحه کې الله رب العزت د انسان دکامیابۍ د پاره درې څیزونه ښائي. اول مقصد او بل د مقصد ذریعه دریم د دغه ذریعې د استعمال هغه لاره نو اول ښائي إِيَّاكَ نَعْبُدُ د الله بندګي به کوی خو دا بندګي ته پخپله نشي کولی وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ د الله نه به پکې مدد غواړي او چه کله ته د الله نه پکې مدد اوغواړي نو بیاهم اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ په نیغه لاره باندې به څي.

صراط لارې ته وئیلی کیږي خو د صراط خپله معنی لاره نه د دا د صرط یصرط نه مشتق دی صراط هغه شی ته وائي چه بل شی له ورشي لکه ګوتۍ چه ګوتی له ورشي اوبیا د صراط اطلاق په هغه لاره باندې کیږي چه په هغې کې بالکل کوږوالی نه وي نو د ةدې وجې نه عرب کړې لارې ته طریق وائي خو صراط ورته نه وائي او د عربو یو مشهور شاعر جریر د هغه یو شعر دي.

أمير المؤمنين على صراط إذا اعوج الموارد مستقيم

امیر المؤمنین په صراط مستقیم باندې دي چه کله لارې ککې وکې شی نو دې مستقیم وي نو مورد او طریق هغه لارې ته وائي چه یو ځائي ته رسیدلی

وي برابره خبره د چه نيعه وی اوکه ککه وي او صراط هغه لارې ته وائي چه هغه نيغه وي او دا لاره پخپل ماشي باندې داسې مشتمله وی چه دي بالکل هغه حد ته ورسوي.

بيا الله وائي صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ الله مونږ ته دهغه خلقو لاره وښائي چه تاپرې انعام کړيدي ولې د الله سره دالفظ نه ووچه الله وئيلي وي اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ صِرَاطَ الْقُرْآنِ وَالْحَدِيثِ بلکې الله فرمائي

اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ د مدرسې يو ادنی طالب العلم ته هم دا معلومه ده چه الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ موصول او صِله دی او موصول صِله چه تا ته کوم شی ښائي نو هغه نفس مفهوم نه وی بلکې اشخاص وي نو اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ الله ما ته نيغه لاره اوښائي خو کومه نيغه لاره هغه نيغه لاره په کوم باندې چه نيغه خلق تلی وی.

نو اهلحدث او موحدين نوم چه دوی ځانته وائي د دې د دوی سره هيڅ تعلق نه وو او نه دوی په حديثو باندې پوهيږي.

## د غير مقلدينو نه يو څو سوالات

ما پدې باغ کې يو بيان کړي او په هغه بيان کې ما دې خلقو ته وی چه په بخاري کې يو مشهور حديث دی او هر سړی ته معلوم دی هرعالم ته نه بلکې هريوسړی ته معلوم دی هغي ته حديث د افک وائي اوپه هغه حديث کې دی چه په حضرت عائشة رضی الله عنها باندې تهمت نکيدلی وو د هغي په سند کې امام بخاري رحمه الله وائي.

حدثني مسروق بن الأجدع قال حدثتني أم رومان وهي أم عائشة رضي الله عنها قالت بينا أنا قاعدة أنا وعائشة إذ ولجت امرأة من الأنصار فقالت فعل الله بفلان وفعل فقالت أم رومان وما ذاك قالت ابني فيمن حدث الحديث قالت وما ذاك قالت كذا وكذا قالت عائشة سمع رسول الله صلى الله عليه وسلم قالت نعم قالت وأبو بكر قالت نعم فخرت مغشيا عليها فما أفاقت إلا وعليها حمى بنافض فطرحت عليها ثيابها فغطيتها فجاء النبي صلى الله عليه وسلم فقال ما شأن هذه قلت يارسول الله أخذتها الحمى بنافض قال فلعل في حديث تحدث به قالت نعم فقعدت عائشة فقالت والله لئن حلفت لا تصدقوني ولئن قلت لاتعذروني مثلي ومثلكم كيعقوب وبنيه والله المستعان على ما تصفون قالت وانصرف ولم يقل شيئا فأنزل الله عذرها قالت بحمد الله لا بحمد أحد ولا بحمدك: (۱)

چه مسروق وائي ما ته ام رومان رضي الله عنها حديث بيان كړيدي دا علماء ناقصت دی نن زه په ذمه وارئ سره خبره كومه دخپل طرفنه هم او دخپل جماعته د طرفنه هم چه د مسروق په باره كې د خلقو اتفاق دي چه دي تابعي دي او ام رومان رضي الله عنها په باره كې هم دخلقو اتفاق دي چه دا نبي صلى الله عليه وسلم پخپلو لاسونو سره په جنت البقيع كې دفن كړيده يعني قبرته ئې نبي صلى الله عليه وسلم پخپله كوز شوی وونو چه كله د مسروق روايت د ام رومان رضي الله عنها نه ثابت شو نو مسروق تابعي شو او كه صحابي نو ما وی چه دا اشكال حل كړئ.

بيا مې وی چه كله نبي صلى الله كيناستو او صحابه ئې راغوند كړه.

---

۱- صحيح البخاري علي تحقيق البغاء : جلد ٤ صفحه ۱۵۲۲ باب حديث الإفك

,أما علي فقال يا رسول الله لم يضيق الله عليك والنساء سواها كثير وسل الجارية تصدقك . قالت فدعا رسول الله صلى الله عليه و سلم بريرة فقال أي بريرة هل رأيت شيء يريبك قالت له بريرة والذي بعثك بالحق ما رأيت عليها أمرا قط أغمصه أكثر من أنها جارية حديثة السن تنام عن عجين أهلها فتأتي الداجن فتأكله: (۱)

نوعلي رضی الله عنه وی چه وسل الجارية د دغه جينۍ نه تپوس اوکړه يعني دبريره نه تپوس اوکړئ نو د بريرې اطاقت په ۸ هجرئ کې شويدي عن ابن عباس أن زوج بريرة عبد أسود يقال له مغيث كأني أنظر إليه يطوف خلفها يبكي ودموعه تسيل على لحيته فقال النبي صلى الله عليه و سلم لعباس يا عباس ألا تعجب من حب مغيث بريرة ومن بغض بريرة مغيثا فقال النبي صلى الله عليه و سلم لو راجعته قالت يا رسول الله تأمرني ؟ قال إنما أنا أشفع . قالت لا حاجة لي فيه: (۲)

دليل ئي دادي چه د هغې خاوند مغيث چه کله به د مدينې په کوڅو کې ګرځيدو او ژړل به ئي وهلی نونبي صلی الله عليه وسلم يوځل ابن عباس رضي الله عنهماته وی چه ألا تعجب من حب مغيث بريرة او ابن عباس رضي الله عنه په ۸ هجرئ کې هجرت کړيدي نبي صلی الله هغه ته وی انا خاتم النبيين وانت خاتم المهاجرين نو په ٥ هجري کې بريرة وه چرته. بيا دغه حديث کې راځي.

---

۱- صحيح البخاري علي تحقيق البغاء : جلد ٤ صفحه ۱٥۱۷ باب حديث الإفك

۲- صحيح البخاري علي تحقيق البغاء : جلد ٥ صفحه ۲۰۲۳ باب شفاعة النبي صلى الله عليه وسلم على زوج بريرة

فقام رسول الله صلى الله عليه وسلم من يومه فاستعذر من عبد الله ابن أبي وهو على المنبر فقال يا معشر المسلمين من يعذرني من رجل قد بلغني عنه أذاه في أهلي والله ما علمت على أهلي إلا خيرا ولقد ذكروا رجلا ما علمت عليه إلا خيرا وما يدخل على أهلي إلا معي قالت فقام سعد بن معاذ أخو بني عبد الأشهل فقال أنا يا رسول الله أعذرك فإن كان من الأوس ضربت عنقه وإن كان من إخواننا من الخزرج أمرتنا ففعلنا أمرك قالت فقام رجل من الخزرج وكانت أم حسان بنت عمه من فخذه وهو سعد بن عبادة وهو سيد الخزرج قالت وكان قبل ذلك رجلا صالحا ولكن احتملته الحمية: (۱)

چه نبي صلى الله عليه وسلم كله جماعت ته راغی نو نبي صلى الله عليه وسلم خلقو ته وي چه څوک نشته چه د دغه ظالم نه ما خلاص کړي نو حضرت سعد بن معاذ رضي الله عنه پاسيدو او اووی يا رسول الله که په اوس کې وي نوځه به ئې وو جنمه اوکه په خزرج کې وی نو ته ئې ما ته اوښايه نو ځه به ئې اووجنمه نو سعد بن عبادة رضي الله عنه پاسيدو ورته ئې وی چه ته ئې نشې وژلی اود بخاري الفاظ دی وكان قبل ذلك رجلا صالحا ولكن احتملته الحمية دا خبره غلطه د او د دې ده غلطۍ وجه دا ده چه د افک واقعه د ٥ هجري په اخر کې شويد اود ٥ هجري په اول کې خوسعدبن معاذ شهيد شويدی مادويته چيلنج ورکړيدي د اشاعت د علماء نه علاوه د هغه کراچۍ د اوبو نه راواخله او هغه د چترال پورې دوی دې کتابونه اوکوري او جوابونه دی اوکړي داسې يو خو احاديث مې نور هم پيش کړي وو نو دا خلق پدې حديثو باندې نه پوهيږي او په هغه زمانه کې د دوی نوم

(۱)- صحيح البخاري علي تحقيق البغاء : جلد ٤ صفحه ١٥١٧ باب حديث الإفك

هم نه رو دا یو مستحدث نوم دي خو دامستحدث نومونو واله دوي د فلوسو د پاره څه بعض اطلاقات أو بعض نومونه ځانته ایخودلی دی او دا فلوس ځانله حاصلوي.

## الله رب العزت په ذات او په صفاتو کي یو دي.

انبیاء علیهم السلام الله رب العزت د توحید پاره رالیکلی او توحید وئیلي کیږي اثبات الخالق ذاتا وصفتا چه په ذات او صفاتو کې الله یو اوګنړي د الله د ذات پشان د چا ذات نشته او د الله د صفاتو پشان د چا صفات نشته پشان مقصد دا چه کوم مصداق د الله دی صفاتو دی دغه مصداق د بل چا د صفاتو نشته ظاهر تشابه د بندیانو د اسماء او د صفاتو او د الله د صفاتو هم شته الله رب العزت پخپلو صفاتو کې بیانوي. إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ : (۱)الله تعالی وائی زه هم سمیع یم او هم بصیر یم.
إِنَّا خَلَقْنَا الْإِنسَانَ مِن نُّطْفَةٍ أَمْشَاجٍ نَّبْتَلِيهِ فَجَعَلْنَاهُ سَمِيعًا بَصِيرًا : (۲)
الله تعالی وائی ما انسان د مختلطي نطفی نه پیدا کړی او په مختلفو ادوارو کې می اړولی را اړولی دی بیا مې چې دنیا ته راوستو هم می سمیع راوستی او هم بصیر راوستی دي.

اوس د الله رب العزت سمیع او د انسان سمیع دا دواړه صفتونه دي یو د الله صفت دي اوبل د بندیانو صفت دي تعبیرئي بلکل یو شان دي لیکن حقیقت د دي جدا دي.

---

۱ - سورة بني اسرائيل -۱

۲ - سورة الإنسان -۲

الله رب العزت سميع دي خوداسي سميع دي چې غوږ ته نه دي محتاجه
په زوره وينا ته نه دي محتاجه.

انسان غوږ ته محتاج دي او په زوره وينا ته هم محتاجه دي دا اوريدل او
ليدل يو شان دی خو ليکن حقيقتونه جدا دی.

انسانان په اوريدکې غوږونو ته محتاج دی الله تعالی نه دی محتاج که يو
سړی د الله صفت مخلوق لره ورکړی او د مړو په باره کې ئې دا عقيده
وساتله چې دا زما خبره اوری که هغه لری دی خو چې اواز ورته اوکړم
هغه زما خبره اوری دي سړی دالله تعالی او د مخلوق د صفاتو فرق اونکړو
دی ته شرك وائی

دا رنګه الله هم بصير دي اوانسان هم بصيردي ليکن صرف لفظي تعبير
يو شان دي اوحقيقيت جدا جدا دي.

انسان ليدونکې دي خوسترګو ته اوچې کله نظر کم شي نو بيا چشمو
ته محتاج دي او الله رب العزت خپلو ليدو کې هيڅ شي ته نه دي محتاج
الله تعالی فرمائی:

سَوَاءٌ مِنكُمْ مَنْ أَسَرَّ الْقَوْلَ وَمَنْ جَهَرَ بِهِ وَمَنْ هُوَ مُسْتَخْفٍ بِاللَّيْلِ وَسَارِبٌ
بِالنهارِ : (۱)

الله رب العزت ته برابر دی که څوك ورو خبره کوی اوکه په تيزه خبره
کوی بابا سميع دی خو د الله تعالی په شان نه کله چې ژوندی وو سميع
چې مړ شو نو بغيرد غوږو اوريدل د الله تعالی صفت دی دا مخلوق له

---

۱ - سورة الرعد - ۱۰

ورکول شرك دی دارنکه الله عالم دي او انسان هم عالم دي الله انسان له څه پوهه ورکړي ده خو د الله تعالی علم مخلوق لره ثابتول دا هم شرك دی.

## د بدعتيانو (حياتيانو) نه تپوس

د دې نور نه تپوس اوکړي دا تاسو چه وائي چه مړی اوري نو څه اسباب ئې شته اوکه نه که تاسو وائي چه اساب ئې شته نو قران کي الله رب العزت فرمائي.

اَلَهُمْ أَرْجُلٌ يَمْشُونَ بِهَا أَمْ لَهُمْ أَيْدٍ يَبْطِشُونَ بِهَا أَمْ لَهُمْ أَعْيُنٌ يُبْصِرُونَ بِهَا أَمْ لَهُمْ آذَانٌ يَسْمَعُونَ بِهَا قُلِ ادْعُوا شُرَكَاءَكُمْ ثُمَّ كِيدُونِ فَلَا تُنْظِرُونِ: (۱)

ايا غوږونه ئې شته چه واري نو چه کله ئې اساب نشته نو بې اسبابو اوریدل دا صفت د الله دی وائي يره مړی په سرې پسې سر راکرخوي او اینې نو مونږ ورته وائي چه الله هم ليدل کوی او ته وائي چه مړی هم ليدل کوی نو اسبابو سره کوی اوکه بغير د اسبابو نه کوی که ته وائي چه په اسبابوسره کوي نو قران خو وائي چه اسباب ئې معطل دی ځکه د پاسه پرې يو لوئي ډهيری خاورې پرتې دي.

زمونږ کلي کې يو په قبر باندې ملا مسئله کوله وي خلقو دا مړي چې دي د ده نظر لګي او ليدل کولي شي هغه چې کله خبره ختمه کړه نو زه پاسيدم ما ورته وي ايماندارو تاسو يو دوه منټه کېنئ ماته هم يوه مسئله ياده ده.

۱- سورة اعراف - ۱۹۵

ما ورته وي زه اول تاسو ته يو قصه کوم او بيا درته يوه مسئله کوم چې قصي او مسئلي دواړه يو ځائ شي ما ورته وي يو مولانا وود هغه نوم نصير الدين هغه په کور کې يوه پيشو ساتلي وه يوه ورځ د هغه ميلمانه راتله نو کور ته ئي نيم کېلو غوښه راوړه او ښځي ئي ته ووئيل چې زما ميلمانه راروان دي او ماښام له به د دي غوښي نه تيکې پخې کړې ښځي چې ئي ماښام تيکې پخولي نو څکني د پاره ترينه ئې يو بوټي وخوړو نو خوړي پري ولګيدې نو ديخوا به ئي پخولي او ديخوا به ئي خوړلي اخيرکي يو سيخ پاتې شو نو هغه ئي هم وريسي اوخوړ ماښام چې مولاکورته راغي ښځي ته ئي ووئيل هغه تيکې؟ نو ښځي ورته ووئيل چې داپيشو دي په کورکې ساتلي اوهغه غوښه هغي اوخوړه مولاښځي ته غګ اونه کړو بهرلاړو دکاندار ته ئي اووئيل يوه تله راکړه اويونيم کېلو راکړه دکاندار ورله ورکړه مولا راغي او پيشو ته ئي اواز وکړو پيشو خو د هغه عادت پيشو وه د مولا خواله راغله مولا په تله کې کېنوله نو پيشو پوره نيم کېلو وختله نومولا ښځي ته ووئيل که دا پيشوئي نو زما غوښه څه شوه؟ اوکه دا غوښه وي نو زما پيشو څه شوه؟

نو ما ورته اووئيل زه د دي مولانا نه تپوس کوم چې ددي مړي په مخ باندې دا کفن پروت دي د څلور طرف نه که د دي کفن نه د ده نظر اوځي نو تاسو چې کومي جامي اغوستي دي د دي نه خو به بيا په طريقه اولی سره اوځي نو بيا ورته ماوي چې د دي مولانا په نزد باندي دا مړي او تاسو لعنتيان ئي څکه جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دي چې:

عن الحسن قال بلغني أن رسول الله صلى الله عليه و سلم قال لعن الله الناظر والمنظور إليه هذا مرسل والله سبحانه أعلم: (۱)

نو ما وي چه د دې مولامطلب دا دی چه تاسو هم لعنتی یئ او ستاسو دا مرې هم لعنتی دی نو خلقو مولاته بدې ردې وئیل شروع کړه ددې خلقو سره تول نه شته دا تول بې توله لګیا دي نو د الله صفات جدا دی او د بندیانو صفات جدا دی تک د تعبیر به ئې یو وی چه کوم معبرعنه دې هغه خو که جدا جدا دی.

## د علامه ابن قیم رحمه الله وینا

مخلوق او خالق ده ده صفتونه جداجدا دی څه صفتونه د خالق دی او څه صفتونه د مخلوق دی علامه ابن قیم رحمه الله وائی:

لله حق لايكون لغيره ولعبده حق هما حقان

دالله صفتونه دی دادبل چا نه شته او د بنده هم صفتونه دي او دا دواړه قسمه صفتونه دی

لا تجعل الحقين حقاً واحداً من غير تبين ولا فرقان

هسې نه چه دا دواړه صفتونه یونه کړې الله تعالی خالق دی او بندیان هم کله کله څه صنعی جوړوی خو الله تعالی په خپله صنع کې هیڅاته نه دی محتاج او بندیان چه کوم کارونه کوی د هغې تول ماده او میټریل دا د الله تعالی دطرف نه وی.ځما د ژوند بدایه شته او د الله د ژوند بدایه نشته او ځما د ژوند نهایه شته او د الله د ژوند نهایه نشته نو روره چه کله نبي او

۱ - السنن الكبرى للبيهقى جلد ۷ صفحه ۹۹ باب ما جاء في الرجل ينظر إلى عورة الرجل

ولی هم پداسې ژوند باندې ژوندی وي چه دنیا لا نه وه پیدا او نور د نبي صلی الله علیه وسلم پیداوو او هغه هلته ځلیدو اوګرځیدو او بیا مرګ پرې نه دی راغلی او هلته ژوندی دی نو بیا دا راته اووایه چه دهغه او د خدائی څه فرق شو لګ فرق پکار دی.

زمونږ د داسې خلقو سره واسطه راغلی ده نو څوک لګیا دی د الله په صفاتو کې ښکته پورته کوی اوڅوک لګیا دی د بندیانو په صفاتو کې ښکته پورته کوي.

## غوره والی په کثرت د روایاتو نه دي

دوي وائي چه د امام ابوحنیفه رحمه الله روایتونه کم دی علماءناست دی د د ابو هریرة رضی الله عنه روایتونه ډیر دی او که د ابوبکر رضي الله عنه د ابو هریرة رضی الله عنه روایتونه ډیر دی او غوره ابوبکر رضي الله عنه دی نو په کثرت د روایتونو باندې غوره والی نه راځي او بیا محمد محمد مرضي الزبیدی په دوه جلد کې کتاب لیکلی دی په هغې کې د امام صاحب په سند باندې د سننو په طریقه روایتونه ذکر کړیدي.

حافظ ذهبي په سیر اعلام النبلاء کې لیکلی دی.

فقه أهل الكوفة علي وابن مسعود وأفقه أصحابهما علقمة وأفقه أصحابه إبراهيم وأفقه أصحاب إبراهيم حماد وأفقه أصحاب حماد أبو حنيفة وأفقه أصحابه أبو يوسف: (۱)

---

۱- سیر اعلام النبلاء جلد ۹ صفحه ۲۷۳

په کوفه کي زيات فقيه کسان حضرت علي رضى الله عنه او ابن مسعودرضي الله عنه وو او د هغوئ په ملکرو او شاګردانوکې زيات افقه سړی علقمه وو او د علقمه په شاګردانو کې زيات پوهه او فقيه ابراهيم نخعي وو او د ابراهيم په شاګردانو کې زيات فقيه حماد وو وأفقه أصحاب حماد أبو حنيفة.

## مدح الامام أبو حنيفة نعمان بن ثابت رحمه الله تعالى

(۱) حدثنا عبيدالله بن عمرو قال كنت في مجلس الأعمش فجاءه رجل فسأله عن مسئلة فلم يجبه فيها ونظر فإذا أبو حنيفة فقال يا نعمان قل فيها قال القول فيها كذا قال من أين قال من حيث حدثتناه قال فقال الأعمش نحن الصيادلة وأنتم الأطباء: (۱)

(۲) سليمان بن حرب قال سمعت حماد بن زيد يقول والله انى لاحب أبا حنيفة لحبه لايوب وروى حماد بن زيد عن أبي حنيفة احاديث كثيرة: (۲)

قال فيه ابن المبارك رضي الله عنه

لقد زان البلاد ومن عليها
إمام المسلمين أبو حنيفه
بأحكام وآثار وفقه
كآيات الزبور على صحيفه
فما في المشرقين له نظير
ولا في المغربين ولا بكوفه

[1]- جامع بيان العلم لابن عبدالبر المالكي م ٤٦٣ هـ: (۲/ ۱۳۱)
[2]- الانتقاء لابن عبدالبر (۱۳۰)

يبيت مشمرا سهر الليالي

وصام نهاره لله خيفه

فمن كأبي حنيفة في علاه

إمام للخليفة والخليقه

رأيت العائبين له سفاها

خلاف الحق مع حجج ضعيفه

وكيف يحل أن يؤذى فقيه

له في الأرض آثار شريفه

وقد قال ابن إدريس مقالا

صحيح النقل في حكم لطيفه

بأن الناس في فقه عيال

على فقه الإمام أبي حنيفه

فلعنة ربنا أعداد رمل

على من رد قول أبي حنيفه

اي بالعناد كما قال مولانا عبد الحي: (١)

(٣) قال الذهبي في سير أعلام النبلاء فأفقه أهل الكوفة علي وابن مسعود وأفقه أصحابهما علقمة وأفقه أصحابه إبراهيم وأفقه أصحاب إبراهيم حماد وأفقه أصحاب حماد أبو حنيفة وأفقه أصحابه أبو يوسف وانتشر أصحاب أبي

---

١- رد المحتار (١٤٧/١)

يوسف في الآفاق وأفقههم محمد وأفقه أصحاب محمد أبو عبدالله الشافعي رحمهم الله تعالى: (١)

الإمام فقيه الملة عالم العراق أبو حنيفة النعمان بن ثابت بن زوطى التيمي الكوفي مولى بني تيم الله بن ثعلبة. يقال إنه من أبناء الفرس: (٢)

(٤) وعني بطلب الآثار وارتحل في ذلك وأما الفقه والتدقيق في الرأي وغوامضه فإليه المنتهى والناس عليه عيال في ذلك: (٣)

(٥) وقال علي بن عاصم لو وزن علم الامام أبي حنيفة بعلم أهل زمانه لرجح عليهم. وقال حفص بن غياث كلام أبي حنيفة في الفقه أدق من الشعر لايعيبه إلا جاهل.

وروى عن الاعمش أنه سئل عن مسألة فقال إنما يحسن هذا النعمان بن ثابت الخزاز وأظنه بورك له في علمه.

وقال جرير قال لي مغيرة جالس أبا حنيفة تفقه فإن إبراهيم النخعي لو كان حيا لجالسه.

وقال ابن المبارك أبو حنيفة أفقه الناس.

وقال الشافعي الناس في الفقه عيال على أبي حنيفة.

قلت الامامة في الفقه ودقائقه مسلمة إلى هذا الامام وهذا أمر لا شك فيه..

وليس يصح في الاذهان شئ إذا احتاج النهار إلى دليل: (٤)

---

١- سير أعلام النبلاء(٢٧٣\٩) حماد بن أبي سليمان مسلم الكوفي

٢- سير أعلام النبلاء (٣٩٠\٦)

٣- سير أعلام النبلاء (٣٩٢\٦)

٤- سير أعلام النبلاء (٤٠٣\٦)

(٦) و قال العلم يدور على سبعة منهم أبو حنيفة رحمه الله تعالى: ([1])

(٧) وقال أبو يوسف ما رأيت أعلم من أبي حنيفة ومالك وابن أبي ليلى: ([2])

(٨) و وصف علم مالك وأبي حنيفة رحمه الله تعالى في كتابه: ([3])

(٩) وقال و في زمان هذه الطبقة كان الإسلام و أهله في عز تام و علم غزير و كان في هذا الوقت من الفقهاء كأبي حنيفة ومالك و الأوزاعي الذين مروا: ([4])

(١٠) و قد عدّ الحافظ شيخ الإسلام ابن تيمية رحمه الله أبا حنيفة و صاحبيه في أهل العلم الذين يبحثون الليل و النهار: ([5])

(١١) فعدّ فيمن يعرف زكائيهم و ذكائهم ابو حنيفة وصاحبيه: ([6])

(١٢) وقال أئمة اهل الحديث والتفسير والتصوف والفقه مثل الأئمة الاربعة واتباعهم: ([7])

(١٣) قلت وعلى الانصاف لو قال قائل بل هما سواء في علم الكتاب والاول أعلم بالقياس والثاني أعلم بالسنة وعنده علم جم من أقوال كثير من الصحابة كما أن الاول أعلم بأقاويل علي وابن مسعود وطائفة ممن كان بالكوفة من أصحاب

---

[1]- سير أعلام النبلاء (٨/٩٤)

[2]- سير أعلام النبلاء (٩٤\٨)

[3]- تذكرة الحفاظ (١١ ٢٠٤)

[4]- تذكرة الحفاظ (١/ ٢٤٤)

[5]- منهاج السنة النبوية ٢/ ١٤٢طبع بولاق

[6]- منهاج السنة (١/ ١٦٧ – ١٦٨)

[7]- منهاج السنة (١/ ١٧٢-١٧٣)

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرضي الله عنه الامامين فقد صرنا في وقت لا يقدر الشخص على النطق بالانصاف نسأل الله السلامة: ([1])

(١٤) وذكر الذهبي رحمه الله تعالى المقلدون فقال ثم كأبي حنيفة ومالك والاوزاعي: ([2])

(١٥) و ذكر أئمة الاجتهاد فذكر الإمام و قال ثم الاوزاعي وسفيان الثوري ومعمر وأبو حنيفة وشعبة ثم مالك والليث وحماد بن زيد الخ: ([3])

(١٦) و قال في ترجمة ابن حزم بعد نقل قوله وقال فيها أنا أتبع الحق وأجتهد ولا أتقيد بمذهب.

قلت نعم من بلغ رتبة الاجتهاد وشهد له بذلك عدة من الائمة لم يسغ له أن يقلد كما أن الفقيه المبتدئ والعامي الذي يحفظ القرآن أو كثيرا منه لا يسوغ له الاجتهاد أبدا فكيف يجتهد وما الذي يقول؟ وعلام يبني؟ وكيف يطير ولما يريش؟

والقسم الثالث الفقيه المنتهي اليقظ الفهم المحدث الذي قد حفظ مختصرا في الفروع وكتابا في قواعد الاصول وقرأ النحو وشارك في الفضائل مع حفظه لكتاب الله وتشاغله بتفسيره وقوة مناظرته فهذه رتبة من بلغ الاجتهاد المقيد وتأهل للنظر في دلائل الائمة فمتى وضح له الحق في مسألة وثبت فيها النص

---

[1] - سيرأعلام النبلاء:(١٨ ١١٣)

[2] - سيرأعلام النبلاء: (٩٢/٨)

[3] - سير أعلام النبلاء: (٥٢٥/٩)

وعمل بها أحد الائمة الاعلام كأبي حنيفة مثلا أو كمالك أو الثوري أو الاوزاعي (١)

و ذكر القصة الطويلة المنسوبة إلى الإمام و حكم بوضعها و قد أطنب عليها الشيخ عبد الرشيد النعماني في مقدمة تبيض الصحيفة و قد اجاد فيه فجزاه الله تعالى خيرا.

وقال الشيخ الإمام العالم الكبير العلامة عبدالحي بن نظام الأنصاري السهالوي اللكهنوي بحرالعلوم وملك العلماء مسألة معرف العدالة أمور منها الشهرة والتواتر كمالك الإمام والأوزاعي وعبدالله بن المبارك و غيرهم كالإمام الهمام أبي حنيفة وصاحبيه الخ: (٢)

(١٧) فقال الذهبي رحمه الله تعالى وكذلك اشتهر مذهب الاوزاعي مدة وتلاشى أصحابه وتفانوا.

وكذلك مذهب سفيان وغيره ممن سمينا ولم يبق اليوم إلا هذه المذاهب الاربعة. وقل من ينهض بمعرفتها كما ينبغي فضلا عن أن يكون مجتهدا: (٣)

(١٨) وقال الشعراني في كتابه الميزان الكبرى ومذهبه اي مذهب ابي حنيفة اوّل المذاهب تدوينا وآخرها انقراضا كما قال بعض اهل الكشف: (٤)

---

١- سير أعلام النبلاء: ( ١٨ /١٩١)

٢- فواتح الرحموت شرح مسلم الثبوت مع المستصفى: ( ٢ /١٤٨):الطبعة الأولى بولاق مصر. بحواله مقدمة الشيخ عبدالرشيد النعماني صـ (١٩).

٣- سير أعلام النبلاء: ( ٨/٩٢)

٤- الميزان الكبرى: (١ /٥٩) طبع الازهرية بمصر بحواله مقدمة الشيخ النعماني

(١٩) وقال أئمة الإسلام المعروف بالإمامة في الدين كمالك والثوري و الأوزاعي و الليث بن سعد و الشافعي وأحمد وإسحاق وأبي حنيفة وأبي يوسف: (١)

(٢٠) وقال و هذا مذهب الأئمة المتبوعين مثل مالك بن أنس و الثوري و الليث بن سعد و االأوزاعي بن سعد و الأوزاعي و أبي حنيفة الخ: (٢)

(٢١) وقال الحافظ ابن كثير في البداية هو الامام أبو حنيفة واسمه النعمان بن ثابت التيمي مولاهم الكوفي فقيه العراق وأحد أئمة الاسلام والسادة الاعلام وأحد أركان العلماء وأحد الائمة الاربعة أصحاب المذاهب المتنوعة وهو أقدمهم وفاة لانه أدرك عصر الصحابة ورأى أنس بن مالك قيل وغيره.
وذكر بعضهم أنه روى عن سبعة من الصحابة فالله أعلم: (٣)

(٢٢) ثم اطنب في ترجمته و ذكر تلامذته ومن اثنى عليه من العلماء قال يحيى بن معين كان ثقة وكان من أهل الصدق ولم يتهم بالكذب ولقد ضربه ابن هبيرة على القضاء فأبى أن يكون قاضيا.
وقد كان يحيى بن سعيد يختار قوله في الفتوى وكان يحيى يقول لا نكذب الله ما سمعنا أحسن من رأي أبي حنيفة وقد أخذنا بأكثر أقواله.
وقال عبدالله بن المبارك لولا أن الله أعانني بأبي حنيفة وسفيان الثوري لكنت كسائر الناس.

---

١- منهاج السنة:( ١/ ٢١٥)

٢- منهاج السنة النبوية: (١٧٣/١)

٣-البداية و النهاية لابن كثير (١٢٤/١٠)

وقال في الشافعي رأيت رجلا لو كلمك في هذه السارية أن يجعلها ذهبا لقام بحجته.

وقال الشافعي من أراد الفقه فهو عيال على أبي حنيفة ومن أراد السير فهو عيال على محمد بن إسحاق ومن أراد الحديث فهو عيال على مالك ومن أراد التفسير فهو عيال على مقاتل بن سليمان.

وقال عبدالله بن داود الحريبي ينبغي للناس أن يدعوا في صلاتهم لأبي حنيفة لحفظه الفقه والسنن عليهم.

وقال سفيان الثوري وابن المبارك كان أبو حنيفة أفقه أهل الارض في زمانه وقال أبو نعيم كان صاحب غوص في المسائل وقال مكي بن إبراهيم كان أعلم أهل الارض.

عن أسد بن عمرو أن أبا حنيفة كان يصلي بالليل ويقرأ القرآن في كل ليلة ويبكي حتى يرحمه جيرانه ومكث أربعين سنة يصلي الصبح بوضوء العشاء وختم القرآن في الموضع الذي توفي فيه سبعين ألف مرة وكانت وفاته في رجب من هذه السنة أعني سنة خمسين ومائة وعن ابن معين سنة إحدى وخمسين. وقال غيره سنة ثلاث وخمسين: ([1])

(٢٣) قال ابن كثير وصلى عليه ببغداد ست مرات لكثرة الزحام: ([2])

(٢٤) وقال الشيخ عبدالرحمن بن محمد بن قاسم النجدي رحمه الله تعالى المتوفى سنه (١٣٩٢) هـ

---

[1]- البداية والنهاية: (١١٤\١٠)

[2]- البداية والنهاية: (١١٥\١٠)

والإمام المعظم أبو حنيفة النعمان بن ثابت الكوفي التابعي رأى أنس بن مالك وأبا الطفيل وروى عن حماد وعاصم وقتادة وغيرهم وعنه وكيع وعبد الرزاق وأبو يوسف ومحمد بن الحسن وغيرهم قال مكي بن إبراهيم أعلم أهل زمانه وما رأيت في الكوفيين أورع منه وقال الشافعي الناس في الفقه عيال على أبي حنيفة وأثنى عليه الأئمة الكبار ولد سنة ثمانين ومات سنة مائة وخمسين: ([1])

أئمة الدين هداة الأمة أهل التقى من سائر الأئمة
لا سيما أحمد والنعمان ومالك محمد الصنوان: ([2])

## د ايتونو ترجمه

يَاأَيُّهَا النَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٌ فَاسْتَمِعُوا لَهُ إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ لَنْ يَخْلُقُوا ذُبَابًا وَلَوِ اجْتَمَعُوا لَهُ وَإِنْ يَسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ شَيْئًا لَا يَسْتَنْقِذُوهُ مِنْهُ ضَعُفَ الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوبُ * مَا قَدَرُوا اللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ * اللَّهُ يَصْطَفِي مِنَ الْمَلَائِكَةِ رُسُلًا وَمِنَ النَّاسِ إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ * يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ

اې خلقو يو مثال بيانيږي فَاسْتَمِعُوا لَهُ د زړه په غوږونو ئې واورئ يو سماع دا او بل إستماع د سماع کې درې حرفه او پدې استماع کې ٦ حروف دي او قاعده د صرف دا د چه زيادة اللفظ تدل على زيادة المعنى زياتوالى د لفظ په زياتوالى د معنى باندې دلالت کوي نو د فَاسْتَمِعُوا لَهُ معنى د زړه په

---

[1]- حاشية الدرة المضيئة في عقد الفرقة المرضية (١٤١١١)

[2]- عقد الفرقة المرضية (١٤١١١)

غوګوږنو سره ئي واوري يقينا هغه کسان چه تاسو ئي د الله نه سيوا رامدد کوی د مِنْ دُونِ اللّٰهِ دا معنی نه د که د الله سره ئي رامدد کوی نو خير دی نه نه د الله نه سيوا چه څوک دی او تاسو ئي رامدد کوی لَنْ يَخْلُقُوا ذُبَابًا لن د تاکيد او د تابيد دواړو د پاره راځي هچرې هغوئي مچ نشی پيدا کولی اګر چه هغوئ د دې د پاره اتفاق وکړي او مچ پيدا کول خو لوئيه خبره د که مچ ترينه څه شي اوتختوی نو هغه ترينه هم نشی اغستی نو طالب هم کمزوری دی او د چا نه چه ئي غواړي نو هغه هم کمزوری دی نو چه غواړی نو د زورا ور نه غواړه د کمزوري نه مه غواړه .

مَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهِ او دوی د الله پوره تعظيم اونه کړو الله پيژندل پکار وو او ذوی ندی پيژندلی او الله په هر چا زورآور دی او په هر چا قادر دی وائي چه په دې قبرونو چه ئي جهنډې ولاړ دی نو الله وائي اَللّٰهُ يَصْطَفِي مِنَ الْمَلَائِكَةِ رُسُلًا وَمِنَ النَّاسِ چه ما په بنديانو او په فرشتو دواړو کې څه کسان غوره کړيدي خو يا دساته سميع او بصير نه دی سميع او بصير صرف الله دی او الله داسې ذات دی چه مخکې وروسته ټولو نه خبر دی د ما کان او ما يکون باندې الله پوهه دی او ټول کارونه الله ته واپس کيږي الله دی دا مدرسه اباده لري او الله تبارک وتعالی دي زمونږ ملګري لکه څنګه چه هميشه قران ئي نبسه د الله دی هميشه دا قران زمونږ سره لرې او مونږ دې د دې قران سره لرې او الله دی ددې مدرسې طالبانو جولی د علم نه ډک کړي او الله دی زمونږ ګناهونه مونږ ته معاف کړي .

و آخر دعوانا عن الحمدلله رب العالمين.

# موضوع : علامات قیامت

الحمدلله الحمدلله رب العالمين والصلاة والسلام على سيد الاولين و الآخرين وخاتم النبين و قائد الغر المحجلين سيدنا محمد المبعوث الى الخلق اجمعين

وعلى آله الطيبين و اصحابه الطاهرين وعلى اله وازواجه الطاهرات امهات المؤمنين وعلى علماء امته المتقين المقطفين اثاره الى يوم الدين وبعد

فَأَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

إِنَّ السَّاعَةَ آتِيَةٌ أَكَادُ أُخْفِيهَا لِتُجْزَى كُلُّ نَفْسٍ بِمَا تَسْعَى : (١)

## قیامت به خامخواه رازي

یقینا قیامت راتلونکی دی قریب وه چه ما دځان نه پټ کړي وي خو د ځان نه مي نشو پټولی.

کوم آیتونه چه ما اولوستل دي کي الله رب العزت دقیامت باره کي بحث کوي. لکه الله رب العزت فرمائي.

يَسْأَلُونَكَ عَنِ السَّاعَةِ أَيَّانَ مُرْسَاهَا قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّي لَا يُجَلِّيهَا لِوَقْتِهَا إِلَّا هُوَ ثَقُلَتْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ لَا تَأْتِيكُمْ إِلَّا بَغْتَةً يَسْأَلُونَكَ كَأَنَّكَ حَفِيٌّ عَنْهَا قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ اللهِ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ : (٢)

---

[1]- سورة طه - ۱۵

[2]- سورة اعراف - ۱۸۷

ستا نه د قيامت باره کې تپوس کوي چه د دې دُ راتلو وخت کو يو دی؟
زما پيغمبره ته ورته اووايه چه د دې علم دا زما د رب سره دی دا قيامت
به په خپل وقت کې صرف الله ظاهروی بل چا ته دا علم نشته .
د دې علم په اسمانونو او ځمکو کې پټ دی چا ته ندې معلوم دا قيامت
به په تاسو باندې ناساپه راځي.
او حديث کې د هغې تشريح رازي چه يو سړی به نوړی اغستی وی او
خولی ته به ئې وړی او ناساپه به قيامت شي.
دوکاندار اواغستونکي به د يو بل سره خبرې کوي توکې به ئې په لاس
کې وی او قيامت به شي .
نبي صلی الله عليه وسلم ته الله رب العزت فرمائي.
يَسْأَلُونَكَ كَأَنَّكَ حَفِيٌّ عَنْهَا قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ اللَّهِ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ
دا خلق ستا نه دا داسې تپوس کوي لکه چه تا نه پته وي ورته او وايه چه د
قيامت علم بغير د الله نه د بل چا سره نشته ليکن اکثر خلق نه پوهيږي.
په حديث د جبريل کې مشهور حديث دی تقريبا ده لس صحابه نه نقل
دی په هغه حديث کې رازي چه جبريل عليه السلام کله راغی او د نبي
صلی الله عليه وسلم نه ئې تپوسونه کول يو تپوس ئې ترې دا اوکړو چه.
قال متى الساعة قال ما المسؤول عنها بأعلم من السائل وسأخبرك عن
أشراطها إذا ولدت الأمة ربها وإذا تطاول رعاة الإبل البهم في البنيان في

خمس لا يعلمهن إلا الله ثم تلا النبي صلى الله عليه وسلم إن الله عنده علم الساعة: ([1])

قيامت به کله رازي نبي صلى الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل پدې کې هر يو تپوس کونکی او هرهغه څوک چه د هغه تپوس اوکړي شي د دې دوانړو علم يو شان دی.

المسؤل عنها معنى اى كل من سئل عنها هر سړي چه د هغه نه قيامت باره کې تپوس اوکړي شي او هر سائل د هغه علم د دې باره کې برابردی معنی نه مسؤ ل عنه ته پته شته او نه سائل ته نه هغه چا ته پته شته چه چانه د قيامت باره کې تپوس اوکړي شي اونه هغه چا ته پته شته چه څوک د قيامت تپوس کوي نو جبريل عليه السلام ورته وی ماته د قيامت علامات اوخايه نبي صلى الله عليه وسلم هغه ته علامات اوخودل.

## د قيامت علامات او د حذيفة بن اليمان رضي الله عنه اول روايت

علماء پدې باندې کتابونه ليکلي دی چه د قيامت علامات څه څه دي؟ او پدې باره کې د ټولو نه يو لوئي حديث د حضرت حذيفة بن اليمان رضي الله عنه دی.

أن أبا إدريس الخولانى كان يقول قال حذيفة بن اليمان والله إنى لأعلم الناس بكل فتنة هى كائنة فيما بينى وبين الساعة وما بى إلا أن يكون رسول

---

[1] - صحيح البخاري علي تحقيق البغاء: جلد ۱ صفحه ۲۷ باب سؤال جبريل النبي صلى الله عليه و سلم عن الإيمان والإسلام والإحسان وعلم الساعة

الله صلى الله عليه وسلم أسر إلى فى ذلك شيئا لم يحدثه غيرى ولكن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال وهو يحدث مجلسا أنا فيه عن الفتن فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم وهو يعد الفتن منهن ثلاث لا يكدن يذرن شيئا ومنهن فتن كرياح الصيف منها صغار ومنها كبار قال حذيفة فذهب أولئك الرهط كلهم غيرى: (1)

حضرت حذيفة بن اليمان رضي الله عنه فرمائي چه د قيامت پورې چه کوم فتنی رازي ده قيامت هغه نشانی چه رازي د ټولو خلقو نه پرې زه زیات پوهه یم.

یو سوال پیدا کیږي چه دا به حضرت حذیفه رضي الله عنه ته چرته نبي صلى الله عليه وسلم په پټ مجلس کې د وحي په ذریعه خودلی وی نو حضرت حذیفه رضي الله عنه فرمائي داسي خبره نده چه ګنې نبي صلى الله عليه وسلم ما ته څه پټې پټې خبرې کړي دی او نورو خلقو ته ئي ندی کړي لیکن جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم ګنړو خلقو ته د قیامت اشراط بیان کړي دي هغه فتن ئي بیان کړي کومې فتنې چه راروانې دی.

نبي صلى الله عليه وسلم په دغه مجالسو کې خلقو ته هغه فتنې د هغې خبر ئي ورکړي دی کومې فتنې چه راروانی دی بعضي وړې فتنې دی او بعضي غټې فتنې دی.

---

(1)- صحیح مسلم :جلد ۸ صفحه ۱۷۲ باب إخبار النبي صلى الله عليه وسلم فيما يكون إلى قيام الساعة

نوحضرت حذيفه رضي الله فرمائي چه نبي صلى الله عليه وسلم څه وړې اوڅه غټې علامې د قيامت خودلې دي نو هغه کسان چه زما سره ئې دا حديث د نبي صلى الله نه اوريدلې وو هغه خلق مړه دي زه پاتې يم زما نه زيات پوهه پدې باندې څوک نشته.

## د دجال حقيقت

د يو فتنې باره کې ما څه تفصيلي غونډي بحث کړې وو او هغه فتنه دجال ده دجال ترمذي کې حديث رازي څه نورو مسانيدو هم راغستې دی.

عن فاطمة بنت قيس ان رسول الله صلى الله عليه وسلم جاء ذات يوم مسرعاً فصعد المنبر ونودي في الناس الصلاة جامعة فاجتمع الناس فقال يا أيها الناس اني لم أدعكم لرغبة نزلت ولا لرهبة ولكن تميما الداري أخبرني ان نفرا من أهل فلسطين ركبوا البحر فقذفتهم الريح إلى جزيرة من جزائر البحر فإذا هم بدابة أشعر ما يدري أذكر هو أم أنثى لكثرة شعره قالوا من أنت فقالت أنا الجساسة فقالوا فأخبرينا فقالت ما أنا بمخبرتكم ولا مستخبرتكم ولكن في هذا الدير رجل فقير إلى أن يخبركم والى ان يستخبركم فدخلوا الدير فإذا رجل أعور مصفد في الحديد فقال من أنتم قلنا نحن العرب فقال هل بعث فيكم النبي قالوا نعم قال فهل اتبعته العرب قالوا نعم قال ذلك خير لهم قال ما فعلت فارس هل ظهر عليها قالوا لم يظهر عليها بعد فقال أما انه سيظهر عليها ثم قال ما فعلت عين زغر قالوا هي تدفق ملائي قال فما فعل نخل بيسان هل أطعم قالوا قد أطعم أوائله قال فوثب وثبة حتى ظننا انه سيفلت فقلنا من أنت قال أنا الدجال أما اني سأطأ الأرض كلها غير مكة وطيبة فقال رسول الله

صلى الله عليه وسلم أبشروا يا معشر المسلمين هذه طيبة لا يدخلها يعني الدجال

تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده صحيح على شرط مسلم : (۱)

تميم داري نبي صلى الله عليه وسلم ته يوه واقعه بيان كړه چه څه كسان جزيرې ته كوز شوى وو د سمندر په سفر باندې تلى وو هوا نا موافقه شوه هغوئ ئې يو جزيرې ته اورسول كله چه هغه جزيره كې هغوئ كوز شو نو يو بنده ئې اوليدو چه د سرنه ترخپو پورې تول په ويختوكې پټ وو هغوئ ترې اويريدل اوتپوس ئې ترې اوكړو ته څوك ئې نو هغه بنده ورته اووى زه جساسه يم زه دچا د پاره خلق كورم او بيا ئې هغو دځان سره روان كړل هغوئ ورته وى چه زمونږ نه څه تپوس اوكه يامونګه به ستا نه څه تپوس اوكړووى نه دا تپوس يوبل سړئ دى هغه به كوى وى مونګه يو قلعه ته راغلو په هغه قلعه كې يو سړې دى ده لاس اوخپو نه تړل شوى دى په زنځيرونو باندې هغه تپوس زمونږ نه كوى چه تاسوڅوك ئې؟ مونګه ورته وى چه مونګه عرب يو هغه بيا زمونږ نه تپوسونه اوكړل چه اخري نبي راغلى دى؟ مونګه ورته وى آو هغه وې د بيسان چه كومې كهجورې دى هغې ميوې شروع كړې مونګه ورته وى آو بيا ئې وى چه ده ايران څه حال دى دا نبي صلى الله عليه وسلم په هغه باندې زور شوى اوكنه ؟ مونګه ورته وى نه هغه وى دى به پرې زوراور كيږي او بيا ئې يو لوئې توب اووهو په هغه زنځيرونو كې مونګه وى كنې راخلاص شو دغه بنده چه وو خځ ستركه ئې ورانه وه اوكسه ستركه ئې هغه داسې وه لكه سړى چه دا

۱- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ٦ صفحه ۳۷٤ حديث فاطمة بنت قيس رضي الله عنها

خراشكي اوتوكي داسې سپينه وه او بهر راوتې وه وى مونكه ترتپوس اوكړو چه ته څوک ئې نو هغه وى زه دجال يم او د دې د پاره نبي صلى الله عليه وسلم په نهايت اهتمام سره خلقو ته آواز كړې وو چه راشئ مانځه له راشي مونځ كو او بيا نبي صلى الله عليه وسلم د مانځه نه مخكې دا خبره اوكړه.

## د حذيفة بن اليمان رضي الله عنه دوئم روايت

حذيفة بن اليمان رضي الله عنه فرمائي.

عن حذيفة بن اليمان رضى الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم تكون فتن كقطع الليل المظلم يتبع بعضها بعضا تأتيكم مشتبهة كوجوه البقر لا يدرون أيها من أي: (۱)

نبي صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دى د تورې شپې چه كوم توتې وى كوم ساعتونه وى دغسې تورې تورې فتنې به رازي او دا به په يو بل پسې رازي اودا به د يو بل سره مشابه وى نن په يو ځائي كې جهګړه صبا بل ځائي كې جهګړه بله ورځ په بل ځائي كې جهګړه نن يو سړى په خمكه نوتې بل په بل ځائي كې نوتې نن د يو سړي شكل بدل شوى صبا د بل سړي شكل بدل شويدي او دا به داسې رازي لكه ده غوګانو دا مخونه اودا خلق نه پيژني چه دا مصيبت په مونګ د كوم ځائي نه راغى.

۱- الفتن للمروزي : جلد ۱ صفحه ۲۸

## د حذيفة بن اليمان رضي الله عنه درئم روايت

حذيفه رضي الله عنه يو پيره اوفرمائيل.

عن حذيفة بن اليمان قال هذه فتن قد أظلت كجباه البقر يهلك فيها أكثر الناس إلا من كان يعرفها قبل ذلك : (۱)

هغه فتني رانزدي شوي ده غواگانو د تندي پشان ته گنړ خلق به پدې فتنو كې تباه كيږي سوا د هغه چا نه چه هغه د دې فتنو نه مخكې خبر ووا و د دې فتنو ورته څه پته ده څه قرائن ورسره وو حالى او محالى .

كرز بن علقمه الخزاعي رضى الله عنه

## كرز بن علقمه الخزاعي رضى الله عنه روايت

عن كرز بن علقمة الخزاعي قال قال رجل لرسول الله صلى الله عليه وسلم هل للإسلام من منتهى قال نعم أيما أهل بيت من العرب أو العجم أراد الله بهم خيرا أدخل عليهم الإسلام قال ثم مه قال ثم تكون فتن كأنها الظلل فقال الرجل كلا والله إن شاء الله يا رسول الله فقال الله رسول بلى والذي نفسي بيده ثم لتعوذن فيها أساود صبا يضرب بعضكم رقاب بعض قال الزهري الأسود الحية إذا نهشت نزت ثم ترفع رأسها ثم تنصب: (۲)

يو سړى راغى نبي صلى الله عليه وسلم ته ئي عرض اوكړو د اسلام ختميدل به رازي اوكنه ؟ نبي صلى الله عليه وسلم ورته آو د دې اسلام يو انتها ده د

۱- الفتن للمروزي : جلد ۱ صفحه ۲۸

۲- الفتن للمروزي : جلد ۱ صفحه ۲۹

هغې نه بعد به دی کمزورې کیږي په عربو عجمو کې چه الله د چا سره
ښیګړه کوی نو د هغه کور ته به اسلام ننباسي دغه سړی ترې تپوس اوکړو
بیا به څه کیږي؟ نو نبي صلی الله اوفرمائیل بیا به فتنې رازي او داسې فتنې
به ئې لکه وریځې چه رازي هغه سړی ورته اووې مونګ باندې نه رازي
قسم په خدائی که د الله رضا شوه نو نبي صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل
ځامخوا به رازي ولې به نه رازي زما دې په هغه ذات باندې قسم وي چه زما
نفس د هغه په قبضه کې دی بیا تاسو پدې کې هغه تور ماران شئ هغه
سرونه چه ئې اوګده کړي دی.

اساود ده اسود جمع ده هغه مار ته وائي چه کله سړی اوچیچي او دی بیا
اوګداوګد خملي او بیا سر اوچت کې بیا بل سړی اوچیچي او بیا اوګد
اوګد خملي.

نو نبي صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل قسم په خدائی تاسو دا مسلمانان
دا به هغې کې تور ماران شئ او تاسو به ده یو بل ستهونه وهئ.

## د حضرت ابو موسی الاشعري رضی الله عنه روایت

پدې باره کې یو مشهورصحابي حضرت ابو موسی الاشعري رضی الله عنه
د هغه روایت دی هغه فرمائي.

عن أبي موسى الأشعري رضی الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم
إن بين يدي الساعة لهرجا قالوا وما الهرج قال القتل والكذب قالوا يا

رسول الله قتل أكثر مما يقتل الأن من الكفار قال إنه ليس بقتلكم للكفار ولكن يقتل الرجل جاره وأخاه وابن عمه : (۱)

جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دي د قيامت نه مخکې به هرج رازي صحابو رضي الله عنهم تپوس اوکړو هرج څه شی دی؟نبي صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل قتلونه به وی اودروغ به وی بی گناه قتلونه به وی او بيا به دروغ هم ونيلی کيږي.

نن تاسو سوج اوکئ بی گناه قتلونه شروع دی او په هغې پسې ده دروغو پروپيگندې دی نن سبا چه مونګ کافر وژنو د دي نه به زيات قتل وی نو نبي صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل دغه هرج دا به داسي نه وي چه تاسو به کافر وژنئ يو سړی به راپاسي خپل ګاونډي به وژني خپل رور به وژني خپل ده تره خوئي به وژني دا فتنې دی دا راروانې دی ده قيامت نه مخکې . يو بل حديث کي هم رازي.

عن الحسن عن أسيد بن المتشمس بن معاوية قال سمعت أبا موسى يقول ليكونن من أهل الإسلام بين يدي الساعة الهرج والقتل حتى يقتل الرجل جده وابن عمه وأباه وأخاه وأيم الله لقد خشيت أن تدركني وإياكم : (۲)

اسيد بن متشمس ابن معاوية يو تابعي دی دی وائي ما د حضرت ابو موسی رضي الله عنه اوريدلی دی هغه وی په مسلمانانو کې به د قيامت نه مخکې هرج يعني قتل شروع شی تردې پورې چه يو سړی به راپاسي خپل نيکه به وژني خپل د تره خوئي به وژني خپل پلار به وژنی خپل روربه وژني زما ده به

---

۱- الفتن للمروزي : جلد ۱ صفحه ۳۰

۲- الفتن للمروزي : جلد ۱ صفحه ۳۰

خدائی قسم وي څماخو يره ده چه په مونگ اوتاسو به رازي په هغوئ خونه وو راغلی خومونگ اولیدو خلق راپاسیدلي دی خپل نیکه ئي وژلی دی خلق راپاسیدلی دي خپل دتره څوئي ي وژلی دی څوئي راپاسیدلی دی خپل پلار ئي وژلی دی وررو راپاسیدلی دی خپل وررئي وژلی دی پلار راپاسیدلی دی څوئي ئي وژلی دی اودا څمونږ د سترگو لیدلی واقعات دی په دې گلی کې او پدی علاقه کې شوی دي دا هغه فتن دی کقطع الليل المظلم.

## سحر به سرې مؤمن وی او ماخام به کافر وي

حضرت ابو موسی رضي الله عنه هم د حضرت ابو حذيفه پشان فرمائي.

عن أبي موسى الأشعري رضى الله عنه قال إن بعدكم فتنا كقطع الليل المظلم يصبح الرجل فيها مؤمنا ويمسي كافرا ويمسي مؤمنا ويصبح كافرا: ([1])

تاسو نه وروستو فتنې راروانې دی ده تورو تیارو پشان سحر به سرې مؤمن وی او ماخام چه کیږي نو دی به کافر شوی ئي ماخام به یو سرې مسلمان ئي او سحر به کافر وی.

نن تاسو سوچ اوکئ یو سرې دی ده هغه اوس یوه نظریه ده ده پروپیگندو د لاسه مازیگر د هغه بله نظریه ده او سحر ئي بله نظریه وی او د دې نبي صلى الله عليه وسلم پیشنگوئي کړي ده چه سرې به سحرمؤمن وی او ماخام به کافر وی ماخام به مؤمن ئي او سحر به کافر وی.

د مجاهد نه یو موقوف روایت دی هغه وائي.

[1] - الفتن للمروزي: جلد ۱ صفحه ۳۰

عن مجاهد قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم بين يدي الساعة فتن كقطع الليل المظلم يمسي الرجل فيها مؤمناً ويصبح كافرا ويصبح مؤمناً ويمسي كافرا يبيع أحدهم دينه بعرض من الدنيا قليل : (١)

نبي صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دي د قيامت نه مخکښ به فتنې رازي د تورو شپو پشان په سړي چه کله ماخام رازي نو ماخام به دی مؤمن وی او سحر به دی کافر وی او سحر به دی مؤمن وی او ما خام به کافر وی او په تاسو کي به يو تن خپل دين په لګو پيسو باندې خرڅوي .

نن تاسو اوګورئ کومې فتنې شروع دي يو تيم غوړي يو من غنم پدې باندې خلقو خپل ايمانونه خرڅ کړل او د دې پيشنګوئي نبي صلى الله عليه وسلم ورکړي ده.

د دنيا يو معمولی غوندی شی وی او په هغې باندې به خلق خپل ايمان ورکوی.

حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه اوفرمائيل.

عن عبد الله بن بن مسعود رضى الله عنه قال هذه فتن قد أظلت كقطع الليل المظلم كلما ذهب منها رسل بدا رسل آخر يصبح الرجل فيها مؤمناً ويمسي كافرا ويمسي مؤمناً ويصبح كافرا يبيع فيها أقوام دينهم بعرض من الدنيا قليل : (٢)

دا فتنې رانزدې شوی ده تورو تيارو پشان کله چه يو حصه تيره شي بله شروع شي سحر به سړی مؤمن وی مازيګر به کافر وی او مازيګر به

---

١- الفتن لنعيم بن حماد : جلد ١ صفحه ٣١

٢- الفتن لنعيم بن حماد : جلد ١ صفحه ٣١

مؤمن وی سحر به کافر وی د دنیا یو معمولی غوندی شی وی او په هغې باندې به خلق خپل ایمان ورکوی.

او د مجاهد دا روایت دا هم دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه په روایت باندې دی خو هغه روایت منقطع کړې دی.

## د حضرت حذیفه بن الیمان رضي الله عنه څلورم روایت

حضرت حذیفه بن یمان رضي الله عنه فرمائي خلقو به د نبي صلی الله علیه وسلم نه ده خیر تپوس کوما به ترې ده فتنې تپوس کوو چه څان ترې بچ کم نو هغه فرمائي.

عن حذيفة بن اليمان رضى الله عنه قال ما من صاحب فتنة يبلغون ثلثمائة إنسان إلا ولو شئت أن أسميه باسمه واسم أبيه ومسكنه إلى يوم القيامة كل ذلك مما علمنيه رسول الله صلى الله عليه وسلم قالوا بأعيانها قال أو أشباهها يعرفها الفقهاء أو قال العلماء إنكم كنتم تسألون رسول الله صلى الله عليه وسلم عن الخير وأسأله عن الشر وتسألونه عما كان وأسأله عما يكون: (١)

داسې فتنې والانشته چه درې سوه کسان ترې جوړيگي که څه اوغواړم نو تاسو ته اوس هم د هغوئ نومونه د هغوئ د پلارانو نومونه خودلې شم د هغوئ ځائي درته خودلې شم چه دابه کوم کوم ځائي کي رازې تر قیامته پورې او ماته نبي صلی الله علیه وسلم خودلې دی چه فلانی کلی کې به فلانی د فلانی ځوئي په فلانی کلی کې به فلانی د فلاني ځوئي او په فلانی کلی کې به د فلانې به د فلانی ځوئي دا به دفتنو سرداران ئي او دا نبي صلي الله علیه

---

١- الفتن لنعيم بن حماد: جلد ١ صفحه ٣١

وسلم ته د وحی په ذریعه باندې الله خودلی وو اونبي صلی الله علیه وسلم صحابو ته خودلی وو نو خلقو ورته وی بالکل هغه سړی به راته خائي آو سړی به هم درته خائم او یا به درته د هغوئ امثال خائم چه کوم سړی په دین پوهیکي هغوئي به ترې خبر وی یائي د فقهاء نه اوریدلی وی او یا د علماء نه تاسو به د نبي صلی الله علیه وسلم نه دخیر تپوسونه کول اومابه ترې د شر تپوسونه کول چه ځان ترې بچ کم تاسو به ترې دهغه خبرو تپوسونه کول چه تاسوته به ئي ضورت پیش شو او ماته به ضرورت نه وو چه کومې فتنې راروانې دی ما به ترې ده هغې تپوس کوو.

## د حضرت حذیفه بن الیمان رضي الله عنه پنځم روایت

دې باره کې حضرت حذیفه رضي الله عنه یوه مرتبه اوفرمائیل.

عن حذيفة بن اليمان قال لو حدثتكم بكل ما أعلم ما رقبتم بي الليل: ([1])

ماته چه کومې خبرې معلومې دی او ما د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی دی که هغه ټولې زه تاسو ته بیان کم نو تاسو به یوه شپه ما پرې ندې او تاسو به مال حلال کړې اومر به مې کړئ.

[1]- الفتن لنعیم بن حماد: جلد ۱ صفحه ۳۱

## فتنې به نه ختمېږي سيوا كيږي به

عبدالله بن عمرو رضي الله عنه يو ډېره اوفرمائيل.

قال أبو الزاهرية وقال عبد الله بن عمرو لا تزالوا في بلاء وفتنة ولا يزداد الأمر إلا شدة فإذا لم يلي الوالي للله ولم يؤدي المولى عليه طاعة الله فأوشكوا بكره الله فإن كره الله اشد من كره الناس : (1)

هميشه به تاسو په مصيبت او په فتنو كې يئ او دا فتنې به ختمېږي نه دا به رورو سيوا كيږي.

تاسو ته پته وه په يو زمانه كې د افغانستان په كنړ كې فتنې شروع شوى هغې فتنو ټول افغانستان اونيويه عراق كې شروع شوى ټول عراق ئې اونيو په پاكستان كې شروع شوى اوس تاسو سوچ اوكړئ ټول پاكستان ئې نيولى دى دغه رنګې پدې دنيا كې به دافتنې خوريږي.

پدې كې به سختي رازي پدې كې به نرمي رازي كه چېرې بادشاه هغه د الله رب العزت د رضا د پاره بادشاهي نه كوله نن تاسوته پته شته امريكه الله دې پرې لعنت اوكې هغه دا غواړي چه په ټوله دنيا كې دې جمهوريت راشي والي هغه د الله د پاره بادشاهي نه كوي هغوئ ئې دامريكي د پاره كوي او كوم كسان چه مولى عليه دى په چا باندې چه ولايت دى هغوئ هغه خپله فريضه نه اداء كي نو دوي دې يقين اوكې چه الله به پدوې باندې عذابونه راولي او د الله زور دا د بنديانو ده زور نه دير دى.

---

1- الفتن لنعيم بن حماد : جلد ۱ صفحه ۳۱

## د ابو قلابه رحمة الله عليه وينا

ابو قلابه رحمة الله عليه وائي.

عن أبي قلابة عن أبي إدريس قال كنت أنا وأبو صالح وأبو مسلم فقال أحدهما لصاحبه هل تخافون من شيء قالوا نخاف الطلب قال فقلت إن الطلب لا يدرك إلا أخريات الناس قالوا صدقت إنه لم يكن نهب قط إلا كان له طلب وإن الناس لم يصيبوا نهباً قط أعظم من الإسلام وإن الفتنة تطلبه وإنها لا تدرك إلا أخريات الناس: (١)

زما استاد ابو ادريس وائي زه او ابو صالح او ابو مسلم مونکه درې واړه يو ځائي وو يو تن خپل ملګري ته اووی هلکه د څه نه يريږې؟نو هغوئ ورته وی آو مونږ د دې نه يريږو چه خلق به په مونږ پسې ګرځي او مړه کوي به مو ابو ادريس وائي هغه طلب خلق چه مړ کيږي او خلق چه ګرځي فلانی مړ کوم دا خو به هغه په آخره زمانه کې راځي هغوئ ورته وی رشتيا وائي کله چه لوټ مارشروع شوی دی نو د لوټ مار نه پس څه کسان پيدا شوی دی ده حلقو د مړکونو پسې ګرځي او د اسلام نه لوئي لوټ بل نشته فتنې په اسلام پسې راروانې دی او دا به راځي خو وروستو خلق په هغوئ باندې دا فتنې راځي اومونکه هغه ورستو خلق يو فتنو راګير کړي يو.

### ياران چه څنګه راځي دغه رنګې به فتنې دنيا ته راځي

قيس ابن ابي حازم وائي.

---

١- الفتن للمروزي : جلد ١ صفحه ٣٢

عن قيس بن أبي حازم قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ترسل على الأرض الفتن إرسال القطر: (۱)

نبي صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دي لكه څنګه چه باران رازي دغه رنګي به فتنې په دنيا کې رازي.

## د حضرت موسى عليه السلام ارزو

يو عالم قيصه كوى او يوحديث بيانوي او د هغه عالم نو عبيدالله بن ابي جعفر دى.

عن عبيد الله بن أبي جعفر قال لما قص الله تعالى على موسى عليه السلام شأن هذه الأمة تمنى أن يكون رجلا منهم فقال الله ياموسى إنه يصيب آخرها بلاء وشدة قال أحدهما من الفتن فقال موسى يارب ومن يصبر على هذا قال الله إني أعطيتهم من الصبر والإيمان مايهون عليهم البلاء: (۲)

هغه وائي په يو كتاب كې مې يو مسئله ليدلى وه چه كله الله پاک موسى عليه السلام ته ددې امت شان بيان كو نو موسى عليه السلام دا آرزو اوكړه چه كاش زه دمحمدعربي صلى الله عليه وسلم په امت كې وى نو الله رب العزت موسى عليه السلام ته اووى ددې امت په آخرياندې به مصيبتونه رازي او سختى به پرې رازي او ابن وهب وائي چه په ما او په ابن لهيعه كې يو تن اووى چه د فتنو نه نو موسى عليه السلام اوفرمائيل الله په دغه مصيبتونو باندې به څوک ټينګ شي څوک به پرې صبر اوكې نو الله رب

---

۱- الفتن للمروزي : جلد ۱ صفحه ۳۳

۲- الفتن للمروزي : جلد ۱ صفحه ۳۳

العزت اوفرمائیل بعض خلق به داسې وي چه هغوئ له به ما دومره صبراو دومره ایماني قوت ورکړي ئي چه دغه تکلیفونه به هغوئ ته اسان شي.

## فتنو کې به رور د رور نه او ځوئ د پلار نه جدا شي

عبدالله ابن عمر و رضي الله عنه فرمائي.

عن عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهما قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ستکون فتن في أمتي حتی یفارق الرجل فیها أباه وأخاه حتی یعیر الرجل ببلائه کما تعیر الزانیة بزناها: (1)

نبي صلی الله علیه وسلم فرمائیلي وو زما په امت کې به فتنی رازي تر دې پورې چه په دغه فتنو کې به رور د رور نه ځوئي د پلار نه جدا شي.

پدې اوسني فتنه کې کله چه د سوات نه خلق راتلل یا د بونیر نه راتلل یا د باجوړ نه راتلل ډیرخلق وو خپلې ښځې ترې ورکې شوی وي ډیرخلق وو د هغوئ نه خپل بچي ورک شوی وو ډیر خلق وو د هغوئ نه اوس هم خپل رونړه ورک دی تپوسونه ئي کوي چه کوم ځائي کې به ئي؟

نو نبي صلی الله علیه وسلم د دې نه مخکې دا فرمائیلي وو چه فتنی به رازي تر دې پورې چه په دغه فتنو کې به سړی د پلار نه جداشي او د رور نه به جدا شي تر دې حده پورې به جدا شي چه خلق به هغه ته پیغورکوي چه ته هغه بې غیرته سړی نه ئي چه رور دې پریښودی دی.

ته هغه بې غیرته نه ئي چه خپل ماشوم ځوئي دی پریښودی دی او ته ترې راتختیدلی ته هغه بې غیرته نه ئي چه ستا یوه لور وه او هغه معذوره وه اوتا

---

1- الفتن للمروزي: جـ ۱ صفحه ۳۳

ورته په بالتي کې اوبه پرېښودې او ته ترې راروان شوی ته هغه بې خونده سړی نه يې چه ستا ځاروی وو او تا هغه کور کې پرېښود اومړه شو او ته ترې راغلې.

د هغه په مصيبت باندې به دې سړی ته خلق داسې پيغور ورکې لکه ځنګه چه په زنا باندې خلق پيغورنه ورکړي.

دا زمونږ د پيغمبر ارشادات دي د نن نه ۱۵۰۰ کاله مخکې هغه کړي دي. او دا تکليفونه رازي پدې کې خپل ايمان ټنګول پکار دي.

## د اسامة بن زيد رضي الله عنه روايت

حضرت اسامة بن زيد رضي الله عنه هغه فرمائي

عن أسامة بن زيد رضي الله عنه قال أشرف النبي صلى الله عليه وسلم أطم فقال هل ترون ما أرى إني لأرى مواقع الفتن خلال بيوتكم كمواقع القطر: (۱)

نبي صلى الله عليه وسلم يو ډيری ته اوختو او اوئي فرمائيل زه چه څه وينم تاسو يې وينئ کنه ؟ستاسو په کورنوکې هغه فتنې داسې وينم لکه بارانونه چه وينم.

نو نبي صلى الله عليه وسلم غونډۍ ته ختلی وو او په عالم امثال کې الله رب العزت هغه ته هغه عذابونه متشکل کړل او نبي صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل څه چه زه وينم دا تاسو وينئ ؟ ده فتنو ده واقع کيدو هغه ځايونه زه وينم تاسو په کورونو کې داسې وينم لکه ځنګه چه بارانونه رازي دغسې تاسو په کورنو فتنې راروني دي.

---

۱- الفتن للمروزي: جلد ۱ صفحه ۳٤

# د وحي آشكال (عالم امثال)

جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د وحى څه آشكال وو.

کله به نبي صلى الله عليه وسلم ته په عالم امثال کې دهٔ راتلونکې زماني څيزونه اوخودل.

يو صحيح حديث کې رازي.

عن أبي الزبير عن جابر قال كسفت الشمس على عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم في يوم شديد الحر فصلى رسول الله صلى الله عليه وسلم فأطال القيام حتى جعلوا يخرون قال ثم ركع فأطال ثم رفع فأطال ثم ركع فأطال ثم رفع فأطال ثم سجد سجدتين ثم قام فصنع مثل ذلك فكانت أربع ركعات وأربع سجدات وجعل يتقدم يتقدم ويتأخر يتأخر في صلاته ثم اقبل على اصحابه فقال انه عرضت علي الجنة والنار فقربت مني الجنة حتى لو تناولت منها قطفا قصرت يدي عنه أو قال نلته شك هشام وعرضت علي النار فجعلت أتأخر رهبة ان تغشاكم ورأيت امرأة حميرية سوداء طويلة تعذب في هرة لها ربطتها فلم تطعمها ولم تسقها ولم تدعها تأكل من خشاش الأرض ورأيت فيها أبا ثمامة عمرو بن مالك يجر قصبه في النار وانهم كانوا يقولون ان الشمس والقمر لا ينكسفان الا لموت عظيم وانهما ايتان من آيات الله عز وجل يريكموها فإذا انكسفا فصلوا حتى ينجلي: (۱)

نبي صلى الله عليه وسلم مونږ کوو نو په مانځه کې يو پيره ورمخکې شو او دا لاس ئې اوګد کو نو بيا رازوستو شو او اعوذ بالله ئې اووى چه مونږ

---

۱- مسند الطيالسي: جلد ۱ صفحه ۲٤۱ ماروى عن أبو الزبير عن جابر رضي الله عنهما

اوشو نو خلقو ورته اووى يا رسول الله ستا خو نن په مانځه کې داسې عمل اوکړو چه دا عمل تا چرته نه وو کړې ته ور وړاندې شوى لاس دې کو او بيا راروستو شى او اعوذ بالله دى اووى نو نبي صلى الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل د دې ديوال پلنو طرف باندې ماته الله جنت هم راوړاندې کو او جهنم هم راوړاندې کو نو اول ئې راته جنت پيش کو په هغې کې انګوران وو مالاس کوو چه زه ترې تاسو له څه انګور راواخلم چه تاسو ئې اوخورئ نو بيا راروستو شم

او په عالم امثال کې نبي صلى الله عليه وسلم ته راتلونکى واقعات متشکل کيدل د تيرې زمانې واقعات نبي صلى الله عليه وسلم ته متشکل شوى وو.

يو پيره نبي صلى الله عليه وسلم دبيت الله نه طواف کووناساپه ودريدو او لاس ئې داسې بره کړل او وخاندل ئې او څه خبرې ئې اوکړې او بيا روان شو چا ورته وى يارسول الله ستاخو داسې عمل اوکړوچه دا خوتا چرته نه وو کړې دا څه وو ؟ نبي صلى الله عليه وسلم ورته وي عيسى عليه السلام مې اوليدو ما وسره لاس ميلاو او ما ترى تپوسونه اوکړل او ما ورسره خبرې اوکړې دا جسدعنصري نه ووکه دا جسد عنصري وي نو هر چا به ليدو ديته عالم امثال وائي.

## د حضرت حذيفه بن اليمان رضي الله عنه شپږم روايت

حضرت حذيفه بن اليمان رضي الله عنه فرمائي.

عن حذيفة بن اليمان رضى الله عنه قال ما أنا إلى طريق من طرقكم بأهدى مني بكل فتنة هي كائنة وبناعقها وقائدها إلى يوم القيامة .(١)

ستاسو لاري ما ته دومره نه دى معلومې لکه ماته چه هرفتنه معلومه ده اوکومه فتنه چه هغه راتلونکې د تر قيامت پورې ما د نبي صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي دي او د هغې فتنې باره کې چه څوک چغه اوباسې او څوک چه د هغې قيادت او ليډري کوى ترقيامته پورې ماته هغه خلق معلوم دى د هغوئ نومونه دهغوئ د پلارانو نومونه راته معلوم دى او ما ته نبي صلى الله عليه وسلم دا خولى دى. يو بيره ئي اوفرمائيل.

عن حذيفة بن اليمان قال والله ما أنا بالطريق إلى قرية من القرى ولا إلى مصر من الأمصار بأعلم مني بما يكون من بعد عثمان بن عفان: (٢)

زما دى په خدائى قسم وى کلو ته چه کومې لارې تلې دي يا ښارونو ته چه کومې لارې تلې دى داراته دومره ندې معلومې لکه دعثمان بن عفان رضي الله عنه سره چه کومې فتنى راروانې دي او هغه فتنى ما ته معلومى دى.

---

١- الفتن للمروزي : جلد ١ صفحه ٣٤

٢- الفتن للمروزي : جلد ١ صفحه ٣٤

## د حضرت علی رضي الله عنه وينا

حضرت علی رضي الله عنه به په کوفه کې فرمائيل.

عن أبي سالم الجيشاني قال سمعت عليا رضى الله عنه يقول بالكوفة مامن ثلثمائة تخرج إلا ولو شئت سميت سائقها وناعقها إلى يوم القيامة: (١)

درې سوه کسان چه کله راوزي او هغوئ فتنه شروع کوی قسم دی چه ماته د هغوئ هغه سائق چه چا دا فتنه رااوچته کړې ده او د هغوئ ناعق څوک چه د دې فتنې باره کې آواز کوي ترقيامته پورې ما ته معلوم دی.

## د حضرت حذيفه بن اليمان رضي الله عنه اووم روايت

حذيفه بن اليمان رضي الله عنه وائي.

عن أبي إدريس الخولاني قال سمعت حذيفة بن اليمان يقول كان الناس يسألون رسول الله صلى الله عليه وسلم عن الخير وكنت أسأله عن الشر مخافة أن يدركني

فقلت يا رسول الله إنا كنا أهل جاهلية وشر فقد جاء الله بهذا الخير فهل بعد هذا الخير من شر

قال نعم

قال فقلت فهل بعد ذلك الشر من خير

قال نعم

قال قلت فهل بعد ذلك الشر من خير

---

١- الفتن للمروزي : جلد ١ صفحه ٣٤

قال نعم وفيه دخن

قلت وما دخنه؟

قال قوم يستنون بغير سنتي ويهتدون بغير هديي تعرف منهم وتنكر

قلت فهل بعد ذلك الخير من شر

قال نعم دعاة إلى أبواب جهنم من أجابهم إليها قذفوه فيها

قال قلت صفهم لي يا رسول الله

قال هم من جلدتنا ويتكلمون بألسينتنا قلت يا رسول الله فما ترى إن أدركني ذلك قال تلزم جماعة المسلمين وإمامهم فقلت فإن لم تكن لهم جماعة ولا إمام قال فاعتزل تلك الفرق كلها ولو أن تعض على أصل شجرة حتى يدركك الموت وأنت على ذلك: (۱)

خلقو به د نبي صلى الله عيه وسلم نه تپوسونه كول د خير او ما به ترې د شر تپوس كوو د دې دپاره چه د شر نه ځان بچ كم چه شر مې لاندې نه کي دشر نه زان بچ كمه.

ما نبي صلى الله عليه وسلم ته يو پيره عرض اوكړو د الله پيغمبره مونكه ناپوهه خلق وومونګ شريان خلق ووالله مونګ له دا اسلام راوستو اسلام خير دى اسلام كي امن دى د چا سره چه د ايمان اواز وي د هغه د امن آواز وي د دې خير نه پس به شر رازي اوكنه ؟ نو نبي صلى الله عليه وسلم ورته وي آو د دې خير نه پس به شر رازي.

---

۱- صحيح مسلم : جلد ٦ صفحه ۲۰ باب الأمربلزوم الجماعة عندظهور الفتن

حضرت حذيفة بن اليمان رضي الله عنه فرمائي ما د نبي صلى الله عليه وسلم نه تپوس اوکړو د دغه شر نه پس به بيا خير رازي اوکنه؟ نبي صلى الله عليه وسلم وی آو.

حضرت حذيفة بن اليمان رضي الله عنه فرمائي د دغه د شرنه پس به بيا خير رازي نو نبي صلى الله عليه وسلم وی آو او پدې کې به تورې تورې تیارې وی.

ما تپوس اوکړو د هغې هغه تیارې به څه وی؟ نو نبي صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل څه خلق به ئې زما د سنتو نه بغيربه نورې طريقې اختيارکې څه خلق به ئې زما په سنتو به نه ئې روان په نورو طريقو به روان وی په هغه فتنوکې او د دين نه بغير به نور دين استعمالوي.

زما د دين مراکز به ختموي بعض کارونه به د هغوئ تاته ښکاري او بعض به درته بد ښکاري ماتپوس اوکړو د دغه خيرنه وروستو به شروی بغض خلق به وي او نور خلق به د جهنم دروازو ته رابلي نو چاچي د هغوئ خبره اومنله نو دغه خلق به ئې جهنم ته اوغورځوي.

حضرت حذيفة بن اليمان رضي الله عنه فرمائي ما اووی د الله پيغمبره ما ته ئې بيان که دا څنګه خلق دی؟ نبي صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل زمونږ پشان خلق دی او زمونږ پشان خبرې به کوي.

نبي صلى الله عليه وسلم د ته وئيلی وو چه فتنې به رازي او هيڅوک به ترې نه بچ کيږي حضرت حذيفه رضي الله عنه ورته وی يا رسول الله که هغه زمانه ما اومنده نو زه به څه کومه نو نبي صلى الله عليه وسلم ورته

وی ځان بچ که ځان اوساته د دغه فتنو نه که د اونو جرړي او زيلي دی
خوړی نو خير دي خوچې د دې فتنو نه ځان بچ کې.
حضرت حذيفة رضی الله عنه وائي د فتنو نه ځان ساتئ خلقو به د خير
تپوس اوما به دفتنوتپوس کو اود دې وجې نه چه زه په فتنه کې واقع نه شم.

## د حضرت حذيفه بن اليمان رضي الله عنه اتم روايت

حذيفه ابن اليمان وائي نبي صلى الله عليه وسلم يو بيره اوفرمائيل .
عن حذيفة بن اليمان رضى الله عنهم قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لن تفنى أمتي حتى يظهر فيهم التمايز والتمايل والمعامع
قال حذيفة فقلت بأبي أنت وأمي يا رسول الله وما التمايز
قال عصبية يحدثها الناس بعدي في الإسلام
قلت فما التمايل
قال يميل القبيل على القبيل فيستحل حرمتها ظلما
قال قلت وما المعامع قال مسير الأمصار بعضها إلى بعض فتختلف أعناقها في الحرب هكذا وشبك رسول الله صلى الله عليه وسلم بين أصابعه وذلك إذا فسدت العامة يعني الولاة وصلحت الخاصة طوبي لامرىء أصلح الله خاصته: (۱)
چه زما امت به چیری نه پناه کیږي تر څو چه دوی کې تمایز تمایل او معامع پیدا نشي.
ما ورته اووی زما مور او پلار دی ستا نه قربان شي تمايل څه شی دی؟
نو نبي صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل زما نه وروستو قوم پرستي به پيدا

---

۱- الفتن للمروزي : جلد ۱ صفحه ۳۸

شي یو به د پښتو آواز کوي بل به د پنجابیت آواز کوي بل به د سندهي توب آواز کوي بل به د عربیت آواز کوي.

تاسو ته دا پته نشته په عراق کې یا په مصرکې یا په شام کې چه کوم بادشاهان وو صدام وغیره وغیره د هغوئ آواز د قومیت وو قوم پرست خلق وو د هغوئ یو پارټی وه بعث ده بعث پارټی آواز دا وو چه کوم کافر چه د هغه نسل عربي دی هغه د هغه مسلمان نه غوره دی چه د هغه نسل عربي ندی.

بیا زمونږ پدې علاقو کې ده جئ سنده تحریک شروع شوی وو نن هم د هغې آثار دا دي چه هغوئ پختون هلته نه پریدي.

زمونږ په بلوچستان او سرحد کې آوازونه د قوم پرستئ شروع شوی وو. نبي صلی الله علیه وسلم فرمائیلي وو تمایز څه دی؟ دا یو عصبیت دی چه زما نه پس به خلق په اسلام کې جوړ کي.

په اسلام کې د پنجابي او سندهي د پختون او د بلوچې د عربي او د عجمي د دې فرق نشته او دغه خلق به فرق شروع کي.

د نبي صلی الله علیه وسلم آخري خطبه کې نبي صلی الله علیه وسلم وئیلي وو.

عربي په عجمي غوره ندي او تور په سور غوره ندی تور خلق کوم چه د هغه علاقو دي چه هغه تور دي مثلا سوډان ایتوپیا هغوئ وائي داسپین خلق مخکې تورو وو په دوې برګي لګیدلی دی او برګي ئي په ټول بدن راغلی دی نو دوې سپین شوی وي هغوئ دسپینونه نفرت کوي او سپین د تورو نه نفرت کوي.

په امریکه کې اوبرطانیه کې د تورو او د سپینو د یوبل نه نفرت دی اوبامه الله دې پرې لعنت اوکې دا په تورو کې دی او د ده نه مخکې هغه لوئي خنزیرچه وو هغه په سپینو کې وو.

نبي صلی الله علیه وسلم وائي په اسلام کې ده تور و او د سپینو او د عربي او عجمي فرق نشته وروستو به څه خلق راځي او هغوئ به عصبیت پیدا کې زه پښتون یم زه پنجابي سندهي یم زه بلوچي یم .

دا تمائل څه شی دی؟ نونبي صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل یو قبیله به په بله قبیله باندې حملې کوي او د هغوئ عزت به حلال ګڼي.

ما تپوس اوکړو معامع څه شي دی؟نبي صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل بعضې کلې به نورو کلو ته لاړ شینو ده دوی شکلونه په جنګ کې دغه شان یو شان شي لکه څنګه چه دا کوم خلق وژلی کیږي دا نور به هم نبي صلی الله علیه وسلم دا لاسونه یو شان کړل دا به ټول بیا وژلی کیږي او دا کله چه عام خلق هغه فاسد شي او خاص خلق هغه نیکي شروع کې څه علماء هغه لږ لګ هغه د نیکي کارونه کوي او عام خلق به وی.

هغه خلق دی الله خوشحاله چه الله پاک د هغوئ خاصو خلق هغوئ کې اصلاح راولي. الله دې زمونږ دا ملک په امن کې کې.

الله دې صالحین خلق څمونږه حاکمان کې او کوم چه برباد خلق دی الله دې پخپل قهر باندې برباد کې . او الله دی څمونږه ولایت بادشاهي دا د نیکانو خلقو له ورکې. الله دي زمونږ پدې ملک باندې د قران او سنت حاکمیت راولي . امین

واخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین

# موضوع : علماء او مدرسی

الحمد لله الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی سید الاولین و الاخرین وخاتم النبیین وقائد الغر المحجلین سیدنا محمد المبعوث الی الخلق اجمعین وعلی آله الطیبین و اصحابه الطاهرین وعلی ازواجه الطاهرات امهات المؤمنین وعلی علماء امته المتقین الی یوم الدین

امابعد

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَاهِيمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ وَإِسْمَاعِيلُ رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ۞ رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِنَا أُمَّةً مُسْلِمَةً لَكَ وَأَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبْ عَلَيْنَا إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ۞ رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولًا مِنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيهِمْ إِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ۞ وَمَنْ يَرْغَبُ عَنْ مِلَّةِ إِبْرَاهِيمَ إِلَّا مَنْ سَفِهَ نَفْسَهُ وَلَقَدِ اصْطَفَيْنَاهُ فِي الدُّنْيَا وَإِنَّهُ فِي الْآخِرَةِ لَمِنَ الصَّالِحِينَ : (١)

---

١- سورة بقره ۱۲۷ تا ۱۳۱

## تمهيد

عزتمندو مسلمانانو : دکله نه چه دا دنیا اباد ده نو پدی دنیا کې دوه قوتونه د یو بل سره مقابل روان دی ۱ مادي قوت ۲ - روحاني قوت
کوم خلق چه روحاني قوت واله دی هغوئ دا غواړی چه مونږ دې د مادي د دې تیاری نه اوړتلی او زمونږ دی روح ته دي خوشحالئ میلاو شي.
او کوم خلق چه ماده پرست دی نو هغوئ دا ماده جمع کوي او دې مادي جمع کولو سره د هغوئ په زړونو کې تیاری او کدورتونه پیدا کیږي.

## په سورة زخرف کې د روحانیت او د مادیت تقابل

په قران عظیم شان کې الله رب العزت په سورة زخرف کې د روحانیت او د مادیت یو اجمالي تقابل کوی.

وَلَوْلَا أَن يَكُونَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً لَّجَعَلْنَا لِمَن يَكْفُرُ بِالرَّحْمَٰنِ لِبُيُوتِهِمْ سُقُفًا مِّن فِضَّةٍ وَمَعَارِجَ عَلَيْهَا يَظْهَرُونَ ۞ وَلِبُيُوتِهِمْ أَبْوَابًا وَسُرُرًا عَلَيْهَا يَتَّكِئُونَ ۞ وَزُخْرُفًا وَإِن كُلُّ ذَٰلِكَ لَمَّا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةُ عِندَ رَبِّكَ لِلْمُتَّقِينَ: (۱)

کچرې خلق ټول کافر کیدئ نه کوم خلق چه کافران دی ما ده هغوئ ده کورنوچتونه د سپینو کړخولی وو دارنګه ده هغوئ هغه اندربائې او ده هغوئ هغه دروازې او ده هغوئ هغه کټونه او کرسی چه په هغې باندې تکیه لګوي دا به مې ورله ده سپینو زرو کړی وی او د سپنو زروخو له څه کړې د سرو زرو به مې ورله ورکړې وو بیاالله فرمائي دا ټول څیزونه

---

۱- سورة زخرف - ۳۳ تا ۳۵

دا د دی معمولی ژوند اَلْحَيَاةِ الدُّنْيَا معمولي ژوندچه هغه زوال ته ډير نژدي دی دا د دې خوشحالی دي او د دې څکه ده .
او کوم روحاني خوشحالي چه ده هغه پدې دنيا کې نشته.
يو حديث کې هم راځي.
عن سهل بن سعد قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لو كانت الدنيا تعدل عند الله جناح بعوضة ما سقى كافرا من شربة ماء : (۱)
نبي صلى الله عليه وسلم فرمائي کچيرې د دنيا مقام د الله په نظرکې د ماشي د وزر مقدار وی نو کافر له به ئې وريکې گوټ اوبه هم نه وی ورکړي .
دنياالله هرچا له ورکوي قارون له ئې ورکړې وه هامان له ئې ورکړې وه فرعون له ئې ورکړې وه ليکن روحانيت هر چا له نه ورکوي.
دويمه مرحله پدې سورة کې الله پاک ده د نيا ذکر کړيده يو مادي سړی چه د هغه ايمان په ماده وو د هغه يو قول نقل کوي ذکر کوي او په مقابله کې ورسره يو جمله هم وائې.
وَنَادَىٰ فِرْعَوْنُ فِي قَوْمِهِ قَالَ يَا قَوْمِ أَلَيْسَ لِي مُلْكُ مِصْرَ وَهَٰذِهِ الْأَنْهَارُ تَجْرِي مِن تَحْتِي أَفَلَا تُبْصِرُونَ ۞ أَمْ أَنَا خَيْرٌ مِّنْ هَٰذَا الَّذِي هُوَ مَهِينٌ وَلَا يَكَادُ يُبِينُ: (۲)
هغه مادي سړی فرعون وو او خلق ئې راجمع کړي وو او خلقو ته پدې باندې فخر کوي .
اې زما قومه دا د مصربادشاهي زمانه ده او دا ولې زمايه جائدادکې نه بهيږي ؟ څه غوره يم او که دا بې جائداده او بې ماله سړی غوره دی او دې

---

۱- سنن الترمذي : جلد ٤ صفحه ٥٦٠

۲- سورة زخرف - ٥١ - ٥٢

بل ځائي خبره هم نشي کولی او صرف زمونږ مخکې خبره کوئ.دا ئي د هغه
مادي سړی حال بیان کړو.
بیاالله پاک فرمائي ما تاسوته یوکتاب رالیکلي دي لَقَدْ أَنزَلْنَا إِلَيْكُمْ كِتَابًا
فِيهِ ذِكْرُكُمْ ستاسو عزت په هغې کې دی .
د کله نه چه دا دنیا اباده ده نو د مادې او د ورحانیت مقابله شروع ده .

## په مدینه کې د اسلام اوله مدرسه او د هغې شاګردان

یو وقت راغی چه په مکه مکرمه کې یو یتیم بچي ده عبدالله او د امنه
په کورکې پیدا شو او د هغه پلار د هغه ده پیدائش نه مخکې وفات شو او
مورئي څه زمانه پس وفات شوه او چا چه ئي تربیت کوو نو هغه هم وفات
شو او هغه د الله ده ړومبی کور نه کوم نه چه د دین د اشاعت ابتداء
شویده هغې نه ئي یو آواز شروع کړو.
هغه آواز په مکه کې کارکرنه شو خو د هغې مدرسې یو طالب وو مصعب
بن عمیر رضي الله عنه او په مدینه منوره کې اول مدرسه د هغه جوړه شوه
اومصعب بن عمیررضي الله عنه په هغه مدرسه کې مدرس شو اود مصعب
بن عمیر رضي الله عنه د لاسه عمر بن جموح رضي الله عنه معاذ رضي الله
عنه او خلاد رضي الله عنه وغیره مسلمانان شو اولوئي لوئي صحابه د هغې
مدرسې طالبان شو او د هغې نه فارغ شو.
چه کله نبي صلی الله علیه وسلم مدینې ته هجرت وکړونو هغه فارغ
التحصیل طالبان د مصعب بن عمیر رضي الله عنه د مدرسي نه هغوئ د

بدر په جنګ کې دنيا ته اوخودله چه د چا په سينه کې روحانيت دی نو هغه خلق څه کار کولی شي ؟

او بڅپله د مصعب بن عمير رضي الله عنه حال څه وو؟ مصعب بن عمير رضي الله عنه د يو مالدار سړي خوبئ وو او په نعمتونو کې لوئي شوی سړی وو خو چه کله هغه دين قبول کړو نو پلار په کوټو کې بندوو او د بوسو لوکي ئې ورته کول او د هغې نه چه اووتلو نو ده محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم طالب شو او بيا د مدينې منورې اول مدرس شو نو مصعب بن عمير رضي الله عنه سره د دوډۍ.ده خوراک څه شی نه وو اوچه کله شيهد شو نو د هغه يو څادر وو چه سر به ئې ورله پټ کړو نوخپې به ئې ښکاريدې او چه خپې به ئې ورله پټې کړې نو سر به ئې ښکاريده بيا نبي صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل چه سر ورله پټ کړې او پدې خپو ورله څه واخه واچوئ.

د هغې مدرسې طالبان پيدا شو او هغوئ د بدر په مقام باندې ۲۷رمضان سنه ۲ هجري کې دنيا ته ئې وخودله چه هغه ده مدرسې طالبان چه زړونو کې ئې قران وو او هغه ورحاني کسان هغوئ په دنيا کې څنګه انقلاب راوستئ وو او داسې انقلاب ئې راوستئ ووچه هغوئ خپل ورحانيت دينا ته مسلم کړو.

يوصحابي دی په سترګو معذوره شوی دی هغه وائي که زه چابدر ته بوتلمه نو اوس هم ما ته هغه تنګئ معلوم دی د کوم نه چه ملائک راوتل نو د هغه خلقو امداد له الله ملائک راليږل که نن هم که په مونږ کې د بدر د صحابو ايمان پيدا شي نومونږله به هم مدد د پاره ملائک راځي او د هغوئ

پښان يقين كه په مونږ كې پيدا شي نو هغه ملائك زمونږ هم امداد كولى شي مولانا ظفرعلي خان وائي.

فضاء بدر پیدا کر فرشتے تیری نصرت کو

اتر سکتے ہیں گردوں سے قطار اندر قطار اب بھی

د بدر د طالبانو ايمان په ځان كې پيداكړه او بيا گوره چه فرشتې ستا امداد كوې او كنه.

## په مدينه كي د اسلام دوئمه مدرسه او د هغي شاګردان

عزتمندو دويمه مدرسه چه په اسلام كې جوړه شوى وه نو هغه په مدينه منوره كې د اصحاب صفه مدرسه وه او اصحاب صفه د يو ځائي او د بل ځائي نه راغلي خلق وو او په جماعت كې به ناست وو او د جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم نه ئي دين زده كولو او پدغه اصحاب صفه كې د دوس قبيلې مشهور صحابي عبدالرحمن بن صخر رضي الله عنه حضرت ابو هريرة رضي الله عنه هم وو. لكه حديث كي رازي.

عن أبي هريرة قال قلت يا رسول الله إني أسمع منك حديث كثيرا أنساه؟ قال أبسط رداءك فبسطته قال فغرف بيديه ثم قال ضمه فضممته فما نسيت شيئا بعده: (۱)

ابو هريرة رضي الله عنه ته يو ځل چا اووى چه ته ډير روايتونه د نبي صلى الله عليه وسلم نه نقل كوى نو هغه غصه شو او ورته ئي وي چه ولى زه څه دروغ وايم زما دې په خدائى قسم وى ماته هغه وقت ياد دى چه يو

۱- صحيح البخاري علي تحقيق البغاء : جلد ۱ صفحه ٥٦ باب حفظ العلم

خل ما نبي صلی الله علیه وسلم ته اووی چه زماحافظه نه راځي نو څادر ی خورکړو نو چه کانه مې نو په هغې باندې څه خزنده غوندې کرځیده نو ماته نبي صلی الله علیه وسلم اووی چه راغونډ ئې کړه نو ما چه هغه څادر راغونډ کړو او خپلې سینې پورې مې ونیولو نو د هغې نه پس ما چه د نبي صلی الله عیله وسلم نه کومه یوه خبره اوریدلې ده نو زما نه نه ده هېره شوې.

دابو هریره رضي الله عنه په روایت کې رازي.

عن أبي هريرة قال حفظت من رسول الله صلى الله عليه و سلم وعاءين فأما أحدهما فبثثته وأما الآخر فلو بثثته قطع هذا البلعوم : (۱)

ابو هریره رضي الله عنه وائي چه ما ته دوه قسمه احادیث یاد دي یو قسم احادیث ما په خلقو کې خواره کړي دي.

او دویم قسم احادیث که هغه مې ښکاره کړه نو دا خلق به زما مرئ پرې کړي هغه دنبي صلی الله علیه وسلم نه دین زده کړي وو او دا ئې زده کړي چه د قیامت علامات به څه وي؟ څه به کیږي اوڅه به نه کیږي .

دغه مدرسه رو رو هغې طرقې اوکړه نو په ټوله دنیا کې خورئ شوی نو بیا مکه مکرمه د دین یوه مدرسه وه او مدینه منوره هم د دین یوه مدرسه وه او په مدینه منوره کې بیاد انس بن مالک رضي الله عنه په شان کسان پیدا شو او د دنیا د یوګوټ نه د بل ګوټ نه خلق د هغوئ نه دعلم حاصلولو د پاره راتلل.نن تاسولا ړ شئ وګورئ دمغرب هغه ملکونه نائجیریا او مراکش

---

۱- صحيح البخاري علي تحقيق البغاء : جلد ۱ صفحه ۵۶ باب حفظ العلم

هغه لرې لرې ملکونه چه هلته تاسو اوګورئ نو د مدينه منورې نه علم هلته تلې دې.

## بغداد کې د علم مراکز او د دين بيان

بيا يو زمانه داسې راغله چه بغداد د علم مرکز شو او بغداد تر ډيرې زمانې پورې دعلم يو مرکز وو او په بغداد کې يوه مشهوره مدرسه وه چه هغې له به خلق تلل تاريخ ليکلې دې چه امام بخاري رحمه الله په بغداد کې اولنې درس کولو نو د خلقو ددين سره داسې شوق وو چه په بغداد کې د هغه د درس ځائې نه پيداکيدو.

د خلقو د ګڼړې د وجې نه په بغداد کې چه کوم بين الاقوامي اصطبل وو او هغه به تقريبا درې درې ځلور ځلور ميلونو کې خور وو نو امام بخاري به د هغې په منځ کې ولاړ وو او هغه به بيان کوو او درې درې او ځلور ځلور ميله به خلق ولاړ وو او د امام بخاري د ليدلو خلق دومره شوق مند وو چه هلته کوم ابادي وونوهغې ته خلق اوختل اوهغه ابادي راوغورځيدل او دا آواز چه به رسيدو نو هغه داسې چه استاذ به دلته اووې حدثنا فلان نو هلته هلته لسو کسانو به آواز وکړو چه استاذ وائي حدثنا فلان پدې طريقه باندې به آواز رسيدو.

## د امام بخاري رحمه الله امتحان

امام بخاري رحمه الله يوځل خلقو امتحان اغستلو خلقو سل(۱۰۰) احاديث پيش کړه او داسې چه د يو حديث متن ئې په بل سند پسې ولګولو او د بل سندئې په بل حديث پسې ولګولو او لس(۱۰) کسان ئې منتخب کړه هر يو

تن به لس لس احاديث وي چه حديث به ئې اووی نو امام بخاري ته به ئې وی دی باره کې څه وائې؟ نو هغه به ورته وی نه يم خبر کوم چه پوهه کسان وو نو هغوئ به وی چه دا سړی ډير پوهه ذی چه کله هغه سل واړه احاديث ختم شو نو امام بخاري رحمة الله عليه پاڅيدو او الحمدلله رب العالمين ئې اووی نو امام بخاري وی تاخو دا حديث داسې اووی حالانکې دا حديث داسې نه دی دا داسې دی او سند ئې داسې دی څکه هغوئ دا ټول احاديث اولټه پولټه کړې وو نو امام بخاري رحمه الله د هغه سلو احاديثو جوابونه ورکړه نو خلق حيران شو نود امام بخاري غوندې علماء دنيا پيدا کړه.

## هندوستان کې د علم مراکز

د بغداد نه علم خور شو او دمشق د علم مرکز جوړشو اوخاصکر دمشق کې يو غر دی د هغه اخوا ديځوا چه کوم مدارس وو نن هم هغه مدرسې شته او د مسلمانانو د عزتمندۍ دلائل دی او د هغې نه بيا رو رو علم راتلو هندوستان ته راغی او په هندوستان کې ګڼړې مدرسې وی او خاصکر هغه پښتانه حاکمان چه کوم د افغانستان نه پدې طرف او په دې لاره باندې تلې وو او په هندوستان باندې ئې قبضه کړې وه چه په هغې کې د مغل سلطنت وو او د اکبربادشاه نيکه بابر او د هغه پلار او اکبر بادشاه دارنګې د هغه ځامن ا ونوسې تر هغه اورنګزيب عالمګير پورې بلکې د بهادرشاه ظفر پورې دا خلق ټول علم دوست خلق وو او په هندوستان کې د دين يو چرچا وه هغه هم يوزمانه چه اورنګزيب عالمګير ټوپۍ جوړه ولې لوئې بادشاه وو د ټولو مسلمانان يو اسلامې حکومت وونو ټوپۍ به ئې

جوړولي او قرانونه به ئي ليکل په هغې به ئي خپله روټي. خوړله او د
حکومت ئي يوه پيسه هم نه اغسته او د دنيا علماء ئي راجمع کړي وو او د
فتاوی عالمګيري په شکل کې ئي يو ضخيمه موسوعه امت ته رواندې
ايخبده که نن يو سړی په هغې باندې کارشروع کړي نو هغه شپږ جلدونه
فتاوی عالمکيري هغه يقيني ۶۰۰ جلده کتاب دی.
بيا رو رو کله چه انګريز پدې ملک کې راغئ نو انګريز دا کوشش
شروع کړو چه علماءبدنام کړي او ده علماء ده بدنامولو د پاره هغوئ
مختلف قسمه طريقې وچلولې بلکې ده انګريزيه قانون کې داوه چه
چوړئ چمياراو ده قران خودنکی دا درې واړه ده يوصف خلق دي او
مولا ته په بدنظرباندې کتلې کيده اوهغه حالت اوس هم دي خلق مولا
ته په سپک نظر باندې ګوري هسې خو مونږ وايو چه مولازمونږ پلار
دی زمونږمور دی خو حقيقت داسې نه دی .

## د کلي واقعه

زمونږ په کلي کې يو مولاوو اوس مړ دی الله دی اوبخې ده هغه خامن د کلي
کميټئ خلقو راګيرکړه او اوئ وهل نو په يو حجره کې ما تقرير کوو نو په
هغې کې ما ده هغوئ بهرپور مرسته وکړه هغه سړي اګرچه په مسئله او په
عقيده کې زما مخالفين وو خو ما د هغوئ سره مرسته د دې وجې نه اوکړه
چه د هغوئ سره ظلم شوی وو نو يو سړی پاځيدو ماته ئي وي مولوي
صاحب علماء زمونږ مور او پلار دی نو ما ورپورې اوخاندل او ما ورته
وی چه پلار ورته وائي او مور ورته مه وائي ځکه مور د پلار ښځې ته وائي.

د هغه انګریز هغه شي زمونږ په زوړونوکې چه ننویستلی دی هغه تراوسه پورې زمونږ په سینو کې پورته دی.

## د انګریز کوشش او د خلقو بدنامول

انګریز پخپل کوشش سره دوه قسمه خلق په هندوستان کې بدنام کړي وو
۱- صنعت او حرفت واله خلق ئې بدنام کړي وو او په هندوستان کې په ګوتو باندې به یو قسمه ململ جوړیدو چه د ماچسو په غټ ډبې کې به د هغې سل ګزه راتلل او په هندوستان کې چه کله د انګریزحکومت وو نو په برطانیه کې پنځه زره روپۍ جرم وو چه چا به د هندوستان جامه واغوسته اوهغوئ داسې صنعتونه ووچه د هغې باوجود به انګریزانو هغه جرم ادا کولو او د هندوستان جامه به ئې اغوسته.
۲- انګریز پخپل کوشش سره علماء بدنام کړه.

## د دارالعلوم دیوبند پس منظر

علماء د هندوستان پدې دنیا کې خواره شو او په هندوستان کې یو مرکز جوړشو او په یو داسې ځلي کې جوړ شوی دی تاسو به نه وی لیدلئ ما پدی خپلو سترګو لیدلئ دی (دیوبند) دیوبند د استیشن نه لرې یوه بانډه ده غټ کلی نه دي یو قصبه ده او دننه دیوبند هم څه بشکلې ځائي نه دی خود الله رب العزت رحمت په هغه ځائي باندې اوشو او د یو جماعت نه (هغه جومات هم مالیدلئ دی مسجدچته ورته وائي)په هغه جومات کې د انار یو اونه وه او د هغې د لاندې د درالعلوم دیوبند بیناد ایخودئ شوی وو او د هغه انار د اونې

لاندې يو استاذ او يوشاګرد او د استاذ نو هم محمود او د شاګرد نوم هم محمود وو د يو انار د اونې لاندې دوه محموده کيناستل او مدرسه شروع شوه.
په ۱۹۸۰ کې زه دارالعلوم ديوبند ته تلی اوومه او هغه انار ما ليدلی وو او مسجد چته چه په هغې کې د درالعلوم ديوبنداول سبقونه شروع شوی وو هغه هم ما ليدلۍ وو.
عزتمندو :هغه دارالعلوم ديوبند قائم شو خو د هغې بنياد چه ايخودۍ شوی وو نو هغه په اخلاص باندې ايخودۍ شوی وو نو د دې وجې نه ديوبند دا د يو مکتب فکرنوم دی اصل کې داخو ده يو کلي نوم دی خو اوس د مکتب فکر نوم دي او کله چه يو سړی ده صحيح عقائدو بيان کوي نو خلق ورته وائي چې دا ديوبندي دی .

## په ملك پاكستان كې د دين مراكز او د حضرت مولانا حسين علي رحمه الله محنت

بيا چه کله هندوستان او پاکستان تقسيم شو نو پدې وطن کې علماء کار شروع کړو د ميانوالي سره په خواک ې يوه بانډه ده وان بچهران ورته وائي او په هغې کې يو فقير عالم خو د زړونو بادشاه وو خپل جائيداد ئې وو او بخپل جائيداد کې ئې بخپله زمينداري کوله او د خپلې زمينداريۍ نه چه به څه راغله هغه به هغه او د هغه بچو خوړل.
يو ځل د هغه يو ځوئي دی هغه ورته وائي بابا زمونږتول غنم دی طالبانو اوخوړل نو هغه ورته وی الله دي تاله بنه درکړي الله خومونږ له ددې طالبانو د وجې نه روتی راکوي.

هغه به خپل غنم کرل اوخپل اوړه به ئې کول اوخپل کورکې به ئې روټې پخولې او هغه به ئې راوړې او د طالبانو سره به یو ځائې ناست وو او روټې به ئې خوړله هغه مدرسه هغه نن په ټول دنیا باندې حاوی ده.

د هغې مدرسې په ګجرانواله کې د قاضي شمس الدین رحمه الله په شکل کې یو عظیم مدرسه ده او په قلعه دیدارسنګه کې د قاضي نورمحمد صاحب رحمه الله په شکل کې یوه مدرسه ده اوګجرات کې د سیدعنایت الله شاه رحمه الله په شکل کې یوه مدرسه اوپه پنج پیر کې د شیخ القران علامه محمد طاهر رحمة الله علیه په شکل کې یوه مدرسه ده اونن په دنیا کې هغه کارکوې دا ټول د اخلاص کار دی.

## د ایاتونه تفسیر او تشریح

اول کې ما یوڅو ایاتونه لوستلی دی دهغې متعلق یوه څو خبرې درته کومه کله چه ابراهیم علیه السلام الله رب العزت پیداکړو د هغه د پیدائش نه دیرمخکې بلکه د دنیا د پیدائش نه دیر مخکې الله رب العزت یو ملغلره رالیګلې وه او هغه ملغلره په عجیبه شکل باندې جوړه وه اوهغه ئې دمکه مکرمې د دوو غرونو په منځ کې ایخودې وه او چه کله ئې دنیا اباده کړه او ادم علیه السلام ئې پیداکړو نو هغه ته ئې اووی چه دا زما کور دی او مونځ چه کوې نو دې طرف ته به مخ کوئ بیا د طوفان نوح علیه السلام نه پس حضرت نوح علیه السلام د هغې ابادئ وکړو رو رو بیا کله چه ابراهیم علیه السلام پیدا شو او هغه ته نبوت میلاو شو هغه په عراق کې وو نو الله رب العزت ورته د بیت الله هغه ابادئ او بنیادونه ورته وخودل.

وَإِذْ بَوَّأْنَا لِإِبْرَاهِيمَ مَكَانَ الْبَيْتِ أَن لَّا تُشْرِكْ بِي شَيْئًا وَطَهِّرْ بَيْتِيَ لِلطَّائِفِينَ وَالْقَائِمِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ: (١)

ابراهيم عليه السلام ته ما وخودل چه دا د بيت الله شريف بنيادونه دي نو د هغه بنيادونو د پاره ابراهيم عليه السلام خپل ځوئي راوستو او پلار او ځوئي دواړو په اخلاص باندې ابادئ جوړ کړو.

## د مدرسي ضروريات

د مدرسې د پاره يو څو اشياء پکار دي.

اول نمبر: د مدرسې د پاره ابادئ پکار دي.

دويم نمبر: د مدرسې د پاره استاذ پکار دی.

دريم نمبر: د مدرسې د پاره طالبان پکار دي.

څلورم نمبر: د مدرسې د پاره يو نصاب پکار دی.

پنځم نمبر: د هغې مدرسې د پاره څه مقصد پکار دی.

دا کوم آياتونه چه مالوستلي دي پديکې الله رب العزت دا پنځه خبرې کوي او زمونږ پدې رور قابل شاه صاحب باندې الله رب العزت احسان کړي دی چه د د په زړه کې الله رب العزت دا اوغورځول چه زه د دين د مرکز د پاره يو، ځمکه ورکومه اويو حديث دی دی مولوي صاحب اووی او اشاره ئې ورته وکړه.

---

١- سورة حج - ٢٦

حدثنا قتادة عن مطرف عن أبيه قال أتيت النبي صلى الله عليه وسلم وهو يقرأ ألهاكم التكاثر قال يقول ابن ادم مالي مالي قال وهل لك يا ابن ادم من مالك إلا ما أكلت فأفنيت أو لبست فأبليت أو تصدقت فأمضيت : (۱)

نبي صلى الله عليه وسلم فرمائي انسان وائي زما مال زما مال د د په مال كې د د درې حصې دي.

۱- هغه چه د واغوسته او زړه ئې كړه د دې هيڅ اجر نشته او دغه اجر ئې دى كه په نيك نيت دي واغوسته چه عبادت به پرې كوم .

۲- يا دې اوخوړو او اودي غورځوو.

۳ - يا دى صدقه كړه او د الله په لاره كې دى وركړه نو بس داستا مال دى

## دنيا د الله ده او الله ته پاتي ده

عزتمندو: مونږ كه دعوى كووچه دا پټي دا ځمكه دا كور زما دى دا ټولې ددروغو دعوى دى الله رب العزت په قران كې دوه قِسمه تعبير كوى.

۱ – تعبير الله وائي لِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ د ځمكې اود اسمان مُلک دا د چا دی؟دا د الله دی د دې مالک څوک دی؟ الله دی او بيا د الله خوښه ده چا له ترينه څه وركوي او كنه.

قُلِ اللَّهُمَّ مَالِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَاءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَاءُ وَتُعِزُّ مَنْ تَشَاءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَاءُ بِيَدِكَ الْخَيْرُ إِنَّكَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ : (۲)

---

۱- صحيح مسلم تحقيق عبد الباقي : جلد ٤ صفحه ۲۲۷۳ كتاب الزهد والرقائق

۲- سورة ال عمران – ۲٦

الله وائي داسې اووائي اې زما خدائی د دې ټول کائنات بادشاه ته ئې ستا خوښه ده چا له ترینه لګه غوندې بادشاهي ورکوې او ده چا نه ئې اخلې خو بادشاهي ده چا ده ؟ ده یو الله ده.

۲ – تعبیر ترینه الله کوی وَلِلَّهِ مِيرَاثُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ دځمکې او د اسمان میراث دا د الله دی.

او میراث دیته وائې چه یو سړی مړ شي او مال ترینه پاتې شي مونږ ټول به مرو او دا مال د الله دی .

عزتمندو:که زه اووایم چه دا قابل شاه صیب یا بل یو تن وائې چه دا زما ځمکه ده نو دروغجن دي ځکه مونږ چه کله مونږ دی دنیا ته راتلو نو مونږه د ځان سره ځمکه راوړې وي ؟ تش توررا غلې وو لغړسوغړ راغلې وو جامې هم نه وې.

که یو سړی په بریتو لاس وهي چه دا زما ده پلار نیکه جائیداد دی نومونږ ورته وایو چه مونږ ستا د هغه پلار نیکه خبره کوو ستا پلار نیکه چه راتله نو هغوئ د ځان سره څه راوړې وو؟ دا د الله مال دی پدې باندې دعوې مه کوه او که دعوی پرې کوې نو داسې دعوی پرې اوکړه چه حفاظت ئې وکړه او د الله په لاره کې ئې اولګوه.

نو حضرت ابراهیم اواسماعیل علیهم السلام ته چه کله الله رب العزت ده بیت الله بنیادونه وخودل نوهغوئ دواړو ابادئ کوو ابراهیم علیه السلام دیوالونه وهي او اسماعیل علیه السلام ګټې ورکوي او دا دیوالونه چه په کومه قواضه باندې وهل هغه قواضه نن هم شته تاسوکې حاجیانو صاحبانو به هغه قواضه لیدلې وي ده بیت الله شریف مخې ته یو میناره غوندې ده نو

په هغه میناره کې د ننه چه سړی وګوري نو یوه ګټه ده پکې دوه خپې دي دا ګټه دا قواضه وه او څومره چه به بیت الله شریف دنګېدو نو دومره به دا ګټه دنګېده اوبیاچه کله بیت الله شریف آبادشو نودا ګټه بیا خپل حال له راغله او الله رب العزت ده یوې نښې په حیثیت سره وساتله او بیا ئې دا هم اوری چه دا یو داسې مبارک ځائې دی وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى ابراهیم علیه السلام چه کوم ځائې کومه علاقه باندې ولاړ و په هغه ځائې باندې مونځ کوئ نو هغه ځائې د عبادت ځائې دی.

## د بیت الله تعمیر او د ابراهیم علیه السلام دعاګانې

ابراهیم علیه السلام دیوال وهي او اسماعیل علیه السلام ګټې ورکوي الله رب العزت ته دا منظر غوره راغلی دی او دا منظر الله دنیا ته پیش کوی.

وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَاهِيمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ وَإِسْمَاعِيلُ رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ: (۱)

کله چه ابراهیم علیه السلام د بیت الله شریف بنیادونه پورته کول او اسماعیل علیه السلام ګټې ورکولې دواړو دعاګانې کولې ابراهیم علیه السلام دعا کوله او اسماعیل علیه السلام پرې امین وی څه ئې وی؟وی الله دا ابادي زمونږ نه قبول کړې.

قابل شاه صیب له اول سوال دپکار دی چه اې الله دا ځائې زه ورکومه خو هسې نه چه قبول نه شي یاالله ته دا بخپل دربار کې قبول کړه او تاسو ورله هم دعا کوئ چه یاالله ته ئې قبوله کړې.

---

۱- سورة بقره - ۱۲۷

نو هغوئ اول ابادئ کوه نو اوی وی یاالله ته زمونږ نه قبول کړی اې الله د هرڅه اوریدونکي ته ئې بل څوک نشته هرڅه چه اوري يو الله ئې اوري نه بل څوک نه ولي نه نبي نه پیرنه فقیر هر څه اوریدل دا صرف د يو الله کار دی .او الله سميع او عليم ته ئې.

اوبيا ئې دعاکوله چه الله يوازې دا نه چه مونږ د دين کارکوو او دا بلډنګونه جوړو صرف.

رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِنَا أُمَّةً مُسْلِمَةً لَكَ وَأَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبْ عَلَيْنَا إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ: (١)

الله مونږ هميشه خپل تابعدار اوګرځوه او اې الله زمونږ په اولاد کې هم يو ډله ستا تابعداره کړي.اوالله دا نه چه دا ځاني مونږجوړ کړو نو پدې به مونږ خلاص شو الله مونږه د دين معلمان کړي د دين طريقې مونږ ته اوښائي د دين لارې مونږ ته اوښايې نو مونږ هم وايو چه ياالله د دې قابل شاه صيب بچو ته او د دې کلي ماشومانو ته د دين لارې وښائي اې الله په مونږ باندې مهرباني اوکړي ته مهرباني کوونکي رحم کوونکي ئې.

بيا چه کله دا دعا وکړه نو بيا نوره دعا کوي او وائي.

رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولًا مِنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيهِمْ إِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ: (٢)

---

١- سورة بقره - ۱۲۸

٢- سورة بقره - ۱۲۹

اې ربه زماپدې کلي اوليکې يو معلم د دوى نه کله چه مدرسه جوړه شي نو د هغې د پاره د معلم ضرورت وي نوابراهيم عليه السلام وائي چه اې الله پدې کلي کې د دوى نه يو معلم راوليکې.

ستاسو د دې کلي څومره خوش قسمتي ده چه الله رب العزت د بهرنه معلم راوليکو اولکه زمانه پس ستاسي پدې کلي به خپل معلمان پيدا شي.

ماچه کله په کوهي بزمول کې کار شروع کړو زما ياد شي چه زمونږ په کلي د ماسخوتن مونځ نه وو ځکه د اکثر خلقو دشمنياني وى دوه يايوکس به په جماعت کې د مولاصيب سره وو او نن د الله رب العزت په فضل اوکرم سره زما هغه کلي هر وقت د مونځ گوزارو نه ډک وي.

## د معلم ذمداري

اې الله پدې کلي کې د دوى نه يو پيغمبر يو معلم راوليکې چه لولي به په دوى باندې يعني مدرسه تياره شوه معلم اوشو او طالبان هم اوشو نو لولي به ورته څه ؟ نو د دې څلور مراتب دى.

۱- اول به دې خلقو ته ستا آياتونه لولي. الف با تا ثا بيا الم ۞ ذَٰلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِلْمُتَّقِينَ.

۲- کله چه د دې کتاب الفاظ زده کړي نو بيا ورته قران کريم ښائي او د قران کريم تعليم به ورته ورکوي هغه د مصعب بن عمير رضى الله عنه چه څنګه مدرسه وه هغه شان مثالي مدرسه به ترينه الله جوړوي.

۳- د دين شرحه به کوي د پيغمبر صلى الله عليه وسلم احاديث به بيانوي د ام المؤمنين رضي الله عنها نه چا تپوس اوکړو.

عن سعد بن هشام بن عامر قال أتيت عائشة فقلت يا أم المؤمنين أخبريني بخلق رسول الله صلى الله عليه وسلم قالت كان خلقه القرآن أما تقرأ القرآن قول الله عز و جل وإنك لعلي خلق عظيم قلت فإني أريد أن أتبتل قالت لا تفعل أما تقرأ لقد كان لكم في رسول الله أسوة حسنة فقد تزوج رسول الله صلى الله عليه وسلم وقد ولد له

تعليق شعيب الأرنؤوط : حديث صحيح : ([1])

چه د نبي صلى الله عليه وسلم دين څه وو؟ موليان د دې حديث غلطه معنى کوي.

چه تپوس ئي ترې اوکړو چه د نبي صلى الله عليه وسلم اخلاق څه وو ؟ اخلاق مراد نه دي خُلُقْ دين ته وائي لکه إِنْ هَذَا إِلَّا خُلُقُ الْأَوَّلِينَ نو خُلُقْ به معنى د دين باندي نو تپوس ئي ترينه اوکړو چه د نبي صلى الله عليه وسلم دين څه نو هغې ورته وی د نبي صلى الله عليه وسلم دين قران وو که قران به تامسموع په غوږنو اوريدونکي نو هغه به دغه وو اوکه تا چلتا پهرتاجيتا جاګتا قران دی کتلی نومحمد رسول الله صلى الله عليه وسلم ته به دې کاته نو هغه د قران کريم چلتا پهرتا نمونه وه او د نبي صلى الله عليه وسلم اقوال او افعال د قران تشريح وه.

٤- څلورمه مرتبه کې د دې تعليم او ده تعلم مقصد وَيُزَكِّيهِمْ د دوې ده نفسونو تزکيه به کوي.

[1]- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ٦ صفحه ٩١ حديث السيدة عائشة رضي الله عنها

## د مصعب بن عمير رضى الله عنه د مدرسي کردار

عزتمندو : د مصعب بن عمير رضى الله عنه مدرسه نن ئي هم دنيا يادوي لګ غونډي طالبان ئي پيدا کړي وو اوبي لاسو اوبي خپو هيڅ شي ورسره نه وو خو ده دنيا يو سوپر طاقت ئي صفرکړي وو.

د مصعب بن عميررضي الله عنه د مدرسي چه کوم طالبان وو بي سرو سامان جامئ ئي نه وي او توري ورسره نه وي د بدريه جنګ کي ورسه دره توري وی خو صرف د الله په ذات باندي توکل ووخو د دنيا سپرطاقت نه ئي صِفر جوړ کړي وو.

د مکي خلقو ته به نوري دنيا ډير په درانه نظر باندي کتل او ټول خلق د هغوئ تابعدار وو او د مکي د خلقو خلاف کول دا په قوت د خطا کي وو او د ټول عرب نه ايک هزار نامتو ځوانان مسلح راغلي وو او د مصعب بن عمير رضى الله عنه د طالبانو د لاسه ئي شکست اوخوړ ځکه د هغوئ د نفوسنو تزکييه داسي شوي وه نو دا قران کريم او دا قراني مدرسي دا د خلقو د نفسونو تزکيي کوي او بياالله فرمائي.

وَمَنْ يَرْغَبُ عَنْ مِلَّةِ إِبْرَاهِيمَ إِلَّا مَنْ سَفِهَ نَفْسَهُ وَلَقَدِ اصْطَفَيْنَاهُ فِي الدُّنْيَا وَإِنَّهُ فِي الْآخِرَةِ لَمِنَ الصَّالِحِينَ: ([1])

د ملت نه دلته مراد دين نه دی خلق ئي معنی غلطه کوي اصل معني ئي دا د چه د ابراهيم عليه السلام دا طريقه چه هغه اول مدرسه جوړه کړه او بيا ئي د مدرسي د پاره معلم او طالبان او نصاب منتخب کړه د دې طريقي نه چه څوک اوړي راوړي نو دي به ځانله دهوکه ورکوي دا به

---

[1] سورة بقره – ۱۳۰

يو بې وقوف سړی وی چه د ابراهيم عليه السلام د طريقې نه اوړي د دين د خودلو او د دين د زده کولو هم دغه يوه طريقه ده.

ابراهيم عليه السلام چه کومه طريقه کړې دا د ابراهيم عليه السلام د غوره والي وجه وه هغه ماغوره کړي ووځکه دې طرف ته مائل شوی وو په دنيا کې خو غوره غوره وو خو په اخرت کې به د صالحينو نه وي.

إِذْ قَالَ لَهُ رَبُّهُ أَسْلِمْ قَالَ أَسْلَمْتُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ: (۱)

هغه په عقل کې دومره پخې مرتبې ته رسيدلئ وو چه الله ورته وې تابعدار شه نو هغه ورته په جواب کې وي الله ستا به ولې نه تابع کيږم ته خو رب العالمين ئې.

مناطقه ديته قضية فطرية وائي يعنې هغه جمله چه دليل هم ورسره وي لکه يو سړې خپل پلار ته کنځل کوي هلکه خدائی دې غرق کړه خپل پلار ته څوک کنځل کوي دا خو ستا پلار دی د ته کنځل مه کوه.

ابراهيم عليه السلام وائي الله ستابه ولې نه تابع کيږم ته خو رب العالمين ئې.

## مدرسي جوړول د ابراهيمي خلقو کار دي

عزتمندو مدرسې جوړول او د مدرسو د پاره ځائي ورکول دا هميشه د ابراهيمي خلقو کار دی اودازمانه نن صبا تاسو ته پته شته دا خلق خراب شويدي. علامه اقبال يو ځائي کې وائي.

يه دور اپنے ابراہيم کی تلاش ميں ہے

صنم کده ہے جہاں لا اله الا الله

---

۱- سورة بقره - ۱۳۱

دا دور هم يو ابراهيم غوارړي او په هر کلي کي يو ابراهيم غوارړي چه هغه د دين مرکز جوړ کړي او ده دين په مرکز کي طالبان کينوي ده هغوئ مرسته وکړي او ده کلي خلق هم ده هغوئ مرسته وکړي او ده هغي نه څه کسان اوځي او هغوئ هغه دين اوچت کړي .

عزتمندو : نن چه په مونږ پورې اغيار خاندي او مونږ په پاکستان کي ګيره نه شو پريخودي اوګده ويخته نه شو پريخودی دا ولي ؟ دا ځکه چه زمونږ هغه ايمان نشته که نن هم د ابراهيم عليه السلام ايمان پيدا شو .

نو نن هم اوور تاته باغ کيکي خو مونګ له پکار دا دی لکه څنګه چه ستاسو پدي کلي کي قابل شاه صيب دا کار اوکړو او قابل شاه صيب د دي قابل الله دی ورله اولاد هم دغسي قابل کړي او تاسو له دي الله رب العزت د دي مدرسي نه نفع درکړي هر يو کس له دا پکار دي چه هغه دغسي اووځي او دا خبره دي وکړي چه د خو دا ځائي ورکړو مدرسي د پاره خو زما دا ځائي واخلئ او خرڅ ئي کړئ او دا مدرسه پري جوړه کړئ دی مولوي صيب يو حديث اووی ما ته هغه حديث د دي نه لکه تفصيلي ياد دی نبي صلی الله عليه وسلم فرمائي.

عَن ابنِ عباس رَضِيَ الله عنهما عن النبي صلى الله عليه وسلم قال من بنى مسجدا ولو كمفحص قطاة لبيضها بنى الله له بيتاً في الجنة : (۱)

چا چه د دين يو مرکز جوړ کړو او جومات د دين مرکز وي کنه او هغه که دخراړي د جالي هومره ولي نه ووالله ورله په جنت کي کور ورکوي.

۱- مسند بزار : جلد ۲ صفحه ۱۹۱ مسند ابن عباس رضي الله عنهما

# دعا

الله ب العزت دې د دې قابل شاه صيب دا هديه چه الله ئي ورکړي ده دا دې الله قبوله کړي.

الله تبارک وتعالى د دې اثر پده کې د ده په اولاد کې او دده پدې کليوالو کې او پدې علاقه کې الله دې ښه اثر وغورځوي.

الله رب العزت دې مونږ او تاسو او ده دنيا ټول مسلمانان پدې باندې ثابت او قائم کړي چه مونږ هميشه دغسې ده دين امداد کوو او اسلام هميشه بې يار او بې مددګار شروع شوی دی او بيا به هم بې ياره او بې مددګاره به پاتې کيږي نبي صلى الله عليه وسلم فرمائي هغه بې ياره او بې مددګاره خلق چه څوک تپوس نه کوي ده هغوئ د پاره خوشحالي ده الله دې مونږ پدغه فهرست کې شامل کړي.

الله رب العزت دی دې قاری صيب له توفيق ورکړي چه پدې کلي کې بغير د څه لالچ او ده طمع نه خالص مخلص ده الله ده رضا د پاره ده الله ده دين کار وکړي الله دې داسې د دې قبوله کړي.

امين

واخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمين

# موضوع : د علماؤ ذمداری

الحمدلله الذی ارسل رسوله بالهدی ودین الحق لیظهره علی الدین کله وکفی بالله شهیدا واشهد ان لا اله الا الله وحده لاشریك له اقرارا به وتوحیدا واشهد ان سیدنا وسندنا ومولانا محمدا عبده ورسوله صلی الله تعالی علیه وعلی اله واصحابه وسلم تسلیما مزیدا

امابعد

فَأَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

لِإِيلَافِ قُرَيْشٍ ۞ إِيلَافِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَاءِ وَالصَّيْفِ ۞ فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَذَا الْبَيْتِ ۞ الَّذِي أَطْعَمَهُمْ مِنْ جُوعٍ وَآمَنَهُمْ مِنْ خَوْفٍ

## تمهید

عزتمندو مسلمانانو رونړو :

زه ستا رواندې یو دوه څلورخبرې کومه الله دې څما د خولې نه صحیح خبرې اوباسي او الله دې صحیح خبرې ستاسو زړونو ته کوزې کړې او الله دې بیا پرې مونږ له د عمل کولو توفیق راکړي.

عزتمندو : د قران عظیم یومختصر سورة سورة قریش ما ستاسو مخکې اولوستو پدې سورة کې الله رب العزت د علماء او د عابدینو ذمواریٔ بیانوي چه د دواړو څه څه ذمداریٔ دی.

عالم او عابد دواړه ده یو بل سره ترلې خلق دی عبادت تر هغې پورې قبول نه وي ترڅو پورې چه د علم په رنړاکې نه وي اوعلم تر هغې پورې قبول نه وي تر څو پورې چه عبادت ورسره یوځائې شوی نه وي.

## د شعائر الله تعظیم

قریش د مکې خلق وو او په مکه کې اوسیدل شاه صیب لیکلي چه د، الله رب العزت شعائر درې دي.

۱- کتاب الله ۲- رسول الله صلی الله علیه وسلم ۳- بیت الله

په یو زمانه کې رسول الله صلی الله علیه وسلم لا تشریف نه وو راوړې او قران کریم لا نه وو نازل شوی نو بیت الله چه د الله رب العزت د شعائرو نه وو نو د هغې د احترام د وجې نه الله رب العزت د مکې اوسیدونکو (قریشو) ته امن په هغه زمانه کې ورکړي وو کله چه تول دنیا بې امنه وه.

په معمولي معمولي خبرو باندې به جهګړې شروع شوی او هغه به ترکلونو کلونو جارې وي خو د دې څیزونو نه قریش په امن کې وو چارچاپیره په خلق تختولې کیده اغواء کیده به خو د حرم خلقو ته امن وو او په سورة قصص کې هم الله فرمائي.

أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا آمِنًا وَيُتَخَطَّفُ النَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ أَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُونَ وَبِنِعْمَةِ اللَّهِ يَكْفُرُونَ : (۱)

ایا دوی دیته سوچ نه کوي چه حرم ما د امن ځائې کرځولی دی او د حرم نه ګیرچاپیره خلق اغوا کیږي او تختولې کیږي خلق به ئې اوتختول او

---

۱- سورة قصص - ۶۷

حلال به ئي کړه اغواء به ئي کړه او پيسې به ئي ترينه اغستې خو صرف د بيت الله حرمت او د عزت د وجې نه په عربو کې د قريشو دا امتياز وو چه هغوئ به چرته تلل نو هغوئ ته به امن وو او دغسې خلق اوکي وو او قريش ماړه وو دا صرف او صرف په دريو شعائرو د الله کې د يوې شعيرې چه بيت الله وو د هغې حفاظت ئي کولو نو چه کله هغوئ د دې عزت او حفاظت کولو نو الله ورله دوه نعمتونه ورکړي وو.

۱- امن ۲- موړوالی

کله چه جناب رسول الله صلی الله عليه وسلم کتاب الله دنيا ته پيش کړو او د مکې خلقو اول انکار اوکړو نو تاسو ته پته شته چه بيا د مکې د خلقو څه حال وو؟ په هغوئ باندې الله رب العزت يوه لوګه راوسته او.د هغه آيت فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُّبِينٍ لاندې دبعضې مفسرينو دا قول هم دا چه د دی نه هغه لوګي مراد دي چه د لوږې د لاسه خلقو ته دا ټول عالم لوګئ ښکاريدو.

داسې وخت راغی چه هغوئ به څرمنې خوړې داسې وخت راغی چه هغوئ به هډوکې خوړل او بيا يو وخت داسې راغی چه يو سړی به قضاء حاجت ته ناست وو نو لس شل کسان به په انتظار ولاړ ووچه دې به کله پاسي چه هغه کله پاسيدو نو د هغه په غُلو باندې به د خلقو جهګړه وه يو وی چه زه به ئي خورم بل به وی چه زه به ئي خورم دا په هغه وخت کې کله چه هغوئ د کتاب الله او د رسول الله صلی الله عليه وسلم بې عزتي اوکړه.

# د نبي صلی الله علیه وسلم مکي والو ته دعوت ورکول

عزتمندو:خبره لګه د سوچ ده رسول الله صلی الله علیه وسلم چه کله راغی مکه کې پیدا شو څلویښتو کالو پورې کله چه هغه د رسالت دعوی نه وه کړې نو په مکه کې هغه د امین او د صادق په نوم باندې مشهور وو.

مشهوره واقعه ده چه ده بعثت په اول وقت کې نبي صلی الله علیه وسلم ده مکې خلق ئې راجمع کړه او تپوس ئې ترینه وکړو.

یا ایها الناس لبثت فیکم عمرا من قبله فهل وجدتمونی صادقا ام کاذبا قالوا قد جربناك مرارا فما وجدناك فیك الا صدقا

اې د مکی خلقه د نن نه مخکې ما په تاسو کې ډیر زمانه تیره کړی ده ایا تاسو ریشتنی موندلی ئم اوکه دروغجن؟ هغوئ جواب ورکړه مونږ په تا ډیرې تجربې کړی دې مونږ په تاکې بغیر د ریشتیا ؤ نه څه نه دی موندلی بیا نبي علیه السلام د هغوئ د دی جواب د هغوئ نه امتحان اخلی او ورته وائي که زه دا ووائم چې د صفا د غر لاندې یو لښکرناست دې او په تاسو باندې حمله کوی آیا ستاسو زما تصدیق کونکی ئې؟

دا جمله انشائیه ده او دا دواړه مبتدا خبر دی او استفهام پرې داخل شوی دی استمرار پکې دی معنی دا چه تاسو به ټول عمر زما تصدیق کوئ هغوئ ورته وی آو زمونږ سترګې دهوکه کیدې شي خو د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم خوله نشي دهوکه کیدلی.

د دې حاجیانو صاحبانونه تپوس وکړئ چه د صفا غرڅومره دنګ دی ؟ وړکې غوندې غر دی نبي صلی الله علیه وسلم چه دهغوئ امتحان اخلي نو پدې اندازه ئې اخلي.

# د مکي د خلقو په نبي صلی الله علیه وسلم باندي مختلف الزامات لګول

چې کله نبي صلی الله علیه وسلم د الله د کتاب دعوت پیش کړو نو خلقو ترینه انکار وکړو او د نبي صلی الله علیه وسلم تکذیب ئې شروع کړو او بیا په هغه باندې قسما قسم افتراءګانې شروع کړې.

یو افتراء چه هغه د مکې د خلقو یو عظیمه افتراء وه هغه په محمد رسول الله باندې دا وه . قران کې الله رب العزت فرمائي.

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ هَذَا إِلَّا إِفْكٌ افْتَرَاهُ وَأَعَانَهُ عَلَيْهِ قَوْمٌ آخَرُونَ فَقَدْ جَاءُوا ظُلْمًا وَزُورًا : ([1])

الله وائي کافرانو به وی چه دا قران دی پیغمبر د ځان نه جوړکړي دی او د دې سبب دا دی چه یهود اونصاری د له امداد ورکوی ځکه په هغه وقت کې لوئي قوم او لوئي خلق یهود او نصاری وو اولنی تهمت په قران او په پیغمبر باندې د هغوئ دا ووچه دا قران د ځان نه جوړکړي شویدی او محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د بل په اشارو باندې چلیږي او دا داسې اعتراض دی چه په هر زمانه کې هر یو کافر او هر یو د کافرو نمائنده په حق پرستو باندې کوي.

چاچه قران لاس ته کړي دی نوځوک وائي د له د امریکي نه تنخوا راځي او ځوک وائي د له د فلاني نه او د فلاني نه تنخواه رازي نو په محمد رسول

---

[1] - سورة فرقان - ٤

الله صلى الله علیه وسلم باندې اولنی اعتراض دا وو چه قران دی دروغجن دی او ته ده چا په اشارو باندې چلیږي.

دارنګه سورة ص کې الله فرمائي چه د مکې خلقو به وی.

أَجَعَلَ الْآلِهَةَ إِلَٰهًا وَاحِدًا إِنَّ هَٰذَا لَشَيْءٌ عُجَابٌ ۞ وَانطَلَقَ الْمَلَأُ مِنْهُمْ أَنِ امْشُوا وَاصْبِرُوا عَلَىٰ آلِهَتِكُمْ إِنَّ هَٰذَا لَشَيْءٌ يُرَادُ: (1)

ایا هغه ټول مددګاران د هغوئ هغه ټول کارونه د یو خدائی ته حواله کړه دا یو ناشنا خبره ده چه دا د د نه غوختلی کیږي دا دی د چا په اشارو باندې لګیا دی نو هر کله چه دوی د قران او د نبي صلى الله علیه وسلم غبرګ تکذیب اوکړو نو الله پرې غول وخوروڵ سری بهرته ناست وو دوی به انتظارکوو چه کله دی راپاسي او د هغه په ګندګی باندې به ئې جهګړه وه او هغه به ئې اوخوړل.

بیا د قران او د محمد رسول الله صلى الله علیه وسلم دشمنۍ پدۍ باندې هم بس نه وه کله به ئې وې.

وَقَالُوا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ اكْتَتَبَهَا فَهِيَ تُمْلَىٰ عَلَيْهِ بُكْرَةً وَأَصِيلًا: (2)

وی به دوی چه دا ده زړو خلقو قیصې او دائي په چا باندې لیکلې دي صبا اوبیګاه د ته بیانیږي اودې ئې بیا خلقو ته وائي دا د د خپلې خبرې نه دي دا د د چا نه زده کړیدي.

واقعه: پخوا دې علاقې ته چه کله شاه اسماعیل شهید رحمة الله علیه راغلی وو د هغه خلاف چه کومه پروپیګنده شوې وه نو په هغې کې دا خبره هم وه

---

1- سورة ص - ۵ - ٦

2- سورة فرقان - ۵

چه هغه زاړه وهابيان د هغوئ يوه پرخوره دي وطن ته راغلى ده او دا خلق گمراه کوي نو دا ده چا په اشارو باندې لگيا دي.

کله کله به ئي چه د محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم نه به چه خلق را اړول نو خلقو ته به ئي وى.

إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلًا مَّسْحُورًا: (۱) ده مسحور دوه معاني دي.

۱- يو مسحور د سحر نه مفعول دې خلقو ته به دوى وى تاسو په يو داسې سړي پسې روان ئي چه په ده باندې چا جادو کړيدي.

۲- بعض وائي چه دا مسحور اسم معفول ذوكذا دى يو اسم فاعل ذو كذا وى د امن معنى ذو امن لابن معنى ذو لبن تامر معنى ذوتمر كهجورې خرڅونكى ته تامر وائي ديته اسم فاعل نسبتي يعنى اسم فاعل ذو كذا وائي مسحور معنى ذا سخر ورئية دې لرې واله دى دي د خلقو نه په دې باندې روټي خورې دى د خلقو نه پډې باندې اغستل كوى .

او دې پيغمبر نه دې ځكه چه پيغمبر د ډوډۍ وغيره د خوراک نه مبراء وي . وَقَالُوا مَالِ هَٰذَا الرَّسُولِ يَأْكُلُ الطَّعَامَ وَيَمْشِي فِي الْأَسْوَاقِ: (۲)

ډوډۍ خورې او په بازارونو کې گرځي دا قسم الزامات هغوئ په محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې لگولي وو.

---

۱- سورة فرقان - ۸

۲- سورة فرقان - ۷

# د مکي د خلقو د قرآن نه انکار کول

او د قرآن باره کې هغوئ وئيلي وو الله فرمائي.

قَالَ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا ائْتِ بِقُرْآنٍ غَيْرِ هَذَا أَوْ بَدِّلْهُ قُلْ مَا يَكُونُ لِي أَنْ أُبَدِّلَهُ مِنْ تِلْقَاءِ نَفْسِي إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَى إِلَيَّ إِنِّي أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ : ([1])

څوک چه زما ده پیښئ نه نه یریدو نو هغوئ به وی چه دا قران پریده بل څه کتاب راته اوروایه قران له پکې ګوتې مه وروړه بل څه کتاب راته پکې اوروایه دا یاد وساتئ چه د تبلیغ کتاب قران دی او د دین د رسولو کتاب هم قران دی الله خپل رسول ته وائي چه.

يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ : ([2])

اې پیغمبر اې رالیږلی شوی ته مې څه د پاره رالیږلئ يې ؟ بَلِّغْ علماء کرام معنی کوي چه امر د پاره د استمرار دی همیشه رسوه همیشه رسوه همیشه تبلیغ کوه خو د څه شي تبلیغ کوه ؟د هغه کتاب چه تاته ستا د رب د طرف نه رالیکلی شویدی که تا د الله دکتاب درس اونه کړو که تا د الله د کتاب بیان اونه کړو که د الله کتاب خلقو ته اونخودوګويا تا د الله ډیوټي پوره نه کړه.

---

[1]- سورة يونس - ١٥

[2]- سورة مائده- ٦٧

مشهور حنفي تفسير تفسير مدارک د دې مصنف عبدالله بن محمد بن محمود النسفي دی او یو عمر النسفي دی چا چه العقائد لیکلی دی اوچا چه تاریخ د سمرقند لیکلی دی القند فی ذکر علماء سمرقند د هغه نوم عمر النسفي دی او یو عبدالله بن محمد بن محمود النسفي دي د د یو کنز دی په فقه حنفي کې مشهور متن دی او بل د هغه تفسیر دی تفسیر مدارک التنزیل او په تفسیر نسفي باندې مشهور دي هغه د دې ایت د لاندې لیکي.

أي فلم تبلغ إذا ما كلفت من أداء الرسالة ولم تؤد منها شيئا قط وذلك أن بعضها ليس بأولى بالأداء من بعض فإذا لم تؤد بعضها فكأنك أغفلت أداءها جميعا كما أن من لم يؤمن ببعضها كان كمن لم يؤمن بكلها

چا چه د قران یو کلمه یو درس یوه مسئله یو وعظ چا د زور د وجې نه پریخوده نو د ټول قران اونه رسولو او د مشهور صحابي حضرت علی کرم الله وجهه قول دی.

من تركه من جبار قصمه الله ومن تتبع الهدى في غيره أضله الله هو حبل الله المتين والذكر الحكيم والصراط المستقيم هو الذي لما سمعته الجن قالت إنا سمعنا قرآنا عجبا هو الذي لا تختلف به الألسن ولا تخلقه كثرة الرد: (١)

چاچه دا قران کریم دجابر د ظلم د وجې نه پریخودو نوالله به ئې ریچې ریچې کړي. نو هغوئ وی.

---

[1]- سنن دارمی : جلد ٢ صفحه ٥٢٦ باب خیارکم من تعلم القرآن وعلمه

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ قَالَ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا ائْتِ بِقُرْآنٍ غَيْرِ هَٰذَا أَوْ بَدِّلْهُ قُلْ مَا يَكُونُ لِي أَنْ أُبَدِّلَهُ مِنْ تِلْقَاءِ نَفْسِي إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰ إِلَيَّ إِنِّي أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ :(١)

کله چې په دوی باندې زما واضحه دلائل اولوستلی شی نوکوم کسان چې هغوئ زما د پیشی نه نه یریګی هغوئ وائی ائْتِ بِقُرْآنٍ غَيْرِ هَٰذَا دا قرآن پریږده او د دی په ځائ باندې څه بل کتاب اووایه مونږ ئي درسره منو الله تعالی وائی چې کله زما دلائل واضحه اولوستی شیقَالَ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا ائْتِ بِقُرْآنٍ غَيْرِهَٰذَاکوم کسان چې زما دپیشئ یقین نه ساتی یریګی نه هغوئ وائی دا قرآن پریګده او بل راوړه او کنی نو په دې کې څه ترمیم اوکړه؟

## قران کریم الله رب العزت د ټولې دنیا د پاره رالیګلې دي

یو د قران تفسیر دی او بل د قران په تفسیر ځان پوهه کول دی په تفسیر کې شک نشته چه دا څوارلس علومو ته محتاج دی یو دی د قران په معنی او مطلب باندې پوهیدل نوالله رب العزت دا څوارلس علمه مولیانو له نه وو رالیګلی بلکه الله رب العزت فرمائي.

هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّينَ رَسُولًا مِنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِنْ كَانُوا مِنْ قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ : (٢)

١ - سورة یونس - ١٥

٢- سورة جمعه - ٢

الله هغه ذات دی چه په انېرو خلقو کي ئي رسول رالیږلی وو دې د پاره چه هغوئ ته زما قران اولولي. قران د امیانو د پاره راغلی دی.

## نبي صلى الله عليه وسلم معلم وو

ابراهیم علیه السلام چه کله د جناب محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د بعثت د پاره دعا کوله نو وی ئي .

رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولًا مِنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيهِمْ إِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ : (۱)

الله پدې کلي کې د دې کلی یو معلم راولیږي رسول معلم وی.

لکه حدیث کي رازي . وإنما بعثت معلماً : (۲)

نبي صلى الله عليه وسلم فرمائي زه الله معلم رالیږلی یمه .

رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولًا یاالله پدې کلي کي یو معلم راولیږي چه د دې کلي وی او ده هغه معلم به څلورکاره وی.

اول کار: يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِكَ واړه به راجمع کوي او لوئي به راجمع کوي او هغوئ ته به ستا قران ښائي یعنی د قران لفظ به ورته ښائي.

دويم کار : وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ د دې کتاب تعلیم به ورته ورکوي.

دريم کار: وَالْحِكْمَةَ د دې به ورته شرح کوي.

څلورم کار : د دې درې واړو ثمره ده وَيُزَكِّيهِمْ او د دوی نفس تزکیه به به قران باندي کوي.

---

۱- سورة بقره - ۱۲۹

۲- سنن دارمی : جلد ۱ صفحه ۱۱۱ باب في فضل العلم والعالم

# د قران تربيت

زما عزتمندو : قران عظيم الشان چه د خلقوکومه تزکيه کوي داسې تزکيه په دنيا کې يو کتاب هم نشي کولی او داسې د زړه صفائي هيڅوک نشي کولی.

تاسوته پته ده د مکې مکرمې نه چه د ۳۱۳ کسانو کوم لښکر مدينې ته تلی وو څه د مکې نه تلی او څه ئې هلته په مدينه کې تيار کړي وو د هجرت نه مخکې جناب نبي کريم صلی الله عليه وسلم مصعب بن عمير رضي الله عنه مدينې ته ليګلی وو او هغه هلته تياری کوو چه نبي صلی الله عليه وسلم کله مدينې ته ورتلو نو په مدينه کې ډير تياري شوی وو هغه اوګدهٔ واقعه ده چه څنګه تياري شوی خو بهرحال هغه ۳۱۳ کسان چه د بدر جنګ ته راتلل نو د هغوئ سره وسله نه وه ايتمي قوت ورسره نه وو سورلئ ورسره نه وي.

کومو کسانو چه هغه علاقه او هغه منظر ليدلی دی اصل کې د مدينې نه چه کله سړی بدر ته راځي پدې لاره کې غرونه دی او څمکه ده چه هغه ټوله داسې ټکرې ټکرې ده او ټول پکې داسې تيره تيره کانړې دی او په هغې کې دا خلق پيدل راغلی وو.

توري ورسره نه وي يو صحابي دی هغه وائي چه په هغه روغ باندې ما له نبي صلی الله عليه وسلم يو لرګئ راکړو او هغه لرګئ الله رب العزت زما لاس کې توره کړې وه او هغه بيا د هغه د نوسو سره وه او هغوئ بې سرو سامانه خلق وو او نبي صلی الله عليه وسلم د شپې پاسيدلې دی او لاس ئې پورته کړي دی او دعا کوي.

اللهم إن تهلك هذه العصابة من أهل الإسلام لا تعبد في الأرض : (١)

الله دا لږ غوندې جماعت دی که دا دې هلاک کړو هرګز هرګزبه ځمکه کې به ستاعبادت اونه کړي شي دیته هم لګه غوندې سوچ وکړئ که خضر علیه السلام ژوندی وی نو دنبي صلی الله علیه وسلم دا قول به صحیح وو لا تعبد في الأرض هغه لږغوندې خلق چه کله میدان ته راغله نو فتح د هغوئ په لاس کې وه او کوم خلق چه هغوئ سپر طاقت وو په وسپنو کې پټ وو د وقت مناسب هرقسمه اسلحه ورسره موجود ده خو دا خلق چه ځانته ئې سپر طاقت وی الله رب العزت صفر کړه او څوک چه خلقو ته صفر ښکاریدل هغه الله سُپر کړه د دې وجه څه وه ؟د دې وجه قران وه.

مولنا ظفر علی خان وائي :

فضاء بدر پیدا کر فرشتے تیری نصرت کو

اتر سکتے ہیں گردوں سے قطار اندر قطار اب بھی

خبره مې دا کوله چه قران په خلقو کې انقلاب راوستی وو.

## قران د انقلاب کتاب دي

قِنَّضْرِيْن جنګ ووبعض خلق ورته قُنْصَرِيْن جنګ وائي داخبره غلطه ده اصل نوم ئي قِنَّضْرِيْن دی د قِنَّضْرِيْن جنګ وو دا جنګ د هغه سړي سره وو چه هغه عرب د نزدې نه لیدلي وو څه ورځي مسلمان شوی وو او بیا مرتد شوی وو جبله ابن ایهم او د مسلمانانو د فوج سپه سالارسیف الله وو د الله توره او د الله توره نه ماتیږي او نه پسیږي نو جبله بن ایهم خالد

١- صحیح مسلم :جلد ٥ صفحه ١٥٦ باب الإمدادبالملائکة في غزوة بدروإباحة الغنائم

ته وائي چه ما ته پته ده چه تاسو څنګه خلق ئي؟ اوګي ترې خلق ئي پيسې درسره نشته جامې ستاسو نشته يو يو څادر تاسو اغوستي ئي دڅادر نه به ئي لنګ وهلې وو جامې به ئي نه وې توپي به نه وه پتکې به نه وو چرته د عربو د رواج مطابق به يو څادر به ئي د سر نه تاو کړې وو خوار غريبانان خلق وو نو هغه وې چه تاسو خوار خلق ئي ډيرې پيسې به درله درکړمه تاله به پکې ډيرې درکړمه نو هغه توره راواغسته او اوږقوله ئي او اوې وې هل تربصون بنا إلا إحدى الحسنيين په جنګ کې دوه خبرې دي الغنيمة أو الشهادة يعنى يا به سر ورکوم يا وطن اخلو او دريمه خبره زمونږ په کتاب کې شته نه.

چه کله اسلامي مبلغ د قران تبليغ کوي نو چه چاته دين رسوي نو هغه خلق يو وخت کې مشتعل کيکي چه کله مشتعل شي نو بيا د دې مبلغ د پاره درې لارې دي.

اوله لاره دا ده چه دوه خپلې کړې او دوه پردې کړې او راوتختي او داکار د دله سړي دى او ديته غير فطري لاره وائي.

دويمه لاره چه دي وائي خير دى ما وخه او دي به په خپله سترې شي ديته سستياګره وائي او دا د ګاندي لاره ده.

زمونږ دې مشرانو ته به يادوي په هندوستان کې پخوا يو تحريک چليدلې وو عدم تشدد به ئي ورته وې او دا هم د فطرت خلاف دى.

دريمه لاره دا ده چه ته په ميدان کې اودريږې نو ته خوخه قاتل نه ئي چه خلق به وژنې بلکې ته به هغه خپل مقابل ته وائي هلکه روره زمونږ سرا يوځائي شئ چه کله زمونږ سره يو ځائي شوئ نو زمونږ امير المؤمنين او

ستاسو كدا چه كله د دې دواړو مقدمه راشي نو دا دواړه به يو صف كې ولاړ وي او كله كله دا هم كيدی شي چه كدا د امير المؤمنين نه هم ښه وي دغه نه شئ منلی نو زمونږ تابع شي خو د تابع كيدو معنی دا.ده چه خپله ټوله اسلحه به مونږ له راكړئ تاسو سره به اسلحه بالكل نه وي كه هغوئ به وی كه په مونږ باندې دشمن راشي نو دوی به ورته وی مونږ يو كنه تاسويه آرام كينئ پخپلو كرجو كې د خپلو بوټانو عبادت كوئ ستاسو حفاظت زمونږ په ذمه خو دا خپل فوجي طاقت به ختموي او كه دا دواړه نه كوئ نوبياز مونږاوستاسومنځ كې نه لكي.

هغه خلق كوم چه مسلمانان وو هغوئ ورته وی زمونږسره دوه خبري دي يا مرگ دی يا شهادت دی بيا ئي ورته وی چه ماخو داسې خلق راوستي دی دا ته چه وينې په يو څادر كې چه ناست دي دا داسې خلق دی چه دوی په مكر دومره مئين دي لكه چه تاسويه دنيا مئين يئ هغه خلقو چه فتح كوله نو ده هغوئ سره كامل ايمان په قران وو.

علامه اقبال وائي.

وہ معزز تھے زمانے میں مسلماں ہو کر

اور ہم خوار ہوئے تارک قرآں ہو کر

مونږ قران پريخودلی دی ځكه مونږه ذليله شوی يو.

دا درې خبرې مي ذكر كړې څلورمه خبره پكې ده ډير بيغرتو خلقو ده او هغه دا ده چه كله درياندې كافر راشي نو خپل مسلمانان راپرزوه او هغوئ ته ئي حواله كوه دا قسم دله دا قسم بې غيرته دا قسم ديوث په دنيا كې چرته نشته دا صرف زمونږ په قسمت كې دي چه مونږ له الله راكړيدي.

## په صحابو رضي الله عنهم کي انقلاب قران راوستي وو

قران کريم د انقلاب کتاب دی انقلاب راولي او زندګی بدلوي کوم خلق چه هغوئ د خطاب اوښان نه شو ساتلی هغه په دنيا باندې امارت اسلامي تير کړيدي او الله ګواه دی چه دنيا د هغې د نظير پيش کولو نه عاجزه ده نه شرق او نه غرب.

واقعه : يو ځل يو مړی شوی وو په لاره کې پروت وو حضرت عمر رضي الله عنه چه به کله غصه شو نو دا خپله کيږه به ئي اونيوله او راخکله به ئي او وی به ئي چه عمره ته به الله ته څه جواب ورکوي چه د دې مړي قاتل څوک وو؟ لس مياشتې پس ئي هغه ځائي باندې يو ماشوم اوليدو نو چا ورته وی چه هلته يو ماشوم پورت دی نو حضرت عمر رضي الله عنه خوشحاله شو چه هغه لس مياشتې مخکې چه يو سړی مړ وو د هغه قاتل مې بيا مندو بيا ئي دا هلک يو ښځې له ورکړو چه دا په مدينه کې ګرځوه چه کومې ښځې ښکل کړو ما ته به هغه کور اوښائي نو د يو انصاري لور وه هغې ښکل کړو او سترګې ئي ورله تورې کړې نو هغه ښځې هغه حضرت عمر رضي الله عنه ته اوښوده نو حضرت عمر رضي الله عنه لاړو او هغه انصاري ته ئي وی ستاپه کورکې څوک دی؟هغه ورته وي لورمې ده حضرت عمر رضي الله عنه ورته وي واده شوی ده نو هغه ورته وي نه نه ده واده شوی حضرت عمر رضي الله عنه ورته وي زه دننه ورځم نو هغه ورته وی چه امير المؤمنين ته چا وئيلي دی چه دننه مه زه امير المؤمنين لاړو او سړی ئي د ځان سره کړو نو ښځې ته ئي وی وايه دا سړی دی ولی وژلې دی ؟ اوکه غگ نه کوي نو تورې ته ئي لاس کړو هغه خود

حضرت عمر رضي الله عنه توره وه هغه چه کله خليفه نه وونو د خلقو سرونه ئي وهل چه کله به چا د الله او د الله د پيغمبر خلاف اوکړو نو هغې ورته وی امير المؤمنين تادې اونه کړې خبره درته کومه اصل کې دا زما پلار راوستی وو او کوسه وو او د جينکو جامې ئي اغوستې وې نو زمونږ دا خيال وو چه دا جينۍ ده نو ما د هغه نه داسې پرده نه کوله لکه څنګه چه ښځه د بلې ښځې نه پرده نه کوي نو هغه يو وخت ومندلو او زه ئي غافله اومندلمه نو زما سره ئي زنا اوکړه نو ما مړ کړو نو د هغې نه د هغه دا څوئي پيدا شو نو دا مې د هغه په ځائې باندې اوغرځولو دا خبره لس مياشتې پس اوشوه تحقيق او تفتيش ئي نه دی کړې.

حضرت عمر رضي الله عنه به وی کچرې ده دجلې په غاړه باندې سپی مړ شي نو د دې ګناه به هم د عمر وي؟حضرت عمر رضي الله عنه به وی چه زما نه به الله د دی تپوس کوي.

حضرت عمر رضی الله عنه چه کله زخمي شو نو د خپل څوئي عبدالله نه تپوس کوي چه زه ستاسوڅنګه پلار اوومه؟نو هغه ورته وی ته زمونږ ښه پلاروی نو هغه ورته وی چه زه ستا ښه پلار اوومه د هغې واسطه درکومه چه ما پدې څمکه باندې څملوه نو هغه انکار اوکړو نوحضرت عمر رضي الله عنه ورته وی چه ته زماخوئي نه ئي ؟ هغه ورته وی ولې نه وی زما خبره اومنه کنه نو عبد الله رضي الله عنه ولکيدو او حضرت عمر رضي الله عنه ئي د کټ نه راکوز کړو او په خاورو کې ئي سملو او خپل مخ به ئي پدې خاورو کې راخکو او وی به ئي يا الله که ته په عمر رحم اونه کړې نو د عمر بل ځائي نشته چا ورته وی چه ته د عبدالله په باره کې وصيت ولې

نه کوي؟ نو هغه وی چه د خطاب په خاندان کې عمر سر په سر خلاص شي نو دا پوره ده دا احساسات په هغوئ کې دې قران پيدا کړي وو.

## مونږ د قران نه لرې شوي يو

عزتمندو: زمونږ د دې قرانکريم نه بعد راغلي وی اومونږ د قران کريم نه لرې شوی يو مونږ قرانکريم صرف دې د پاره راغستي چه تلاوت ئې اوکړو يو سالک يو ډير عجيبه شعر وئيلي دی.

شب دردست من قرآن بناليد

چوں در دل من نه داري نهز دستم

يو شپه قرآن کريم زما په لاس کې په ژړا شو او اوونئ وی چه زړه دې زما سره نه دی نو په لاس کې دی ولې اغستې يم.

ازاں خوارو ذليل اې مسلمان

که من برخوار دردور تو هستم

اې مسلمانه څکه خوار او ذليله ئې چه زه دې خوار کړې يمه.
د کتاب الله د بيت الله د دې شعائرو چه قدر نه کوې نو ذليه او رسوا به ئې

## د عالمانو او عابدانو ذمواري

عزتمندو : ما تاسو ته وی چه پدې سورة کې الله د عابدانو او عالمانو ذمواري ذکرکوی څکه نن پدې ځائ کې ولاړ يمه اوتاسو ماته او زما خبرو ته گورئ الله گواه دي چه دا زما د غوښو او د جسم او د هډوکو سبب نه دی.دا يو دوه تکي او د خلقو سپلئ مو اوچتي کړيدي اوخدمتونه مو کړيدي او الله دې څما په هغه استاذ باندې رحم اوکړي مولناعبد الحليم صيب الله

دې پرې کروړها رحمتونه وکړي او الله دې قبر د نور نه ډک کړي الله ګواه دی د هغه لوئې بول مونږ پچپل سر باندې لوړی دی او دغه ډیران کې مو غورخولي دی مونږ د هغوئ خدمتونه کړیدي نو د هغه خدمت په صله کې الله رب العزت مونږ له څه نرې غوندې د ذرې نه د ذرې نه لاندې د دوه دریو تکو معلومات ئې راکړیدي.

نن که تاسو مونږ ته ګورئ او زمونږ خبروته غوږ ګدی اوبو سړی دې زمونږ په وجه باندې مړې معاف کوي او یو سړي دې زمونږ په وجه کنځل معاف کوي الله ګواه دی دا زمونږ د غوخو د وجه نه نه دا د قران کریم ده وجې نه .

الله ګواه دی زما په خدائی قسم دی ماله چه الله کومه روټی راکوي دا د قران د وجې نه راکوي ماله د قران کریم د خدمت د وجې نه راکوي او د حدیث د خدمت د وجې نه ئې راکوي.

ما چه دا کومې جامې اغوستې دي والله په جماعت کې ولاړ یمه دا ماله الله د قران په وجه راکړیدي.

مولا صیب تا به څوک مولوي صیب السلام علیکم وائي الله ګواه دی دا تا ته د قران د وجې نه وائي.

لوئې خیانتکر د هغه چا نه بل څوک نشته چه دې د هغه په وجه روټی. خوري او د هغې سره غداري کوي او د هغې عزت نه کوي.

پیر صیب تا ته چه خلق ښه وائي دا ځکه چه د خلقو ګمان دا دی چه ته په قران او په سنت باندې عامل ئې اخوا نوره امیانو ته پته نشته .

غل چه غلا اوکړي او میخې پټې کړي نوخلق ورته وائي اې هلکه دا خو تا د پیر صیب د مولا صیب نه غلا کړیده نو هغه غل واپس شي او هغه

میخه بیا پریدي دا څکه چه د پیر صیب د عبادت سره تعلق وو او د مولا د قران سره تعلق وو مولا عمل ته محتاج او پیر قران کریم ته محتاج دی او پیر صیب مولا ته محتاج دی نو د عالمانو او ده عابدانو ذمواري دا ده چه ده الله کتاب دنیا ته ورسوي . علامه اقبال وائي:

هیچ می دانی که آئینی توچیست

زیرگردو سر تمکین تو چیست

تاته پته شته چې ستا قانون څه دی؟ او داسمان لاندی چې الله تعالی ته آباد کړی ستا د دی ابادولو سر او راز څه دی؟

آن کتاب زنده قرآن حکیم

حکمت اولا یزال است قدیم

دا ژوندي کتاب او د ژوند کتاب قرآن چې د حکمت نه ډك دي او داسې حکمت دي چې د همیشه نه دي او همیشه به وي.

کتاب داسې کتاب دی چې دا په عالم کې انقلاب راولی اوحقائق بدلوی .

رهزنا از حفظ او رهبر شدند

واز کتاب صاحب دفتر شدند

غلو چې کله دی کتاب ته لاس اچولی دی هغه د دنیا رهبران او رهنما جوړشوی دی او د دی یوکتاب نه هغوئ د لکهونو کتابونو مصنفین جوړ شوی .دا داسې انقلابی اوعظیم الشان کتاب دی .

او د دې کتاب په وجه باندې په زرګونو کتابونه ئې لیکلي دي نن که ته سیر اعلام النبلاء ده حافظ ذهبي په ۲۵ جلدونو کې وینې نو صیبه قران ئې وئیلي وو نن که ته تهذیب الکمال ۳۵ جلده ده ابي الحجاج وینې نو

صيبه قران ئي وئيلي وو نن كه ته دشيخ الاسلام ابن تيمية رحمة الله عليه ۳۷ جلده فتاوى وينې نو صيبه قران ئي وئيلي وو كه د ابن جوزي ۳۰۰ جلده فنون الافنان في علوم القران وينې نو قران ئي وئيلي وو.

پیش قرآن بنده و مولا یکیست

بوريا و مسندي ديبا يكيست

د قرآن كريم په وړاندې د آقا او د غلام فرق نه شته داسې عظيم الشان كتاب دې قرآن كريم د ژوند سومره اطرف چې دې ده دې ټولو آمين دې او د دې ټولو خودنكې دې.

## په كهوئي برمول د الله احسان

زمونږ پدې كلي كې ده الله احسان دې ده ډيرې مودې نه د قران كريم يو حركت شروع دې او د هغه حركت انقلاب دې ټول كلي ته معلوم دې چه مخكې څه وو او وس څه دې؟

الحمدلله اول پدې كلي كې د قران دعوت د توحيد دعوت د الله رب العزت زما په لاس سره كړيدې.

پدې كلي كې رسمونه او رواجونه وو نن به ئي هم خلق كوي خو خدائې ګواه دې چه ځان به ورته شرميدلی ښكاري چه زه دا ولې كومه.

انقلاب قران كريم راوړی اوس الله رب العزت احسان وكړو په زنانو كې انقلاب راغی مونږ له كله كله خطونه راشي تپوسونه كوي يو ځل يوې زنانه خط راوليكو تپوس ئي كوو چه مولوي صيب دا فلانئ دعا په صحيح سند سره نقل ده او كه څه ضعف پكې شته چه مونږ ئي نه وايو قسم دې چه د خوشحالئ نه ومې ژړل چه ارمان دې په كوهي برمول كې هم داسې زنانه

پیدا شوی چه د هغوئي سره دا احساس پیدا شو چه مولوي صیب دا ذکر کول مسنون دی او کنه دا خوه د علماء خبرې دی نن چه پدې بازار جماعت کې دا فرید الحق صیب دی د د خوئي دی محمود او هغه یو څو کسانو ته قران وئیلي دی او د هغوئ د ترجمې ختم دی پلار له ئې پکار دا دي چه دا پتهکی په پدې ځائي باندې کیدي.

د فخر خبرې دا دي او هغه له هم پکار ده چه هغه پرئي هم ډیر ښه خوشحالي پرې وکړي قُلۡ بِفَضۡلِ ٱللَّهِ وَبِرَحۡمَتِهِۦ فَبِذَٰلِكَ فَلۡيَفۡرَحُواْ هُوَ خَيۡرٞ مِّمَّا يَجۡمَعُونَ.

پدې خوا کې فضل مجید بهائي دی ده هغه لور ده نوم اغستل ئې څه ګناه نه ده د ام المومنین عائشه رضي الله عنه نوم مور اخلو بسمین نوم ئې دی هغې بسمین خپلو شاګردانو ته قران وئیلی دی او ترجمه ئې ورته کړیده او نن دا مونږ چه راغوندې شوی یو صرف په دغه خوشحالی کې راغلی یو او زه وایم چه الله رب العزت دې ځمونږه د کلي هر یو کور د قران کریم درسګاه کړي او زمونږ هر خور او لور د قران کریم مدرسه کړي زمونږ هر یو بچي د قران کریم مدرس کړي.

## عزت په قران کې دي

عزتمندو عزت په قران کې دي او نبي صلی الله علیه وسلم ته الله فرمائي کچیرې قران دي پریخوده او بل څه پسې لاړې ګورې ځائ دی نشته.

وَلَوۡ تَقَوَّلَ عَلَيۡنَا بَعۡضَ ٱلۡأَقَاوِيلِ * لَأَخَذۡنَا مِنۡهُ بِٱلۡيَمِينِ * ثُمَّ لَقَطَعۡنَا مِنۡهُ ٱلۡوَتِينَ * فَمَا مِنكُم مِّنۡ أَحَدٍ عَنۡهُ حَٰجِزِينَ: (۱)

۱- سورة الحاقة ٤٤،٤٥،٤٦،٤٧

کچرې د په ما باندې دروغ جوړکړه يعني قران ئې پريخودو او نورې خبرې ئې شروع کړې نو مضبوط به ئې ونيسمه او د مرئ رګونه به ئې پرې کړمه.

دارنګه الله رب العزت په نبي صلى الله عليه وسلم باندې احسان کوي.

لَوْلَا أَنْ ثَبَّتْنَاكَ لَقَدْ كِدْتَ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْئًا قَلِيلًا * إِذًا لَأَذَقْنَاكَ ضِعْفَ الْحَيَاةِ وَضِعْفَ الْمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيرًا: (١)

پيغمبر که ما ته پدې قران باندې نه وې کلک کړي نو کيدی شوه چه تا دې خلقوته لږ غوندې ميلان کړي وي.نبي صلى الله عليه وسلم نه اوريدو خو الله رب العزت مرنږ ته مثال ذکر کوي تا له به ما په مرګ او ژوند کې دوچند عذاب درکړي وو.

عزتمندو: قران قران دی قران کريم ده سينو سره اولګوئ او قران کريم له پخپلو زړونو کې ځائي ورکړئ او چه کله مو قران کريم له په زړه کې ځائي ورکړو نو تاسو به کامياب شئ. لکه حديث کې رازي.

عن عبد الله بن عمرو قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم يقال لصاحب القرآن اقرأ وارتق ورتل كما كنت ترتل في الدنيا فإن منزلك عند آخر آية تقرؤها: (٢)

کله چه د قيامت ورځ شي نو الله رب العزت به هغه خپلو زړونو کې قران ته ځائ ورکونکو کسانو ته وائي قران لوله او منازل طې کوه او په دنيا کې چه تا په کوم ترتيل سره قران لوستلو په هغې طريقې سره ئې لوله.او

---

١- سورة الإسراء ٧٤\٧٥

٢- سنن أبي داود: جلد ١ صفحه ٤٦٣ باب استحباب الترتيل في القراءة

قاري ته به الله وائي چه اخرې ايت چه په كوم ځائي كې ته لولې نو ستا به هغه ځائي وی نو دهغه ځائي هغه مزل او د هغه ځائي هغه مقامات ميلاويدل دا په قران كريم سره ميلاوېږي او مور او پلار ته ئې الله رب العزت يو تاج په سروی.

## د عالميكر بادشاه واقعه

عالميكربادشاه خپل پلار ته خبر وركوي چه ستا د نوسئ د قران كريم د ترجمې ختم دی او ته راشه پلار ئې په ژړا شوچه زه د نوسي په ختم باندې څه كومه ماله خو د ځوئي ختم پكار وو د نوسي په ختم خو به ته خوشحالېږی او هغه تاج خو به تاته اغوستلی كيږي ما ته خو به نه اغوستلی كيږي نو اصلی خوشحالی پدې ده چه د سړي ځوئي قران كريم اووائي او د قران كريم مدرس شی او د قران كريم استاذ شي او د قران كريم داعي شی.
خبرې ما اوكدې كړې خو د علماؤ يو ذمواري ده او هغه دا چه قران اولولوي عالم ديته نه وائي چه هغه په ۱٤ علمونه كړي وی بلكې تا چه څه مسئله زده كړه نو ته د هغې عالم ئې نو چه قران دی زده كړو نو ته د قران كريم عالم ئې او زه وايم چه پداسې بچو باندې سړې څومره فخر اوكړې دومره ښه ده اوبچې داسې قسمه نه وی نوچه سړی څومره وژاړې دومره كمه ده.

واقعه: بازار مولوې صيب الله دې مغفور مرحوم كړي ده جمعې روځ وه او د هغه ده ژوند اخرئ روځې وې او بيمار وو تول تقرير ما وكړو او مونځ هغه وكړو بيا بهر په دغه ځائي كې يو چمن وو په هغې كې مونږ ناست وو شاه رضا صيب الله دې اوبخې هغه هم ناست وو او نوركسان هم ناست وو

او د بابا دا خبره زما نه هیریکي چه هغه وی چه د سړي شاګرد وی او دغسې شي اوسړي پرې څومره فخر کوي نو دا بې ځائې نه دی نو بیا ئې د سترګو نه اوښکې رواني شوی.

## دعا

الله دي زمونږ دا ګلي او زمونږ د ګلي ټول کورونه د قران کریم درسونو سره اباد کړي بلکې الله رب العزت د دي ټولې علاقي او بالخصوص څوک چه زمونږ درسونه اوري هغوئ او د هغوی نه علاوه د نور مسلمانانو الله دې زمونږ د ټولو کورونه د قران کریم درسګاهونه کړي.
الله دي زمونږ کورونه په قران کریم باندې آباد کړې او الله دی زمونږ زړونه په قران کریم باندې آباد کړي.
الله رب العزت دی مونږ او تاسو له د فخر مقام راکړي الله دې کړي چه زمونږ بچي د قران کریم عالمان شي او مونږ پرې فخر کوو.
الله دې زمونږ د سترګو نه دغه اوښکې نه بهیوی چه زما بچي قران کریم عالم نه دی او زما لور د قران کریم عالمه نه ده الله رب العزت دی مونږ ته دغه خوشحالی نصیب کړي او که د خوشحالي د لاسه اوښکي اوبهیږي نو خیر دي.

وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین.

# موضوع : اختلاف امت

الحمد لله الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على سيد الاولين و الاخرين وخاتم النبين وقائد الغر المحجلين سيدنا محمد المبعوث الى الخلق اجمعين وعلى آله الطيبين واصحابه الطاهرين

وعلى اله وازواجه الطاهرات امهات المؤمنين وعلى علماء امته المتقين المقطفين اثاره الي يوم الدين.

امابعد:

وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ نُوحٍ إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ يَا قَوْمِ إِن كَانَ كَبُرَ عَلَيْكُم مَّقَامِي وَتَذْكِيرِي بِآيَاتِ اللَّهِ فَعَلَى اللَّهِ تَوَكَّلْتُ فَأَجْمِعُوا أَمْرَكُمْ وَشُرَكَاءَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُنْ أَمْرُكُمْ عَلَيْكُمْ غُمَّةً ثُمَّ اقْضُوا إِلَيَّ وَلَا تُنظِرُونِ * فَإِن تَوَلَّيْتُمْ فَمَا سَأَلْتُكُم مِّنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى اللَّهِ وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْمُسْلِمِينَ * فَكَذَّبُوهُ فَنَجَّيْنَاهُ وَمَن مَّعَهُ فِي الْفُلْكِ وَجَعَلْنَاهُمْ خَلَائِفَ وَأَغْرَقْنَا الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنذَرِينَ * ثُمَّ بَعَثْنَا مِن بَعْدِهِ رُسُلًا إِلَىٰ قَوْمِهِمْ فَجَاءُوهُم بِالْبَيِّنَاتِ فَمَا كَانُوا لِيُؤْمِنُوا بِمَا كَذَّبُوا بِهِ مِن قَبْلُ كَذَٰلِكَ نَطْبَعُ عَلَىٰ قُلُوبِ الْمُعْتَدِينَ: (۱)

## تمهيد

پدې ايت کې الله رب العزت د هغه اول رسول چه دنياته راليږلې شوی وو يو تن وو او ټوله دنيا د هغه مخالف وه نو الله رب العزت د هغه کلکوالی ذکرکوي.

---

۱- سورة يونس : ۷۱- ۷۲- ۷۳- ۷۴

او هغه کلکوالی پدې انداز باندې چه یو تن ټول قوم ته یوه کلکه خبره کوي او هغه قوم ته چه هغه قوم د دی خبرې په وجه ټول د هغه د وینو تږي دی لیکن د هغه په هغه خبره کې څه نرمي نشته خبره هغه ډیره پاکه او ډیره صافه کوي.دارنګه د هرحق پرست د هغه مقام پکاردي او د هغه صفت پکار دي چه هغه په ځان کې دغه شان صفات راولي.

د انبیاء علیهم السلام نه پس چه څومره حق پرست راغلی دي هغوئ ډیرو خلقو اود قومونو د عقائدو او د هغوئ د معاشرې او د نورو مراسمو خلاف ډیر په کلکوالی باندې کړي وو.

## د اصحاب کهفو کلکوالي او د هغوئي بیان

قران عظیم کې پدې انداز باندې نور واقعات هم ډیر دي چه دغسې کلکوالی د انبیاء علیهم السلام اتباعو ثابت کړیدي او دنیا ته ئي نمونه خودلې د لکه اصحاب کهف وګوره لږ کسان وو او ټول خلق ئي مخالف وو قران عظیم کې الله رب العزت د هغوئ کلکوالی ذکرکوي الله فرمائي.

إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ آمَنُوا بِرَبِّهِمْ وَزِدْنَاهُمْ هُدًى :(۱)

دا ده ځوانانو یوه ډله وه اوهغوئ پخپل رب باندې ایمان راوړی وو او هغوئ له ما توفیق زیات ورکړي وونوهغوئ به د الله دین په سختوالی سره بیانو او قرانکریم د هغوئ هغه اولنی بیان ذکر کوي.

إِذْ قَامُوا فَقَالُوا رَبُّنَا رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ لَن نَّدْعُوَ مِن دُونِهِ إِلَٰهًا لَّقَدْ قُلْنَا إِذًا شَطَطًا :(۲)

---

سورة کهف - ۱۳

سورة کهف - ۱٤

بادشاه وقت د خدائی توب دعوی کړي وه نو کله چه هغوئ اودریدل نو د هغوئ اولنی اعلان دا وو چه زمونږ رب هغه دی چه هغه ځمکي او اسمانونه ساتي مونږه د هغه نه علاوه بل ته اله چرې هم اونه وايو که مونږ د الله نه سوا بل چا ته اله اووی نو مونږه به ډیره زیاتي خبره کوو. دا خبره به د عقل او د نقل خلاف وي او بیا ئې وفرمائیل:

هَؤُلَاءِ قَوْمُنَا اتَّخَذُوا مِنْ دُونِهِ آلِهَةً لَوْلَا يَأْتُونَ عَلَيْهِمْ بِسُلْطَانٍ بَيِّنٍ فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَى عَلَى اللَّهِ كَذِبًا: (۱)

زمونږ دي قوم دوی د الله نه سيوا ځان له نور مددګاران نیولي دي دوی پدې باندې واضح دلیل ولې نه پیش کوي؟ ددوی سره دلیل نشته دا بې دلیله خلق دی او زمونږ رب هغه رب السموات والارض دی.

لرکسان وو او تول بادشاهي ئې مخالفه وه دابې جائبداد اوبې اسلحې خلق وو او د کلې نه راوتلی خلق وو کور ئې نه وو تیکانه ئې نه وه ډوډۍ ورسره نه وه اوکې تکي خلق وو چونکې د هغوئ په زړونوکې د انبیاء علیهم السلام پشان کلکوالی وو او الله رب العزت د دې دین د پاره خاص کړي وو نو قران کریم د هغوئ صفت کوي.

## د صاحب یاسین کلکوالي او بیان

یو ترکاڼ چه د کلي نه بهرناست وو او انبیاء علیهم السلام راغلل او هغه ته ئې مسئله بیان کړه او دهغه ذهن ته مسئله پریوته اوبیا دغه انبیاء علیهم السلام راغلل او په کلي کې ئې د الله توحید بیانوو مازیګر وقت دی دا ترکاڼ کاکا دخپل کار نه راغلي دی پخپل کور کې په کټ کې پروت دی

(۱) سورة کهف - ۱۵

ناساپه ئې شور په غوربشو او رامنډې ئې کړې او وی ئې چه داخو زما هغه استاذان دی او هغه انبياء عليهم السلام دی چه ما ته ئې دين بيان کړې وو الله رب العزت چه د هغه حال بيانوي نو الله فرمائي:

وَجَاءَ مِنْ أَقْصَى الْمَدِينَةِ رَجُلٌ يَسْعَى قَالَ يَا قَوْمِ اتَّبِعُوا الْمُرْسَلِينَ: (۱)

راغئ د ښارد ډډې نه يو سړی الله ورته سړې وائي ځکه هغه کې سړی توب وو او کامل سړی توب پکې وو منډې ئې وهلې او خبره ډيره په ښکلې انداز باندې کوې وې اې خلقو د دې سړو خبر اومنئ ګورئ دا بچپله نه دی راغلې دا چا راليږلې دي.

اتَّبِعُوا مَنْ لَا يَسْأَلُكُمْ أَجْرًا وَهُمْ مُهْتَدُونَ: (۲)

د هغه خلقو خبره اومنئ چه تنخوا نه غواړې پيسې نه غواړې څه اجرت نه غواړې او هغوئ په هدايت باندې دی.

دا د هغه ترکاڼ چه هغه د کلي نه بهرد انبياء عليهم السلام خبرې اوريدلې وې او ايمان ئې راوړی وو نو الله رب العزت د هغه د غيرت, نرتوب او د شجاعت قصه کوي. بيا هغه فرمائي.

وَمَالِيَ لَا أَعْبُدُ الَّذِي فَطَرَنِي وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ: (۳)

په ما باندې څه چل شويدی چه زه به د هغه رب عبادت نه کومه چه کوم ذات زه پيدا کړې يمه او هغه طرف ته به تاسو اپس کولی شئ.

---

۱- سورة ياسين – ۲۰

۲- سورة ياسين – ۲۱

۳- سورة ياسين – ۲۲

أَأَتَّخِذُ مِنْ دُونِهِ آلِهَةً إِنْ يُرِدْنِ الرَّحْمَٰنُ بِضُرٍّ لَا تُغْنِ عَنِّي شَفَاعَتُهُمْ شَيْئًا وَلَا يُنقِذُونِ * إِنِّي إِذًا لَّفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ: (١)

ايا زه به د الله نه سيوا بل چا ته مددګار اووامه پدغه وقت کې به زه ډېر لوئي ګمراه یمه.

داخبره دې پداسې انداز سره کوي چه خلق څانته اړوی خو چه اخر اونشوه نو چغې ئې کړې .إِنِّي آمَنتُ بِرَبِّكُمْ فَاسْمَعُونِ: (٢)

واورئ واورئ هغه ستاسو رب چه تاسو ئې پيدا کړې ئې او تاسو ئې لوئې کړې ئې او تاسو له ئې روټۍ درکړيده او تاسو له ئې ځمکه اسمانونه پيدا کړيدي زما په هغه باندې ايمان دې.

خلق پسې راغله وی دا راته ټخپل کلی کې وهابي پيدا شو نو په کانړو باندې ئې اوويشتو او مړ شو نو چه کله مړ شو نو قران کريم وائي.

قِيلَ ادْخُلِ الْجَنَّةَ قَالَ يَا لَيْتَ قَوْمِي يَعْلَمُونَ * بِمَا غَفَرَ لِي رَبِّي وَجَعَلَنِي مِنَ الْمُكْرَمِينَ: (٣)

قِيلَ صيغه د مجهول ده معنی دا دهه هر طرف نه اوازونه راغلل يعنې د يو طرف نه او د بل طرف نه چغې شوی د مشرق نه د مغرب نه د جنوب نه د شمال نه فرشتو اوازونه اوکړه الله هم آوازونه اوکړه د هر طرف نه آوازونه

---

١- سورة ياسين – ٢٣ -٢٤

٢- سورة ياسين – ٢٥

٣- سورة ياسين – ٢٦ – ٢٧

شروع شو زه ځوانه جنت ته نرتوب ئې کړي وو نو الله ورته وې زه ځوانه جنت ته نو چه کله هغه جنت ته لاړو نو هلته ئې چغه کړي.
وې ئې هائ هائ چه زما قوم پوهیدئ چه زه الله په څه باندې اوبخلمه ؟ او ما له دا عزت ئې په څه باندې راکړو؟

## د دین په بیانولو کې عزت دې

د انبیاء علیهم السلام اتباعو همیشه د پاره د دین په اشاعت کې او د دشمن په مقابله کې عزت ګنړلی دی او اصل کې عزت هم دغه دی.
لکه حدیث کې رازې نبي صلی الله علیه وسلم فرمائي:
عن المقدام بن معدي كرب قال سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول إن للشهيد عند الله تسع خصال أو قال عشر خصال يغفر له في أول دفعة من دمه ويرى مقعده من الجنة ويحلى حلية الإيمان ويجار من عذاب القبر ويزوج من الحور العين ويأمن يوم الفزع الأكبر ويوضع على رأسه تاج الوقار الياقوتة خير من الدنيا وما فيها ويزوج اثنتين وتسعين زوجة من الحور العين ويشفع في سبعين إنسانا من أقاربه : (۱)
چه کوم سړي د دشمن په مقابله کې مړشو او د الله رب العزت د دین د سربلندئ د پاره مړ شو نو په قیامت کې د هغه مقام خو جدا دی خو په دنیا کې چه دده د بدن نه دوینې یو څاڅکې اوغورځیدونو د دې څاڅکې د غورځیدو نه مخکې الله رب العزت د له جنت ورکړي وي او هر څوک دی د نیا ته دوباره د راتلو تمنا نه کوي علاوه د دغه یو سړې نه چه دې د الله د دین د اشاعت،لوئي او بقاء د پاره مړشی نو دې ارمان او ارزو

۱- المعجم الكلبير للطبراني : جلد ۱۵ صفحه ۲۰۳

کوي او دې وائي چه کاش زه دې دنيا ته دوباره لاړې او بيا د الله په لاره کې شهيد شوی دا مقام الله رب العزت هغه چا له ورکوي چه څوک د الله د دين د اشاعت او بقاء او لوئي د پاره خپل سر ورکوي.

## د رجل مومن کلکوالي او بيان

کله کله بعض خلق د نيکانو خلقوملګرتيا اوکړي نوپه هغه ملګرتيا باندې الله رب العزت ورته يومقام ورکوي سورة قصص کې د موسی عليه السلام مقابله چه کومو خلقوکوله او هغوئ د موسی عليه السلام خلاف سازشونه جوړول نو په هغه قوم کې يوسړی وو هغه راروان شواوموسی عليه السلام ته ئې د قوم د هغه خبر او د مشورې خبردارې ورکړه نو قران عظيم الشان چه د هغه سړي ذکر چه کوي نو الله فرمائي.

وَجَاءَ رَجُلٌ مِنْ أَقْصَى الْمَدِينَةِ يَسْعَى قَالَ يَا مُوسَى إِنَّ الْمَلَأَ يَأْتَمِرُونَ بِكَ لِيَقْتُلُوكَ فَاخْرُجْ إِنِّي لَكَ مِنَ النَّاصِحِينَ : (۱)

د ښار د ډډې نه يو سړی راغی . تفسير ابن کثير دلته ليکلي دي.

وصفه بالرّجُولية لأنه خالف الطريق فسلك طريقًا أقرب من طريق الذين بُعثوا وراءه فسبق إلى موسى فقال له يا موسى إِنَّ الْمَلَأَ يَأْتَمِرُونَ بِكَ أي يتشاورون فيك لِيَقْتُلُوكَ فَاخْرُجْ أي من البلد إِنِّي لَكَ مِنَ النَّاصِحِينَ

چه الله پاک دی سړې ته رجل اووی رجل معنی سړی څکه د کار د سړيتوب کړي وو هغه خلق چه په کومه لاره باندې راتلل نو د هغوئ نه ځان له يوه بله لاره اونيوله او دې موسی عليه السلام ته په منډه باندې راورسيدو او موسی عليه السلام ته ئې وې.

---

۱- سورة قصص - ۲۰

يَامُوسَىٰ إِنَّ الْمَلَأَ يَأْتَمِرُونَ بِكَ لِيَقْتُلُوكَ فَاخْرُجْ إِنِّي لَكَ مِنَ النَّاصِحِينَ

اې موسی علیه السلام دا خلق چه کوم دی دوی ستا خلاف مشوره کوي د دې د پاره چه تا مړ کړي نو ته د دې ځائې نه او زه او زه ستا خیرخواه یم.

یو تن دی او د قوم د جرګې نه راروان شویدی او د موسی علیه السلام خیرخواهي کوي نو قران عظیم الشان هغه سړی ته رجل وائي چه د کار د سړیتوب کړیدي قران د هغه انداز عجیبه ذکر کوي.

وَجَاءَ رَجُلٌ مِنْ أَقْصَى الْمَدِينَةِ يَسْعَىٰ قَالَ يَا مُوسَىٰ إِنَّ الْمَلَأَ يَأْتَمِرُونَ بِكَ لِيَقْتُلُوكَ فَاخْرُجْ إِنِّي لَكَ مِنَ النَّاصِحِينَ: (۱)

اې موسی علیه السلام هغه وزیران د فرعون او هغه لوئي لوئي خلق ستا خلاف مشوره کوي او تا وژني نو ته د دې ملک نه اووځه او یقینا زه ستا د خیرخواهانو نه یمه.

موسی علیه السلام لاړو او الله بچ کړو خو چا چه د موسی علیه السلام خیر خواهي کړي وه نو هغه ته الله رب العزت رجل وائي او د رجل معنی یعنی کامل سړی دی دې کار ئي د سړې توبه کړي وو.

## د رجل مومن تقریر

دارنګې د فرعون په پارلمینټ کې دننه چه کله د موسی علیه السلام خلاف مشورې کیږی او فرعون لګیا دی تقریر کوي خلق دیته تیاروي چه موسی علیه السلام غلط سړی دی (نعوذ بالله) د د خلاف اوکړئ نو د فرعون د خاندان یو سړی دی د هغه نوم هزقیل دی.

---

۱- سورة قصص - ۲۰

په سورة مؤمن کې دا وقعه راځي چه دې راپاسیدو او اوکد تقریر ئي کړیدي قران د هغه هغه تقریر رانقل کړیدي خو چه کله قران کریم د هغه نوم اخلي نو الله فرمائي.

وَقَالَ رَجُلٌ مُؤْمِنٌ مِنْ آلِ فِرْعَوْنَ يَكْتُمُ إِيمَانَهُ: (١)

د فرعون د خاندان یو مؤمن سړی د هغه رجولیت او د هغه سړیتوب د هغه نرتوب مځکې ذکر کوي.

غرض مې دا ووچه کوم خلق د انبیاء علیهم السلام په لاره باندې روان شوی دي په هغه خلقو کې الله رب العزت غیرت اچولی وي یو تن دی او د ټول پارلیمنټ خلاف کوي اوځه یره ئي نشته اوپه آخرکې چه کله خپل تقریرختموي نو خلقو ته وائي ما چه تاسوته څه وی نوهغه مې درته اووی وَأُفَوِّضُ أَمْرِي إِلَى اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ بَصِيرٌ بِالْعِبَادِ نورمو زه الله ته سپارمه الله مو غرق کړه.

یو تن دی خو بغیر د یرې نه قوم خبره ته کوي نو قران کریم د حضرت نوح علیه السلام واقعه د دې دپاره ذکر کړید چه انبیاء او د هغوئ اتباع او مستجیبین الی الله هغه کسان چه هغوئ د الله دین مني د هغوئ طریقه دا ده چه هغوئ د خپل سره پرواه نه کوي .

څمونږ شیخ الله دې پرې رحمتونه اوکړي هغه به کله کله د صوفیاو کرامو یو قول وی هغه به وی. اترک کل شي ثم تعال .

---

١- سورة مومن – ۲۸

د الله رب العزت مینه چه د چاپه زړه کې راشي نو هغه بیا هرڅه پرېخودی وی او بیا هغه د الله دربار ته راځي د هغه په زړه کې یره نه وی د هغه په زړه کې طمع نه وي او د هغه په زړه کې لالچ نه وي هغه یو شاعر وائي:

ترک مال ترک جان ترک سر

درطریق عشق اول منزل است

مال پرېخودل بدن ورکول سر قربانول دا ده عشق یعني د الله رب العزت د مینې په لاره کې اول منزل دی.

## د نوح علیه السلام د واقعه فوائد

د دې واقعې یو څو فوائد نور هم شته دي

اوله فائد خو دا ده چه کوم خلق چه د الله منورنکی خلق دي او د الله خبره چه چامنلي وي نو په هغوئ کې کلکوالی او نرتوب پیداکوي نو د دې وجه نه یو تن هغه خلقو ته خبره کوي چه ټول خلق د هغه د وینو تکی وي او د هغه پرواه نه وي.

دویمه فائد ئي دا ده چه د الله منونکی خلق انبیاء علیهم السلام او د هغوئ اتباع د هغوئ دعوت ټول عمر د الله د دین دعوت دي.

دریمه فائد توکل علی الله پکې وي یعنې توکل علی الله او انابت پکې په کامل طریقې سره موجود وي .

## د انبیاء علیهم السلام د دنیا سره مینه نه وي

انبیاء علیهم السلام خپله لمن د دنیا د پلیتی نه پاکه ساتي او هر یو نبي چه دنیا ته راغلي نو هغه دا اواز کړي چه زه په دین باندې پیسې نه اخلمه او

نوح علیه السلام هم وائي.فَإِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَمَا سَأَلْتُكُمْ مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى اللَّهِ که تاسو واوړیدې ما تاسو نه پیسې ندې غوختلې.

او نبي صلی الله علیه وسلم خپل قوم ته فرمائي.

قُلْ لَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبَىٰ: (١)

زه ستاسو نه څه تنخواه نه غواړم کله کله نبي صلی الله علیه وسلم ته الله رب العزت فرمائي اې څما نبي دی خلقو ته اووایه.

قُلْ مَا سَأَلْتُكُمْ مِنْ أَجْرٍ فَهُوَ لَكُمْ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى اللَّهِ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ: (٢)

ما له چه څه راکوي نوکور ئي کیدئ که ما درنه څه غوختلی وی نو هغه ستاسو شو زما خو ستاسو نه یو طلب دی إِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبَىٰ راځئ چه د یو بل سره مینه اوکړو او د یو بل لاس مضبوط کړو او مونږ الله ته نزدې شو.

بیا انبیاء علیهم السلام د خپل دعوت مقصد هم ښائي وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْمُسْلِمِينَ

د نبي او د نبي د اتباعو شان دا دی چه هغوئ ټول عمرالله رب العزت ته ظاهري او باطني انقیاذ او تابعداري کوي او د قوم طریقه دا ده چه ټول عمر د هغه تکذیب کوي کله کله ورته په خوله سره دروغجن وائي او کله کله په عمل سره ئي تکذیب کوي او د الله رب العزت سنت او د هغه طریقه دا ده چه هغه له نجات ورکوي.

حضرت نوح علیه السلام ئي خلاص کړي وو نو څوک چه د الله خبره مني او د الله دین مني نو دغه خلق الله رب العزت خلاصوي او په لګ

---

(١)- سورة شوري – ۲۳

(٢)- سورة سبا – ٤٧

غوندې ځائي کې ئې الله خلاصوي کشتي څه شي دی؟ هغه نور ئې تباه کړه او په دنيا کې د هغوئ د امن ځائ نه وو د هر څه نه اوبه رواني وي او دا ل کسان وو او په لرغوندې ځائي کې ئې کينولې وواو دوی ئې بچ کړه. او چا چه د الله رب العزت د اياتونو تکذيب کړيدي نوالله رب العزت هلاک کړيدي.

## قران کريم کې د نوح عليه السلام واقعه

د نوح عليه السلام واقعه په سورةيونس کې هم د اوپه سورة هود کې هم ده.

سورة يونس کې دسزا او د هلاکت سبب ښائي چه دسزا او دهلاکت سبب د الله رب العزت د کتاب نه انکار وو او هلته چه نوح عليه السلام خبره کوي نو وائي.

يَا قَوْمِ إِنْ كَانَ كَبُرَ عَلَيْكُمْ مَقَامِي وَتَذْكِيرِي بِآيَاتِ اللَّهِ زه تاسو ته د الله آياتونه بيانومه او دلته الله رب العزت وائي وَأَغْرَقْنَا الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا هغه کسان چه زما آياتونو ته دروغجن وئيلي وو هغه مي تباه کړه نو معلومه دا شوه چه د الله د کتاب نه انکار کول دا سبب د هلاکت دی بيا دا انکار په دوه قسمه دی. ۱- عملا انکار ۲- قولا انکاردا دواړه په اصل کې يو شي دی.

# ذلت سبب د قران نه انکار دي

زما د استاذانو استاذ شيخ المشائخ حضرت مولانا عبيدالله ابن اسلام السندهي رحمة الله عليه هغه پخپلو بعضو مکتوباتو کې ليکلي دي.

چه نن صبا چه مسلمانان په دي دنيا کي ذليل او رسوا دی د دې اهم وجه دا ده چه دوی قران پرېخودی دی او دوی قران نه منی او د دوی د ذلت اصل وجه دا ده چه دوی دعوی د ايمان کوي خو ايمان پکې نشته.

مولانا سندهي رحمة الله عليه د دې د پاره يو عجيبه وجه وائي او هغه فرمائي چه الله رب العزت دروغ نه وائي او الله رب العزت فرمائي.

وَأَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ صرف تاسو به په دنيا کې اوچت ئي خو شرط دا دی چه په تاسو کې ايمان وی او په عربي کې قاعد دا ده چه کله يوجمله کي شرط ذکر شي نو حکم د هغې نه بهر نه وی نو الله رب العزت جمله ذکر کړيد وَأَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ

يعني إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ فَأَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ که تاسو مؤمنان ئي او که په تاسو کې ايمان مستمر وي او تاسو هميشه د ايمان د رڼړا مطابق کارکوئ نو په ټوله دنيا کې به تاسو د ټولو نه اوچت ئي.

اوس پيخه دا ده چه مسلمانان ذليله دي کله ورته امريکه په ککرئ باندې ناسته وی او بمبارئ پرې کوي الله دې پرې لعنت وکړي هغه بله ورځ ئي په مهمندو کې بمبارې اوکړه اومسلمانان ئي شهيدان کړه دوباره ئي بيا اوکړه او مسلمانان ئي شهيدان کړه په باجوړ باندې ئي وکړه او په يو ځائي او په بل ځائي بهر حال دا مسلمانان چه ټکولی کيږي نو الله خو دروغ نه وائي الله خو وائي چه وَأَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ تاسو به اوچت ئي نو داموږ ولی ذليله

يو؟عبيدالله سندي رحمة الله عليه وائي چه حقيقت دا دی چه ايمان نشته
که په مسلمانانو کي ايمان وی نو الله فيصله کړي وه وَأَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ.

دري سوه ديارلس ( ۳۱۳ ) کسان د بدر په ميدان کي جنګيدل په ټوله دنيا بانديې د هغوئ رعب وو او نن ټوله دنيا په نوم بانديې چه مؤمن دی دغي نهډکه د ولي الله فتح نه ورکوي؟هغه دري سوه ديارلس( ۳۱۳ )کسانو له الله فتح ورکوله او هغوئ ئي په ټوله دنيا بانديې غالب کول اُو ټولي دنيا د هغوئ قصي کولي اونن پاکستان اوبنګله ديش اوهندوستان کي مسلمانان شته دی او عرب ملکونه او دا رنګي په هر يو براعظم کي مسلمانان دی او د مسلمانانو لوئي لوئي ملکونه دی او په ايشيا کي د مسلمانانو لوئي لوئي ملکونه دي او ټول ذليه او رسوا او د امريکي د خپي لاندي دي د دې وجه څه د ؟

يا خو به تاسو وائي چه الله دروغجن دی(نعوذ بالله) نو بيا کافر ئي اوکه الله رښتونی دی نو بيا ايمان کمزوری دی الله فرمائي وَأَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ.

مولنا ظفرعلی خان مرحوم رحمة الله عليه په يو ځائي کي وائي.

فضاء بدر پیدا کر فرشتے تیری نصرت کو
اتر سکتے ہیں گردوں سے قطار اندر قطار اب بھی

که د بدر د صحابو پشان ايمان په تاکي پيدا شو نواوس هم فرشتي ستا د امداد د پاره قطار اندر قطار راتللی شی .نو ايمان چه په چا کي وو نو هغه

څورور وو او چه ایمان په چا کې نه وو نوالله د هغه کافرچه په ظاهر باندې دعوی د ایمان کوي او د هغه اعمال د قران او د حدیث خلاف وي نو الله رب العزت هغه تباه کوي او امداد ئي نه کوي مونږ خلقود قران تکذیب کړیدي مونږ خلقو قران ته دروغجن وئیلي دی که په خولې سره نه وایو خو زمونږ عمل د دې ګواه دی چه مونږ قران نه منو.

د هر اسلامي ملک په عدالت عظمی کي د یهود او د نصاراو په قانون باندې فیصلي کیږي بشمولې پاکستان نو مونږه قران کله منو؟

مونږه دا نه کوو چه مونږ دا تبصره اوکړو چه د قران د اجراء په صورت کې په مونږ کې څه کمئ دی؟

مونږه اکثر دا تبصرې کوو چه په قران کې کومې کومې خبرې غلطې دی (استغفر الله معاذ الله) د دنیاخلق خبرې کوي او مونږ هغې ته خاموش ناست یو څوک وائي چه سورة الانفال توبه جهادی سورتونه د قران نه لرې کول غواړي اوڅوک د هغه ځائي نه چغې وهي چه دا قرانکریم ته ول نظرثانئ ته محتاج ذی ځکه داغیرمهذب کتاب دی ځکه چه خلق په هغه وقت کې غیرمهذب وو اوس تهذیب یافته خلق دی نو دوي له بل کتاب پکار دي دغه چغې د مکې خلقو هم وهلې الله رب العزت تباه کړي وو اوچا چه د قران مرسته کړې وه الله رب العزت هغه اوچت کړې وو او مدد ئي کړي وو.

# د نوح علیه السلام خپل قوم ته بیان کول

پدې سورة کې الله رب العزت د نوح علیه السلام ذکر کوي او دا په دې حیثیت سره کوي چه نوح علیه السلام د الله د کتاب عامل وو او خلقو ته وائي.

يَا قَوْمِ إِنْ كَانَ كَبُرَ عَلَيْكُمْ مَقَامِي وَتَذْكِيرِي بِآيَاتِ اللَّهِ

او په سورة هود کې الله رب العزت د هغه ذکر په بل عنوان باندې کوی او هلته د عذاب سبب بل ښائي هلته وائي نوح علیه السلام ما خپل قوم ته رالیګلی وو او هغه د ایمان هغه اصل بوتې د قوم په زړه کې کړل غوختل او خلقو ته ئې وئیلي وو. أَنْ لَا تَعْبُدُوا إِلَّا اللَّهَ إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ أَلِيمٍ: (۱) اي زما قومه دیو رب عبادت اوکئ خو چه کله خلقو اونه منله نو الله رب العزت هغوئ تباه کړه.

بیا الله رب العزت فرمائي.

ثُمَّ بَعَثْنَا مِنْ بَعْدِهِ رُسُلًا إِلَى قَوْمِهِمْ فَجَاءُوهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ فَمَا كَانُوا لِيُؤْمِنُوا بِمَا كَذَّبُوا بِهِ مِنْ قَبْلُ كَذَلِكَ نَطْبَعُ عَلَى قُلُوبِ الْمُعْتَدِينَ

د هغه نه پس ما قومونو ته رسولان راولیږل او دغه انبیاء خپلو قومونو ته واضح دلائل ئې راوړل کتابونه ئې راوړل مخکې دوي د الله احکام نه وو منلي نو هغه مخکني انکار پدې کشرانو باندې هم اثر اوکړو او وی به ئې چه مونږه خپل پلار نیکه پدې طریقه باندې موندلې وو مونږه هم په هغه طریقه باندې روان یو ځکه د هدایت لاره هغه د دا آواز د مکې خلقو هم.

---

۱- سورة هود - ۲٦

کړي وو او د قران په مقابله کې چه چا داآواز کړيدي نو الله تباه کړيدي او الله برباد کړي دي.

كَذَٰلِكَ نَطْبَعُ عَلَىٰ قُلُوبِ الْمُعْتَدِينَ دارنګي کوم خلق چه اعتداء کوي اعتداء ديته وائي چه د الله رب العزت کتاب پخپله معاشره کې حاکم نه کړي جارې ئي نه کړي.

## قران د حاکميت کتاب دي

مونږد الله کتاب کله حاکم کړيدي؟زمونږکور د الله دکتاب مخالف زمونږ محله د الله د کتاب مخالف دی زمونږ تحصيل , ضلع , صوبه او وطن زمونږ وزراء د الله د کتاب مخالف دي.قران ته څمونږه کله حاجت راځي ؟ چه کله زمونږ نه څوک څه پټ کړي نو د يو طرف او د بل طرفنه خبر راځي چه مولانا صيب زه پسې قهرې ختم کومه نو دا قران کريم الله رب العزت د قهري ختم د پاره راليږلي وو.

دا راته اوښائي چه د مکې نه نبي صلى الله عليه وسلم اووتلو نو څومره قهري ختمونه ئي په کافرانو پسې کړی وو او چه کله د بدر جنګ له راتلو نو قهري ختمونه ئي کړي وو او که نه جهاد ئي کړي وو ؟

بياچه کله د بدرجنګ نه واپس شو اود احد جنګ اوشو اومسلمانان زخميان شو نو نبي صلى الله عليه وسلم خلقو ته څه وی چه پاسئ هله قهري ختمونه پسې اوکړئ .

او بيا د احزاب په جنګ کې نبي صلی الله علیه وسلم په خلقو باندې تورې راغستې وې اوکه قران ئې پرې راغستې وو چه راځئ قهري ختمونه کوو.

قران چه د کوم مقصد د پاره راغلی هغه نه کوي چه عمل کول دي او په نورو پسې روان دي نو قران کريم د عملی کولو د پاره راغلی او دې د پاره راغلی وو چه ته ئې بخپله معاشره کې عام کړه او قران دې د پاره راغلی دی چه ته پدې باندې انقلاب راولئ او دا ياد اوساتئ قران په تاخ کې پروت دی پدې ته نه مسلمانيږې ترڅو پورې چه په زړه کې ورله ځائې نه وې ورکړې صحابه چه مسلمانان وو اوهغوئ چه عزتمندوونوهغوئ د عزت اصل سبب څه وو ؟

وه معزز تھے زمانے میں مسلماں ہو کر

اور ہم خوار ہوئے تارک قراں ہو کر

هغوئ له چه الله کوم عزت ورکړې وو نو د د قران د وجې نه ئې ورکړې وو او مونږ چه بې عزته يو نو دا د قران د پريخودو وجې نه يو قران عظيم الشان کې الله رب العزت فرمائي.

وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرًا مِنْهُمْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ طُغْيَانًا وَكُفْرًا فَلَا تَأْسَ عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ: (١)

الله فرمائي زما دې قسم وی چه ډير خلق به د دې قران د وجې نه ګمراه کومه څنګه به ګمراه کيکي ؟ داسې چه قران به يو څه وائي او دې به بل څه وائي نو دا د د ګمراهۍ سبب دي.

---

١- سورة مائده - ٦٨

قران خو صرف دوی دې له کرځولی دی چه کله دوی ښځه په ډولۍ کې کینوي دا تپوس ترینه نشته چه دا پاکه د اوکه پلیته د خو قران ورسره کیدي اومړي چه په کټ کې کیدي نو قران ورسره کیدي.

## د خلقو د مړي سره قران خخول

د شیرو د طرف څه کسانوزمانه تپوسونه کول چه دلته یومړي شوی وو او په کفن کې ورسره قران ایخودی وواو هغه ئې ورسره ښخ کړیدي اوس د هغې سره څه چل اوکړو مولیان خو وائي چه خیر دی قران نور او رڼا د پروت دې وي ورسره نو ما ورته وی د خدائی ساد کانو دا مړی په دوبمه دریمه روځ باندې سخا شي او بوئ ترینه ځی او د بند بوې دا ده نورو حیواناتو ذ بوئې نه ډیر خطرناک دی او دا قران تاسو دې پلیتې ته ایخودی دی قران کریم دی د پاره راغلی وو؟ قران دې د پاره راغلی وو چه په ډیران باندې ستاجنګ دی نوجمات راځه او مولا ته وایه مولوي صیب دی سړی سره زما په ډیران باندې جنګ دی دی وائي زما دی او زه وایم زما دی زه دله قران ورکومه نو قران خودی له نه وو راغلی د قرانکریم دراتلو چه کوم مقصد وو هغه خو مونږه نه اداء کوو هغه مونږ هیر کړیدي.

## د انبیاء علیهم السلام د دعوت اقسام

حضرت نوح علیه السلام او د هغه نه روستوچه کوم انبیاءعلیهم السلام راغلی وو نو هغوئ دنیا ته دوه قسمه دعوتونه ورکړي وو.

۱- دعوت ئې د قانون د جاري کولو ورکړي وو په هغه زمانه کې چه هر یوکتاب چه وونو هغه به قانون وو اوبدې زمانه کې زمونږ قانون قران کریم دی.

کچرې يو سړی وائي چه زه به د مسلمانۍ ژوند تېر کړمه او قران به زما د ژوندگي حاکم نه وی او زما په معاشره کې به حاکم نه وی او زما په هر يو معامله کې به قران کريم حاکم نه وی نو اين خيال است محال است جنون است دا خيال دی محال شي دی ليونتوب دی کچری ژوند د مسلمان تيرول غواړي نو بغير د قران د مسلمان ژوند تيرول دا ممکن نه دی.

گرتو مي خواهی مسلمان زيستن　　نيست ممکن جز به قران زيستن

کچرې ته دا غواړې چه زما ژوند دی د مسلمان تير شي نو د قرآن نه بغير د اسلام او د مسلمان ژوند مشکل دي.

پدې سورت يونس کې الله رب العزت بيا فرمائي. ثُمَّ بَعَثْنَا مِنۢ بَعْدِهِم مُّوسَىٰ وَهَٰرُونَ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَإِيْهِۦ بِـَٔايَٰتِنَا فَٱسْتَكْبَرُوا۟ وَكَانُوا۟ قَوْمًا مُّجْرِمِينَ: ([1])

د دغه انبياء نه پس ما موسی عليه السلام او هارون عليه السلام راوليګل فرعون او د هغه دلې او هغوئ له ما خپل کتاب ورکړو هغوئ مخ واړولو تورات ئې نه وو منلی د قران او د تورات باره کې د يهود رائ دا وه قَالُوا۟ سِحْرَانِ تَظَٰهَرَا دا دوه د جادو کتابونه دی او يو د بل تائيد کوی نو هغوئ هم تورات د الله کتاب نه وو منلی نو هغوئ مخ واړه ولو او هغوئ مجرمان. فَلَمَّا جَآءَهُمُ ٱلْحَقُّ مِنْ عِندِنَا قَالُوٓا۟ إِنَّ هَٰذَا لَسِحْرٌ مُّبِينٌ: ([2])

نو هر کله چه دويته د الله د طرف نه تورات راغی نو هغوئ اووی چه دا تورات د جادو کتاب دي.

---

[1]- سورة يونس - ۷۵

[2]- سورة يونس - ۷٦

نو دې خلقو قران ته جادو وې تورات ته ئې جادو وې په قران کې الله فرمائي. وَمَا عَلَّمْنَاهُ الشِّعْرَ وَمَا يَنبَغِي لَهُ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ وَقُرْآنٌ مُّبِينٌ: (۱)
پيغبر صلى الله عليه وسلم ته ما شعر نه دى خودلى او نه د شعرلائق دى نو دا قران شعر نه دى او دا قران سحر نه دى دا ده الله رب العزت كتاب دې.

## انبياء عليهم السلام دنيا ته د الله كتاب بيان كړې دي

دارنګه هر نبي چه دنيا ته راغلى دى نو هغه شعر او سحر نه دى راوړى بلكې هغه د الله كتاب راوړى دى.
موسى خپل قوم ته وائي.
قَالَ مُوسَىٰ أَتَقُولُونَ لِلْحَقِّ لَمَّا جَاءَكُمْ أَسِحْرٌ هَٰذَا وَلَا يُفْلِحُ السَّاحِرُونَ: (۲)
تاسوته چه د الله كتاب راغى نو تاسو د الله كتاب ته وائي چه داجادو دى او جادوګر خو نه كاميابيږي او خلق ورته وائي.
قَالُوا أَجِئْتَنَا لِتَلْفِتَنَا عَمَّا وَجَدْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا وَتَكُونَ لَكُمَا الْكِبْرِيَاءُ فِي الْأَرْضِ وَمَا نَحْنُ لَكُمَا بِمُؤْمِنِينَ: (۳)
ته دې د پاره راغلى چه مونږه له زمونږ د پلار نيكه طريقې خرابې كړې اوس هم د موسى عليه السلام د قوم كافرو پشان اود فرعون او د هغه د دلې پشان خلق حق پرستو ته چه كله خلقو ته د الله كتاب بيانوې نو وائي زه ته اوس دې له راغلى چه د مونږه د پلارنيكه د طريقې نه اړه وى.

۱- سورة ياسين - ٦٩
۲- سورة يونس - ٧٧
۳- سورة يونس - ٧٨

د پلارنیکه طریقه به په قران باندې تلې دا به د الله په قانون او د الله په نظام باندې به تلې دا نه چه د الله قانون به راخلې اود پلارنیکه په طریقه باندې به ئې تلې۔

هغوئ ته ئې وی چه تاسودی له راغلې ئې چه واړه وی مونږ د هغه طریقې او د دستور نه چه کوم مونږ له زمونږ مشرانو جوړ کړې وو۔

د هغوئ دستورونه دا وو چه د واد ځانله د بچي د پیدائش ځانله دستور وو د غم ئې ځانله دستور اوطریقه وه د هرڅه د پاره ځانله ځانله طریقې او دستورونه وو۔

## مختلف رسمونه او رواجونه

بعض دستورونه او طریقې دی مشرانو ته معلومې دی چه کله به ئې د بچي سنت جوړ کړو نو د بچي پلارهغه به د سوالگرې ملنگ په شان شو تویی به ئې راغستې وه او په خلقو باندې گرځیدو او د خلقونه به ئې پیسې غونډولې دا څه طریقې وی؟ او بیا چه واد به ئې وو نو په واد کې به ئې یو سرې کینولی وو او لیکل به ئې کول چه فلانی دومره راکړې او فلانی دومره راکړي اوچه چا به کمې ورکړي نو په هغه پسې به ئې استازې لیګو چه ما ورته ٥ روپۍ ورکړې او ماله ئې ندې راکړې۔

دا څه طریقه وه داڅه دستور وو دا څه ایمان اوڅه دین وو د واد به ځانله غلط رسمونه وو او د بچي د پیدا کیدو ځانله غلط رسمونه او غلطې طریقې وی ټوله معاشره ئې برباد کړې وه او د قران او د سنت مخالفت ئې کولو نو چه کله د الله کتاب بیان شو نو دوی وې چه دې له راغلې ئې ته زمونږ د پلار نیکه طریقه ختموې او پدې کلي او په علاقه کې خپله

مشري ثابتوي او فرعون او قوم د هغه موسی علیه السلام ته وی مونږه ستاسو دواړوخبره نه منو. او د دې په مقابله کې هغه خلق چه هغوئ د الله د کتاب نه لري وو جادوګر په هغوئ پسې راخوشي شو.

## د بیان حاصل

عزتمندو زما د بیان حاصل دا شوکچرې یوسړی دا غواړي چه زماژوند دی د مسلمانۍ شي او ما دې د مسلمانۍ ژوند تیرکړي نو دا یاد ساتئ بغیر د دې کتاب قرانکریم نه د مسلمانۍ ژوند تیرول دا ممکن نه دی.او کچرې ته خپل ژوند د هندوانو په طریقو باندې تیره وي اوکه خپل ژوند د خپلو پلارانو مشرانو په هغه طریقو او دستورونو باندې تیره وی کوم چه هغوئ د قران خلاف جوړ کړي وو نو الله ګواه دی چه نه به د مسلمانۍ نوم واخلي او نه به د مسلمانۍ څه ثمره بیا مومئ اوکچرې پدې دنیا کې کامیابي غوختل ستاسوارزو او تمنی وی نو بغیر د دې نه چه ته د قران غلام شي او د قران اشاعت وکړي پدې دنیا کې او د الله رب العزت قران ته او قانون ته غاړه کیدئ دا به درته میلاو شي.

دایادساتی چه تش پدې باندې چه زه مسلمان یم پدې باندې ایمان نشته څکه که ایمان وی نو الله د ایمان والاسره وعد کړي وه وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ تاسو به اوچت يُ که په تاسو کې ایمان وی.

زمونږ نن صبا د ذلت اصل سبب دا دی چه ایمان نشته.

# دعا

الله رب العزت دی زمونږ په زوړنوکي د قران کریم سره مینه پیدا کړي.

الله رب العزت دی زمونږ په معاشره کي قران حاکم کړي.

الله رب العزت دی مونږ او تاسو د قران کریم عالمین او عاملین کړي.

الله رب العزت دی په مونږ کي ایمان پیدا کړي.

الله رب العزت دی په مونږ کي ایمان پیدا کړي.

وآخر د عونا ان الحمدلله رب العالمین.

# موضوع : اسلام کي د مدرسې مقام

الحمد لله الحمد لله الذي ارسل رسوله بالهدى و دين الحق ليظهره على الدين كله و لو كره المشركون

و الحمدُ لله الذي ارسل رسوله بالهدى و دين الحق ليظهره على الدين كله و كفى بالله شهيدًا

و اشهدُ ان لا اله الا الله وحده لا شريك له اقرارًا به و توحيدًا

و اشهدُ ان سيدنا وسندنا و مولانا محمدًا عبده و رسوله صلى الله تعالى عليه و على آله و اصحابه وسلم تسليمًا مزيدًا

و بعد :

فَأَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَاهِيمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ وَإِسْمَاعِيلُ رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ * رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِنَا أُمَّةً مُسْلِمَةً لَكَ وَأَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبْ عَلَيْنَا إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ * رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولًا مِنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيهِمْ إِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ : (۱)

---

۱- سورة بقره - ۱۲۷- ۱۲۸- ۱۲۹

## تمهيد

څما عزتمندوحاضرينو:ستاسو پدې کلي میاں خان کې او پدې نوې مدرسه کې د دې دريو ماشومانو د قران کريم د ناظرې ختم وو او د هغې په سلسله کې الله رب العزت مونږ له هم د سعادت دا موقع راکړه چه ستاسو سره پدې مبارک مجلس کې شريک شو.

عزتمندو مسلمانانو : الله رب العزت کله کله په بعض انسانانوباندې خاص خاص احسانونه کوي او د هغه احسان چه شکريه اداء کړي شي نوالله رب العزت هغه احسان زياتوي. او کله چه يو سړی د هغه احسان د شکريه پځائي باندې کفران اوکړي نو الله رب العزت د هغه خلقو نه هغه احسان اوچتوي.

ما د دې موقع په مناسبت باندې د يو دوو پيغمبرانو د حالت متعلق دري آياتونه لوستی دی الله دی ماله د صحيح او د حقې خبرې د بيانولو توفيق راکړي او الله دې ماله او تاسو له بيا د عمل کولو توفيق راکړي.

## د اسلام او د قران په اشاعت کې د مدرسو کردار

عزتمندو : د اسلام او د قران په اشاعت کې د مدرسو يو قوي لاس دی حضرت ابراهيم او حضرت اسماعيل عليهما السلام هم يوه مدرسه جوړه کړې وه د مدرسې د پاره چه کوم ضروريات وونو هغه ئې د الله نه غوختلی وو څکه هر څه د الله په توفيق باندې کيږي.

قران عظيم الشان چه کله د ابراهيم عليه السلام د مدرسې ذکرکوي نو په خصوصيت سره پکې څلور څيزونه ذکر کوي.

۱- د مدرسې ابادي. ۲- د مدرسې د پاره استاذان . ۳- د مدرسې د پاره طالبان . ٤- د مدرسې د پاره نصاب تعليم.

کوم آياتونه چه ما لوستي دی پديکې الله رب العزت د حضرت ابراهيم عليه السلام او دحضرت اسماعيل عليه السلام هغه مشترکه سعي او کوشش د هغې د دا څلور بنيادي مقاصد خودلی دي نن صبا هم مونږ له د حضرت ابراهيم عليه السلام غوندې خلق پکاردي چه په کلوکې مدرسې پدې څلورو مقاصدو په بنيادونو باندې جوړې کړي.

علامه اقبال وائي.

پھر دور اپنے براہیم کی تلاش میں ہے　　　صنم کدہ ہے جہاں لا الہ الا اللہ

دې دور له هم حضرت ابراهيم عليه السلام پکاردی څکه ددنيا د خلقو زړونه ددين نه اوړيدلی دی پکاردا ده چه دحضرت ابراهيم عليه السلام په اخلاقو باندې متخلق خلق پيدا شي او خلق دين طرف ته راوبلي.

## د الله رب العزت د دين اول مرکز او د هغې ابادول

عزتمندو: چه کله د الله رب العزت د دين اول مرکز جوړيدو داسې وګنې. لکه چه د اسلام د پاره اوله يونيورستې جوړيد د هغې بنياد دوو کسانو په اخلاص باندې ايخودی وو د يو نوم ابراهيم عليه السلام وو او د بل نوم اسماعيل عليه السلام وو.

ابراهيم عليه السلام او اسماعيل عليه السلام دوارو په شريکه باندې د هغه مدسې او مرکز بنيادونه او ديوالونه پورته کول څکه د طالبانواو د ټلې د خلقو داصلاح د پاره اول د يوې مدرسې ضرورت دی او چه کله ئې مدرسه جوړه کړه نو بيا ئې د هغې د پاره يو ښه معلم غوختلو چه يا الله مونږ له يو

به معلم راکړي او داستاذ د پاره طالبان راکړي او بيا ئي دغې د نصاب تعليم د پاره څلورمرحلې ذکرکړې اوېدې بنيادباندې هغه مدرسه جوړه کړ. قران د هغې ذکرکوي او دا ذکر د دې د پاره کوی چه ما اوتا د ابراهيم او د اسماعيل عليهما السلام په قدم باندې قدم کيدو اوځنګه چه د خلقو د اصلاح د پاره هغوئ يو مرکز جوړکړي وو په کومو بنيادونو چه ئي جوړ کړي وو چه په هغه بنيادونو باندې مونږ هم خپل علاقو کې مرکزونه جوړ کړو الله فرمائي.

وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَاهِيمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ وَإِسْمَاعِيلُ رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ : (١)

اوکله چه ابراهيم عليه السلام دبيت الله بنيادونه پورته کول او اسماعيل عليه السلام پورته کول پلارئي ګټې ايخودلې اوخوئي ورله ګټې ورکولې د ابادې شروع کولو په وقت کې حضرت ابراهيم عليه السلام او حضرت اسماعيل عليه السلام دواړو د الله نه دعاکوي.

ياالله مونږ دا درسګاه جوړو مونږ دا مرکزجوړو د دين د اشاعت د پاره يو ځائي جوړ وو الله پديکې اخلاص پيداکړې يا الله ابادې جوړوو هسې نه چه بې ثمرې ابادې نه شي الله ابادئ جوړوو زمونږ نه ئي قبول کړې يقينا الله ته صرف ته بل څوک نه الله ته قبلونکې ئي الله ته زمونږ په نيتونو باندې پوهه ئي ياالله زمونږه د نيتونو اصلاح وکړې او دا ابادی مونږ جوړوو الله دا په اخلاص باندې بناء کړې.

---

١- سورة بقره - ١٢٧

دا دعربو په زمکه کې اوله مدرسه جوړيد او چاچه جوړوله نو نهايت په اخلاص باندې او بيا ئې اوفرمائيل.

رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِنَا أُمَّةً مُسْلِمَةً لَكَ وَأَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبْ عَلَيْنَا إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ: (۱)

حضرت ابراهيم عليه السلام دعا کوله او حضرت اسماعيل عليه السلام پدې آمين وی اوې فرمائيل اې زمونږ ربه مونږ خو مدرسه جوړوو هسې نه چه چرته د تشطط د افتراق او د ډله بازئ ښکار نه شو ياالله مونږه د خپل ځان تابعدارکړې ياالله ټچپله تابعدارې کې ځمونږه نه دا کار واخلې او زمونږ په اولاد کې يو ډله پيدا کړې الله چه ستا تابعداره وی د بل چا نه ياالله کوم مرکز چه مونږ جوړه وو د دې فائد زمونږ جولو ته واچوې الله ددين طريقې راته اوښائې يقيناالله ته توبه قبلونکې رحم کوونکې الله که زمونږ نه څه خطا شوی وی نو ياالله مونږ ته معافي اوکړې.

گورئ رونړو : څومره په اخلاص مدرسه جوړيکې او دوه کسان ئې جوړوې ټچپلو متو باندې کارکوې چنده ورله نه کوې ټچپلو متو باندې کارکوې او چه کله کار کوې نو په هغه کار باندې هم يقين نشته يقين ئې د الله په ذات دې او الله ته دعاګانې کوې الله ستا د دين د پاره يو مرکز جوړه وو الله دا مرکز قبول کړې پلاراو ځوئې دواړه دې پلار ئې دعا کوې او ځوئې پرې امين وائې بيا د الله نه سوال کوې ياالله مدرسه جوړوو خو هسې نه چه مونږه ئې جوړه کړو او د خير نه پکې مونږه محرومه شو.

۱- سورة بقره - ۱۲۸

وَأَرِنَا مَنَاسِكَنَا یاالله د دین طریقې پکې موږ ته اول زد کړې یاالله که زموږنه څه کوتاهي شوی وي نوموږ ته معافي اوکړې پدې اخلاص باندې دا مدرسه جوړه شوه او هغه داسې مدرسه وه چه نهایت په اخلاص جوړه شوی وه نو دنیا ته د هغې فیض اورسیدو.

حضرت ابراهیم علیه السلام او حضرت اسماعیل علیه السلام وائي.

یاالله مدرسه جوړه شوه دا زموږ نه قبوله کړې نو د مدرسې د پاره د پو څو اشیاءضرورت دی یو ابادي دی چه آبادي جوړشو اوس دی له یو مخلص استاذ پکاردی او دې له طالبان پکار دي او هغه طالبانو له نصاب پکار دی قربان شمه دابراهیم علیه السلام نه خبره کوي اوډیره په ترتیب باندې روانه د او په مرتب انداز باندې خبره کوي یو اهم مقصد ئې مخې ته دې د هغه مقصد د پاره د الله رب العزت نه غوختل کوي څکه چه هرشی چه کیږي نو د الله رب العزت په توفیق باندې کیږي لاحول ولاقوة الا بالله .د معصیت نه اوړیدل د گناه نه لرې کیدل او د نیکی د کار تکل کول دا ده الله د قدرت نه او او د الله د امدار نه بغیر نه کیږي.نو سوال کوی.

رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولًا مِنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيهِمْ إِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ : (۱)

اې الله پدې کلې کې د دې کلیوالونه یوپیغمبر راولیکي یواستاذ راولیکي څکه نبي صلی الله علیه وسلم هم فرمائي. وإنما بعثت معلماً : (۲)

---

[۱]- سورة بقره - ۱۲۹

[۲]- مسند الدارمي : جلد ۱ صفحه ۳۶۶ ۱۸ باب كراهية الفتيا

زه چه الله دې دنيا ته راليږلی يم نومعلم ئې راليږلی يم خودنګی ئې راليږلی يم نبي صلی الله عليه وسلم د عالم د پاره معلم وو استاذ وو.

په کلي کې استاذ پيدا شو داسې استاذ چه د هغه صفت وو معلم او خلقو ته ئې تعليم خودو دغه معلم له متعلمين طالبان پکار وو نو دعا ئې اوکړه يا الله پدې کلي کې يو پيغمبر راوليږې پدې کلی کې يو معلم راوليږې الله چه هغه پدې کلی د کلی خلقو ته ستا آياتونه ښائي.

ابادي جوړ شو دابادي د جوړيدو نه پس استاذ راغی طالبان په کلی کې پيدا شو نو اوس دې طالبانو له نصاب پکار دی نو قربان شم د قران نه دا واقعات چه الله مونږ ته ذکر کوي الله مونږ ته قصې نه ذکر کوي مولانا روم رحمه الله وائي :

حاش لله اين حکايت نيست اين

نقض حال ما و تو از خوش ببين

خبر دار دا ګورئ قصئ نه دی دا الله پاک زما او ستا د حال د کره کولو د پاره دا واقعات پيش کوي.

اعلان اوشو دعا اوشه يا الله پدې کلي کې د دې کلې والو نه يو معلم راوليږې دا کلی واله د هغه د پاره طالبان کړې.

## د مدرسي نصاب به څه وی ؟

ستاسو پدې کلي کې بعينه دغسې يو نقشه ده په کلي کي مدرسه جوړه ده او د کلې خلق د هغې طالبان دی د علاقې يو سړی دی او هغه پدې مدرسه کې مدرس دی نصاب ئې څه دی؟

يَتۡلُو عَلَيۡهِمۡ آيَاتِكَ اې الله ابتدائي نصاب د دې مدرسې دا پکار دی چه دغه استاذ د دې کلې بچو او ماشومانو او اوسيدونکو ته ستا اياتونه بيان کړي. اول نصاب څه دی ؟ چه ستا اياتونه اولولي.

دويم د آياتونو د لوستلو نه پس وَيُعَلِّمُهُمُ الۡكِتَابَ دغه ستا دکتاب اياتونه چه اول دي خلقو ته په ناظره باندې اولولي بيا هغوئ ته د هغې تعليم ورکړې دا ئي دويمه پوړي د.

او دريمه پوړی ئي د وَالۡحِكۡمَةَ حکمت د قران کريم تشريح ته او تفسير ته وئيلي کيږي چه اې الله چه دې مونږ ته د قران تفسير او تشريح اوکړي هغه تفسير او تشريح چه کوم ستا د منشاء مطابق ستا د خوښې مطابق شويدی نبي صلی الله عليه وسلم الله راليږلي ووځه له ئي راليږلی وو؟ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيۡهِمۡ چه کوم کتاب دې خلقوته راليږلی شويدی هغه دی خلقو ته وښائي دا دهريمه پوړی وه.

په اول پوړی کې د مدرسې د پاره نصب لکه نن چه تاسو وليدو دې ماشومانو ختم وکړو لفظي ختم ئي وکړو يوه زمانه پس به تاسو اووينئ چه دغه ماشومان دوې به د قران کريم د ترجمې ختم اوکړي څه زمانه پس به تاسو اووينې چه دغه ماشومان د دوې په لاس کې به د حديثو کتابونه دوی به حديث زد کوي دوی به حديث وائي.

او په څلورمه مرتبه کې به وَيُزَكِّيهِمۡ يا الله پدې قران او پدې سنت باندې د دې خلقو د باطن صفائي اوکړئ.

## د باطن صفائي بغير د قران كريم نه ممكن نه ده

عزتمندو: د ټولو نه لوئې شى هغه د انسان د د باطن صفائي د او د باطن صفائي دا بغير د قران كريم نه ممكنه نه ده خكه د باطن صفائي په قران كريم سره راځي د دې قران اصل مقصد د باطن صفائي د.

په سورة ال عمران کې الله رب العزت قسم كوي الله فرمائي.

لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا مِنْ أَنْفُسِهِمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِنْ كَانُوا مِنْ قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ: [1]

الله قسم كوي زما دې قسم وي الله احسان كړيدي په مؤمنانو باندې.

علماء وائي لام چه په قد او قد په ماضي باندې راشي نو دا معنى د قسم پيدا كوي الله قسم كوي زما دې پخپل ذات باندې قسم وي چه ما په ايمان والو باندې احسان كړيدي كوم احسان دى جناب ؟چه الله د دوى د جنس نه په دوى كې يو پيغمبر راوليږو يو استاذ ئې راوليږو يو معلم ئې راوليږو چه د دې كلې خلقو ته د الله اياتونه لولي او د دې اياتونو غايه او مقصد داوى چه د دوى دنفسونو صفائي پرې اوشي او دويته قران او سنت وښائي اګر چه د دې مدرسې د جوړيدو نه مخکې دوى واضح په خطا لاره باندې روان وو دا مدرسه دا معلم اود دې معلم كوششونه دا ده دې خلقو د صفائي او د الله سره د تعلق يو ذريعه جوړه شوه.

إِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ يقينا ته الله غالب او حكمت والا.

---

[1]- سورة ال عمران - ١٦٤

## په دار ارقم کې د نبي صلی الله علیه وسلم مدرسه

عزتمندو: په مکه کې چه کله دا مدرسه جوړه شوه نو هغه اصل مدرسه په هغې باندې خلقو قبضه اوکړه نبي صلی الله علیه وسلم په دار ارقم کې یوه وړه غونډې متبادله مدرسه جوړه کړه او هغه د مکې خلق لس اته کسان پکې ناست وو او هغوئ ته ئې د الله د دین درس کوو ناساپه د الله غیرت په جوش کې راغی او د مکې په بهادرانو کې یو بهادر سیدنا عمر بن الخطاب رضي الله عنه د دغه مدرسې طالب شو اوچه کله طالب شو نو راپاڅیدو او خلقو ته ئې اووی دا مدرسه چه جوړه شوې وه نو دغه یوه مدرسه وه نومونږه ولې دغه خپلې مدرسې ته نه ځواوپه هغه مدرسه کې اعلان شروع شو او د هغه مدرسې نه بیا وفدونه اووتل د هغه کلي وفدونه مصعب بن عمیر رضي الله عنه مدینې منورې ته لاړو او په مدینه منوره کې عامو خلقو د تعلیم سره شوق وو او هغه خلقو د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د مدرسې اصل نصاب ته لبیک اووی او څه زمانه پس په کوم ځائې کې چه د مدرسې شاخ جوړ شوی وو نو هغه ځائې د مرکز په حیثیت باندې دنیا ته مخې ته راغې او بیا به تاسو ته دا معلومه وي چه د هغه مدرسې طالبان وو چه هغوئ د اسلام د پاره هغه مرکزي خدمتونه اوکړه د مصعب بن عمیر رضي الله عنه شاګردان د عمرو بن جموح رضي الله عنه ځامن اومعاذ بن عمرورضي الله عنه دارنګې د هغه رویرونه معاذ بن جبل رضي الله عنه او درانګې دانور کسان راپیدا شو او یو انقلاب ئې راوستو او داسې انقلاب ئې راوستو چه دنیا ته ئې دا اوخودله چه د مکې په مدرسه کې او د مدینې په مدرسه کې کومو طالبانو علم زد

کړي وو. د هغوئ د نفسونو تزکيه او صفائي داسې شوی وه چه کله په ميدان کې اودريدلي دي او څه شی ورسره نه وو نو الله رب العزت د بره نه د هغوئ د مدد د پاره فرشتې راوليږلې.

د بدرجنګ چه کيدو نو د دغه مدرسې طالبانو کړې وو هيس شی ورسره نه وو خو ايمان ئي قوی زد کړي وو او د دغه مدرسې چه کوم مقصد وو د هغوئ د نفسونو صفائي او تزکيه شوی وه.

يو صحابي دی په اخري عمر کې په سترګو ړوند شوی وو هغه به وی ما بوځئ او د بدر په ميدان کې ما اودروئ نو زه به تاسو ته په خپلو ړندو سترګو هغه تنګئ وښايمه کوم تنګی نه چه به فرشتې راوتې او زمونږ فوجونو کې به شامليدې.

فضاء بدر پيدا کر فرشتے تيری نصرت کو

اتر سکتے هيں ګردوں سے قطار اندر قطار اب بهی

## مدرسي د انسانيت کارخاني دي

عزتمندو : د دغه مدرسې طالبانو دنيا ته دا خودلې د چه انسانيت هغه انسانيت چه هغه الله ته ډير ګران دی او الله ته ډير عزيز دی او د الله ورسره ډيره مينه د د هغوئ پيدائش هم د دغه مدرسو نه کيږي.

مشهور صحابي او د هغه مدرسې داسې طالب چه استاذ ورته کله کله وائي لکه حديث کې رازي.

عن عبد الله قال قال النبي صلى الله عليه وسلم اقرأ على قال قلت أقرأ عليك وعليك أنزل قال اني أحب ان أسمعه من غيري فقرأت حتى إذا بلغت فكيف

إذا جئنا من كل أمة بشهيد وجئنا بك على هؤلاء شهيدا قال رأيت عينيه تذرفان دموعاً

تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده صحيح على شرط الشيخين: (۱)

نبي صلى الله عليه وسلم ورته فرمائي ماته قران اولوله هغه ورته وائي يارسول الله صلى الله عليه وسلم په تا قران راغلی دی نو زه به ئي لولم نو نبي صلى الله عليه وسلم ورته وائي چه زما دا خوښه د چه زه د خپلې مدرسې د يو طالب العلم نه قران كريم واورمه .

او نبي صلى الله عليه وسلم اعلان كوي.

عن عبد الله أن أبا بكر وحضرت عمر رضي الله عنهما بشراه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال من سره أن يقرأ القرآن غضا كما أنزل فليقرأه على قراءة بن أم عبد : تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده حسن: (۲)

كه څوک پدې خوشحاليږي چه تازه قران اولولي څنګه چه د برې نه راغلی دی او په ښائسته انداز باندې ئي اولولي نو د حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه نه دې واوري او د هغه په اواز سره دې قراءت كوي او قران كريم دی اولولي.

## د عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه وينا

په دارمي كې د عبدالله بن مسعودرضي الله عنه روايت دی هغه فرمائي. په شكل او په صورت باندې خو خلق ډير زيات دی خوكوم چه په حقيقي

---

۱- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ۱ صفحه ۳۸۰ مسند عبد الله ابن مسعود

۲- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ۱ صفحه ۷ مسند أبي بكر الصديق رضي الله عنه

إذا جئنا من كل أمة بشهيد وجئنا بك على هؤلاء شهيدا قال رأيت عينيه تذرفان دموعا

تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده صحيح على شرط الشيخين: (۱)

نبي صلى الله عليه وسلم ورته فرمائي ماته قران اولوله هغه ورته وائي يارسول الله صلى الله عليه وسلم په تا قران راغلى دى نو زه به ئې لولم نو نبي صلى الله عليه وسلم ورته وائي چه زما دا خوښه د چه زه د خپلې مدرسې د يو طالب العلم نه قران كريم واورمه.

او نبي صلى الله عليه وسلم اعلان كوي.

عن عبد الله أن أبا بكر وحضرت عمر رضي الله عنهما بشراه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال من سره أن يقرأ القرآن غضا كما أنزل فليقرأه على قراءة بن أم عبد: تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده حسن: (۲)

كه څوک پدې خوشحاليږي چه تازه قران اولولي څنګه چه د برې نه راغلى دى او په ښائسته انداز باندې ئې اولولي نو د حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه نه دې واورې او د هغه په اواز سره دې قراءت كوي او قران كريم دى اولولي.

## د عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه وينا

په دارمي كې د عبدالله بن مسعودرضي الله عنه روايت دى هغه فرمائي.
په شكل او په صورت باندې خو خلق ډير زيات دى خوكوم چه په حقيقي

---

۱- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ۱ صفحه ۳۸۰ مسند عبد الله ابن مسعود

۲- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ۱ صفحه ۷ مسند أبي بكر الصديق رضي الله عنه

معنوکي انسانان دي هغه هغه دي چه په هغوئ کې په دريو صفتونو کې يو صفت وی.

عزتمندو لږ سوچ اوکړئ چه مدرسه او په خصوصيت سره بيا د قران کريم مدرسه او مرکز پديکې الله رب العزت انسانان جوړوي.

ابن مسعود رضي الله عنه فرمائي هغه انسانان چه په حقيقي معنو کې انسانان دی هغه په دري قسمه دي.

١- هغه ښودنکی د قران کريم دا کامل انسان دی. ٢-او يا د قران او د سنت زده کوونکی دا انسان دی.٣- يا د دې دواړو سره امداد کوونکی انسان دی .او اوی فرمائيل.

عن عبد الله بن مسعود قال اغد عالما أو متعلما أو مستمعا ولا تكن الرابع فتهلك: (١)

اې سړيا همت په ځان کې پيدا کړه ياځه د قران استاذ شه د دغه همت د پاره ښځې راکاږه زده ئې کړه او زده کوي به داسې چه سامع شه د طالب او د مولا په خوا کې کينه او امداد ئې اوکړه څلورم نه شي کني تباه به شي.

## د مسلمان انتخاب د دنيا د خير د پاره شويدی

عزتمندو: انسان او په انسانانو کې بيا مسلمان د دانتخاب دنيا د خير د پاره شويدی ځکه چه مسلمانان و الله رب العزت هغوئ د پاره چه کوم مقصدونه ليکلي وو بني اسرائيل په يوه زمانه کې د دنيا قيادت د هغوئ په لاس کې وو الله فرمائي چه ما بني اسرائيلو ته حکم کړي وو.

---

١- سنن الداري: جلد ١ صفحه ٢٨١ باب فى ذهاب العلم

وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَ بَنِي إِسْرَائِيلَ لَا تَعْبُدُونَ إِلَّا اللَّهَ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَذِي الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ وَقُولُوا لِلنَّاسِ حُسْنًا وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ إِلَّا قَلِيلًا مِنْكُمْ وَأَنْتُمْ مُعْرِضُونَ: (۱)

زما نه به بغير د بل بندګي نه کوئ او د انسانيت سره به ښه سلوک کوئ او بيابه انسانانوکې هغه انسانان چه ستاسونه اوچت دی وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا موراو پلارسره به احسان کوئ اوچه ستا کله مساوي دی لکه ستا رشته داران وَذِي الْقُرْبَىٰ او ستا نه چه لاندې دی د مال په حيثيت يا د ځوان په حيثيت سره وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ او چه کله ستا د ټول انسانيت سره واسطه راځي نو وَقُولُوا لِلنَّاسِ حُسْنًا ټولی دنيا ته به ښه خبره کوې.

زمونږ شيخ الله دې پرې کروړها رحمتونه اوکړي او الله دې قبر د نور نه ډک کړي شيخ العرب و العجم شيخ القران مولنا محمد طاهر رحمة الله عليه هغه به پخوا مونږ ته په درس کې يوه واقعه بيانوله د پنج پير په خوا کې يو کلی دی زيد ورته وائي د هغې د يو سړي واقعه وه او هغه سړی ما پخپله هم ليدلی وو دکور نه بهربه ئې کټ راويستلی وو او ناست به وو چه چا به ورته وی بابا السلام عليکم نوهغه به ورته وی بچې وعليکم السلام دودې پخېل کورکې خورمه او دعا ستا بچوته کومه.

انسان الله رب العزت ددې د پاره پيدا کړيدې چه دې به د ټول انسانيت خير خواه وی الله فرمائي.

---

۱- سورة بقره – ۸۳

كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَوْ آمَنَ أَهْلُ الْكِتَابِ لَكَانَ خَيْرًا لَهُمْ مِنْهُمُ الْمُؤْمِنُونَ وَأَكْثَرُهُمُ الْفَاسِقُونَ: (۱)

تاسو يو بهترين جماعت ئي او ستاسو انتخاب د ټول عالم د پاره شويدى او تاسو به د ټول عالم خيراخواهي لټوئ.

تاسو به خلقوته هغه څيزونه ښائي كوم چه په قران اوسنت كې دي معروف څه معنى چه په قران كريم اوسنت كې چه څه دى او تاسو به خلق د هغه څيزونه نه منع كوي كوم څيزونه چه په قران اوسنت كې نشته اوستاسو به په يو الله باندې ايمان وي .

## د دنيا قوتونه او د هغوئي كار

عزتمندو د كله نه چه دا دنيا اباده ده نو دوه قسمه قوتونه كار كوي.

۱- قوت هغه دى چه هغه د انسانيت اصلاح كوى .

۲ - هغه قوت دى چه هغه د انسانيت د فساد درپئ وى .

اقبال يو ځائي كې وائي .

ستيزه كار رها هے ازل سے تا امروز

چراغ مصطفوي سے شرار بولهبي

وائي چه د ازل نه واخله ترننه پورې پدې دنيا كې دوه قوتونه كاركوي يو طرف ته د محمد عربي صلى الله عليه وسلم ډيوه بليږي نو بل طرف ته د ابو لهب بسر الوزئ . د ډيوي كار رنړا كول دي او د د بسرو كار وطنونه

---

۱- سورة ال عمران - ۱۱۰.

سيزل دی.بعض خلق وطن سوزه وي او بعض خلق وطن سازوي نو د دې دواړو تر منځه فرق وکړي.

اې مسلمانانو پدې باندې سوچ اوکړئ چه سوک مونږ له وطن سازوي او څوک مونږ له تن سازوي اوڅوک مونږله بچي سازوي اودا هم سوچ اوکړئ چه کوم خلق دی چه هغوئ مونږ له وطن سوزه وي او مونږ له بچي سوزه وي.

## انسانيت ساز او انسانيت سوز په منځ کې فرق

عزتمندو : په دنيا کې کله کله يو سړی راپاسي او يو نمونه پيش کړي او د هغه په نيت کې اخلاص وي او د هغه په مقابله کې نورکسان وي او د هغوئ په نيت کې اخلاص نه وي هغوئ صرف ذاغواړي چه دا کوم حرکت شروع دی نو داحرکت ختميږي ولې نه؟پدې دواړوکې پهچان ضروري دی. سړی دا وپيژني چه کوم انسانان دی چه هغوئ زمونږ د بچو نه انسانان جوړه ويکوم خلق دی چه هغوئ زمونږ دبچو انسانيت سوزه وي نو د انسانيت ساز او د انسانيت سوز د دې دواړو فرق پکار دي.

د انسانيت سازئ د پاره الله رب العزت د انبياءعليهم السلام نمونې پيش کوي اود انسانيت سوزئ دپاره الله رب العزت د شيطان نمونه پيش کوی اوکله کله يوانسان هغه دشيطان په نمونه شي اصل کې شيطان وی خو شکل او صورت ئې د انسان وي.او هغه به د حقې لارې نه به تا اړوی يو شاعر وائي.

أبني إن من الرجال بهيمة في صورة الرجل السميع المبصر

اې بچیه سوچ کوه سوچ کوه په سړو کې بعض لیوګان هم شته شکل شکل ئې د انسان دی اوري او وینې هم خو په حقیقت کې داانسان نه دی ځکه د انسان صفت دا دی چه هغه دنیا ته یوه نمونه پیش کوی اوهغه په دنیا کې در چا بدکار ته بد اووائي او د خلقو تعلق د خو سره پیدا کړي.

شاعر وائي.

ذهب الرجال المقتدى بفعالهم والمنكرون لكل أمر منكر

اې بچیه هغه خلق چه د هغوئ په قدم باندې به خلقو قدم ایخودو اوهغوئ ته به د هدایت لاره میلاوید هغه خلق تلي دی اوهغه خلق چه هغوئ به هر ناشنا کار یعنې هرهغه کارچه هغه به منکر وو او هغه به په دین کې نه وو او هغه به د انسانیت د پاره فائد مند نه وو او د هغې رد به ئې کولو هغه خلق تلي دي.

نن صبا خو داسې خلق پیدا شوی دی چه ظاهري شکل ته ئې کورې نو سړی حیرانوي خوچه د هغه عمل ته کوري نوعمل ئې ډیربد دی نو د دې نه لږ متیقظ اوسیږې هسې نه تاچه کوم مقصد شروع کړي دي هغې لاره کې تاته څوک حائل رانیشي.

## د کمال انساني راز

عزتمندو: د انسان اصل کمال دا دی چه د الله سره ئې تعلق پیداشي او د الله سره تعلق چه پیدا کیږي نو په ضداو عناد باندې نه پیداکیږي داپه دې پیداکیږي چه ستا مینه او ستا ورکول اوستا نه ورکول اوستا بغض دا ټول ته د الله د رضا د پاره وکړي او دي د پاره تا له د یو درسګاه ضرورت دی چه په هغه درسګاه کې ته اوپیژنې او بدې خبره باندې ځان پوهه کړي چه زما به

د الله سره ځنګه تعلق پیداکیږي د دې تولو ځیزونو دارومدار د الله رب العزت سره په تعلق باندې دی.

لکه حدیث کې رازي نبي صلی الله علیه وسلم فرمائي.

عن سهل بن معاذ الجهني عن أبيه قال قال رسول الله صلى الله عليه و سلم من أعطى لله تعالى ومنع لله وأحب لله وأبغض لله وأنكح لله فقد استكمل إيمانه :تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده حسن: (۱)

چاچه مینه د الله د پاره وه او د چا چه بغض د الله د پاره وو اودچا چه ورکړه اومنع د الله د پاره وو هر عمل چه ته کوي نو په هغه عمل کې ستا مقصد د الله رضا وي او د الله سره تعلق جوړه ول وي نوستا ایمان به کامل شي اوکه دا کارونه ستا د الله د رضا د پاره نه وي نو ستا ایمان به ناقص پاتی شي.

ځما رونړو دا قسمه مدرسې د انسان ایمان کامل کوي دا قسم مدرسې د انسانیت تعلق د الله سره جوړوي د دغه مدرسو نه چه کوم طالبان اووتي نو هغوئ د الله د توحید آواز په توله دنیا کې خورکړي دي.

## د مدرسو برکات

د ابراهیم علیه السلام په مدرسه کې ځوئي ورسره ناست وو او بیا پلار د هغه ځوئي په مرئ باندې چاړه ګدي ځوئي ورته سر نه خوزه وی دا ده ځوئي والی اداب د دې مدرسو برکات وو.

الله ګواه دی زه ډیرخوشحاله یمه پخوابه زه دې کلي ته راتلمه پخواني ځمونړه ملکری تقریباهغه نن نشته مړه دی اویدې جماعتونوکې به مونږ د الله د

---

۱- مسند امام احمد بن حنبل: جلد ۳ صفحه ٤٤٠ حدیث معاذ بن أنس الجهني رضي الله عنه

دين بيان کووهغه هم د خوشحالی ورځې وي د الله سره د بنديانو د تعلق جوړه ولو د پاره به مونږ راتلو خو نن الحمد لله پدې ځلې يوه کارخانه جوړه شويد چه په هغه کارخانه کې د الله سره د تعلق جوړولواسباب جوړيږي نن ماته ډيره خوشحالي د چه زه په هغه کارخانه کې راغلی يم او ناست يمه او هغه خلقو ته د الله د کتاب نه دوه درې څلور خبرې کومه زه خو الله ګواه دی د نيکۍ کارهرڅوک چه کوي ډير خوشحاليږمه.

بعض خلق داسې وي چه د هغوئ د لاسه الله رب العزت کار اخلي نو د داسې خلقومرسته او نصرت پکاردی او د داسې خلقو سره تعاون پکار دی او د داسې خلقو خلاف کول په حقيقت کې د الله رب العزت د دين خلاف کول دي تاسو بختور خلق ئي چه ستاسو په کلي کې يو داسې مرکز جوړ شوچه ستاسو بچي به راځي او پدې مرکز کې به دين زده کوي.

## خپل عمل د لارې مل دي

عزتمندو :دنيا پاتې ده او دين به ستاسو سره ځي په يو حديث کې راځي.

حدثني عبد الله بن أبي بكر سمع أنسا يحدث عن النبي صلى الله عليه و سلم انه قال : يتبع الميت ثلاث أهله وماله وعمله فيرجع اثنان ويبقى واحد أهله وماله ويبقى عمله

تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده صحيح على شرط الشيخين: ([1])

د هر انسان درې رونړه وي.

(۱) رور د د مال دی او د قبر پورې د د سره لاړ شي واپس چه راشي نو بيا هغه د بل شي.

[1]- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ۳ صفحه ۱۱۰ مسند أنس بن مالك رضي الله عنه

(۲) رور د د د نسب رونړه دي هغوئ د قبر پورې لاړ شي واپس راشي بيا د هغوئ دومره پورې تعلق پاتې وي که څوک اووائي چه يره هغه فلانې نو دوي ورته وائي هغه، مړ دی نو هغوئ ورته وائي هغه قبر ئې مونږ ته اوښائي نو دوي لاړ شي او قبر ورته اوښائي.

(۳) رور چه هغه تر اخره پورې د د سره ملګرې وي او هغه د دې انسان عمل دی قبرکې به تا سره ستاعمل ملګرې وي اوکله چه دقبرنه پاسي نو ستا عمل به ستاسره ملګرې وي اوکله چه حساب کتاب کيږي نوستا دا عمل به ستا ملګرې وي او کله چه جنت ته ځي (الله دې مونږ ټول جنت ته بوځي) نو په جنت کې به ستا دا عمل ستا ملګرې وي.

عزتمندو : داسې اونه کړئ چه ستا دغه عمل په تا باندې لعنت ليګي دا عمل به لعنت کله ليګي ډير کرته يو سړی د دين کارکوي خو د هغه په زړه کې اخلاص نه وي.

لکه حديث کې رازي نبي صلي الله عليه وسلم فرمائي. ډيرځله يو سړی مونځ کوي اومونځ په هغه باندې لعنت وائي ځکه اخلاص پکې نه وي.

دا رنګه بل حديث کې رازي نبي صلي الله عليه وسلم فرمائي.

رب تال للقرآن والقرآن يلعنه

ډيرځله يو سړی قران لولي خو هغه قران هغه د اخلاص د پاره شروع نه وي بلکې د مقابلې کولو د پاره ئې شروع کړي وي نو هغه قران په هغه باندې لعنت وائي.

په زړه کې دا راولې چه هر کارمونږ کوود دې د پاره به ئې کوو چه زمونږ رب زمونږ نه رضا شي د رب د رضا د پاره کوشش کوئ او د رب رضا چه کله د يو سړی مقصد شي نو بيا د هغه انا مقصد نه وي.

ډير خلق به وی چه په سپينه جامه کې به ستاسو مخالفت کوي خو پدې ميدان کې ويخ اوسيږئ او د الله د دين کارچه تاسوکوم روان کړيدي دا دهرنه وران نه شی الله دې ماله او تاسو له د صحيح عمل کولو توفيق راکړي.

ستاسو مدرسه دي الله رب العزت صرف ستاسو د کلي ميان خان نه بلکې قرب جوارد دې ټولو خلقو د انسانيت سازئ مرکزجوړ کړي.

## اختتامي دعا

الله تبارک وتعالی دې د دې مدرسې استاذ حضرت مولاناسيد اکبر صيب کې الله خير او برکت واچوي او هغه له دی الله توفيق ورکړي چه ستاسو د بچو په ښه طريقه باندې خدمت وکړي او تاسو له دی الله توفيق درکړي چه تاسو د هغه نه ښه خدمت واخلئ ستاسو بچي دي الله پاک په قران او په حديث باندې پوهه کړي او الله دې زمونږ او ستاسو د نفسونو تزکيه او صفائي په قران او په سنت باندې اوکړي.

الله دې دا مدرسه ابدا ابدا اباد لري. الله دی مونږ او تاسو له د هغه عمل توفيق راکړي چه مونږه او تاسو نه پرې الله راضي کيږي او کوم عمل چه الله ته بد ښکاري الله دی مونږد هغې نه اوساتي اوکړومو خلق سره چه الله مينه د دغوئ سره دي الله زمونږ مينه پيدا کړي اوکړوم خلق چه دالله بدی شي او د الله د دوستانو مخالفت کوي الله دې مونږ ته بد ښکاره کړي.

رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا إِن نَّسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِنَا رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِ وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا أَنتَ مَوْلَانَا فَانصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ اللهم صلی وسلم علی عبدک ونبیک محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم وعلی آله و اصحابه وعلی علماء امته المقتفین اثاره الی یوم الدین.

واخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین

# موضوع : د اختلاف امت اسباب

الحمدُ لله الذي ارسل رسوله بالهدی و دين الحق ليظهره على الدين كله

و كفى بالله شهيدًا

واشهدُ ان لا اله الا الله وحده لا شريك له اقرارًا به وتوحيدًا

و اشهدُ ان سيدنا وسندنا و مولانا محمدًا عبده و رسوله صلى الله تعالى عليه

وعلى آله و اصحابه وسلم تسليمًا مزيدًا

وبعد

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ * مَا أُرِيدُ مِنْهُمْ مِنْ رِزْقٍ وَمَا أُرِيدُ أَنْ يُطْعِمُونِ * إِنَّ اللَّهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ: [1]

## تمهيد

انسان له چه الله رب العزت كومه زندګي وركړي ده د دې زندګي د دې انسان د پاره څه مقصد دی کله که دې په هغې مقصد کې دا زندګي تيره کړي نو د د عاقبت به ښه وي او که دی د هغې مقصدخلاف زندګي تيره کړي نو د د عاقبت به ډير خراب وي.

[1]- سورة ذاريات : ٥٦- ٥٧- ٥٨

## د آدم علیه السلام ذمه داري

الله رب العزت چه کله آدم علیه السلام پیدا کړو نو الله رب العزت د هغه ذمه داري خپل عبادت اوګرځوله او کله چه ئي په آدم علیه السلام کي ساه واچوله نو فرشتو ته ئي اووې چه آدم علیه السلام طرف ته سجده کونکي اوغورزیګئ.

رب العالمین فرشتې آدم علیه السلام طرف ته په سجده باندې پریستې او الله رب العزت آدم علیه السلام دا حکم اوکړوچه فرشتې ستا طرف ته په سجده پریوتې خو یاد ساته چه ستاتندې زما نه بغیربل چا ته ښکته نه شي او د آدم علیه السلام اولاد د ته الله رب العزت حکم اوکړو.

لَا تَسجدوا لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوا لِلَّهِ الَّذِي خَلَقَهُنَّ إِنْ كُنْتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ: (١)

پدې کائنات کې یو د ورځې رڼاکونکي دی او بل د شپې رڼا کونکی دی یو نور دی او بله سپوږمی د نو الله اوفرمائیل نه به نور ته سجده کوئ او نه به سپوږمی ته سجده کوئ هغه الله ته به سجده کوئ کوم الله چه دا نور او سپوږمې پیدا کړیدي.

په دي کائنات کې دا دوه اشیاء ډیرې رڼا والا دي ۱- نور ۲- سپوږمی.
الله رب العزت د آدم علیه السلام اولاد ته حکم اوکړو نور او سپوږمی ته به سرنه ښکته کوئ هغه الله ته به سر ښکته کوې کوم الله چه نور او سپوږمی پیدا کړیدي.

---

(١)- سورة فصلت - ۳۷

آدم علیه السلام يو فطري عبادت ګزار وو او د هغه فطرت د يو مسلمان او د الله د تابعدار وو د هغه په هغه طبعي صفت باندې داسې معاشره نه وه چه اثرئي پرې کړي وي.

## د نوح علیه السلام پورې خلق ټول په لو دين وو

د آدم علیه السلام نه واخله تر يو وقته پورې دا ټول خلق په يو دين باندې وو او د الله تابعدارې پرکې وه انبياءعليهم السلام چه به وقتا په وقتا راتلل نو هغوئ به صرف د الله رب العزت د تابعدارئ دعوت ورکولو نور دين يو وو او نورې خبرې پکې نه وې ددې باره کې سورة يونس او سورة بقره دواړو کې الله رب العزت فرمائي د سورة يونس ايت دی.

وَمَا كَانَ النَّاسُ إِلَّا أُمَّةً وَاحِدَةً فَاخْتَلَفُوا: (١)

دا خلق ټول په يو دين باندې وو فَاخْتَلَفُوا نو هغوئ اختلاف شروع کړو يو دين وو د ټولو خلقو نو هغوئ اختلاف شروع کړو او په سورة بقره کې الله رب العزت فرمائي.

كَانَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً فَبَعَثَ اللَّهُ النَّبِيِّينَ مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ وَأَنْزَلَ مَعَهُمُ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ فِيمَا اخْتَلَفُوا فِيهِ: (٢)

دا خلق يو ډله وو نو الله رب العزت انبياء راليږل داسې انبياء چه هغوئ منونکو ته د جنت زيرې ورکوو اونه منونکو ته ئې د جهنم يره ورکوله او د هغوئ سره ئې کتابونه راليږل دي د پاره چه دين واضح شي د دې د پاره چه فيصله اوکړي د خلقو په منځ په هغه مسائلوکې چه په کومو کې

---

١- سورة يونس - ١٩

٢- سورة بقره - ٢١٣

دوی اختلاف کړي لکه څنګه چه په سورة یونس کې بیان اوشو وَمَا كَانَ النَّاسُ إِلَّا أُمَّةً وَاحِدَةً فَاخْتَلَفُوا :(۱) نه وو خلق مګربوه ډله وه په توحید باندې یو وو د الله رب العزت په پیچان او په معرفت کې داخلق یو وو نو اختلاف ئې شروع کړو.

بقره کې وائي چه کله اختلاف شروع شو نو فَبَعَثَ اللهُ النَّبِيِّينَ مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ نو رالیږل به الله رب العزت انبیاء علیهم السلام زیرې ورکونکی یره ورکونکی زیرې به ئې هغه چاته ورکوو چاچه به دانبیاءعلیهم السلام خبره اومنله او یره به ئې هغه چا ته ورکوله چه چابه د انبیاء علیهم السلام خبره اونه منله او د دې انبیاء علیهم السلام سره به ئې کتابونه رالیږل د دې د پاره چه دا انبیاء علیهم السلام فیصله اوکړي د دې خلقو په منځ په هغه مسائلو کې کومو کې چه دوی اختلاف کړیدي معلوم دا شوه چه د انبیاء علیهم السلام دوه سلسلې وي.

۱- سلسله د هغه انبیاء علیهم السلام وه کوم چه د اختلاف نه مخکې راتلل د هغوئ کار دالله رب العزت معرفت ته ترغیب وو اصل معرفت په خلقو کې وو.

۲- ډله د انبیاءعلیهم السلام هغه ډله وه کومه چه د اختلاف نه پس الله رب العزت رالیکله.

---

۱- سورة یونس - ۱۹

## انبیاءعلیهم السلام د اختلاف ختمولو کوشش کړیدي

د اختلاف نه پس چه کوم انبیاءعلیهم السلام الله رب العزت رالیږلی دی نو هغوئ همیشه د اختلاف د د ختمولو خبره کړیده الله رب العزت نبي صلی الله علیه وسلم ته وائي.

إِنَّا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ كَمَا أَوْحَيْنَا إِلَىٰ نُوحٍ وَالنَّبِيِّينَ مِن بَعْدِهِ وَأَوْحَيْنَا إِلَىٰ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطِ وَعِيسَىٰ وَأَيُّوبَ وَيُونُسَ وَهَارُونَ وَسُلَيْمَانَ وَآتَيْنَا دَاوُودَ زَبُورًا * وَرُسُلًا قَدْ قَصَصْنَاهُمْ عَلَيْكَ مِن قَبْلُ وَرُسُلًا لَّمْ نَقْصُصْهُمْ عَلَيْكَ وَكَلَّمَ اللَّهُ مُوسَىٰ تَكْلِيمًا : (١)

اي زما پیغمبره مونږ تا ته وحي کړیده خو داسې وحي نه کومه چه د آدم علیه السلام تر نوح علیه السلام پورې وه په هغې کې خو صرف ترغیب وو په هغې کې ابتلاء نه وه او په هغې کې امتحان نه وو په هغې کې اختلاف نه وو چه بیان کړي وي.

مونږه تاته وحي کړیده خوځنګه وحی لکه ځنګه چه مونږه وحي کړي وه نوح علیه السلام ته او د هغه نه روسته چه څومره پیغمبران راغلی دي .

دې انبیاء علیهم السلام د اختلاف د پورته کولو خبره کوله او دا انبیاء اجمالا قران ذکر کوي.

ما ابراهیم علیه السلام ته چه څنګه وحي کړې وه د ابتلاءه وحې دغه شان وحې ما تاته کړیده کومه وحي چه مې اسماعیل علیه السلام ته کړي وه د چړو سره ئې ځان مکلی وو او کومه وحي چه مي اسحاق علیه السلام ته کړې وه یعقوب علیه السلام ته کړې وه او د هغه اولاد ته مې کړې وه او

---

١- سورة نساء - ١٦٣- ١٦٤

عیسی علیه السلام او ایوب علیه السلام او یونس علیه السلام او هارون علیه السلام او سیلمان علیه السلام ته او مونږ داود علیه السلام له زبور د دې د پاره ورکړو چه د خلقو تعلق د الله سره پیدا شي اود دې اختلاف نه لرې شي بیا الله رب العزت فرمائي.

وَرُسُلًا قَدْ قَصَصْنَاهُمْ عَلَيْكَ مِنْ قَبْلُ وَرُسُلًا لَمْ نَقْصُصْهُمْ عَلَيْكَ وَكَلَّمَ اللَّهُ مُوسَىٰ تَكْلِيمًا

او ډېر پیغمبران علیهم السلام دی چه د هغوئ بیان ما تاته مخکې کړیدي او بعض پیغمبران علیهم السلام دی چه د هغوئ بیا ما تاته نه دی کړي او الله رب العزت د موسی علیه السلام سره ښکېله خبرې کړې وي د دې د پاره چه د خلقو یقین پیدا شی.

په سورة بقره کې ئې وئیلي وو.

فَبَعَثَ اللَّهُ النَّبِيِّينَ مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ وَأَنْزَلَ مَعَهُمُ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ فِيمَا اخْتَلَفُوا فِيهِ: (۱)

الله به پیغمبران علیهم السلام رالیږل زیرې ورکونکی یره ورکونکي سورة بقره کې وائي رُسُلًا مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ الله به پیغمبران رالیږل زیرې ورکونکي یره ورکونکي او دلته سورة نساء کې فرمائي.

رُسُلًا مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى اللَّهِ حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ وَكَانَ اللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا: (۲)

---

۱- سورة بقره - ۲۱۳

۲- سورة نساء - ۱۶۵

انبياءعليهم السلام مې درلیږلي ووزيرى وركونكى او وركونكى د دې د پاره چه د انبياء عليهم السلام د راليږلو نه پس د خلقو بهانه پاتې نه شي.

## اختلاف چا جوړ کړي وو؟

دا اختلاف چه چا جوړ کړي وونوقران عظيم الشان د هغه خلقو نشاندې هم کوي چا چه اختلاف جوړ کړي وو الله فرمائي.

وَمَا اخْتَلَفَ فِيهِ إِلَّا الَّذِينَ أُوتُوهُ مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَاتُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ فَهَدَى اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا لِمَا اخْتَلَفُوا فِيهِ مِنَ الْحَقِّ بِإِذْنِهِ وَاللَّهُ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ

انبياء عليهم السلام چه الله راليږل اول الله وائي خلقو اختلاف کوو نو انبيا مې راوليږل د دې د پاره چه دا اختلاف ختم شي دا اختلاف جوړ کړي چا وو؟ اختلاف نه وو کړي په دي توحيدکې اختلاف نه وو کړي پدې دين کې مګر هغه کسانو چه هغوئ ته دين ورکړي شوى وو د انبياء عليهم السلام ته پس چه کوم علماءراغلل هغه علماء د دين بيخکندي شروع کړه کوم بادشاهان راغلل هغه بادشاهانودين ختم کړو کوم پيران چه راغلل هغه پيرانو دين ختم کړو او کله ئې اختلاف شروع کړو؟ پس د هغې نه چه هغوئ ته واضح واضح دلائل راغلي وو او دا ئې ولې شروع کړو ؟ ځکه چه دوى د الله باغيان وو په دوي کې ضد وو په دوې کې بغاوت وو.

يو مشهور عالم د دنيا د امامؒ ابوحنيفة رحمة الله عليه شاګر او د امام بخاري رحمه الله استاذ حضرت عبد الله ابن مبارک د هغه يو شعر دى هغه وائي:

هل افسد الدين الا الملوک واحبار سوء ورهبانها

دين چه برباد کړيدي نو دريو ډلو بربادکړيدي اوسموی ئي هم درې ډلې او بربادوی ئي هم درې ډلې کومې کومې ډلې؟

۱- بادشاهان . ۲- موليان. ۳- پيران. دا درې ډلې دين ورانوي هم او دا درې ډلې دين جوړه وي نو الله فرمائي.

چه پدې دين کې اختلاف چاپيدا کړي وو؟ وَمَا اخْتَلَفَ فِيهِ إِلَّا الَّذِينَ أُوتُوهُ اختلاف نه وو کړي پدې دين کې مکرهغه کسانوکړي وو چه هغوئ ته دين خودلی شوی وو.

د دې خلاف سبب څه وو؟بَغْيًا بَيْنَهُمْ ځکه چه دوی دخدائی باغيان وو او دا خلاف ئي کله کړي وو الله فرمائي مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَاتُ پس د هغې نه چه هغوئ ته علم راغلی وو د علم او د پوهې نه پس د دې ذليله دنيا د حاصلولو د پاره علماء اختلاف کړي وو په سورة ال عمران الله رب العزت کې فرمائي.

وَمَا اخْتَلَفَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ إِلَّا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ وَمَنْ يَكْفُرْ بِآيَاتِ اللَّهِ فَإِنَّ اللَّهَ سَرِيعُ الْحِسَابِ: (۱)

خلاف نه ووکړي هغه کسانو چه هغوئ ته کتاب ورکړي شوی وومگر پس د هغې نه ئي خلاف کړي ووچه هغوئ ته واضح واضح دلائل راغلی وو.او په دوی باندې باعث څه وو ؟بَغْيًا بَيْنَهُمْ د دوی هغه بغاوت وو او د دوی په زړونو کې د الله او د الله د دين سره حسد وو د هغه بغاوت د وجې نه دی خلقو اختلاف اوکړو.

---

۱- سورة ال عمران - ۱۹

دارنكه قران كې په كنهو ځائيونوكې الله رب العزت فرمائي چه اختلاف د اول سرنه نه وو شروع دا اختلاف ورستو راغلی دی او دا اختلاف چا كړي وو؟ دا اختلاف پير، مولاوخان كړي وو.او ولې ئې كړي وو؟ ځكه دوی دخدائې د دين نه باغيان وو. سورة شوری كې الله رب العزت فرمائي.

وَمَا تَفَرَّقُوا إِلَّا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَبِّكَ إِلَىٰ أَجَلٍ مُسَمًّى لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ : (١)

ځنكه اختلاف وو الله وائي دوی ډلې ډلې نه وو شوی فرقې فرقې نه وو شوی مكر پس د هغې نه چه دوی ته دليل راغلی وو دوی چه ډلې ډلې شوی وو او هره ډله كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ دوی سره چه څه وو په هغې باندې خوشحاله وو نو الله رب العزت فرمائي.

دوی فرقې فرقې نه وو شوی مكر پس د هغه نه چه دوی ته دلائل راغلی وو او د دې اصل سبب دا وو چه دوی د الله د دين باغيان وو او د دوی په زړونوكې حسد ,كينه او بغض وو او د دوی د دنيا سره محبت وو او د دنيا سره محبت دوی ليونې كړه او د الله د دين خلاف ئې كړه.

الله رب العزت چه كله انبياء عليهم السلام راوليږل نو د اختلاف نه پس د اختلاف نه مخكې چه څومره انبياء عليهم السلام راغلي دی د هغوئ كار الله ته خلق نزدې كول وو خو د نوح عليه السلام نه پس چه دكله نه الله رب العزت انبياءعليهم السلام راليكلي دی نو د دې د پاره ئې راليږلې دی چه.

لِتُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِي اخْتَلَفُوا فِيهِ وَهُدًى وَرَحْمَةً لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ : (٢)

---

١- سورة شوری- ١٤

٢- سورة نحل - ٦٤

د دې د پاره چه دې خلقو ته بيان کړي هغه مسائل چه دوی پکښې اختلاف کړي وو.

## د انبياء عليهم السلام د زندگی مقصد څه وو؟

رونړو ديته سوچ اوکړئ چه د انبياء عليهم السلام د زندگی مقصد څه وو؟ د هغوئ د زندگئ مقصد دا ووچه تفريقې ختمې شي او د دې تفريقو د ختمولو د پاره هغوئ د هغه مسائلو وضاحت کړي وو په کومو مسائلو کې چه دی خلقو اختلاف کړي وو.

زمونږبعض خلق لگيا دی وائي مونږه د دين کار کوو هلکه څه کار کوې؟ نو وائي مونږفضائل بيانوو د انبياءعليهم السلام کار دا نه وو دا ده قران کريم آياتونه پدې باندې گواه دی چه الله رب العزت څومره انبياءعليهم السلام رالیکلي دی ددې د پاره ئې راليږلي دی چه لِتُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِي اخْتَلَفُوا فِيهِ چه په حق کې کوم خلاف شويدی چه هغه اختلاف خلقو ته بيان کړي.

نبي صلى الله عليه وسلم ولاړ دی او اواز کوي او آواز دالله دی.أَفَرَأَيْتُمُ اللَّاتَ وَالْعُزَّى ۞ وَمَنَاةَ الثَّالِثَةَ الْأُخْرَى: (١)

اې خلقو تاسو د لات او د عزی نه خبر ئې د منات نه خبر ئې هغوئ هيڅ نشي کولی اختلاف د دغې وجې نه وو نو نبي صلي الله عليه وسلم به د هغوئ نومونه اغستل.

---

١- سورة النجم - ٥٣ - ٥٤

## د حضرت ضمام بن ثعلبه رضي الله عنه واقعه

حضرت ضمام بن ثعلبه رضي الله عنه يو صحابي دی هغه د نبي صلى الله عليه وسلم خوا له راغلی دی واپس خپل قوم ته تلی دی نو هغه قوم ته وائي چه.

عن عبد الله بن عباس قال بعثت بنو سعد بن بكر ضمام بن ثعلبة ------ ------ قال فإني أشهد أن لا إله الا الله واشهد أن سيدنا محمدا رسول الله وسأؤدي هذه الفرائض وأجتنب ما نهيتني عنه ثم لا أزيد ولا أنقص قال ثم انصرف راجعا إلى بعيره فقال رسول الله صلى الله عليه و سلم حين ولى ان يصدق ذو العقيصتين يدخل الجنة قال فأتى إلى بعيره فأطلق عقاله ثم خرج حتى قدم على قومه فاجتمعوا إليه فكان أول ما تكلم به ان قال بئست اللات والعزى قالوا مه يا ضمام اتق البرص والجذام اتق الجنون قال ويلكم انهما والله لا يضران ولاينفعان ان الله عزوجل قد بعث رسولا وأنزل عليه كتابا استنقذكم به مما كنتم فيه وإني أشهد أن لا إله الا الله وحده لا شريك له وأن محمدا عبده ورسوله انى قد جئتكم من عند بما أمركم به ونهاكم عنه قال فوالله ما أمسى من ذلك اليوم وفي حاضره رجل ولا امرأة الا مسلما قال يقول بن عباس فما سمعنا بوافد قوم كان أفضل من ضمام بن ثعلبة

تعليق شعيب الأرنؤوط : حسن: (١)

اې زما قومه لات کوړئ هيڅ لات نه دی مونږ په خپل اردو , فارسي , پښتو يا پنجابي کې چه آواز کوو نو مونږ وايو لات مرده باد معني دا هيڅ

---

١- مسند امام احمد بن حنبل : جلد١ صفحه ٢٦٤ مسند عبد الله بن العباس

شی نه دی نو هغه وی اې زما قومه لات مرده باد اوعزی هیڅ نه د عزی مړ نه باد لات عزی مرده باد هغه قوم ورته وائي اې ضمامه ته د برګي نه نه یریږي او ته د جذام نه نه یریږي ګوتې به دې وریجیږي ته ولی د لات اود عزی بدوائي هغه ورته دغه یو آواز کوي او ټول قوم راجمع شواو د ضمام بن ثعلبه رضي الله عنه په لاس باندې مسلمانان شول د ةهغه باره کې راځي د تمام قوم د پاره ډیر ښه او بهترین قاصد وو نو دم آواز کړي وو خو د اختلاف اوازئي پورته کړي وو.

## د انسان د ژوند مقصد او د نوح علیه السلام واقعه

د انسان د ژوند مقصد د انسان د پیدائش د انسان د پاره مقصد دا دی چه دی راپاسي او د یو رب عبادت اوکړي او انبیاء علیهم السلام هغوئ په ډیر سختو وقتونو کې د قوم د هغه عقیدی چه هغه دانسانیت د مقصد خلاف وه د هغې خلاف کړیدي او په کلک اندازباندې ئي کړیدي.

حضرت نوح علیه السلام الله خپل قوم ته رالیږلی وو او حضرت نوح علیه السلام چه کله خپل قوم ته راغی نوهغه خپل قوم ته وائي او د نوح علیه السلام یو عجیبه انداز دی.

سورة یونس کې الله رب العزت د نوح علیه السلام هغه بیان او د هغه هغه انداز د هغه هغه نرتوب او د هغه اختلاف د هغه په زړه کې چه کومه جذبه ده هغه قرانکریم بیانوي په ډیرښه اندازسره ئي بیانوي الله رب العزت فرمائي.

وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ نُوحٍ إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ يَا قَوْمِ إِنْ كَانَ كَبُرَ عَلَيْكُمْ مَقَامِي وَتَذْكِيرِي بِآيَاتِ اللَّهِ فَعَلَى اللَّهِ تَوَكَّلْتُ فَأَجْمِعُوا أَمْرَكُمْ وَشُرَكَاءَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُنْ أَمْرُكُمْ عَلَيْكُمْ غُمَّةً ثُمَّ اقْضُوا إِلَيَّ وَلَا تُنْظِرُونِ: (۱)

پدې خلقو باندې د نوح علیه السلام حالت اولوله د نوح علیه السلام قصه ورته اوکړه او د نوح علیه السلام حالات ورته بیان کړه یو نوح علیه السلام دی او ټوله علاقه ئې مخالف ده تر دې پورې چه خوئې هم مخالف دي نوح علیه السلام یو تن دی ټول قوم ئې د وینو تکي دی مفسرین وائي یو تن دي د داسې قوم سره خبرې کوي چه ټول قوم د هغه د وینو تکي ناست دي داسې قوم چه هغوئ وائي چه د د وینې مونږ اوځکلي خوخبره چه کوي نو د اختلاف اود تفریقې په مقابله کې د انبیاءعلیهم السلام په زړه کې یو جذبه وه او هغه داسې جذبه وه چه هر نبي واضح واضح بیان کړیده.

حضرت نوح علیه السلام خپل قوم ته وائي.

يَا قَوْمِ إِنْ كَانَ كَبُرَ عَلَيْكُمْ مَقَامِي وَتَذْكِيرِي بِآيَاتِ اللَّهِ

اې زما قومه که زما دا اوسیدل په تاسو کې تاسوته بد ښکاري که په تاسو باندې زمادا اوسیدل بوج وی زه یو تن یمه ستاسو د تفرقومخالف یم ځکه ذین همیشه د اقوامو د تفرقي ختمولو د پاره راځي.

نو حضرت نوح علیه السلام خپل قوم ته وائي.

اې زما قومه که زما دا اوسیدل په تاسوکې تاسو ته بدلګي چه زه پدې قوم کې اوسیږمه او زه تاسو له پند درکوم د الله په ایاتونو باندې که دا تاسو ته بد لګي اې قومه که دخدائی کلام درباندې بدلګي اوزما دا اوسیدل

---

۱- سورة یونس - ۷۱

درياندې بد لګي او د خدائی کتاب درياندې بد لګي دا چا ته وائي؟داهغه قوم ته وائي چه هغوئ ئي د وينو تګي ناست دی نو زما په الله باندې توکل دي توکل اعتماد بروسي او يقين ته وائي اودنبي صلى الله عليه وسلم حديث دي.

أنبأنا ابن لهيعة ثنا عبد الله بن هبيرة قال سمعت أبا تميم الجيشاني يقول سمعت عمر بن الخطاب رضي الله عنه يقول سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول لو انكم كنتم توكلون على الله حق توكله لرزقكم كما يرزق الطير ألا ترون انها تغدو خماصا وتروح بطانا :تعليق شعيب الأرنؤوط : صحيح: ([1])

نبي صلى الله عليه وسلم فرمائي کچرې تاسو په الله باندې توکل اوکړو څنګه چه په الله باندې دتوکل اودبروسي او د يقين حق دی نو داسې خوراک به درکوي لکه څنګه چه مارغانوله ورکوي کله چه سحر دجالې نه څي نو په ججوره کې ئي دانه نه وی او چه کله ماښام جالې ته راځي نو دا ججوره ئي پړسيدلي وی.

تاسونه تپوس کومه چرته د يومرغئ خپې شته چرته د اوبو ټانکئ ئي شته سحرد جالي نه اوګئ تګي راپاسي او ماښام چه جالې ته راځي نو د هغې ججوره هم ډکه وی او خپل بچي ئي هم ماړه کړي وی.

نوح عليه السلام يو تن دې د ټول قوم خلاف دي او ټول قوم د د خلاف دي خبره کوي ډير په نرتوب باندې او دغه دري خبرې نه په الله باندې توکل بروسه اعتماد خکاره دي.

[1]- مسند امام احمد بن حنبل : جلد١ صفحه ٥٢ مسند عمر بن الخطاب رضي الله عنه

اې زما قومه که په تاسو باندې زما دا اودریدل بدلګي او دا دهالله کتاب چه تاسو ته بیانومه دا په تاسو باندې بدلګي نو زما په الله باندې اعتماد دې تاسوخپله مشوره یوه کړئ یعني ټکي والا راجمع شئ او زماخلاف مشوره اوکړئ وَشُرَكَاءَكُمْ تاسوچه کوم خدائیان دی اوتاسوچه چاته د راورسيږئ او د رامدد شه چغې اوباسئ.

ستا هغه غوث اعظم او ستا هغه غریب نوار اوستا هغه داتا هغه ټول راجمع کړئ او بیا دې ستاسو مشوره په تاسو باندې پټه نه وي ثُمَّ اقْضُوا إِلَيَّ وَلَا تُنْظِرُونِ بیا ئې ما ته واوروئ او ماله مهلت مه راکوئ.

اختلاف ئې ختمولو نوڅنګه ئې ختمولو؟ په نرتوب باندې ئې ختمولو دازه چه کومه خبره کومه نو دا ده الله خبره د او دا په تاسو باندې بد لګي نو زما په خدائې باندې اعتماد دې ټول راپسې راجمع شی زما څه نشي کولې.

پدې سورة کې چه کله ورته دعوت ورکوي نو ورته وائي وَتَذْكِيرِي بِآيَاتِ اللَّهِ یعني د الله کتاب له راشئ.

## ډله بازي په اسلام کې نشته

اې خلقو که ځان ددې تفریقو نه خلاصول غواړئ وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا نو د الله په دین باندې منګولې ولګوئ او ډلې ډلې کيږي یه نه.

د دې سیاسي مولیانو نه تپوس اوکړئ پرون چه تاسو یو وئ نو د الیکشن په ورځو کې تاسو ولې جدا شوئ؟ دا ځکه چه د اتفاق د دین د پاره نه وو.

قاضي او د قاضي ډله هغوئ په ديوال باندې اوليکل چه مشرف د اليکشن بائيکاټ اوکړئ او دا ده مولیانو يعني د مجلسيانو يو شطر او ډله وه او د مجلس د پاره يوشوی وو نو تاسو ولې خلاف کوو؟اوبيا شيطان پرې داسې کار اوکړې پدې کلي کې بعض کسان دي ما ورته قران خودلی دی او زما نه ئي د اول نه تر اخر پورې قران وئيلي دي اوسياسي مولا ورته هيڅ نه دي خودلي خو عاجله يعني دنيا ئي ورله ورکړي د اود دې دنيا د وجې نه هغه ورځې په سکول کې هلکانو نتيجه وه زه ورغلی اومه نو هغه استاذانو وې دي ماشومانو ته څه خبرې اوکړه ټول زمونږ بچي دی يعني زمونږ د قوم بچي دی نو چه ما هغوئ ته خبرې کولې نو هغه زما نه چه ئي قران وئيلي دي هغه بې دينه نو دا دننه ناست وو وی دي له حافظ صيب پکار وو. دا ده دوی زړونو ته شيطان ننوتلی دی دا ځکه چه دوی ټول د شيطان په لاره باندې روان دی د اسلام طريقه دا ده چه ټول مسلمانان به يو وي.

ایک ہو مسلم حرم کی پاسبانی کیلئے
نیل کے ساحل سے لیکر تا بخاک کاشغر

د دريا نيل د ساحل نه واخله تر هغه د چين پورې ټول مسلمانان دي او دا اسلام اواز دي.

## سورة هود کي د نوح عليه السلام واقعه

سورة هود کي هم الله د يوڅو پيغمبرانو واقعات ذکر کوي په هغې کي من جمله د نورو انبياء عليهم السلام نه د نوح عليه السلام واقعه هم د خو په بله طريقه باندې ئي الله ذکر کوي نو الله فرمائي.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِ إِنِّي لَكُمْ نَذِيرٌ مُبِينٌ * أَنْ لَا تَعْبُدُوا إِلَّا اللَّهَ إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ أَلِيمٍ : ([1])

نوح علیه السلام مې رالیږلي وو د هغه قوم ته قوم ته ئي وی یقینا زه ستاسو د پاره یره ونکی یمه واضح واضح خبره درته کومه په بوسو کې اوبه نه بوزمه چه خالق هرڅه کولی شي اومخلوق څه نشي کولی داپه بوسوکې اوبه بوتلل دي پاکه پاکه یو یوخبره تاسو ته کومه او هغه دا چه پدې کائنات کې د الله نه سیوا چه څه دي پیر دی اوکه ملک دی اوکه فقیردی که جن دی هرڅوک چه دی دا ټول عاجزاومحتاج دی د عبادت لائق نه دی صرف د یو الله عبادت به کوي زه یریږم په تاسو باندې د عذاب د هغه ورځې لوئي نه چه عذاب د هغه روځې به ډیر دردناک دی که پدې عقید باندې پاتې شوی نو الله به درله عذاب درکړي.

په سورة یونس کې ئي ذریعه خودله چه مقصد ته پرې ورسیږي نو دلته ئي هغه مقصد ذکر کړو او دلته سورة هود کې ورته قوم وائي.

فَقَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ قَوْمِهِ مَا نَرَاكَ إِلَّا بَشَرًا مِثْلَنَا وَمَا نَرَاكَ اتَّبَعَكَ إِلَّا الَّذِينَ هُمْ أَرَاذِلُنَا بَادِيَ الرَّأْيِ وَمَا نَرَىٰ لَكُمْ عَلَيْنَا مِنْ فَضْلٍ بَلْ نَظُنُّكُمْ كَاذِبِينَ : ([2])

مونږ چه تاته ګورونوته زمونږ پشانتې بند ئي اومونږ نه وینوچه ستا تابعدار دی مګر هغه کسان چه کوم په مونږ کې کمزوري او ذلیله خلق دي.

[1]- سورة یونس - ۲۵ - ۲۶

[2]- سورة یونس - ۲۷

ځکه چه عامه قاعد دا ده چه د الله رب العزت د دين منونکي هميشه د پاره کمزوري خلق وي زوراور خو بيا ورستو راځي چه بله لار ئي پاتې نه شي وَمَا نَرَىٰ لَكُمْ عَلَيْنَا مِنْ فَضْلٍ مونږ تاسو لره په ځان باندې څه غوره والې نه وينو او زمونږ په تاسو باندې يقين دی چه تاسو دروغجن ئي.

حضرت نوح عليه السلام د اختلاف دختمولو د پاره خپل قوم سره جهګړې او بحثونه اوکړه او کورونو ته پسې لاړو او په مجلسونو کې ئي ورته خبرې اوکړې اوځان ځان له ئي ورته خبرې اوکړې.

## د نوح عليه السلام د تبليغ انداز

په سورة نوح کې الله رب العزت دنوح عليه السلام دتبليغ هغه طريقه ذکرکوي چه نوح عليه السلام تبليغ کوو نو په څه اندازباندې ئي اوکړو او بيا ئي خپل رب ته څه اووی حضرت نوح عليه السلام خپل رب ته وائي.

قَالَ رَبِّ إِنِّي دَعَوْتُ قَوْمِي لَيْلًا وَنَهَارًا: (١)

اووی نوح عليه السلام اي الله ماخپل قوم ته اوازونه اوکړه د شپې پسې لاړمه او د روځې مې ورته اوازونه اوکړه او دعوت مې ورته ورکړو.

فَلَمْ يَزِدْهُمْ دُعَائِي إِلَّا فِرَارًا: (٢) نوزيات نه کړوزما دي بلنې دوی لره مکر ستا د دين تيخته.

کله چه ما په ابتدائي دورکې پدې کلي کې مسئله بيانوله اوس خوالحمدلله الله رب العزت هغه خلقو ته استقامت نصيب کړيدې ماته به ئي وی که ستا پدې قران باندې مونږ جنت ته ځو نو بيا هم مونږله ستا قران نه دې

١- سورة نوح - ٥

٢- سورة نوح - ٦

پکاريعني که پدې خبرو مونږ جنت ته څو نو نه به څواوچه کله به قران بيانيدو نو هغوئ به ښه تختيدل او اوس الحمدلله رورو لاس ئي اغستې دي او بعضي خلق پکې وو يوه روخ ما د ګيرې متعلق مسئله شروع کړه نوهغوئي وی زما خو دا وصيت که زه مړ شوم نو د لمبولو په تخته باندي په زما کيره خروئ او د الله احسان دا ووچه کله مړ کيدو نو ګه ئي وه دا په قوم کې څه داسې قسمه خلق وی.

نوح عليه السلام وائي ياالله ما خپل قوم ته مي د شپې او د ورځي چغې اووهلې خو زما دعوت په هغوئ کې نورڅه زيات نه کړه مګرتيخته ئي زياته کړه.

وَإِنِّي كُلَّمَا دَعَوْتُهُمْ لِتَغْفِرَ لَهُمْ جَعَلُوا أَصَابِعَهُمْ فِي آذَانِهِمْ وَاسْتَغْشَوْا ثِيَابَهُمْ وَأَصَرُّوا وَاسْتَكْبَرُوا اسْتِكْبَارًا: (١)

ياالله کله چه ما دوی ته د توحيد دعوت ورکوو د دې د پاره چه ته ورته بخنه اوکړې يعې زما پدې دعوت منلو کې د دوی ډيرې فائدهې وی دوی پرې د جهنم نه بچ کيدل دوې خپلې ګوتې په غوګونو کې کيخودې او څانونه ئي په جاموکې پټ کړه او په نه منلو باندې ئي ضد اوکړو او بيا ئي لوئي وکړه تکبر ئي اوکړو.

ثُمَّ إِنِّي دَعَوْتُهُمْ جِهَارًا :(٢)بيا اې الله ما دې خلقو ته په ډاګه بيانونه اوکړه.

---

١- سورة نوح - ٨

٢- سورة نوح - ٧

ثُمَّ إِنِّي أَعْلَنتُ لَهُمْ وَأَسْرَرْتُ لَهُمْ إِسْرَارًا * فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا: (۱)

بیا مادی خلقو ته اعلانونه اوکړه ددوی په مجلسونوکې او پټې پټې جرګې مې پسې اوکړې.

ما ورته وی چه د خدائ نه معافي اوغواړئ تاسو د الله په شان کې کمې کړې تاسو د الله په ځائې بل ته اواز کړې لوئي ځوان ته دی اواز کړيدې پير بابا ته دې اواز کړيدې کاکاصيب ته دی اواز کړيدې برړو پيرصيب ته دې اوازکړې.

د بيمارئ په حالت کې پځائې ددې چه د الله په بارګاه کې دې لاس پورته کړې وی نو ته خو تلې کله دې د اخون بابا په دربار کې لاسونه پورته کړې وو او کله د سرې مخې زيارت له تلې ئې او کله د ننکو زيارت ته تلې تاسو د الله په حق کې کمې کړيدې د الله نه بخنه اوغواړئ يقينا الله بخونکی دې.

نو خلقو ورته وې.

قَالُوا يَا نُوحُ قَدْ جَادَلْتَنَا فَأَكْثَرْتَ جِدَالَنَا فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا إِن كُنتَ مِنَ الصَّادِقِينَ: (۲)

اې نوحه ډيرې جهګړې دی زاسره اوکړې اوډيرې عجيبه خبرې دې راسره اوکړې او په مونږ پسې لګيدلی نو زياتې جهګړې دی اوکړې دکوم عذاب نه چه مونږ يروی نوهغه عذاب راپسې راوله که ته رشتونې ئې نو نوح عليه

۱- سورة نوح - ۸ - ۹

۲- سورة هود - ۳۲

السلام ورته وی چه عذاب راوستل د الله کار دی زماکار خو تاسو ته دین خودل دي. د انبياء عليهم السلام دوه جماعتونه وو.

١- د اختلاف نه مخکې ٢ - د اختلاف نه ورسته.

د اختلاف نه مخکې چه کوموانبياءعليهم السلام دعوت ورکړيدي هغه دعوت صرف د الله د تقرب اود نزدې والي وو د هغه خلقوپه زړه کې د الله لوئي اود الله عزت او د الله خدائي توب او الوهيت اود هغه د نفع او د نقصان اختيار الله-لره منل وو.

## د شرك ابتداء

د نوح عليه السلام نه لږ مخکې دحضرت شيث عليه السلام په زمانه کې شرک شروع شو او خلق د الله نه روګردانه شو او الله ئي پريخود لکه څنګه چه نن خلق داتا او مشکل کشا د الله نه سواء ګنړي دغه شان هغوئ هم ګنړل.

زمونږ يو پير صيب وو الله دې پرې رحم اوکړي الله دې قبر د نور نه ډک کړي هغه به وی چه زمونږ خو عقيده دا ده چه.

وهی مالک وهی داتا وهی مشکل کشا سب کا

وهی ایک غوث اعظم ہے یہی للکار دیتا جا

مالک هغه دي ورکونکی هغه دي او د ټولو مشکلاتو ختمونکی او مشکلات اسانونکې صرف يو الله دي غوث اعظم يوازې هغه دي دنيا ته چه اواز کوي نو هم دغه اواز کوه.

قران کې الله رب العزت فرمائي. وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ: (۱)
پيرې او بند ما د خپل عبادت د پاره پيدا کړيدي نور کائنات مې ستا د پاره پيدا کړيدي. هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُم مَّا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا: (۲)
خو ته مې ځان د پاره پيدا کړې ئې هغه انسان جهنمي دی چه هغه درب کائنات نه علاو بل چا ته رب وائي اوزابلي او هغه پيرې جهنمي دی چه درب کائنات نه علاوه بل ته رب وائي او بلي ئي.
د الله رب العزت صفات که انسان دی اوکه پيرى دی خوچه الله له ئي نه ثابتوی نو دې کافردي او دي جهنمي دی اوچه د الله صفات الله لره ثابتوي نو دا بختور او جنتي سړی دي.

## د انسان د ژوند فائده د انسان د پاره ده

د انسان د ژوند فائده د انسان د پاره ده د الله پکې څه مقصد نشته که دا ټول خلق مسلمانان شي نو د الله رب العزت په خدائی کې ذره برفرق نه راځي اوکه دا ټوله دنيا کافران شي نو بيا هم د الله په خدائی کې ذره برکمي نه راځي اگرچه د شيطان نه زيات کافر شي مقصد ستا د ژوند دا دی چه ته الله ته نزدې شي لکه حديث کې دی.
عن أبي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول الله عز و جل أنا مع عبدي حين يذكرني فإن ذكرني في نفسه ذكرته في نفسي وان ذكرني في ملأ ذكرته في ملأ هم خير منهم وان اقترب إلى شبرا اقتربت إليه ذراعا وان

۱- سورة ذاريات - ۵۶
۲- سورة بقره - ۲۹

اقترب إلی ذراعا اقتربت إليه باعا فإن أتاني يمشی أتيته هرولة وقال بن نمير في حديثه أنا عند ظن عبدي بي وأنا معه حيث يذكرني

تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده صحيح علی شرط الشيخين : (١)

نبي صلی الله عليه وسلم فرمائي چاچه الله ته ځان يو لوئيشت نزدې کړو نو الله رب العزت وائي زه ورته يوګز نزدې کيږمه اوالله پاک وائي اې انسانه که ته ماله په قلاره راځې نو زه درله په منډه درځمه نو فائده پکې ستاسو د د الله پکې څه فائده نشته .

مولاناعبدالرحمن جامي په نفحات الانث کې وائي.

لام تعليل يعبدون را داد
ياکلون را نه کرد قطعا ياد

انسان مي دي له پيدا کړي چه زما عبادت اوکي د دې د پاره مې نه دي پيدا کړي چه خوراک اوکړي.

تاسو په ايمان اووائي په جماعت کې ناست ئي دجمعې ورځ د اوديره مبارکه ورځ د د خدائی په مخکې ناست يئ ماښام اور غرمه چه کور ته راځئ نو دخوراک انتظام کوئ اوکنه ؟

او د مانځه اهتمام پکې ځوک کوئ او د روژې اهتمام پکې ځوک کوئ د الله رب العزت د نزديکت اهتمام پکې ځوک کوئ يوکس دی پکې راپاسي او هغه دی دا اووائي چه مولوي صيب سحر چه زه پاسيدلی يمه نو ما دا کوشش کړيدي چه زه به الله ته څنګه نزدې کيږمه.

١- مسند امام احمد بن حنبل : جلد٢ صفحه ٢٥١ مسند أبي هريرة رضي الله عنه

کورته چه راتلې نو مختلف قسمه اشیاء دې راوړه نو ته الله پاک صرف د دې د پاره پیدا کړې چه اوخوره اوکندې ته ئې واچوه د دې د پاره خو ته الله نه ئې پیدا کړې کچرې د ژوند مقصد خوراک اوڅکاک وی نو بیا خو غویان ستاسو نه ښه دې ځکه چه غویانو له خو تاسو راوړئ غویان الله ستا د پاره پیدا کړیدي او ته ئې د خپل ځان د پاره پیدا کړې نو ستا انسانیت به هله کامل کیږي ته به هله کامیابۍ ته رسې چه کله ته الله ویږنې.

الله رب العزت دی مونږ او تاسو له دعمل کولو توفیق راکړي.

و آخر دعوانا ان الحمدلله رب العالمین

جماعت اشاعت التوحید والسنہ کے علماء کی تصانیف کو سکین کرکے PDF فارمیٹ میں علماء، طلباء اور عوام کو پیش کرنا ہمارا مشن اور محنت ہے لہذا کتاب کا مطالعہ کرتے وقت ہمیں دعاؤں میں یاد رکھیں شکریہ

منتظم اعلیٰ:

رابطہ نمبر: 03149958550

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ان من البيان لسحرا

# خطبات عارفی

من افادات
شیخ القرآن والحدیث شهید مظلوم حضرت مولانا
سلطان غنی عارف طاهری شهید

ترتیب وتخریج
محمد طاهر توحید یار
(ابن شیخ عارف طاهری شهید)

٦

WhatsApp Group
مکتبہ
اشاعت التوحید والسنہ
زیر اہتمام
ابو معاذ خٹک
ابو عبدالرحمن صابر

المكتبة الطاهرية
کھوئی برمول مردان 0345-9367242

المكتبة الطاهرية
کھوئی برمول مردان 0345-9367242